بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين، والصلاة والسلام على رسوله محمد و على آله و أصحابه و من استن بسنته و تأدب بأدبه و تخلق بخلقه و دعىٰ بدعوته إلى يوم الدين.

وبعد:

الله سبحانه وتعالى د ټولو كائناتو او موجوداتو خالق او پنځوونكى دى او همغه جل جلاله د دې ټولو پالونكى او پناكوونكى دى.

هغه سبحانه وتعالى خپلواک ټولواک دى، په هر څه، هرچا او هر شي بشپړ برلاسى دى.

له هغه جل جلاله هيڅ پټ او پنانه دي او د هغه جل جلاله له ارادې پرته هيڅ نه شي كېدى. هغه جل جلاله د خپلې ټولواكۍ

(پاچايي) او د کائناتو د نظام په چلولو کې هیچا او هیڅ شي ته اړنه دی او دهغه سبحانه وتعالی په کړو کې هیڅ عبث نشته.

((**أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لاَ تُرْجَعُونَ**))[1]

((نو آيا تاسو دا ګڼلې چې ګنې مونږ تاسو عبث پيدا کړي يئ او ګنې تاسو مونږ ته نه راګرځول کېږئ)).

د الله سبحانه وتعالی هر کار له حکمتونو او رازونو څخه ډک دی خو دهغه جل جلاله په مخلوق کې د هيچا له وسه دا پوره نه ده چې د هغه له حکمتونو او رازونو څخه خبر شي؛ مونږ ته يواځې د ځينو بېلګو ځرک راجوتېږي چې هغه له سمندر څخه د يو څاڅکي په کچ هم نه دی.

[1]- سورة المؤمنون: ۱۱۵.

اسلام نړيوال دين

نو آيا هغه الله سبحانه وتعالی چې دا انسان او پېريان يې پيدا کړي دي او د دوی پيداوښت يې عبث نهٔ دی کړی؛ هغه جل جلاله به دې نړۍ ته د دوی د لارښوونې لپاره کوم نظام او قانون نهٔ وي رالېږلی؟! دا هيڅکله نهٔ شي کېدی او هيڅ سالم عقل دا نهٔ مني چې ګنې حکيم ذات الله تعالی دې انسانان او پېريان پيدا کړي وي او بيا دې يې خپل سرته پرې ايښي وي چې هر څهٔ کوي کوي دې او هيڅ لارښوونه دې ورته نهٔ کوي!.

بلکه د حکيم ذات د حکمت غوښتنه دا ده چې خپلو ناپوهو، بې وسو او محتاجو بندګانو ته دې هرو مرو د ژوند يو نظام، يو قانون او يوه کړنلاره رالېږي، څهٔ پولې او بريدونه دې ورته وټاکي او څهٔ لارښوونې دې ورته وکړي.

او حکيم ذات الله جل جلاله دا کار کړی دی . هروخت يې پهٔ انسانانو کې خپل استازي ټاکلي دي، هغوی ته يې کتابونه او احکام رالېږلي دي، پولې او بريدونه يې ورته ټاکلي دي، ګروهې او کړنلارې يې ورته پهٔ ګوته کړې دي، د نېکمرغۍ لارښوونې يې ورته کړې دي او قانون او نظام يې ورته رالېږلی دی چې هغه ته اسلام وايي. د ژوند د برېدونو ټاکل، او يو نظام او قانون دين بلل کېږي اود الله تعالی لهٔ لوري رالېږل شوی دين اسلام بلل کېږي.

د انسان شامله، هر اړخیزه او بشپړه نېکمرغي، سوکالي او ښېګړه د الله تعالی پهٔ رالېږلي دین: اسلام کې نغښتې ده نو همدا د اسلام دین حق دین دی او اسلام نه پرته بل دین او قانون هېڅکلهٔ حق نهٔ شي ګڼل کېدی.

الله تعالی فرمایي:

((**إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللهِ الإِسْلاَمُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ إِلاَّ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهمْ وَمَن يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللهِ فَإِنَّ اللهِ سَرِيعُ الْحِسَابِ**))[1]

((الله سره حق دین اسلام دی او کتابیانو خپلو منځوکې د سرکشۍ لهٔ امله لهٔ دې وروسته اختلاف وکړ چې علم ورته راغی او چاچې د الله د آیاتونو نه انکار وکړ نو الله بې شکه ګړندی حساب کوونکی دی)).

نړۍ کې ډېر دینونه، ګروهې، افکار، کړنلارې او قوانین دي خو وړ او حق دین د اسلام دین دی او دا ځکه چې دا د الله تعالی دین دی الله تعالی فرمایي:

((**أَفَغَيْرَ دِينِ اللهِ يَبْغُونَ وَله أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ**))[2]

---

[1]- سورة آل عمران: ۱۹.
[2]- سورة آل عمران: ۸۳.

((نو آيا دوی د الله لۀ دين پرته بل دين لټوي؟ حال دا چې آسمانونو او ځمکه کې چې څوک دي پۀ خوښۍ او ناخوښۍ يې هغه ته غاړه ايښې ده او همغه ته ورګرځول کېږي)).

نو هغه ذات چې دا ټول کائنات او موجودات يې پيدا کړي دي، پالنه يې کوي او پۀ ټولو کې د هغه تکويني حکم نافذ دی کۀ څوک وغواړي او کۀ ونۀ غواړي، خوښه يې وي او کۀ نه، د هغه جل جلاله فطري، طبيعي او تکويني نظام به پرې پلی وي، نۀ د هغه جل جلاله لـه ځمکې نه تللی شي او نۀ د هغه لـه شپې او ورځې نه تښتېدی شي، نۀ پۀ خپل فطري
جوړښت کې د څۀ بدلون واک لري او نۀ د ژوند او مرګ، پيدا او پنا پرېکړه مخکې وروسته کولی شي او هغه ذات چې هيڅاته اړ نۀ دی او پۀ خپلو ټولو کارونو کې ټولواک او خپلواک دی، د هغه دين به د منلو وړ او د نېکمرغۍ لامل وي او کۀ د هغه چاچې تل بې وسه، اړ اومحتاج وي؟.

الله تعالی فرمايي:

((وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنه وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ))[1]

((او چا چې لۀ اسلام پرته بل دين ولټاوۀ نو هېڅکله به ورڅخه ونۀ منل شي او هغه به پۀ اخرت کې لۀ تاوانيانو څخه وي)).

[1]- سورة آل عمران: ۸۵.

نو الله تعالی د خپلو بندګانو نه بل هيڅ دين نۀ قبلوي، يوائې اسلام قبلوي ځکه چې اسلام يې د خپلو بندګانو لپاره غوره کړی دی او دا ځکه چې د اسلام ټولې لاربنوونې اواحکام د همغۀ جل جلاله لۀ پلوه راغلي دي.

((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا))[1]

((نن ماتاسو لپاره ستاسو دين بشپړ کړی دی، پۀ تاسو مې خپل نعمت پوره کړی دی او دين مې تاسو ته اسلام خوښ کړی دی)).

اسلام هم پوره دی او هم کره دی د انساني ټولنې ټولې نېکمرغۍ پۀ اسلام کې نغښتې دي او پۀ دې دين کې هيڅ کمی او زياتی نۀ منل کېږي او نۀ قبلېږي. دا دين هيڅ ډول پيوند او ترميم ته اړتيا نۀ لري اودا دين د محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت نه تر قيامته پورې پۀ هر وخت کې د هر چاپاره، پۀ هر ځای او هر ډول شرائطو کې د تطبيق او نفاذ وړ دی، دا د کوم ځانګړي وخت، ځانګړي ځای، ځانګړي قوم او
خېل يا ځانګړيو شرائطو لپاره نۀ دی راغلی، دا دين نۀ زړېږي او نۀ نړېږي بلکه تل تازه او د نفاذ وړ دی.

دا دين د انساني او جني نړۍ لپاره کوټلې، پاخۀ او نۀ بدلېدونکي بريدونه او د ښېګړو او محاسنو نه ډکې لاربنوونې

[1] - سورة المائدة:۳.

او احکام لري. او څرنګه چې الله تعالی د اسلام آخري دین بشپړ کړه پوره رالېږلی دی نو ځکه یې د آخري پېغمبر محمدصلی الله علیه وسلم په رالېږلو د پېغمبرانو دبعثت سلسله وتړله ، هغه یې ټولو خلکو لپاره وټاکهٔ او ورته ویې فرمایل:

((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا))[1]

((او مونږ. تهٔ ټولو خلکو لپاره زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی یې)).

نو ((کافة للناس)) (ټولو خلکو) کې د ختیز او لوېدیز، شمال او جنوب، عرب او عجم، تور او سپین، نارینه او ښځینه ټول داخل دي.

ماسره د لنډیکوتل په جېل کې یو نیپالی هندو بندي ؤ چې ((تارا)) نومېدهٔ هغه ته ما د اسلام محاسن بیان کړل او د اسلام بلنه مې ورکړه هغه سره څهٔ پوښتنې وې د هغو ځواب مې ورکړ، بېخي مطمئن شو او پهٔ دې یې اعتراف وکړ چې اسلام ډېر ښهٔ دین دی او قرآن د الله تعالی کتاب دی. مانه یې عنوان واخیست او راته ویې ویل چې زهٔ به د اسلام پهٔ هکله مطالعه وکړم او کهٔ څهٔ پوښتنې راسره وې نو تاسره به رابطه ونیسم.

هغه مانه پوښتنه وکړه چې د اسلام پېغمبر کله راغلی دی؟

ما ورته وویل: هغه چې کله الله تعالی د پېغمبر پهٔ حیث ټاکلی دی او د اسلام بلنه یې پیل کړې ده نو تر ننه ((١۴۴١))

---

[1]- سورة سبا: ٢٨.

څوارلس سوه يوڅلوېښت کلونه وشول چې ((۱۳)) هجرت نه مخکې د بعثت وو او د هجرت نه را ورسته اوس د هجرت ((۱۴۲۸)) څوارلس سوه اته ويشتم کال دی چې ټوله مجموعه ((۱۴۴۱)) کېږي.

هغه سره دا پوښتنه پيدا شوه چې د بدمت (د هندوانو د دين) څو زره کاله وشول نو د اسلام نه پۀ زرونو کالۀ مخکې دی او دا ددې دليل شو چې بدمت دمنلو زيات حقدار او پخوانی دی.

ما ورته وويل چې لومړۍ خبره خو دا ده چې قدامت او وړاندې والی د حق معيار نۀ دی، بله دا ده چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې کوم نوی دين نۀ دی راوړی چې بې ساري دی او پخوا داسې دين نۀ ؤ بلکه محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د انبياؤ د زنځير اخري کړۍ ده او د انبياؤ سلسله د انسانانو د لومړي پيداوښت سره سمه پيل شوې ده چې لومړی د ټولو انسانانو لومړي پلار: آدم عليه السلام نه پيل شوه بــيا د نــوح عليه السلام پورې انسانان ټول پۀ سمه لار او هدايت باندې روان وو، کله چې مختلف شول، شرک کفر او سرغړونه پيل شوه نوالله تعالی نوح عليه السلام د لومړي پيغمبر پۀ حيث وټاکۀ هغه مسلسل نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کاله د الله تعالی دين ته بلنه ورکړه او قوم يې مسلسل انکار او سرغړونه وکړه، هغه خپل قوم ته ښېرې وکړې .

او ويې فرمايل:

﴿رَّبِّ لاَ تَذَرْ عَلَى الأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلاَ يَلِدُوا إِلاَّ فَاجِرًا كَفَّارًا﴾[1]

«اى زما ربه! پۀ ځمکه د کافرانو هيڅ کور پرې نۀ ږدې کۀ پرې يې ږدې نو ستا بندګان به بې لارې کړي او يواځې ناشکره بدکار به وزېږوي».

الله تعالى د نوح عليه السلام دعاء قبوله کړه هغه او هغه سره ببړۍ کې ژوي يې وژغورل او د ځمکې نور ټول خلک يې پۀ طوفان کې ډوب او هلاک کړل.

دااوسنۍ نړۍ او دانسانانو مختلفې پرګنۍ د هغه د درې زامنو اولاد او نسل دى چې «حام، سام، او يافث» نومېدل نو لۀ نوح عليه السلام شخه د پېغمبرانو درا لېږلو زنځير پيل شو او د انبياؤ د دې زنځير پۀ آخري کړۍ: محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دا زنځېر بشپړ شو.

د ټولو پېغمبرانو اصولي او عقيدوي بلنه او دين يوؤ لکه د الله تعالىٰ پۀ توحيد، پرښتو، کتابونو، پېغمبرانو، تقدير او بيا را ژوندي کېدلو، قيامت، حساب کتاب، جنت او دوزخ باور او ايمان لرل.

دا دعوت د ټولو يوؤ نولۀ همدې امله د ټولو پېغمبرانو دين يو ؤ او دهريو ددين نوم اسلام دى.

---

[1]- سورة نوح: ٢٦- ٢٧.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی فرمايي:

((قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلاَ بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلاَّ نَذِيرٌ مُّبِينٌ))[1]

((ورته ووايه چې زۀ کوم بې ساري او بې مثاله نوی پېغمبر نۀ يم او نۀ پۀ دې پوهېږم چې پۀ ما څۀ کېږي او نۀ پۀ تاسو. زه يوائې د هغه څه تابعداري کوم چې وحې يې راته کېږي او زۀ يوائې څرګند ويروونکی يم)).

نو معلومه شوه چې د اخري پېغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت او دين له ټولو باطلو دينونو څخه پخوانی دی او د ټولو حق او اسماني دينونو د تسلسل د پای ټکی او د پېغمبرانو د زنځير آخري کړی ده.

نور اسماني دينونو او اسمانې کتابونو کې ګوتوهنه، لاسوهنه او تحريف شوی دی، تغير او تبديل پکې راغلی او ترميم پکې شوی دی او اسلام يوائينی او ځانګړی دين دی چې الله تعالی له هر ډول تحريف، تغير او تبديل، لاسوهنې او ترميم نه ساتلی دی، او قرآن يوائينی کتاب دی چې تر اوسه بشپړ او مکمل له هر ډول بدلون نه ساتل شوی دی او دا ځکه چې الله تعالی د دې د ساتلو ذمه وهلې ده لکه چې فرمايي:

((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ))[2]

---

[1] ـ سورة الاحقاف:۹.

[2] سورة الحجر : ۹.

((مونږ بې شكه دپند كتاب نازل كړى دى او يواځې مونږ د دې ساتونكي يوو)).

او يواځې اسلام دى چې د دې د پيغمبر محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث (خبرې، كړۀ وړۀ، دهغه پۀ اقرار ثابت كارونه او دهغه صفتونه او خويونه) د اشخاصو پۀ چاڼ شويو، رڼو، كره او غښتليو سندونو، او پرله پسې دپيوستو انساني كړيو زنځيرونو باندې مونږ ته را رسېدلي دي چې ددې پولادي زنځيرونو يو سر د دې امت د هرې پېړۍ، هر پړاو او هرې پوړۍ پۀ لاس كې دى او بل سر يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پۀ لاس كې دى او دا زنځير نۀ شلېدونكى، نۀ ماتېدونكى اونۀ بدلېدونكى دى نو ځكه د نړۍ پوهان او مفكرين ورته ګوته پۀ غاښ دي او دې ته اړ شوي دي چې اعتراف او اقرار وكړي چې ريښتيا هم د احاديثو كره او ثابت سندونه هغه ځانګړتيا، امتياز او تشخص دى چې يواځې اسلام يې لري. اسلام نه پرته كوم دين دى چې د هغه د پيغمبر خبرې اوكړۀ وړۀ د بخاري او مسلم غوندې چاڼ شويو كتابونو او چاڼ شويو سندونو باندې راپاتې وي؟.

او كوم دين دې چې د ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي، موطا،مسند احمد، سنن بيهقى، دارقطني، مسند ابي عوانه، مسند حميدى، مستدرک حاكم، مصنف ابن ابى شيبه، مسند عبدالرزاق، طيالسي، شعب الايمان، ابن عساكر، طبراني او نورو جوامعو، سننو، مسانيدو، اجزاؤ او معاجمو غوندې يې پيغمبر ته پۀ سند خبرې او كړۀ وړۀ رسېدلي وي؟

او کوم دين دی چې اسلام غوندې درجالو، جرحې او تعديل اصول او راټولوونکي کتابونه ولري؟ چې نومونه، لقبونه، کنيې، نسبتونه، بلدان، مواليد، وفيات او نور......... پکې بشپړ رانغښتي وي او د اصول حديث يا مصطلح الحديث غوندې چاڼ يې ورته لګولی وي او د کوټليو بنسټونو تله يې ورته ايښې وي چې هر کره او کوټه پرې معلومېږي، د دروغو، درغليو او تېر وتنو ټولې لارې پرې تړل کېږي او روڼ، سپين، پاک، سوچه او نږه دين خپلو معتنقينو او منونکيو ته وړاندې کوي او سمه، پاکه، روښانه، جوته او د دنيوي او اخروي نېکمرغيو لار ورښئ؟!.

دا دين يوائې اسلام دی، دا کتاب يوائې قرآن دی او دا أحاديث يوائې محمدي سپېڅلي نبوي احاديث او سپېڅلې نبوي سيرت دی چې دا ټول مخکني مشخصات ، ځانګړتياوې او مميزات لري.

نو ځکه په بشپړ، کره پوره، پولادي او غيرمتزلزل، غير متردد او نږه باور وايو چې اسلام د بشري نړۍ لپاره د ښېګړو، نېکمرغيو، برياو، امن، سوکالۍ، پرمختګ او محاسنو دين دی اود دې دين منونکي او دې ته غاړه اېښودونکي مسلمانان او مؤمنان بلل کېږي نو ځکه الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ))[1]

---

[1]- سورة آل عمران:۱۰۲.

((اى مؤمنانو! الله نه پۀ حق ځان ژغورلو ځانونه وژغورئ او يواځې داسې حال کې ومرئ چې تاسو مسلمانان يئ)).

او ځکه دې مؤمنانو او مسلمانانو ته فرمايي:

((وَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ))[1]

((او مۀ سستېږئ او مۀ خپه کېږئ کۀ مؤمنان وئ نو يواځې همدا تاسو ډېر لوړ يئ)).

د اسلام پۀ هکله چې د اسلام دښمنانو کوم زهرجن تبليغات کړي او کوي يې پۀ دې يې يواځې خپل ځان سره نه بلکه د ټولې بشري نړۍ سره دښمني کړې ده او ټول هغه خلک يې د دنيوي او اخروي برياؤ، ښېګړو او نېکمرغيو نه بې برخې کړي دي چې د دوى د زهرجنو تبليغاتو او د دروغوتورونو او پلمو د اغېزې لاندې راغلي دي او اسلام سره يې کرکه پيدا شوې ده.

د دې داسې مثال دى لکه يو څوک چې د خوښيو، خوشبويو، رنګونو او خوندونو نه ډک ګلبڼ ته خلک رابلي او يو درغلګر پيدا شي هغه ورته د نېکمرغيو د دغه ګلبڼ پۀ هکله غلط ملعومات ورکړي، ګلبڼ نه يې راوګرځوي او پۀ ګړنګونو يې ورسم کړي. اسلام ټول ښېګړې ښېګړې، محاسن محاسن او سر تر پايه نېکمرغۍ دي خو مونږ به د ساري پۀ توګه د اسلام د ښېګړو ځينې بېلګې وڅېړو تر څو ډېرو بې خبرو ته حقيقت څرګند او د پټو واقعيتونو نه پرده پورته شي.

---

[1]- سورة آل عمران: ۱۳۹.

دا تحديد نۀ دی بلکه تقريب دی. مونږ لوستونکي دې ته هڅوو چې د اسلام په ورۀ ورننوځي او وړاندې هر څۀ پۀ بصارت او بصيرت د سراو زړۀ پۀ سترګو وګوري او بيا پخپله ازاده، خپلواکه، دعدل اوانصاف پرېکړه وکړي او پۀ ړوند تقليد د اسلام د کينۀ کښو او معاندو بې انصافه دښمنانو د پلمو او تبليغاتو د اغېز لاندې ړنده پرېکړه ونۀ کړي.

لهٔ تعصب نه پاک دین.

لکه مخکې مو چې ووېل اسلام نړیوال او د انسانیت دین دی دا دین لهٔ هر ډول قومي، ژبني، رنګ، نسل او سیاسي تنګو بریدونو د تعصب او کرکې نه پاک دین دی پهٔ دې کې د عرب او عجم، تور او سپین توپیر نشته د دې ځمکې ختیز، لوېدیز، شمال او جنوب ټوله یوه نړۍ ده اسلام کې د فضیلت معیار او تله یواځې دیانت دی پهٔ انسانیت کې ټول یو ډول د آدم او حوا اولاد دی.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ))[1]

((ای خلکو مونږ تاسو لهٔ یو نر او ښځې نه پیدا کړي یئ او ددې لپاره مو پهٔ قومونو اوخېلونو وېشلي یئ چې یو تر بله سره وپېژنئ الله سره پهٔ تاسو کې ډېر عزتمند ستاسو ډېر پرهېزګار دی)).

او فرمایي:

[1]- سورة الحجرات: ۱۳.

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنهُمْ))[۱]

((اى مؤمنانو! يو قوم دې بل قوم باندې ملنډې نۀ وهي كېدى شي چې هغوى لۀ دوى غوره وي)).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((ليس منا من دعىٰ إلى عصبية))[۲]

((چا چې د نسلي ريښې ړندې پلوۍ ته بلنه ورکړه هغه لۀ مونږ څخه نۀ دى)).

همدا رنګه د يو مهاجر او انصاري تر منځ څۀ شخړه راغله مهاجرمهاجرينو ته غږ وكړ او انصـاري انصـاروته. كـله چې رســـول الله

صلى الله عليه وسلم واورېدل نو ويې فرمايل:

((دعوها فانها منتنة)) و في رواية: ((خبيثة))[۳]

((دا بلنه پرېږدئ ځکه چې دا ډېره بدبويه ده)) يو روايت كې راځي چې ((پليته ده)) نو د قوم او خېل تعصب پۀ اسلام كې دومره بدګڼل كېږي چې د تعصب بلنه بدبويه وګڼل شوه.

اسلام كې قرشي ابوبكر او عمر، فارسي سلمان، حبشي بلال او رومي صهيب پۀ يو صف كې بې توپيره او درېدل، تور

۱- سورة الحجرات: ۱۱.
۲- رواه أبوداود.
۳- رواه البخاري ومسلم و احمد وابن حبان والبيهقي.

حبشي بلال دنبوي جومات مؤذن ؤ د خندق پۀ غزوه کې خندق (کنده) کنستل د فارسي سلمان پۀ مشوره شوي وو.

نو لۀ همدې امله چې اسلام کې قومي، ژبني، رنګ او نسل تعصب نۀ ؤ او دا د عربي پېغمبر او عربي قرآن لۀ امله يوائې د عربو دين نۀ ؤ بلکه دا عربي قرآن د ټول انسانيت د هدايت کتاب دی او دا عربي پېغمبر ټولې نړۍ ته رالېږل شوی دی؛ اسلام د نړۍ ګوټ، ګوټ ته ورسېد او هر چا چې اسلام قبول کړ هغه دا محسوسه نۀ کړه چې ما د کوم ځانګړي قوم پردی دين ومانۀ بلکه هغه چې د اسلام پۀ سم مفهوم پوه شو او د اسلام فطرت او طبيعت يې وپېژند نو دايې محسوسه کړه چې دا زما دين دی اوزۀ د الله لۀ لوري د دې دين پۀ منلو مکلف يم؛ کۀ دا ټوله نړۍ يې ونۀ مني زۀ به يې هرو مرو منم او سرغړونه به ترې نۀ کوم.

او د اسلام د دې شموليت او وسعت پۀ برکت د اسلامي امت پۀ عجمو کې داسې علماء او پوهان پيدا شول چې پۀ دې دين لۀ ډېرو عربو ښۀ وپوهېدل او دې دين ته يې لۀ عربو زيات خدمت وکړ.

د حديثو د مشهوروکتابونو مصنفين، او زيات محدثين، مفسرين فقهاء او علماء عجمو کې پيدا شوي دي.

إمام ابو عبدالله محمد بن اسماعيل بخاري، امام مسلم قشيري، امام ابوعيسی ترمذی، امام ابوداود سجستاني امام ابو حاتم افغاني.

اونور په زرونو علماء عجم وو او دا له همدې امله چې اسلام نړيوال او دانسانيت دين دی او دګردو انسانانو او پېريانو بلکه د ګردې نړۍ د نېمکرغۍ لپاره راغلی دی.

الله تعالی فرمايي:

((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ))[1]

((او مونږ ته د ټولو خلکو لپاره رحمت لېږلی يې)).

((عالمين)) کې ټول انسانان داخل دي بلکه نور مخلوقات هم د ((عالمين)) په معنا کې داخل دي ځکه چې هر جنس يو عالم دی لکه: **عالم الانس، عالم الجن، عالم الملائكة، عالم الطيور، عالم النبات، عالم الجماد** او داسې نور.

[1]- سورة الانبياء:١٠٧.

د اسلام سياسي نظام

د اسلام لهٔ محاسنو او ښېګړو څخه يوه لويه ښېګړه دا ده چې د انساني ټولنې د ودانۍ، ښېرازۍ، خوشحالۍ او نېکمرغۍ لپاره يې انسانانو ته يو بشپړ سياسي نظام ټاکلی دی اسلام کې نهٔ پاچايي نظام شته چې يو ټولواک پاچا به وي او دهغه کورنۍ کې به د پاچايي ميراث روان وي اونهٔ هغه بې توله جمهوري نظام دی چې د بې توله اکثريت پهٔ بنسټ به چارواکي ټاکل کېږي، د خلکو وخت پرې ضايع کېږي، د دروغو وعدې او ناروا مقابلې پکې کېږي او غلو اودرغلګرو ته د ولس واک ورکول کېږي............ اسلام کې به پرهېزګاران،ديانتدار، هوښياران او پاکان خلک د شوریٰ پهٔ توګه يو پوه، هوښيار، پرهېزګار، روغ، پياوړی، مېړنی،د سپېڅليو خويونو خاوند، نارينه، زړور، خواخوږی او امانتدار خليفه ټاکي او هغه به تر هغه خليفه وي تر څو چې غښتلې اداره ولري، د اسلام دعدل پهٔ بنسټونو، عقيدې او نېک عمل ولاړ وي، داسې کوم عيب او ناروغي پکې نهٔ وي پيدا شوې چې د حکومت کولو قابل نهٔ وي او د اسلام احکام يې پوره کره پلي کړي وي.......

کهٔ ګهيځ ټاکل شوی وي او مابښام پکې کوم عيب او د عزل شرط پيدا شو بيا هيڅ وخت نهٔ ورکول کېږي او سم لهٔ لاسه معزولېږي اسلام کې د حکومت چارواکی اوخليفه لهٔ نورو زيات

حق او إمتياز نۀ لري او د اسلامي نظام پۀ بيت المال کې يې له نورو زياته ونډه نشته، اسلام کې امير او مامور يو ډول انسانان او مسلمانان دي، دا نۀ ده چې ګنې أمير او خليفه پۀ کومه لاره ځي نو ټول سړکونه او لارې د نورو خلکو پۀ مخ تړل کېږي، مخکې وروسته ترې ګاډي روان وي، خلک ورسره ملاقات نۀ شي کولي او د تکبر او استبداد يوه ناوړه بېلګه وي.............

د اسلام خليفه به د وږو خېټې مړوي، يتيم، کونډې او بې وزلي سره به مرسته کوي، د دردمند او مظلوم اوښکې به پاکوي او حق به يې ورکوي، د ظلم مخنيوی به کوي، بې کوره ته به کور ورکوي، بې ځمکې ته به ځمکه ورکوي، بربنډ به پټوي، د محتاجانو اړتياوې به پوره کوي، د پور وړي پور به لنډوي، لنډه دا چې دخپل ولس د وګړو بادارنه بلکه داسې خدمتګار به وي چې د هغوی ټول اقتصادي، سياسي، ټولنيز، فرهنګي اونور ټول حقونه به پوره کره ورکوي اوخوندي به يې ساتي، د هرچا پت، عزت، عفت، عصمت، او د صورت اوسيرت سره تړلي ټول معاني او مباني به خوندي او مامون وي. خليفه به د دين، وطن، نواميسو، وياړونو او ارزښتونو وينښ او پياوړی څوکيدار وي، تل به د خپل رعيت او ولس د خوښۍ، خوشحالۍ او ښېرازۍ لپاره د پخو او پياوړيو سر شتو پۀ لټون کې وي، لۀ خپلو مامورينو او چارواکونه به خبر وي او د هر ډول اداري فساد، رشوت، بې غورۍ، بې باکۍ او کاواکۍ مخنيوی به کوي د دښمنانو لۀ پلمو به خبر وي اومخه به يې نيسي، د خپل ولس وګړو پسې به نوغي او جاسوسان نۀ

لېږي، د وګړو د صحت، ښووني او روزنې (تعليم او تربيې)، امنيت، ټولنيز عدالت او پرمختګ لپاره به پخې عملي سرشتې او تدبيرونه نيسي، حکومت، بيت المال او واکمني به خپل شخصي ملکيت نۀ ګڼي بلکه دابه يو داسې امانت ګڼي چې هيڅ ډول درغلي به پکې نۀ کوي او فضيلت او امتياز نه بلکه مسؤليت او فريضه به يې ګڼي او دولس پۀ مخکې به تل محاسبې، نيوکو او سزا ته تيار وي، د اسلام ټول احکام پۀ حاکم او محکوم، امير او مامور، خليفه او رعيت يو ډول پلي اونافذ وي او حاکم، امير او خليفه لۀ رعيت نه پۀ هيڅ ډول مستثنا نۀ دی بلکه مسؤليت، فرائض او ذمه واري او ستړيا يې لۀ ټولو زياته ده د اسلام حاکم د خپلو وګړو بادار او پاچانه بلکه د ټولو خواخوږی، غمخور، لوروونکی او مهربان خدمتګار دی، پۀ اسلامي خلافت کې د حکومت هر چارواکی، مامور، څارندوی، پوليس، عسکر او بل.......... د ډاډ او اطمينان نښه ده، د ډار اند ېښنې او اضطرار نښه نۀ ده.

اسلام کې نۀ پاسپورټ شته، نۀ وېزه او نۀ بنديز، هر انسان داحق لري چې دنړۍ هر ګوټ ته بې لۀ کوم بنديز لاړ شي او هر ځای کې چې اوسېږي هلته پردی نۀ دی اسلام کې دا ګرده نړۍ اودا ټوله ځمکه د يو کور حيثيت لري او دا ټول انسانان د دې يو کور غړي دي، چاچې د نړۍ پۀ هر ګوټ کې شاړه ودانۀ کړه هغه د همغه ده، دا ټول خلک د ځمکې پۀ زېرمو (معدنونو)، تېلو، ځنګلونو، اوبو، اوشاړو کې سره شريک دي. د اسلام پۀ حکومت کې ټولې شخړې او لانجې د عدالت او انصاف پۀ بنسټونوله منځه ځي او فيصله

کېږي او انصاف د هر چا کورته ورېيا رسول کېږي ظالم نه د مظلوم حق اخيستل کېږي او دا د اسلامي حکومت دنده، مسؤليت اوفريضه ده چې خلکو ته به ورېيا انصاف برابروي او په پرېکړو او حق اخيستلو کې په هيڅ کوم فيس، ټکس او اجوره نشته، ترڅو چې د دوه مخالفو تر منځ حق نۀ وي څرګند شوی اسلام قاضي ته وايي چې په سترګو مه شي، خبرو، د ناستې په ځای او نورو کې به دواړوته يو ډول او په يوه سترګه ګوري او هيڅ توپير به پکې نۀ کوي، د پړ وړ د معلومېدونه مخکې کۀ دوه لانجه مارو او مخالفو طرفونو کې يو کس په ښه او بل په نا ښه ځای کې کېنول شي اسلام دا ظلم بولي او قاضي ته هېڅکله د دې اجازه نۀ ورکوي. اسلام کې د وضعي قوانينو په څېر ځنډول، په ناروا وکيلانو دفاع او کړول نشته، اسلام قاضي ته حکم کوي چې تر خپله وسه په لومړي فرصت کې کره پوره پلټنه وکړي، حق معلوم کړي او حقدار ته يې وړياوروسپاري، پړ ته پړ اوو ړته وړ ووايي او مجرم په خپلې سزا ورسوي.

اسلام لومړی د هر چا د خېټې، کور او نورې اړتيا وې ورپوره کوي، بيت المال نه هر چاته خپل حق ورکوي، د ځمکې تېلو، معدنونو او نورو زېرمو کې هر چاته خپله مساوي برخه ورکوي، د ځمکې د ودانولو لپاره بشپړه ازادي ورکوي، ټګي، برګي، غولونې او نورې ناروا او انسانانو ته د زيان رسولو لارې بندوي، د واده کول اسانوي، د سختو ناوړو او خرافي دودونو مخنيوی کوي او د ټولو حقونو لۀ پوره ورکولو نه وروسته بيا غل،

زناکار او نورو مجرمانو ته سزا ورکوي. که د اسلام د عدل، انصاف، اقتصاد او نور ټول احکام او قوانين بشپړ نا فذ نهٔ شي نو يوائې سزا ورکول او نېمګړي قوانين نافذول اسلام سره جفا او ظلم دی کهٔ چېرته پوره اسلامي نظام نافذ شي هيڅ ډول جرم به ونهٔ شي اود هيڅ ډول حدودو نافذولو ته به کومه اړتيا پاتې نهٔ شي.

اسلام سراسر د عدل او انصاف پهٔ پخو بنستونو ولاړ دی او خپلو منونکيو ته تل د عدل او انصاف کولو امر کوي الله تعالی فرمايي:

((إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبٰى وَيَنهٰى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ))[1]

((الله بې شکه پهٔ عدل، ښېګړې او خپلوانو ته پهٔ ورکړې امر کوي او لهٔ بې شرمه کارونو، ګناهونو او سرکشۍ نهٔ منع کوي او تاسو ته د دې لپاره نصيحت کوي چې پند واخلئ)).

او فرمايي:

((إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا))[2]

((الله بې شکه پهٔ دې امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله مو چې د خلکو منځ کې پرېکړې کولې چې پهٔ

[1]- سورة النحل: ۹۰.
[2]- سورة النساء: ۵۸.

انصاف پرېکړې وکړئ الله پۀ دې تاسوته ښه نصيحت کوي الله بې شکه ښه اورېدونکی او ښۀ ليدونکی دی)).

همدارنګه اسلام مونږ ته امر کوي چې تل پۀ انصاف او عدل ټينګ ولاړ او سوو او کۀ د خپل ځان، مور او پلار يا خپلوانو پۀ خلاف هم وي بايد د حق پلوي او د حق ګواهي وکړو الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاء لِله وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ))[1]

((ای مؤمنانو پۀ انصاف ټينګ ولاړ اوسئ او ګر کۀ ستاسو دځانونو يا مور او پلار او خپلوانو پۀ خلاف هم وي د الله لپاره ګواهان اوسئ)).

وګورئ د اسلام عدل او نصاف ته چې خپلو پيروانو او منونکيو ته وايي چې د نفسي غوښتنو پۀ ځای د حق پلوي وکړئ او کۀ ستاسو د ځانونو او يا ډېر وګرانو او نږدې خپلوانو پۀ خلاف هم وي الله لپاره د ريښتيا او حق ګواهان جوړ شئ.

او دا لا څۀ چې اسلام خپلو منونکيو ته حکم کوي چې د دښمن سره دښمني دې هم ددې باعث او لامل نۀ شي چې تاسو انصاف او عدل پرېږدئ بلکه د دښمن پۀ هکله به هم د عدل او انصاف لمن نۀ پرېږدئ الله تعالی فرمايي:

---

[1]- سورة النساء: ۱۳۵.

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِله شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ الله إِنَّ الله خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ))[1]

((اې مؤمنانو! تاسو الله لپاره پۀ انصاف ټينګ ولاړ ګواهان شئ او د چا دښمني دې پۀ تاسو د دې لامل نۀ شي چې عدل ونۀ کړئ، بلکه عدل وکړئ چې دا پرهېزګارۍ ته ډېره نږدې ده او الله نه ځانونه وژغورئ الله پۀ هغو کارونو بې شکه ښۀ خبر دی چې تاسو يې کوئ)).

دې ته وايي عدل دې ته وايي انصاف چې دښمن سره به هم عدل کوې او دښمن سره دښمني به د دې باعث او لامل نۀ جوړېږي چې مونږ عدل ونۀ کړو. اوس چې هم څوک د اسلام پۀ عدالت او انصاف سترګې پټوي نو هغه د عدل او انصاف لۀ بريده تېرېږي؛ ظلم او بې انصافي کوي او کينه، ضد او عناد کوي.

او الله تعالی فرمايي:

((وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى))[2]

((او کۀ د خپلوانو په هکله مو هم وي خو کله مو چې وينا کوله نو انصاف کوئ)).

---

[1]- سورة المائدة: ۸.
[2]- سورة الانعام: ۱۵۲.

او فرمايي:

((لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ))[1]

((مونږ بې شكه خپل پيغمبران د څرګندو دليلونوسره د دې لپاره لېږلي او كتاب او تله مو ورسره لېږلې ده چې خلك په انصاف ودرېږي)).

او فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا))[2]

((اى مؤمنانو! الله نهووېرېږئ او سمه د انصاف وينا كوئ))

---

[1]- سورة الحديد: ۲۵.

[2]- سورة الاحزاب: ۷۰.

د عدالت نظام

اسلام ټول د عدالت، ښېګړې، او محاسنو نظام دی او تل په عدل او انصاف حکم کوي.

تر دې چې اسلام د غوسې پهٔ وخت کې قاضي او حاکم ته د دې اجازه نهٔ ورکوي چې پرېکړه وکړي او دا ځکه: هسې نه چې د غوسې لهٔ امله پهٔ کوم لوري ظلم وکړي.

حديث کې راځي:

عن أبي بكرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول:** ((**لايقضين حكم بين اثنين وهو غضبان**))[1]

ابو بکره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((کوم قاضي او منځګړی دې ددوه کسانو تر منځ پهٔ داسې حال کې پرېکړه نهٔ کوي چې هغه پهٔ غوسه وي)).

بل حديث کې د عدل او عدالت پهٔ هکله داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو بن العاص قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إن المقسطين عندالله على منابر من نور عن يمين**

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

الرحمن وكلتا يديه يمين، الذين يعدلون فى حكمهم و أهليهم وما ولوا)).[1]

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي:** رسول **الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي:** ((**هغه عادلان چې پۀ خپلو پرېکړو، خپلو کورونو او خپلو دندو کې عدل او انصاف کوي، هغوی به د رحمٰن ذات: الله سره پۀ ښي لور کې د نور پۀ منبرونو ناست وي، او د الله دواړه لاسونه ښي دي))** .

بل حديث کې داسې راځي :

((**عن عائشة قالت: قال رسول الله** صلى الله عليه وسلم :

((**اللهم من ولى من أمر أمتى شيئا فشق عليهم فاشقق عليه ومن ولى من أمر أمتى شيئا فرفق بهم فارفق به))**.[2]

عائشې رضى الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**ای الله څوک چې زما د امت پۀ کوم کار وټاکل شو او پۀ هغوی يې سختي وکړه نو ته پرې سختي وکړې. او څوک چې زما د امت پۀ کوم کار وګمارل شو او نرمي يې ورسره وکړه نو ته پرې نرمي وکړې))**.

بل حديث کې داسې راځي:

عن عائذبن عمرو قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول:** ((**ان شرالرعاء الحطمة))**.[1]

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه مسلم.

عائذبن عمرورضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((حاكمانو كې تر ټول بد حاكم ظالم خېتهور دی))[1].

همدارنګه د ظالمانو حاكمانو په هكله بل حديث كې داسې راغلي دي:

((عن هشام بن حكيم قال: أشهد لسمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ((إن الله يعذب الذين يعذبون الناس فى الدنيا))[2]

هشام بن حكيم رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې زه ګواهي كوم چې مارسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((الله تعالى هغه خلک په عذابوي چې دنيا كې خلک په عذابوي)).

بل حديث كې د ظالمانو پوليسانو او پوځيانو په هكله داسې راغلي دي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يوشك إن طالت بك مدة أن ترى قوما فى ايديهم مثل اذناب البقر يغدون فى غضب الله ويروحون فى سخط الله))[3]

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه مسلم.
[3]- رواه مسلم.

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((که زمانه درباندې اوږده شوه نو نږدې ده چې داسې خلک به وګورې چې په لاسونو کې به يې د غويانو د لکيو غوندې شيان وي، سهار به د الله په غوسې کې ځي او بېګاته به د الله په غوسې کې راځي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ((صنفان من اهل النار لم أرهما: قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس ونساء كاسيات عاريات، مميلات مائلات رؤسهن كأسنمة البخت المائلة لا يدخلن الجنة ولايجدن ريحها))[1]

((ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((دوه ډوله دوزخيان دي چې مالا نه دي ليدلي: يو هغه خلک دي چې د غويانو دلکيو غوندې قمچينې به ورسره وي او خلک به پرې وهي، بل داسې ښځې دي چې جامې به لري خو برېنډې به وي راجبلوونکې او نورو ته کږېدونکې به وي سرونه به يې د ماهي اوښانو د کږو بوکانونو غوندې وي نه به جنت ته ننوځي او نه به يې بوی ومومي)).

[1]- رواه مسلم.

د اسلام خواخوږی حکومت

اسلام کې حکومت درعيت د امن او سوکالۍ لپاره وي او د ټولو خلکو حقوق پکې خوندي وي، که څوک ومري نو مال يې د خپلو وارثانو دی که کوم تنګلاسی پوروړی ومري او مال او وارثان ونۀ لري نو د اسلامي حکومت دنده ده چې پور به يې لنډوي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**أنا أولى بالمؤمنين من أنفسهم فمن توفي من المؤمنين فترك دينا فعليّ قضاءه ومن ترك مالا فلورثته**)).[1]

((ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((زه د مؤمنانو لۀ خپلو ځانونو څخه دهغوی زيات حقداريم مؤمنانو کې چې څوک ومري او پور پرې پاتې وي نو لنډول يې پرما دي او چاچې مال پرې ايښی وي نو هغه يې د خپلو وارثانو دی)).

سبحان الله! څومره خواخوږی دين او څومره مهربان پېغمبر! دا د اسلام عدالت دی او دا د اسلام خواخوږي ده او د اسلام د ښېګړې نظام اود سوکالۍ حکومت دی.

---

[1] - رواه البخاري ومسلم و ابوداؤد.

د امير طاعت

اسلام کې د نېک او عادل حاکم او امير طاعت فرض دی خو اسلام کې ټولې نړۍ لپاره يو خليفه دی دا اوسني تنګ سياسي بريدونه او دا ګڼ حکومتونه اسلام کې نشته کله چې يو خليفه او يو خلافت وي نو بيا په نېکو کارونو کې د امير طاعت فرض دی.

حديث کې داسې راځي:

عن أم الحصين قالت: ((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **: ((إن أمر عليكم عبد مجدع يقودكم بكتاب الله فاسمعوا له و أطيعوا))**[1]

أم حصين رضى الله عنها نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((که په تاسو پيت پوزی غلام امير وټاکل شو او د الله په کتاب يې درباندې حکومت کاوه نو د هغه واورئ او طاعت يې وکړئ)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أنس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((اسمعوا واطيعوا وان استعمل عليكم عبد حبشي كأن رأسه زبيبة))**[2]

---

[1] - رواه مسلم.
[2] - رواه البخارى.

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي**: ((اګر کۀ پۀ تاسو داسې حبشي غلام وټاکل شي چې سر يې لکه دمميز دانې غوندې وړوکی وي هم وايې ورئ او طاعت يې وکړئ))

خوپۀ ظلم او ناوړه کار کې بيا دامير منل نه بلکه نۀ منل يې فرض دي.

حديث کې داسې راځي:

عن على قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **لا طاعة فى معصية إنما الطاعة فى المعروف**))[1]

على رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي**: ((پۀ ګناه کې د امير طاعت نشته طاعت يواځې پۀ ښو کارونو کې دی)).

[1]- رواه البخارى ومسلم.

د ظالم حاکم پهٔ مخکې د حق خبره

اسلام کې حاکم او محکوم، خلیفه او رعیت سره برابر دي او حاکم داسې کوم سپېڅلی ذات نهٔ دی چې هیڅ ترې نهٔ پوښتل کېږي او کهٔ زیاتی کوي نو مخنیوی یې نهٔ کېږي.

حدیث کې راځي:

عن ابي سعید قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ((**أفضل الجهاد من قال کلمة حق عند سلطان جائر**)).[1]

ابو سعید رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((تر ټولو غوره جهاد دا دی چې څوک د ظالم حاکم پهٔ مخکې د حق خبره وکړي)).

[1] - رواه الترمذي و ابوداود والنسائی وابن ماجه واحمد.

رعيت باندې بشپړ باور

اسلام حاکم ته حکم کوي چې پهٔ خپل رعيت بې ځايه بدګماني ونهٔ کړي، بې دليله څوک مجرم ونهٔ ګڼي اورعيت پسې جاسوسان ونهٔ ټاکي . حديث کې داسې راځي:

عن أبي أمامة عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**إن الأمير إذا ابتغى الريبة فى الناس أفسدهم**))[1]

ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دى هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې هغه وفرمايل: ((امير چې کله پهٔ خلکو کې شک ولټاوهٔ نو هغوی يې فاسد کړل)).

نو د رعيت پسې جاسوسان لېږل او پهٔ هغوی شک کول روانهٔ دي. مجرم هله مجرم ګڼل کېږي چې څهٔ دليل او ګواهان پرې وي؛ بې ځايه شک کول خلک فاسدوي.

بل حديث کې داسې راځي:

عن معاوية قال: سمـــعت رســـول الله صلى الله عليه وسلم **يقول:** ((**إنك إذا اتبعت عورات الناس افسدهم**))[2]

---

[1]- رواه ابوداؤد.
[2]- رواه البيهقى.

معاوية رضي الله عنه **نه** روايت **دی هغه** وايي: **ما** رسول **الله** صلى الله عليه وسلم **نه اورېدلي دي چې فرمايل يې**: ((**كله چې دخلكو پټو** رازونو پسې شوې نو هغوی دې فاسد كړل)).

او دا ځكه چې لۀ يوه پلوه هغوی پۀ ضد كې راځي، له بله پلوه يې پۀ لوی لاس جرمونو ته پام اړول كېږي او بله دا چې د حاكم او رعيت تر منځ بې باوري او بې اعتما دي پيدا كوي.

رشوت (بډې) اخيستل

اسلام کې د رشوت ورکول او اخيستل دواړه حرام دي؛ اسلام د عدل او انصاف نظام پلى کوي او درشوت په کلکه مخنيوى کوي.

الله تعالى فرمايي:

((وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ))[1]

خپلو منځو کې خپل مالونه په باطله مه خورئ او حاکمانو ته يې د دې لپاره مه وړاندې کوئ چې ښه پوهېږئ او د خلکو څه مالونه په ناروا وخورئ)).

او حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو قال: ((لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم **الراشي والمرتشى))**[2]

((عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په بډو ورکوونکي او بډو اخيستونکي دواړو لعنت ويلى دى)).

---

[1]- سورة البقرة: ۱۸۸.

[2]- رواه الترمذى و ابوداود وابن ماجه و احمد والبيهقى.

ظلم

اسلام د هر ډول ظلم مخنيوی کوي، غندي يې او په کلکه ترې منع کوي ظلم تېري کولو ته ويل کېږي تولونه لوی ظلم د الله تعالی په حق کې ظلم دی چې هغه جل جلاله نه انکار د هغه په ذات، عبادت او صفاتو کې شريک پيدا کول او دهغه په ځمکه د هغه جل جلاله لۀ دين پرته بل قانون پلی کول دي........

اسلام ظالمانو سره ملګرتيااو لږ غوندې ميلان هم سخت بدګڼي الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِنْ أَوْلِيَاء ثُمَّ لاَ تُنصَرُونَ))[١]

((او دظالمانو لورته لږ هم مۀ کږېږئ چې اور به درته ورسېږي او تاسو لپاره به لۀ الله پرته څوک دوستان نۀ وي او بيا به درسره مرسته ونۀ شي)).

او الله تعالی فرمايي:

((والله لا يحب الظالمين))[٢]

((او الله ظالمان نۀ خوښوي)).

١- سورة هود: ١١٣.
٢- سورع آل عمران.

او فرمايي:

((وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لهمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ))[۱]

((او ظالمانو لپاره بې شکه دردناک عذاب دی)).

او فرمايي:

((أَلاَ إِنَّ الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُّقِيمٍ))[۲]

((خبردار ظالمان به بې شکه پهٔ پاتې کېدونکي عذاب کې وي)).

اسلام دظلم او تېري ټول ډوله ناروا ګڼي، پهٔ کلکه يې مخنيوی کوي او لهٔ عواقبو يې خلک وېروي حديث کې راځي:

عن ابن عمر أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ((**الظلم ظلمات يوم القيامة**))[۳]

((عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((ظلم د قيامت پهٔ ورځ تيارې دي)).

بل حديث کې د ظلم پهٔ هکله داسې راځي:

عن أبي موسىٰ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إن الله ليملى الظالم حتى إذا أخذه لم يفلته**)) **ثم قرأ** ((**و كذلك اخذ ربك إذا أخذ القرى وهى ظالمة**)) **الآية.** [٤]

---

[۱]- سورة الشورى: ۲۱.
[۲]- سورة الشورى: ٤٥.
[۳]- رواه البخارى ومسلم.
[٤]- رواه البخارى ومسلم.

ابو موسى رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله سبحانه وتعالى ظالم ته تر هغې مهلت ورکوي تر څو چې کله يې ونيسي نو هيڅ يې پرې نۀ ږدي)) بيا يې دا ايت ولوست: ((ستاد رب نيول همداسې دي چې کله کلي ونيسي او هغه ظالمان وي))....... تر اخره.

اود ظالم او مظلوم پۀ هکله بل حديث داسې راځي:

عن انس قال: قال رسول صلى الله عليه وسلم **((أنصر أخاك ظالما او مظلوما)) قال: يارسول الله! هذا ننصره مظلوما فكيف ننصره ظالما؟! قال: ((تمنعه من الظلم فذاك نصرك إياه)) و فى رواية :((تأخذ فوق يديه))** [1]

((انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((خپل ورورسره مرسته وکړه چې ظالم وي او کۀ مظلوم وي)) هغه وويل: اى د الله پيغمبره ! دې يو سره خوبه ځکه مرسته کوو چې مظلوم دى نو ظالم سره څرنګه مرسته وکړو؟! هغه وفرمايل: ((ظالم ظلم نه منع کړه نو دا هغه سره ستا مرسته ده)) او پۀ يو روايت کې راځي چې ((لاسونه يې ونيسه)).

نو د ظالم مخنيوى او ظلم نه د هغه لاس لنډول هغه سره مرسته ده ځکه چې د دنيوي او اخروي سپکاوي او عذاب نه يې راګرځول دي.

[1]- رواه البخارى ومسلم.

بل حديث کې ظالم ته حکم کوي چې زرتر زره د مظلوم حق وروسپاري او ځان لۀ عذابه وژغوري:

عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**من كانت له مظلمة لاخيه من عرضه او شئ فليتحلله منه اليوم قبل أن لايكون دينار ولا درهم ان كان له عمل صالح أخذ منه بقدر مظلمته و إن لم تكن له حسنات أخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه**))[1]

((ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا باندې چې د خپل ورور د پت يا د بل کوم شي د ظلم پور وي نو نن دې ورڅخه لۀ دې مخکې ځان خلاص کړي چې بيا به د قيامت پۀ ورځ نۀ دينار وي او نۀ درهم کۀ نېک عمل يې وي نو د ظلم پۀ اندازه به ورڅخه واخيستل شي او کۀ نېکى يې نۀ وي نو د مظلوم څۀ ګناوې به را واخيستل شي او پۀ دۀ به بار شي)).

بل حديث کې د حقوقو د ورکولو او ظلم نه کولو پۀ هکله داسې راځي:

[1]- رواه البخارى.

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :
((لتؤدن الحقوق إلى أهلها يوم القيامة حتى يقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء))[1]

((**ابوهريرة** رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**د قيامت پهٔ ورځ به خامخا حقوق خپلو خاوندانو ته سپارئ تر دې چې د ښکرور څاروي نه به د کونډي څاروي لپاره غچ اخيستل کېږي**))[2]

بل حديث کې دهغه چا پهٔ هکله راځي چې څهٔ نېکۍ يې هم کړې وي خو خلکو باندې تېري او ظلمونه يې لهٔ نېکيو ډېر وي نو د پرېکړې نه وروسته هيڅ هم ورته پاتې نهٔ شي.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال**: ((**أتدرون ماالمفلس؟**)) **قالوا: المفلس فينا من لادرهم له ولا متاع. فقال:** ((**إن المفلس من أمتى من ياتى يوم القيامة بصلاة وصيام و زكاة و يأتِي قدشتم هذا و قذف هذا وأكل مال هذا و سفك دم هذا وضرب هذا فيعطى هذا من حسناته و هذا من حسناته فإن فنيت حسناته قبل أن يقضٰى ما عليه اُخذ من خطايا هم فطرحت عليه ثم طرح فى النار**)).[3]

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- كوندى: بې ښكرو. غچ: انتقام.
[3]- رواه مسلم.

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((آيا تاسو پوهېږئ چې لپنګ څوک دی؟)) صحابه ؤ وويل: مونږ کې لپنګ هغه څوک دی چې نۀ پيسې لري او نۀ سامان. هغه وفرمايل: ((زما امت کې مفلس هغه څوک دی چې د قيامت پۀ ورځ به لۀ ځان سره لمونځونه، روژې او زکاتونه راوړي او رابه شي خو دې يوته يې کنځل کړي دي، دې بل باندي يې تور لګولی دی، د دې بل مال يې خوړلی دی، د دې بل وينه يې توی کړې ده او دا بل يې وهلی دی. نو دې يو ته به يې لۀ نېکيو څۀ ورکول شي او دې بل ته به يې لۀ نېکيو څۀ ورکول شي تر دې چې که مخکې لۀ دې يې نېکئ خلاصې شوې چې پۀ هغۀ څومره حقوق دي، هغه خلاص شي نو د هغوی څۀ ګناوې به راواخېستل شي، پۀ دۀ به واچول شي اوبيا به اورکې وغورځول شي)).

بل حديث کې د ظلم د نۀ کولو پۀ هکله داسې راځي:

عن حذيفة قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : **((لا تكونوا إمعة تقولون إن أحسن الناس أحسنا و إن ظلموا ظلمنا ولكن وطنوا أنفسكم إن أحسن الناس أن تحسنوا و إن أساءوا فلا تظلموا)).[1]**

((حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (تاسو مير څمن مه کېږئ چې وايئ: کۀ خلکو ښۀ کول مونږ به هم ښه کوو او کۀ هغوی ظلم کاوۀ نو مونږ به

---

[1]- رواه الترمذی.

هم ظلم کوو. بلکه خپل ځانونه پهٔ دې روږدي کړئ چې کهٔ خلکو ښه کول نو تاسو به ښه کوئ او کهٔ خلکو بد کول نو تاسو به ظلم نهٔ کوئ))

بل حديث کې د ظالم ملګر تيا لهٔ اسلامه وتل ګڼل شوي دي :

عن اوس بن شرحبيل أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ((من مشى مع ظالم ليقويه وهو يعلم أنه ظالم فقد خرج من الاسلام))[1]

اوس بن شرحبيل رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((څوک چې د دې لپاره ظالم سره لاړ چې غښتلی يې کړي او هغه ښهٔ پوهېدهٔ چې هغه ظالم دی نو هغه بې شکه اسلام نه وواته)).

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل استازي هم له ظلم نه منع کول.

لکه چې حديث کې راځي:

عن ابن عباس أن النبى صلى الله عليه وسلم بعث معاذا إلى اليمن فقال: ((اتق دعوة المظلوم فانه ليس بينها و بين الله حجاب)) ۲

[1]- رواه البيقهي فى شعب الايمان.
[2]- رواه البخارى و مسلم و ابوداود و الترمذى وابن ماجه والنسائى والدارمي و ابن خزيمة.

((عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم چې كله معاذ رضي الله عنه يمن ته لېږه نو ورته ويې فرمايل: ((دمظلوم لۀ ښېرو ځان وساته ځكه چې د هغه او د الله تر منځ پرده نشته)).

بل روايت كې راځي:

عن علی قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إياك و دعوة المظلوم فانما يسال الله تعالى حقه و إن الله لا يمنع ذا حق حقه))[1]

علي رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((پام كوه ځان د مظلوم لۀ ښېرو وساته ځكه چې هغه الله تعالى نه خپل حق غواړي او الله دحق د خاوند نه خپل حق نۀ منع كوي)).

د مظلوم لۀ ښېرو د ځان ساتلو معنا دا ده چې ظلم مه كوه ځكه چې مظلوم پۀ ظلم كولو پيدا كېږي او چې ظلم ونۀ شي نو نۀ به مظلوم وي او نۀ به يې ښېرې.

[1] ـ رواه البيهقى فى شعب الايمان.

د اسلام اقتصادي نظام

اسلام نړیوالوته داسې دعدل، انصاف، ښېرازۍ، ودانۍ او خوشحالۍ اقتصادي نظام ټاکلی دی چې هر چاته يې خپل حق ورکړی دی، د هر ډول تېري، ظلم، تګۍ، غولونې او مجهولو معاملو مخه يې نيولې، اسلام کې نۀ شرقي اشتراکي نظام دی چې انسان نه شخصي ملکيت بېخي غصبوي او دڅو چارواکو پۀ لاس کې يې ورکوي او انسان نه هغه اس او خر جوړوي چې پۀ کار او بار سترې کېږي او ګټه يې د خاوند وي هغه ته کور، کالي ډوډۍ ((اخور، ځل او واښه)) ورکوي.....

او نۀ پکې غربي پنګه وال نظام دی چې د شخصي ملکيت داسې بې باکه او کاواکه بازار ته اجازه ورکوي چې پۀ نتيجه کې يې څوک لۀ ولږې مري او د چا ارګی لۀ ډېرو خوړلو لۀ امله بد وي.......

بلکه اسلام کې شخصي ملکيت ته اجازه ورکول شوې ده خو څۀ بريدونه يې ورته ټاکلي دي چې لۀ هغو به نۀ اوړي، پۀ دې سربېره يې پۀ نغدو، حيواناتو او د ځمکې پۀ غلو دانو د زکات حق ايښی دی او نصابونه يې ورته ټاکلي دي چې لۀ بډايانو اخيستل کېږي اوپۀ بې وزلو وېشل کېږي د بې وزلو، يتيمانو، کونډو،

محتاجانو، ګونډيانو، مېلمنو، خپلوانو اونورو حقوق پۀ اسلام کې پۀ ګوته شوي او ټاکل شوي دي.........

د اسلام اقتصادي نظام هغه د انصاف او عدالت نظام دی چې تفصيل يې پۀ ځانګړيو کتابونو کې ليکل شوی دی.

کۀ چېرته د اسلام اقتصادي نظام بشپړ پلی اونافذ شي نو لۀ ګردې نړۍ نه به بې وزلي، محتاجي، فقر او ناانډولي لۀ منځه لاړه شي او ټول وګړي به داسې د خوشحالۍ، سوکالۍ، ودانۍ، ښېرازۍ او خوشحالۍ ژوند ولري چې بې وزلی او محتاج به پکې نۀ وي او ټول جرمونه او ظلمونه به رنګ او لۀ منځه لاړ شي.

د اسلام بانکي نظام د مضاربت په تجارتي بنسټ ولاړ دی چې پانګه د څښتن او د بانک يا تاجر تر منځ د عدل په بنسټ په کار اچول کېږي؛ پانګه به د څښتن وي او ګټې يا تاوان کې دواړه لوري په ټاکلو ونډو سره شريک وي . او دا نظام هم زيات خوندي او هم په عدل ولاړ دی.

درې شريک شيان

اسلام کې ټول خلک پهٔ درې شيانو کې سره شريک دي:

۱- اوبهٔ.

۲- واښه.

۳- اور.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((الناس شركاء في ثلاث: فى الماء والكلأ والنار))[1]

عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((خلک پهٔ درې شيانو کې سره شريک دي: پهٔ اوبو، وښو او اور کې)).

اوبو نه هغه اوبه مراد دي چې پهٔ مصرف او خوارۍ نهٔ را اوځي لکه:

د خوړونو اوبه، د چينو اوبه، دکارېزونو اوبه، دکوهيانو اوبه د سيندونو اوبه او داسې نورې.

[1]- رواه ابو داود و ابن ماجه.

کۀ پۀ مصرف او خوارۍ را اوځي هغه شريکې نه دي لکه: پۀ ارټ، مشين او نورو وسائلو چې را اوځي يا چا پۀ خپل لوښي کې اچولې وي.

او وښونه مراد د عامو دښتو، غرونو او ورشوګانو واښه دي د آبادو پټيو پۀ پولو او دکښتونو منځ کې واښه شريک نۀ دي بلکه هغه د خپل مالک دي، او اورنه مراد د لمبې اخيستل دي د غرونو او دښتو عام لرګي او ونې بوټي شريک دي خو چې چا راټول کړل، راويې وهل يايې واخيستل هغه شريک نۀ دي همدارنګه د نغري نه سوی بې اجازې نۀ شې اخيستی خو لمبه بې اجازې اخيستی شې لکه چې د چالۀ اوره خپل چراغ يا سوی يا بل کوم پېلوزی را ولګوې دا سره شريک دي.

د ځمکې زېرمې شريکې دي

اسلام کې د ځمکې معدنونه او زېرمې د ټولو خلکو شريکې دي لکه تېل، سره زر، قېمتي کاڼي، ګاز او داسې نور. دا چې هر څوک د خپل وس په کچ راباسي هغه د هغه دي او کوم چې د حکومت سرپرستۍ سره اړتيا لري او حکومت يې را باسي هغوکې دټولو مساوي حق دی هر چاته خپله ونډه خپل کورته وړيا او بې کړاوه ور رسول کېږي.

دعربو،خليج او نورو دتېلو زېرمو او نورو معدنونو او زېرمو کې دټولو خلکو برخه ده او څوک چې داسلام حکمونو ته غاړه ږدي هغوی ټول پکې شريک دي دا يواځې دسعودي ،ايران او نورو شخصي مال نۀ دی پۀ دې کې دبنګله دېش هغه بې وزله چې لۀ ولږې مرې،دسوډان هغه وږي چې يوه مړۍ ډوډۍ نۀ لري. دپېښور او جلال آباد هغه بې وزلي جواليان چې ديوې مړۍ ډوډۍ دګټلولپاره ټوله ورځ دخلکوپنډونه پۀ شاکوي اووړي او دهسکوغرونو او شاړو دښتوشپانه ،کوچيان او ټول وګړي سره شريک دي او دهر چاپکې مساوي ونډه ده دخليفه او يو شپون تر منځ هيڅ توپير نشته.

د شاړې ځمکې ودانول

داسلام له ښېګړو نه دا هم ده چې بې مالکه شاړه ځمکه هر چا ودانه کړه دهغه ده حديث کې پۀ دې هکله داسې راځي:

عن سعيد بن زيد عن النبی صلی الله عليه وسلم **أنه قال: ((من أحي أرضا ميتة فهی له وليس لعرق ظالم حق))١**

سعيد بن زيد رضي الله عنه **نه روايت دی هغه پېغمبر** صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي :((چاچې شاړه ځمکه اباده کړه نو هغه دهمغه ده او دظالم نيالګي ابښودلو لپاره هيڅ حق نشته))

معنادا چې کۀ څوک دچا پۀ ځمکه کې نيالګی يا بوټی وکري نو پۀ دې کرلو دهغه کېږي نه بلکه دا ظالم دی .بل حديث کې داسې راځي:

عن عائشة عن النبي صلی الله عليه وسلم قال :**((من أعمر أرضا ليست لأحدفهو أحق بها))**[2]

---

[1] ـرواه الترمذیوابوداودومالک واحمد.

[2] ـ رواه البخاري.

عائشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه پېغمبر صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي:((چاچې داسې شاړه ځمکه اباده کړه چې دهيچانۀ وي نو هغه دهغې ډېر حقدار دی))

نو کۀ دې حديث باندې عمل وشي ددې ځمکې ډېرې شاړې دښتې به ودانې شي دا چې پۀ انسانانو انساني بنديزونه لګېدلي دي اوتنګ سياسي بريدونه تاکل شوي دي دا سراسر ظلم دی اسلام هر انسان ته حق ورکوي چې دنړۍ پۀ هر ګوټ کې اوسېږي ودې اوسېږي هيڅ ځای کې پردی نۀ دی او هره شاړه ځمکه چې ابادوي دادهغه حق دی هيڅوک يې ترې نۀ شي اخيستی ،داوسنيو ظالمانه قوانينو لۀ امله ډېر انسانان بې کوره دي او ډېر لۀ ولږې مري خو ځمکې شاړې پرتې دي !!!.

خو شاړه ځمکه هسې راګېرول او نۀ ودانول منع دي کۀ چا يوه شاړه ځمکه راګېره کړه او تر درې کلونو پورې يې ودانه نۀ کړه بيا دهغه حق نۀ دی اسلام ځمکې ودانوي او معطلې يې نۀ پرېږدي دعمر رضی الله عنه پۀ يو اثر کې راځي چې هغه وايي:

((**من كانت له أرضا فعطلها ثلاث سنين لا يعمر ها فعمرها غيره فهو أحق بها**))[1]

((چې د چا ځمکه وي او درې کاله يې پرېښوده او نۀ يې ودانوله او بيا بل چا ودانه کړه نو همغه يې زيات حقدار دی)).

---

[1]- . أخرجه حميد بن زنجويه.

د چا ځمکه غصبول

اسلام کې دچا پۀ حق تېرى او تجاوز کول ناروا دي تردې چې دچا پۀ ځمکه د عوه کول او دهغې غصبول هم ناروا اولويه ګناه ده.

حديث کې داسې راځي:

عن سعيد بن زيدقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((مـــــن أخذ شبرا من الارض ظلما فإنه يطوقه يوم القيامة من سبع أرضين))[1]

سعيدبن زيد رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((چاچې پۀ ظلم د چا يوه لوېشت ځمکه واخيسته نو د قيامت پۀ ورځ به الله جل جلاله ورته اوه ځمکې پۀ غاړه کې واچوي)).

[1] - رواه البخارى.

د خپل لاس ګټه

اسلام تل پهٔ کار کولو او د حلال رزق پهٔ ګټلو امر کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن المقداد بن معد يكرب قال: قال رسو الله صلى الله عليه وسلم: ((ما أكل أحد طعاما قط خيرا من أن ياكل من عمل يديه و ان نبى الله داودعليه السلام كان ياكل من عمل يديه)) [1]

((مقداد بن معد يكرب رضي الله عنه نه روايت دى هغـه وايي چې رسـول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((لهٔ دې هيچا ښهٔ خواړه نهٔ دي خوړلي چې د خپلو لاسونو لهٔ کار څخه يې وخوري او دالله پېغمبر داود عليه السلام به دخپلو لاسونو د کارنه خوراک کاوهٔ)).

اسلام کې د سوال کول او چاته تمه ناروا ده مسلمان بايد تل دا کوښښ وکړي چې خپل لاس باندې کار وکړي او د خپلې ګټې نه يې پخپله هم وخوري او نورو ته يې هم ورکړي.

بل حديث کې داسې راځي:

عن رافع بن خديج قال: قيل يا رسول الله! أى الكسب أطيب؟ قال : ((عمل الرجل بيده و كل بيع مبرور)). [2]

---

[1]- رواه البخارى.
[2]- رواه احمد.

رافع بن خديج رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: چا وويل: ای د الله پېغمبره! کومه ګټه غوره ده؟ هغه وفرمايل: ((د يو سړي پهٔ خپل لاس کار کول او هره پاکه حلاله سوداګري)).

بل حديث کې د حلال تجارت پهٔ هکله داسې راغلي دي:

عن ابی سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **((التاجر الصدوق الأمين مع النبيين والصديقين والشهداء))**[1]

ابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((رښتينی او امانتدار سوداګر به له پېغمبرانو، رښتينو او شهيدانو سره وي)).

---

[1] ـ رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي والدار قطني.

اساني کول

د اسلام لۀ ښېګړو څخه دا هم ده چې پۀ راکړې ورکړې، معاملې او پور کې تنګلاسو سره داسانۍ کولو حکم کوي.

حديث کې داسې راغلي دي:

عن أبي قتادة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**من سره أن ينجيه الله من كرب يوم القيامة فلينفس عن معسر او يضع عنه**))[1]

ابو قتاده رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((څوک چې پۀ دې خوشحالېږي چې الله تعالی يې د قيامت لۀ غمونو وژغوري نو لۀ تنګلاسي سره دې اساني وکړي يا دې څۀ پور ترې کم کړي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي اليسر قال: سمعت النبی صلى الله عليه وسلم **يقول**: ((**من أنظر معسرا او وضع عنه أظله الله فی ظله**))[2]

ابواليسر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((چا چې تنګلاسي ته مهلت ورکړ ياېې څۀ پور ترې کم کړ نو الله تعالی به يې خپل سيوري لاندې کړي)).

---

[1]- رواه مسلم.
[2]-رواه مسلم.

هر څهٔ کې اساني

همدارنګه د تنګلاسي او پور وړي سره پهٔ اسانۍ سربېره اسلام دخپلو بريدونو دننه پهٔ هر شي کې اسانۍ کولو باندې حکم کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إن الله لم يبعثني معنتا ولا متعنتا ولكن بعثني معلما ميسرا**)).[١]

((**جابر** رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**الله** جل جلاله **زهٔ سخت خويه او سختي کوونکی نهٔ يم لېږلی بلکه اساني کوونکی ښوونکی يې لېږلی يم**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي موسىٰ قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم **إذا بعث أحدا من اصحابه فى بعض أمره قال:** ((**بشروا و لاتنفروا و يسروا ولا تعسروا**))[٢]

ابو موسى رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي**: **رسول الله** صلى الله عليه وسلم به چې خپلو صحابه و کې څوک کوم کار پسې لېږهٔ نو داسې به يې ورته وفرمايل: ((زېرى ورکړئ او خلک مه تروئ، اساني وکړئ او سختي مه کوئ)).

---

[١]- راوه مسلم.
[٢]- رواه البخاري ومسلم.

دروند تول

تول کې کمی خو اسلام کې ناروا دی خو په دې سر بېره اسلام حکم کوي چې تول دې دروند وشي او دتلې سر دې ښکته وي.

حديث کې داسې راځي:

عن سويد بن قيس قال: جلبت أنا و مخرمة العبدى بزًا من هجر فاتينا به مكة فجاءنا رسول الله صلى الله عليه وسلم **يمشي فساومنا بسراويل فبعناه و ثم رجل يزن بالأجر فقال له رسول الله** صلى الله عليه وسلم ((**زن وارجح**)) [1]

سويد بن قيس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي: ما او** مخرمه عبدي له هجرنه څه رختونه مکې مکرمي ته راوړل، رسول الله صلى الله عليه وسلم **مونږ** ته راغی چې پيدل را روان ؤ، نو مونږ سره يې يو پرتوګ باندې نرخ کېښود او مونږ پرې وپلوره، هلته يو سړی ؤ چې په مزدوری يې تول کاوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((تول کوه او دروند يې کوه)).

[1] ـ رواه الترمذی و ابوداود و احمد وابن ماجة والدارمي.

موندلی شی

اسلام حکم کوي چې چا څۀ شی بې ځايه وموندۀ نو خلکو کې دې اعلان وکړي بيا دې يو کال پورې وساتي کۀ خاوند يې پيدا شو نو وربه يې کړي کۀ يو کال پورې يې خاوند پيدا نۀ شونو بيا يې استعمالولی او لګولی شي خو کۀ يو کال نه وروسته يې هم څښتن پيدا شونو بيا به يې هم ورکوي او کۀ لګولی يې ؤ نو تاوان به يې ورکوي.

حديث کې داسې راځي:

عن زيد بن خالد قال: جاء رجل الى رسول الله صلى الله عليه وسلم **فسأله عن اللقطة فقال: ((أعرف عفاصها ووكائها ثم عرفها سنة فان جاء صاحبها والا فشانك بها)) قال : فضالة الغنم؟ قال: هى لك او لأخيك او للذئب)) قال: فضالة الابل؟ قال: ((مالك ولها؟ معها سقاؤها و حذاؤها ترد الماء و تاكل الشجر حتى يلقاها ربها.[1] وفى رواية فإن جاء ربها فأدها إليه))[2]**

زيد بن خالد رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی او د موندلي شي پۀ هکله يې

[1]- رواه البخارى ومسلم.
[2]- رواه مسلم.

ترې پوښتنه وکړه هغه وفرمايل: ((د هغې لوښى او مزى وپېژنه بيا يې يو کال پورې خلکو کې اعلان کوه کۀ خاوند يې راغى ور يې کړه کۀ نه نو ځۀ دې چې خوښه وي پرې ويې کړه)) هغه وويل: د مېږو او اوزو موندلى څرنګه دى؟ هغه وفرمايل: ((هغه يا ستا دى يا ستا د ورور دى او يا د ليوۀ دى)) هغه وويل: نو داوښانو موندلى څرنګه دى؟ هغه وفرمايل: ((ستا هغه سره څۀ کاردى؟ هغه سره خپله غړکۍ اوخپلې څپلۍ شته تر هغې اوبو ته ورځي او ونې بوټي خوري تر څو چې خاوند ورسره مخ شي)) او پۀ يو روايت کې دي چې د موندلي شي خاوند کۀ راغى نو ورېې کړه.

عن زيد بن خالد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((من أوىٰ ضالة فهو ضال مالم يعرفها)) ١

((زيد بن خالد رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چاچې د ورک شوي شي اعلان ونۀ کړ او پنا يې ورکړه نو هغه بې لارې دى)).

او د مېږې اوزې پۀ هکله يې چې وويل د هغې مطلب دا دى چې غرونو رغونو کې بې ځايه لۀ رمې پاتې شوى به يا ته ورېې يا به يې ستا غوندې بل څوک وړي او يا به يې لېوۀ خوري)).

١- رواه مسلم.

پهٔ ناروا د مال خوړل

اسلام د تجارت، صنعت، زراعت او نورې د حلالو ګټو لارې چارې ښوولې دي او پهٔ باطله، ظلم او ناروا لارو مال خوړل يې پهٔ سخته منع کړي دي.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ))[1]

((ای مؤمنانو! خپلو منځو کې خپل مالونه د خوښۍ لهٔ تجارت پرته پهٔ باطله مه خورئ)).

[1]- سورة النساء: ٢٩.

مزدور ته مزدوري ورکول

اسلام بې وزلانو او غريبانوته پهٔ زکات او خيرات ورکولو او پهٔ ښېګړي کولو سربېره دمزدور د مزدورۍ پوره او پهٔ بېړه د ورکولو حکم کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم **قال: قال الله : ((ثلاثة أنا خصمهم يوم القيامة: رجل اعطى بي ثم غدر و رجل باع حرا فاكل ثمنه ورجل استاجرأجيرا فاستوفى منه ولم يعطه أجره))** [1]

ابو هريره رضي الله عنه **نه روايت دى هغه پېغمبر** صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: الله تعالى فرمايلي دي: ((درې کسان دي چې د قيامت پهٔ ورځ زهٔ د هغوی سره جګړه کوونکی يم: يو هغه سړی دی چې زما پهٔ نامه يې چاسره ژمنه وکړه او بيا يې ماته کړه، بل هغه سړی دی چې ازاد انسان يې وپلوره او دهغه پيسې يې وخوړې او بل هغه سړی دی چې مزدور يې ونيوهٔ، کار يې ترې پوره واخيست خو د هغه مزدوري يې ورنهٔ کړه)).

[1]- رواه البخاري. وابن خزيمة.

بل حديث کې راځي:

عن عبدالله بـــن عمر قال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم : ((**أعطوا الأجير أجره قبل أن يجف عرقه**))[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما **نه روايت دى هغه وايي چې** رسول **الله** صلى الله عليه وسلم **ويلي دي**: ((**مزدورته لۀ دې مخکې خپله مزدوري ورکړئ چې خوله يې وچه شي**)).

[1] - رواه ابن ماجه.

خادم سره ښه سلوک

د اسلام لۀ ښېګړو څخه يوه ښېګړه دا ده چې اسلام خادمانو اومزدورانو سره پۀ ښۀ سلوک، ښو اخلاقو او ښېګړې کولو امر کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إذا صنع لأحدكم خادمه طعامه ثم جاءه به و قد ولى حره ودخانه فليقعده معه فلياكل فان كان الطعام مشفوها قليلا فليضع فى يده منه أكلة او أكلتين))** [1]

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((کله چې ستاسو کوم کس ته خپل خادم خوارۀ تيار کړل او بيا يې ورته راوړل چې ګرمي او لوګي يې هغه ګاللي وي نو لۀ ځان سره دې يې کېنوي او ورسره ودې يې خوري، کۀ خواړه لږ او نا څيزه وو نو لاس کې دې يوه مړۍ دوه مړۍ ترې ورکړي)).

[1]- رواه مسلم.

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي ذر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إخوانكم جعلهم الله تحت أيديكم فمن جعل الله أخاه تحت يديه فليطعمه مما ياكل وليلبسه مما يلبس ولا يكلفه من العمل ما يغلبه فان كلفه ما يغلبه فليعنه عليه**))[1]

ابو ذر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل** : ((ستاسو ورونه الله ستاسو د لاسو لاندې ګرځولي دي ، د چا ورور چې الله دهغه د لاس لاندې ګرځولی وي نو لۀ هغو خوړو دې ورکړي چې پخپله يې خوري، هغه ډول جامې دې ور واغوندي چې خپله يې اغوندي او پۀ هغه کار دې يې نۀ ګماري چې پرې زيات وي کۀ پۀ داسې کارېې وګماره چې پرې زيات وي نو مرسته دې ورسره پکې وکړي)).

[1]- رواه البخارى ومسلم.

ځان لپاره چې څۀ خوښوې نورو لپاره يې هم خوښ کړه

اسلام مسلمانانو ته حکم کوي چې څۀ ځان لپاره خوښوې نورو ته يې هم خوښ کړه حديث کې د غوره ايمان پۀ هکله داسې راغلي دي:

عن معاذ أنه سأل النبي صلى الله عليه وسلم **عن أفضل الايمان؛ قال: ((أن تحب لله و تبغض لله وتُعْمِلَ لسانك فى ذكر الله)) قال: وماذا يارسول الله؟ قال: ((و أن تحب للناس ما تحب لنفسك و تكره لهم ماتكره لنفسك))** [1]

((**معاذ** رضي الله عنه **نه روايت دی چې هغه د پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **نه د غوره ايمان پۀ هکله وپوښتل هغه ورته وفرمايل**: (((غوره ايمان دا دی چې ته محبت هم الله لپاره وکړې، کينه هم الله لپاره وکړې او خپله ژبه دې د الله پۀ يادولو کې مشغوله کړې)) هغه وويل: او نور څۀ دي ای د الله پېغمبره!؟. هغه وفرمايل: ((او داچې خلکو لپاره هغه څۀ خوښ کړې چې خپل ځان لپاره يې خوښوې او هغوی لپاره هغه څۀ بد وګڼې چې خپل ځان لپاره يې بد ګڼې)).

[1]- رواه احمد.

خلکو ته د خير رسولو او د شرنه دځان ساتلو پهٔ هکله داسې حديث راغلی دی:

عن أبي هريرة قال: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم **وقف على ناس جلوس فقال: ((ألا أخبركم بخير كم من شركم؟)) قال: فسكتوا. فقال ذلك ثلاث مرات، فقال رجل: بلى يارسول الله! أخـــبرنا بخيرنا من شرنا فقال: ((خيركم من يرجى خيره و يؤمن شره و شركم من لايرجى خيره و لايؤمن شره))** [1]

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څهٔ ناستو خلکو ته ودرېد او ويې وفرمايل: ((آيا زهٔ تاسوته ستاسو ښه او بد خلک وښيم؟)) هغوی چوپ شول او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره درې ځل وکړه، نويو سړي وويل: ولې نه ای د الله پېغمبره! مونږ ته زمونږ ښه او بد وګړي راوښيه هغه وفرمايل: ((ستاسو ښهٔ هغه څوک دی چې د خير هيله ترې کېږي او لهٔ شره يې خلک پهٔ امن وي او ستاسو بدهغه څوک دی چې نهٔ ترې د خير هيله کېږي او نهٔ يې لهٔ شره خلک پهٔ امن وي)).

---

[1] ـ رواه الترمذي والبيهقى فى شعب الايمان.

د اولادونو تر منځ عدل کول

اسلام سراسر د عدل دين دی او هيچا سره د ظلم کولو اجازه نهٔ ورکوي تردې چې پلار به د خپلو اولادونو تر منځ هم عدل کوي.

حديث کې داسې راغلي:

عن النعمان بن بشيرأن أباه أتى به إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم **فقال: إنى نحلت إبنى هذا غلاما:قال:((أكل ولدك نحلت مثله؟)) قال: لا. قال: ((أيسرك ان يكونوا إليك فى البر سواء؟)) قال: بلى. قال: ((فلا إذاً)). وفى رواية: قال: أعطاني أبي عطية فقالت عمرة بنت رواحة: لا أرضى حتى تشهد رسول الله** صلى الله عليه وسلم ؛ **فاتىٰ رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فقال : إنى أعطيت إبنى من عمرة بنت رواحة عطية فامرتنى أن أشهدك يا رسول الله! قال: ((أعطيت سائر ولدك مثل هذا؟)) قال: لا. قال: ((فاتقوا الله واعدلوا بين اولادكم)) وفى رواية: ((لا أشهد على جور))**[1]

نعمان بن بشير نه روايت دی چې د هغه پلار هغه سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته ويې ويل: ما خپل دې ځوی ته يو

[1]- رواه البخارى ومسلم.

مريي ډالۍ کړ. هغه وفرمايل: ((آيا خپلو ټولو بچوته دې همدې غوندې ډالۍ ورکړې دي؟ هغه وويل: نه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((آيا ته پۀ دې خوشحالېږې چې هغوی تاسره ښېګړې کولو کې سره برابر وي؟ هغه وويل: هو. هغه وفرمايل : ((نو بيا داسې مۀ کوه)). او پۀ يو روايت کې داسې دي چې نعمان بن بشير وايي: ماته خپل پلار يوه ډالۍ راکړه (زما مور) عمره بنت رواحة وويل: زه تر هغې نۀ راضي کېږم تر څو چې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم پۀ دې ګواه کړې. نو هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: د عمره بنت رواحة نه چې زماکوم ځوی دی ده ته مې څۀ ډالۍ ورکړه نو هغې راته وويل چې تاپرې ګواه کړم ای د الله پېغمبره! . هغه ورته وفرمايل: آيا خپلو ټولو اولادونو ته دې داسې ډالۍ ورکړې ده؟)) هغه وويل: نه نو هغه وفرمايل: ((الله نهووېرېږئ او د خپلو اولادنو منځ کې عدل وکړئ)) او پۀ يو روايت کې دي چې ((زه پۀ ظلم ګواهي نۀ کوم)).

مېلمه پالنه

اسلام کې مېلمه پالنې ته زياته پاملرنه شوې ده او مؤمنانو ته حکم شوی دی چې د مېلمنو عزت وکړي. حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليكرم ضيفه و من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يؤذ جاره و من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليقل خيرا او ليصمت**)).[1]

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((څوک چې پهٔ الله او د قيامت پهٔ ورځ ايمان لري نو د خپل مېلمه عزت دې وکړي او څوک چې پهٔ الله او د قيامت پهٔ ورځ ايمان لري نو خپل ګاونډي ته دې کړاو نهٔ رسوي او څوک چې پهٔ الله او د قيامت پهٔ ورځ ايمان لري نو د خير خبره دې وکړي يا دې چوپ شي)).

د مېلمه زيات اکرام يو شواروز دی، د مېلمستيا حق يې درې ورځې دی او نور پرې خيرات دی. حديث کې راځي:

[1]- رواه البخاری ومسلم.

عن أبي شريح الكعبي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فليكرم ضيفه جائزته يوم وليلة والضيافة ثلاثة أيام فما بعد ذلك فهو صدقة ولا يحل له أن يثوى عنده حتى يحرجه))**[1]

د ابو شريح كعبي رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((څوک چې پۀ الله او د قيامت پۀ ورځ ايمان لري نو دخپل مېلمه پالنه دې وكړي. د مېلمه امتيازي پالنه يو شواروز ده، مېلمستيا يې درې ورځې ده او لۀ دې وروسته خيرات دى. او دا روانۀ دي چې كوربه سره تر هغې وا ړ وي تر څو يې چې تنګ كړي)).

[1]- رواه البخاري ومسلم.

سود اخيستل

اسلام د سود په کلکه مخالفت او مخنيوی کوي او سود ډېره لويه ګناه ده چاته پور ورکول او بيا په اصلي پنګه زياته ګټه اخيستل سود بلل کېږي او دا حرام دی ګټه د حلال تجارت په ډولونو او د انصاف او عدالت په بنستونو اخيستل روا دي د سود لاره دظلم لاره ده.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُواْ اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ))[1]

((ای مؤمنانو! په څو چنده سود مه خورئ او الله نهووېرېږئ ښايي چی بريالي شئ))

او فرمايي:

((الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا))[2]

[1]- سورة آل عمران: ۱۳۰.
[2]- سورة البقرة: ۲۷۵.

((هغه خلک چې سود خوري نۀ اودرېږي مګر د هغه چا پۀ ډول چې شيطان يې درسېدو لۀ امله ګډوډ وي. دا لۀ دې امله چې هغوی ويلي دي چې سوداګري د سود غوندې ده؛ حال دا چې الله سوداګري حلاله کړې ده او سود يې حرام کړی دی)).

نو اسلام سود منع کړی دی او کۀ چاد ناپوهۍ لۀ امله پۀ سود پيسې ورکړې وي يا يې د پوهې سره ورکړې وي او بيا يې توبه وايستله نو هغه به د پوروړي نه خپله اصلي پنګه واخلي او سود به ترې نۀ اخلي او کۀ سود يې ورڅخه اخيستی ؤ هغه به پۀ اصلي پنګه کې حساب کړي پۀ اصلي پنګه زيات ورته هيڅکله نۀ دي روا.

الله تعالی فرمايي:

((فَمَن جَاءهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىَ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَـئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ))[1]

((چا ته چې د خپل رب لۀ لوري پند راغی او هغه منع شو نو هغه لپاره هغه دي چې وړاندې تېر شوي دي او کار يې الله پورې اړه لري او څوک چې د سود اخيستلو ته راستون شو نو هغوی دوزخيان دي تل به پکې اوسي)).

او فرمايي:

((وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ))[2]

---

[1]- سورة البقرة: ۲۷۵.
[2]- سورة البقرة:۲۷۹.

((او كۀ توبه مو وكړه نو تاسو لپاره خپل اصلي مالونه دي نۀ به تاسو تېرى كوئ او نۀ به پۀ تاسو تېرى كېږي))

او كۀ پوروړى تنګلاسى ؤ او پور يې نۀ شو خلاصولى نو بيا به تر هغه ورته ګوري تر څو ورسره پيداشي خو كۀ ورويې ښښي نو ډېره ښه ده.

الله تعالى فرمايي:

((وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ))[1]

((او كۀ تنګلاسى ؤ نو تر آسانۍ ورته كتل دي او كۀ پوهېږئ نو چې ورو يې ښښئ دا تاسو لپاره ډېره غوره ده)).

اسلام د سود پۀ وړپرېښودلو حكم كوي او فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِه))[2]

((اى مؤمنانو! الله نه ووېرېږئ او كۀ مؤمنان يې نو د سود نه چې څۀ پاتې دي هغه پرېږدئ كۀ داكار مو ونۀ كړ نو الله او د هغه د پېغمبر سره د جنګ اعلان وكړئ)).

---

[1]- سورة البقرة: ۲۸۰.
[2]- سورة البقرة: ۲۷۸- ۲۷۹.

همدارنګه د سود مال کې الله تعالى خير او برکت نۀ اچوي.
الله تعالى فرمايي:
((يَمْحَقُ اللهُ الْرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ)) [1]
((الله سود لۀ منځه وړي او خيراتونه زياتوي او الله هر ناشکره اوګناهګار نۀ خوښوي)).
اسلام کې سود خوړل ډېره لويه ګناه ده.
حديث کې د سود پۀ هکله داسې راغلي دي:
عن جابرقال:لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم **أكل الربوا ومؤكله وكاتبه وشاهديه وقال: ((هم سواء))** [2]
جابر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي**: رسول الله صلى الله عليه وسلم د سود پۀ خوړونکي ، د سود ورکوونکي، د سود پۀ ليکونکي او د سود پۀ ګواهانو لعنت ويلی دی او ويې فرمايل: ((دا ټول سره برابر دي)).
بل روايت کې داسې راځي:
عن ابي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: لياتين على الناس زمان لايبقى أحد إلا أكل الربوا فان لم ياكله أصابه من بخاره و فى رواية من غباره)).۳**

[1]- سورة البقرة: ۲۷٦.
[2]- رواه مسلم.
[3]- رواه ابو داود واحمد والنسائى وابن ماجه.

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: ((پهٔ خلکو به خامخا داسې يو وخت راشي چې هيڅوک به بې سود خوړلو پاتې نهٔ شي، کهٔ خوړلی يې نهٔ وي نو تپ يا ګرد خو به يې خامخا ورته رسېدلی وي)).

او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وړاندوينه پهٔ اوسني عصر کې ريښتيا شوه چې د نړۍ اقتصاد او راکړه ورکړه د سودي بانکونو پورې تړلې دي.

نو کهٔ څوک سود نهٔ خوري هم دهغه جېب ته چې کومې پيسې راځي هغه د بانکونو د سودي معاملو نه راتېرې شوې وي او دايې هغه تپ او ګرد دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي.

ټګي برګي منع ده

اسلام کې هر ډول ټګي برګي، غولول او تېر ايستل منع دي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **مر على صبرة طعام فأدخل يده فيها فنالت أصابعه بللا فقال: ((ما هذا يا صاحب الطعام؟)) قال: أصابته السماء يارسول الله. قال: ((أفلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس من غش فليس مني))**[1].

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د غلې پهٔ يو ډېري تېرېدهٔ، خپل لاس يې پکې وردننه کړ، ګوتې يې لمدې شوې نو ويې فرمايل: ای د غلې والادا څهٔ دي؟ هغه وويل: ای د الله پيغمبره! باران پرې شوی دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((بيا دې د غلې دپاسه ولې نهٔ اچوله چې خلک يې وګوري، چاچې ټګي وکړه هغه لهٔ ما څخه نهٔ دی)).

---

[1]- رواه مسلم.

بل حديث کې داسې راځي:

عن واثلة بن الاسقع قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول: ((من باع عيبا لم ينبه لم يزل فى مقت الله اولم تزل الملائکة تلعنه))** ۱

واثله بن اسقع رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((چا چې عيبجن شی خرڅ کړ او عيب يې ونهٔ ښود نو تل به د الله پهٔ غوسه کې وي يا به تل پرښتې پرې لعنت وايي)).

---

[1] - رواه ابن ماجه.

احتكار منع دى

احتكار قېمتۍ ته د غلو دانو ساتلو ته ويل کېږي چې د قېمتۍ پۀ وخت کې غله واخلې او بيا يې نۀ پلورې او زياتې قېمتۍ ته يې ساتې دا کار ناروا دى کۀ دخپلې ځمکې دې وي او بازار کې د غلې کمى نۀ وي يا يې د ارزانۍ پۀ وخت کې واخلې، يا د غلې دانې او خوړو نه پرته نور شيان وي د هغو ساتل روا دي خو غلې دانې د عامو خلکو د ضروري اړتيا ونه دي نو ځکه يې د قېمتۍ پۀ وخت کې لاقېمتۍ ته ساتل منع دي. حديث کې داسې راځي:

عن معمر قال: قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم **((من احتكر فهو خاطئ))**[1]

((**معمر** رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي،** ((**چاچې احتكار وکړ نو هغه ګناهګار دى**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عمر عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((الجالب مرزوق والمحتكر ملعون))**[2]

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه ابن ماجه والدارمي.

((**عمر** رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې پېغمبر** صلی الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**بازارته د غلو دانو راوړونکي ته الله ګټه ورکوي او احتکار کوونکی لعنتي دی**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن معاذ قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول:**

((بئس العبد المحتكر إن أرخص الله الأسعار حزن و إن أغلاها فرح)) [1]

معاذ رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې ما رسول الله** صلی الله عليه وسلم **نه اورېدلي دي چې فرمايل يې**: ((**احتکار کوونکی بنده ډېر بد دی چې الله نرخونه ارزانه کړي نو خپه شي او که ګران يې کړي نو خوشحاله شي**)).

---

[1] - رواه البيهقی.

زياتي اوبه

اسلام کې د اړتيا نه زياتې اوبه منع کول ناروا دي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((لاتمنعوا فضل الماء لتمنعوا به فضل الكلأ))[1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((ددې لپاره چې زياتي واښه پرې منع کړئ، زياتي اوبه مه منع کوئ)).

---

[1]- رواه البخاري ومسلم.

ښښلي نهٔ راستنېږي

د اسلام لهٔ ښېګړو او محاسنو نه دا هم دی چې چا چاته کوم شی ډالۍ کړ او ور ويې ښښه د هغه بېرته اخيستل ناروا دي، تر دې چې پهٔ قيمت يې هم بيرته نهٔ شي اخيستی.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: قال النبی صلى الله عليه وسلم : **((ليس لنا مثل السوء الذي يعود فی هبته کالکلب يرجع فی قيئه))** [1]

عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((مونږ لپاره ناوړه مثال نشته ځوک چې خپله ډالۍ او ښښل شوی شی بيرته اخلي هغه د سپي غوندې دی چې خپلې کانګې بيرته ځټي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عمر بن الخطاب يقول: حملت على فرس لی فی سبيل الله فأضاعه الذی کان عنده فاردت أن أشتريه منه و ظننت أنه بائعه برخص فسألت عن ذلك النبی صلى الله عليه وسلم **فقال: ((لا**

---

[1] - رواه البخاري.

تشتـــره و إن أعطاكه بدرهم واحد فان العائد فى صدقته كالكلب يعود فى قيئه))١

عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ما د الله د لارې جهاد کې خپل يو آس چاته وبښه، هغه سړي يې ښه پالنه ونۀ کړه او ترې برباد شو نو ما وغوښتل چې هغه نه يې پۀ بيه واخلم او ګمان مې وکړ چې هغه يې ارزانه پلوري نورسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې د دې پوښتنه وکړه هغه وفرمايل: ((کۀ پۀ يو درهم يې درکوي هم مه يې اخله ځکه چې خپل خيرات بيرته اخيستونکی د هغه سپي غوندې دی چې خپلې کانګې بېرته ختمې)).

---

[1]- رواه البخاري.

منځلاري

اسلام د اعتدال او منځلارۍ دين دی او د افراط او تفريط تر منځ دی حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته ښه کارونه داسې راپهٔ ګوته کوي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((**الاقتصاد فى النفقة نصف المعيشة والتودد إلى الناس نصف العقل وحسن السؤال نصف العلم**))[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((پهٔ لګښت کې منځلاري نيمه ګوزاره ده، خلکو سره مينه کول نيم عقل دی او ښه پوښتنه نيم علم دی)).

پهٔ لګښت کې منځلاري دا ده چې نهٔ بخل وکړې اونهٔ اسراف.او ښه پوښتنه دا ده چې د پوښتنې ټول اړخونه واضح کړې اوهيڅ إبهام، شک او احتمال پکې پاتې نهٔ شي، نو ځواب به يې هم نيمګړی نهٔ وي بلکه بشپړ پوره او کره به وي. نو نيم علم ښه پوښتنه شوه او نيم علم يې ښه ځواب شو د ښو اخلاقو، ښهٔ خوی، ښه تدبير او منځلارۍ پهٔ هکله حديث کې داسې راځي:

---

[1]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

عن عبدالله بن سرجس أن النبی صلی الله علیه وسلم **قال:** ((**السمت الحسن والتؤدة والاقتصاد جزء من أربع و عشرين جزء من النبوة**))[۱]

عبد الله بن سرجس رضي الله عنه **نه روايت دی چې پېغمبر** صلی الله علیه وسلم **وفرمايل:** ((**ښه خوی، پۀ تدبير کار کول او منځلاري د پېغمبرۍ لۀ برخو نه څلرويشتمه برخه ده**)).

ښه خوی ښه اخلاق او ښه سلوک دی او تدبير هر کار پۀ ښه سرشتې، غور او فکر کولوته ويل کېږي او منځلاري د افراط او تفريط پۀ منځ کې تللو ته ويل کېږي.

۱- رواه الترمذی.

اسراف

دمال بې ځایه لګښت اسراف بلل کېږي اسلام د اسراف مخنیوی کوي او اسراف لویه ګناه ګڼي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنه لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ))[1]

((او اسراف مهٔ کوئ الله بې شکه اسراف کوونکي نهٔ خوښوي)).

او فرمايي:

((وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنه لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ))[2]

((خورئ او څښئ او اسراف مهٔ کوئ هغه بې شکه اسراف کوونکي نهٔ خوښوي)).

او فرمايي:

((وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبه كَفُورًا))[3]

---

[1]- سورة الانعام: ۱۴۱.
[2]- سورة الاعراف: ۳۱.
[3]- سورة الاسراء ۲۶- ۲۷.

((او خپلوان، بې وزلي او مسافر ته خپل خپل حق ورکړه او زيات اسراف مۀ کوه؛ اسراف کوونکي بې شکه د شيطانانو ورونه دي او شيطان دخپل رب ناشکره دی)).

او د مؤمنانو ښۀ صفتونه اوکره ځانګړتياوې داسې شمېري:

((وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا))[1]

((او نېکان هغه خلک دي چې کله لګښت کوي نو نۀ اسراف کوي او نۀ بخل، او د دې دواړو تر منځ پۀ انصاف برابرېږي)).

داسلام لۀ ښېګړو او محاسنو نه دا هم ده چې د اسلام راشدو خلفاؤ داسراف، ترف او عياشۍ ژوند نۀ کاوه او خپلو د حکومت مامورينو او مسؤلينو ته به يې هم پۀ همدې حکم کاوۀ.

د عمر رضي الله عنه پۀ هکله راځي:

عن عمر بن الخطاب أنه كان إذا بعث عماله شرط عليهم أن لا تركبوا برذونا ولا تأكلوا نقيا ولا تلبسوا رقيقا ولا تغلقوا أبوابكم دون حوائج الناس فان فعلتم شيئا من ذلك فقد حلت بكم العقوبة ثم يشيعهم))[2]

عمر بن الخطاب رضي الله عنه چې کله خپل مامورين لېږل نو دا شرط به يې پرې لګاوۀ چې: ((پۀ ښه آس به نه سپرېږئ، کره خواړه او د غلبيل شو يو اوړو ښکلې ډوډۍ به نۀ خورئ، نرمې جامې به نۀ

---

[1]- سورة الفرقان: ٦٧.

[2]- رواه البيهقى.

اغوندئ او د خلکو د اړتياؤ په مخکې به خپلې دروازې نهٔ بندوئ؛ کهٔ دې کارونو کې مو کوم يو وکړ نو تاسو ته به سخته سزا درکول شي. بيا به يې لهٔ دې نصيحت نه وروسته رخصتول)).

نو اګر کهٔ د پاک حلال رزق نه، چې اسراف پکې نهٔ وي، پهٔ کره آس سپرېدل، ښه خوراک کول، نرمې اوښې جامې اغوښتل روا دي

خو د حکومت پهٔ مامورينو دا بنديزونه لهٔ دې امله لګېدل چې عياش روږدي نهٔ شي، رشوت اخيستلو ته اړنهٔ شي او بله کومه ناروا ونهٔ کړي.

بخل

اسلام پهٔ هر کار کې منځلارې باندې حکم کوي کهٔ لهٔ يوه پلوه اسراف منع دی نو لهٔ بله پلوه پهٔ خپل ځای کې د مال نهٔ لګول، محتاجو او بې وزلو سره ښېګړه نهٔ کول او بخل هم ناوړه عمل دی او اسلام يې غندي.

الله تعالی فرمايي:

((**الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ الله مِن فَضْله وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا**))[1]

((الله تعالی هغه خلک نهٔ خوښوي چې بخل کوي، خلکو ته پهٔ بخل کولو امر کوي او الله چې د خپلې مهربانۍ لهٔ مخې کوم مال ورکړی دی هغه پټوي او مونږ منکرانو لپاره سپکوونکی عذاب تيار کړی دی)).

اوفرمايي:

((**وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ الله مِن فَضْله هُوَ خَيْرًا لهمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لهمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ به يَوْمَ الْقِيَامَةِ**))[2]

او هغه خلک چې پهٔ هغه مال بخل کوي چې الله د خپلې لورېنې لهٔ مخې ورکړی دی دا دې نهٔ ګڼې چې ګنې دا دوی لپاره

---

[1]- سورة النساء: ٣٧.
[2]- سورة آل عمران: ١٨٠.

غوره دی بلکه دا دوی لپاره ډېر بد دی د قیامت پهٔ ورځ به ورته هغه مال غاړه کې ور واچول شي چې بخل یې پرې کړی دی)).

((وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ))[1]

هغه خلک چې سره اوسپين زر ذخيره کوي اود الله پهٔ لار کې يې نهٔ لګوي نو د درد ناک عذاب زېرى ورکړه، هغه ورځ د پام وړ ده چې هغه به د دوزخ پهٔ اور کې سرهٔ شي او بيا به پرې د دوی تندي، اړخونه او شاګانې وداغل شي، دا هغه مال دی چې تاسو خپلو ځانونو لپاره ساتلی ؤ نو څهٔ مو چې ساتل هغه وڅکئ)).

((وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))[2]

((او څوک چې د خپل ځان لهٔ بخل او حرص نه وژغورل شو نو همدوی بريالي دي))

---

[1]- سورة التوبة: ٣٤-٣٥.

[2]- سورة الحشر: ٩. سورة التغابن: ١٦.

د خوړو جامو بریدونه

د خوړو جامو پهٔ هکله برید دا دی چې اسلام کوم منع کړي وي هغه مه کوه نور ازادیې او د منعې بریدونه دا دي چې د ظلم اوحرام نهٔ وي د چا حق پکې نهٔ وي، اسراف او زیاتی پکې نهٔ وي، تکبر او بې شرمي پکې نهٔ وي او پاک وي.

حدیث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: ((کل مــاشئت والــــبس ماشئت ما أخطاتك اثنتان: سرف ومخیلة))١

عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي: ((څهٔ دې چې خوښ وي خوره یې او څهٔ دې چې خوښ وي اغونده یې خوشرط یې دا دی چې دوه کارونه پکې نهٔ وي: یو اسراف او بل کبر)).

او همدا معنا په مرفوع حدیث کې داسې راغلې ده:

عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده قال: قــال رسول الله صلی الله علیه وسلم ((کلوا واشربوا و تصدقوا والبسوا مالم یخالط إسراف ولا مخیلة))٢

---

[1]- رواه البخاري موقوفا معلقا.

[2]- رواه احمد والنسائی وابن ماجه.

عمرو بن شعيب لۀ خپل پلار نه هغه يې نيکه نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((خورئ، څښئ، خيرات ورکوئ او اغوندئ تر څو چې اسراف او کبر ورسره ګډ نۀ وي)).

سره زر او ورېښم

د سرو زرو او ورېښمو استعمال نارينه ؤ باندې حرام دی او ښځو ته روا دی او تجارت يې دواړو ته روا دی.

حديث کې راځي:

عن أبي موسى الاشعري أن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((أُحل الذهب والحرير للاناث من أمتى و حرم على ذكورها)).١**

أبو موسى أشعرى رضي الله عنه نه روايت دی چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((سره زر او ورېښم زما د امت ښځينه ؤ ته روا شوي دي او پۀ نارينه ؤ يې حرام شوي دي)).

---

[1] - رواه الترمذى والنسائى.

نو ښځينه ؤ ته د سروزرو هر ډول استعمال روا دی چې د پسولونو او جامو پۀ ډول يې استعمالوي او د محلق (کړی شوي) او غير محلق (ناکړی) توپير چې چا کړی هغوی سهوه شوي دي سره زر خو د کوم مولي پۀ شکل نۀ استعمالېږي خامخا به محلق وي. او ريښم هم ښځينه ؤ ته روا دي.

خو پۀ نارينه ؤ دواړه حرام دي. او تجارت او سودا ګري يې نارينه او ښځينه دواړو ته رواده.

د مال او شهرت حرص

دمال او شهرت حرص ډېر ناوړه خوی دی ځوک چې پهٔ دې حرص اخته شي نو بیاهر ناروا ته لاس وراچوي او پهٔ هیڅ اړ نهٔ وي، تمیز ورځخه ورک شي او نړه ځاروی شي بلکه لهٔ ځاروي هم بتر شي ځکه چې د دې حرص لهٔ امله د نورو پهٔ حقوقو تېری کوي.

حديث کې راځي:

عن كعب بن مالك قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((ماذئبان جائعان أرسلا فى غنم بافسد لها من حرص المرء على المال والشرف، لدينه)) [1]

كعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي: رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمایل** : ((دوه وږي لېوان چې پهٔ یوه رمه ورشېوه شوي وي دومره زیان ورته نهٔ رسوي لکه د یو سړي دمال او شهرت حرص يې چې د هغه دين ته رسوي)).

نو دا هم د اسلام یو فضیلت دی او د انساني ټولنې سره يې یوه ستره ښېګړه ده چې خپل منونکي د مال او شهرت لهٔ حرصه منع کوي.

[1] ـ رواه الترمذي والدارمي.

د دې دا مطلب نهٔ دی چې مسلمان به د حلال رزق لهٔ ګټلو هم وروسته کېږي بلکه د ((حرص)) او روا طلب تر منځ ډېر لوی توپير دی اسلام لهٔ يوه پلوه مسلمانانو ته د حلال رزق دګټلو حکم کوي او ورته وايي: ((وابتغوا من فضل الله)) ((د الله د حلالې روزۍ مهرباني ولټوئ)) او دا لټون د هغو ټولو روا وسيلو نهٔ کار اخيستل دي چې حلاله روزي او حلال مال پرې ګټل کېږي او بيا يې د هر ډول مال نصابونه ټاکلي او
مسکينانو، بې وزلانو، غريبانو، يتيمانو او مستحقوته د زکات ورکولو او نورو مالي مرستو ورکولو حکم کوي او څهٔ بريدونه او ضوابط ورته ټاکي.

اسلام کې د ښځو حقوق

د اسلام معاند دښمنان هڅه کوي چې د ښځو د حقوقو په نوم د ښځو حقوق غصب کړي، د ښځې عزت، پت او وقار له منځه یوسي، ښځه یوه سپکه نانځکه جوړه کړي او یوائې د خپلو نفسي غوښتنو او د جنسي تسکین لپاره یې بې دریغه او کاواکه استعمال کړي.

کله ترې پرتوګ او جامې اوباسي او بربنډه یې ټولنې ته وړاندې کوي، کله یې د شرابو او کبابو په محفلونو، صحنو او کلبونو کې ګډوي او د هغې د مجبورۍ، د ځوانۍ د ناپوهۍ او شخصي ظروفونه په نارواګټې اخیستو سره د هغې سپکاوی کوي، کله یې د سینما په پرده دتلویزون په ښیښه او دورځپاڼو او مجلو په پاڼو کې د تجارت د متاع په توګه ځرګندوي، کله یې د تجارت اشتهارونو او دسوداګري توکیو په مخ د سوداګري تشهیر لپاره انځورونه چاپوي او په دې توګه یې سپکاوی کوي.

په ځوانۍ کې یې په ډول ډول پلمو وغولوي، د کورني فطري ژوند، د خپلوۍ، کورنۍ او بچولۀ مینې یې محرومه او بې برخې کړي، د جنسي غریزې تسکین لپاره د مترفینو په هوټلونو او د عفت او عزت د پلورلو په جنسي بازارونو کې دیوې ناچیزه متاع په توګه سپکه او ورکه شي؛ د ځوانۍ د جنسي بې لارۍ له امله د

ايډز غوندې مهلکو ناروغيو او د زړ بودۍ د بې وسۍ او بې وزلۍ د ستونزو سره يې بې اسرې او نهيلې مخ کړي.

پۀ غربي نړۍ کې ښځه د زړۀ سوي وړ ده؛ هلته ښځه د خپل عزت، وقار او عفت نه ناخبره او لرې ساتل شوې ده؛ د لوېديزې نړۍ ښځه دختيزې نړۍ د ښځې د وقار او عزت نه د ډک کورني ژوند نه ناخبره ده.

دلوېديزې نړۍ ښځه لۀ دې خبره نۀ ده چې دختيزې نړۍ د ښځې د ژوند ټولې اړتياوې دپلار، ورور او مېړه پۀ غاړه دي؛ هغه د مېړه لۀ مينې د پلار لۀ شفقت او مهربانۍ د ورور او د ځوی د احترام او دټولنې دعزت نه پوره او کره ګټه اخلي او د خوښۍ او وقار يو داسې فطري ژوند کوي چې کۀ د لوېديزې نړۍ ښځې ترې خبرې شي نو ورته وبه پسخېږي . لوېديز کې د ختيز د ښځې د ژوندډېر حقيقتونه او واقعيتونه پټېږي او پۀ غلط رنګ کې وړاندې کېږي راځئ چې د ختيز د مسلمانې ښځې د ژوند او حقوقو ځينې بېلګې وڅېړو او هغه اړخونه وپلټو چې لوېدېز پرې ناسمې نيوکې کوي.

د سړي امارت او سر پرستي

تر ټولو دمخه باید پهٔ دې خبره پوه شووچې پهٔ اسلام کې امارت او حکومت مسؤلیت دی، فضیلت نهٔ دی.

او دا یوه فطري او طبیعي خبره ده چې د انساني ژوند او انساني ټولنې د تنظیم او رغونې لپاره امارت او حکومت یوه اړتیا ده کهٔ امیر او مامور نهٔ وي نو ژوند او ټولنه کې به ډېرې ستونزې، کړاوونه او اختلافونه را ولاړ شي.

دا چې پهٔ ټولنه کې څومره ښې امارتونه او ښې حکومتونه دي، څومره ستونزې اختلافونه او جګړې دي؟! کهٔ بېخي امارت او حکومت وجود ونهٔ لري بیا خو به ټولنه ګډه وډه ، بې نظمه او حیواني شي.

لکه څرنګه چې اسلام ټوله ټولنه یو کور، یو ولس، یو هېواد او یو دولت ګڼي او د دې یو هېواد او یو دولت لپاره یو عادل، عالم، پرهېزګار، مسؤلیت پېژندونکی او متمکن خلیفه او امیر ټاکي، همدارنګه د کورني ژوند دمنظمولو، پرمخ بېولو او رغولو لپاره یو مسؤل امیر ، سر پرست او حاکم ټاکي او دا فطري او طبیعي خبره ده چې ښځه او سړی نهٔ پهٔ فطري جوړښت کې سره مساوي دي، نهٔ پهٔ ځواک او استعداد کې او نهٔ د ژوند پهٔ نورو ډېرو اړخونو کې؛ دې کې شک نشته چې انسانیت کې سړی او ښځه

دواړه سره برابر او مساوي دی او دواړه انسانان دي خو فطري توپیر هیڅوک نهٔ شي مساوی کولی، ښځه نسبت سړي ته نازکبدنه او کمزورې ده، او سړی نسبت ښځې ته سخت او ځواکمن دی؛ پرتله او مقایسه د دوه جنسونو کېږي پهٔ افرادو کې به ډېرې داسې ځینې ښځې وي چې ځینو سړیونه به ځواکمنې وي خو د دواړو جنسونو مقایسه چې کېږي نو یوائې انسانانو کې نه بلکه ټولو ژویو اوحیواناتو کې نسبت ښځې ته نر ډېر غښتلی او ځواکمن وي.

همدارنګه هغه درانهٔ او ستونزمن کارونه چې سړي یې کولی شي ښځې یې نهٔ شی کولی؛ او هغه فطري کارونه چې د ښځو پهٔ فطرت کې ایښودل شوي او کوي یې سړي یې نهٔ شي کولی.

بچي زېږول د ښځې فطري دنده ده کهٔ څوک وغواړي چې پهٔ دې کې دې هم سړی او ښځه مساوي وي نو دانهٔ یوائې دا چې نهٔ کېدونکی اود فطرت خلاف دی بلکه داسې مساوات غوښتل بهٔ د نره حماقت نه پرته بل څهٔ نهٔ وي.

نو دکور د امارت دروند بار پورته کول او د کور اړتیاوې پوره کول د ښځې د فطرت نه بېخي خلاف کار دی. ښځې ته حامله کېدل، بچي زېږول، بچي ته د تي ورکول، د بچي پالل او د دې ټولو پهٔ کولو کې سستي او ناروغی، کړاوونه او ستونزې ګالل ور پهٔ غاړه دي او دې ټولو سره د کور د امارت دروند بار پورته کول، د اړتیاؤ پوره کول، ګرمۍ او یخنۍ، باد او باران او ډول ډول ظروفو کې منډې ترړې، سفرونه او کړاوونه ګالل به پهٔ ښځې نره ظلم او تېری وي.

او کۀ مونږ دا ووايو چې ښځه دې بچي نۀ زېږوي يا دې د زېږولو نه وروسته ټوله پالنه سړي کوي نو دابه هم د فطرت نه خلاف وي او هم به د دې معنا دا وي چې دا نړۍ دې ړنګه شي، انساني نسل دې بند شي او انساني ژوند ته دې دپای ټکی کېښودل شي.

نو اسلام د سړي او د ښځې دې ټولو ظروفو ته کتلي او د کور د سرپرستۍ دروند بار يې د سړي پۀ اوږو بار کړی دی نو ځکه الله تعالیٰ ﷻ فرمايي:

((الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ))[1]

((سړي پۀ ښځو ټينګ ولاړ سر پرستان دي)).

د ((قوامون)) ((ټينګ ولاړو حاکمانو او سرپرستانو)) د لفظي او لغوی معنا نه دا څرګندېږي چې دا حکومت يو سخت مسؤليت دی سړی به د ښځې د عزت ساتلو،خوراک، جامې، کور، درملو او نورو ټولو اړتياو او حقوقو دپوره کولو لپاره ټينګ ولاړ وي اوهيڅ بې غوري به پکې نۀ کوي.

د سړي او د ښځې د حاکميت او محکوميت پۀ دې فطري تقسيم او وېش کې ګوتې وهل، پۀ زوره د سړي او ښځې تر منځ دښمني پيدا کول دي. د ښځې او سړي تر منځ دخپلوۍ، مينې او محبت ټينګې او نۀ شلېدونکې اړيکې دي، دا د ښځې لپاره کوم عار نۀ دی چې هغه د خپل محبوب مېړه، مشفق پلار، مهربان ورور، ګران ځوی او يا بل خواخوږي د سرپرستۍ لاندې ژوند

---

[1]- سورة النساء: ٣٤.

وکړي، د دې ټولې اړتیاوې هغه پوره کړي او د دې د ټولو حقوقو پوره پوره خیال وساتي او بې غوره، بې سرپرسته، بې اسرې، نهیلې، بې وزله او بې وسه یې پرې نۀ ږدي.

ښځه یا زما مور ده چې اسلام راته د هغې پۀ احترام او طاعت امر کوي او د پلار نه یې درې چنده زیاته د احسان او ښېګړې وړ او مستحقه ګڼي.

یا مې خور ده چې اسلام راته د هغې د حقوقو ورکولو، احترام، مهربانۍ، خواخوږۍ اود ټولو حقوقونه د دفاع حکم کوي.

یامې لور ده چې اسلام راته حکم کوي چې پۀ ژوند وربانديې شفقت وکړم، د ځوی سره یې برابره وګڼم اړتیاوې یې پوره کړم او د مینې محبت او مهربانۍ سیورې پرې وکړم.

یامې ښځه او د ژوند ملګرې ده چې اسلام راته حکم کوي چې د هغې د پت، عزت او عفت نه دفاع وکړه، خرڅ او خوراک، جامه او درمل، کور او نورې اړتیاوې یې پوره کړه، حق مهریې ورکړه، هغې او د هغې بچو سره د مینې، محبت، مهربانۍ، خواخوږۍ او مشورې ژوند وکړه او دهغوی د اړتیاو پۀ پوره کولو، دمینې سر پرستۍ او نورو ټولو حقوقو پۀ ادا کولو کې هیڅ ډول بې غورې ونه کړې. او زۀ هم د یوې ښځې ځوی د بلې ورور د بلې پلار او د بلې مېړۀ یم.

نو کله چې اسلام زما او د ښځې تر منځ د ټولو فطري ظروفو خیال ساتلی دی، زما او دهغې تر منځ یې دومره پخې د خپلوۍ او مینې اړیکې ټینګې کړې دي او ښځې ته یې دومره

امتيازونه ورکړي دي نو ولې مونږ پرديو او زمونږ دښمنانو ته د دې فرصت ورکړو چې زمونږ تر منځ تېږې وټکوي او زمونږ نېکمرغه ژوند د بدمرغۍ او ستونزو سره مخ کړي!!!.................

اى دختيزې نړۍ ښځو! ستاسو عزت، وقار، او حقوق چې پۀ اسلام کې ځومره خوندي دي بل هيڅا نۀ دي خوندي کړي، مونږ ستاسو پۀ عزت او عفت خپل سرونه او مالونه ښندو، تاسو پۀ خپل کور کې د مور، خور، لور او ښځې پۀ حيث محترمې محتشمې او معززې اوسېږئ، د ځامنو، ورونو، پلرونو او مېړونو مينې او محبت ته اوزګارې يئ او د بهر ټول درانده پېټي زمونږ د نارينه ؤ پۀ اوږو بار دي؛ کۀ تاسو د اړتيا لپاره سفر کوۍ نو موټر، بس او نورو کې محترم ځاى تاسوته درکوو کۀ تاسو ډک بس ته راپورته شئ نومونږ اودرېږو خو تاسو پۀ چوکۍ کښنوو او د غريبانو غوندې تاسو بسونو کې اودرول خپل سپکاوى ګڼوو، مونږ يې پۀ باد او باران، ګرمۍ او يخنۍ، پۀ پور او پۀ کړاو ګټو او پيدا کوو او پۀ کور کې يې ستا پۀ واک کې درکوو او بيا ستا لاس ته اړيوو تاته انتظار کوو؛ ستا د ټولو اړتياو پوره کول اسلام زما پۀ غاړه را اچولي دي، تاته يې د جنسي او نورو ټولو اړتياو د پوره کولو او د خوشحاله ژوند تېرولو لپاره د واده عزتمنده پتمنه او د خوښۍ او وقار نه ډکه لار پرانستې او ستا، ستا د مور او پلار پۀ خوښه ده تا هيڅوک پۀ زوره نۀ شي ودولى پۀ بدو کې ستا ورکول سراسر د اسلام نه خلاف دي ستا پلورل او ستا پۀ سر ولور اخيستل سراسر

ناروا او حرام دي پۀ تاچې دودونو کوم بنديزونه لګولي او ستا حقوق چې رواجونو رنګ کړي هغه له اسلام نه مۀ ګڼه.

ای د ختيز مسلمانو ښځو! د دودونو د ناخوالو او خرافي رواجونو سره سره چې ستا کوم دعزت او وقار ژوند دی د لوېديز ښځې هغه نه بې برخې او محرومې دي.

ختيز کې پۀ ځوانۍ کې ښځه د مينې، محبت نه ډک د واده د ګډ ژوند يو مظهر دی او پۀ زړبودۍ کې د احترام وړ.

د ختيز ښځه چې څومره زړېږي احترام يې زياتېږي آياتاسو نۀ دې اورېدلي چې د ختيز وګړي جنت دمور د پښو لاندې ګڼي؟.

دختيز وګړي زاړۀ مور او پلار د برکت او خير باعث او لامل ګڼي او د قدر، عزت او احترام پۀ سترګه ورته ګوري.

خو لويديز کې ښځه د ځوانۍ پۀ وخت کې د جنسي غريزو او نفسي غوښتنو د پوره کولو وړيا متاع بولي او دهر ډول عزت، عفت، عظمت، حشمت او وقار نه محرومه او تېروتې يې ساتي او پۀ زړبودۍ کې دې ته هم تيار نۀ وي چې خپل زاړۀ مور او پلار پۀ کور کې پرېږدي بلکه هغوی پۀ زړبودۍ کې د خير يه مؤسسو او حکومتي ادارو خيراتونو ته سترګې پۀ لار وي او دهيڅ ډول احترام او عزت وړ نۀ ګڼل کېږي!.

جاهلیت کې د ښځې سپکاوی

اسلام نه مخکې د جاهلیت په وخت کې د ښځې مقام ډېر لاندې او د سپکاوي نه ډک ؤ؛ لور عار او شرم ګڼل کېدهٔ، ښځې د حیض او نفاس په وخت کې له کورونو نه بهر په ګوښه ځای کې ساتل کېدې، د میراث نه محرومې وې، د تجارتي توکیو په څېر پلورل کېدې، د ټولو حقوقو نه محرومې وې او ښځې ته په هیڅ حق چا اعتراف نهٔ کاوهٔ او په دې ټولو سربېره لورګانې په کمکیتوب کې ژوندۍ د خاورو لاندې کېدې، په ګور منډل کېدې او ژوندۍ ښخېدې.

الله تعالی فرمایي:

«وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ»[1]

«او کله چې د دوی کوم کس ته د جلۍ زیری ورکول شي نو مخ يې تک تور شي او خفه وي د بد زېري لهٔ امله خلکو نه پټېږي (او فکر کوي چې) آیا د سپکاوي سره يې وساتي او کهٔ پهٔ خاورو

[1]- سورة النحل: ۵۸- ۵۹.

يې ومنډي خبر اوسئ! دوي چې کومه پرېکړه کوي هغه ډېره ناوړه ده)).

نو د اسلام نه مخکې د ښځو دا حال ؤ او ډېرې لوڼې ژوندۍ پۀ خاورو منډل شوې دي. نو اسلام چې راغی ښځو ته يې عزت ورکړ، ميراث يې ورته وټاکۀ، ټول حقوق يې ورکړل او د ژوند يو پۀ خاورو منډل شويو لورګانو پۀ هکله يې وفرمايل:

((وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ))[1]

((او کله چې ژوندۍ پۀ خاورو منډل شوې جلۍ وپوښتل شي چې پۀ کومه ګناه وژل شوې ده؟!)).

اوس هم پۀ غير اسلامي ټولنو کې ښځې سره جاهلي سلوک کېږي خو يواځې نوم او طريقه يې بدله ده.

پۀ غربي او کفري نړۍ کې ښځه ډېره سپکه ده، دا خپله د ښځو سره بېلوونکی او ناوړه سلوک دی چې د ښځو پۀ نامه دې يوه ورځ وي او نوره دې د نارينه پۀ لاس کې يوه نانځکه وي!!!..................

کۀ د غربي نړۍ مظلومې ښځې پۀ اسلام کې د ښځې لۀ درناوي خبرې شي نو ټولې به مسلمانې شي، هغوی د خواخوږۍ وړ دي، هغوی بې وزلې اوسپکې دي او د اسلامي نړۍ ښځې محترمې، محتشمې، درندې، پتمنې دي او پت ، عزت، عفت او ټول حقوق يې خوندي دي.

[1]- سورة التكوير: ٨- ٩.

اسلام کې د ښځې لوړ مقام

لکه مخکې مو چې وويل او وروسته هم دا خبره څېړل کېږي چې اسلام ښځې ته ډېر لوړ مقام ورکړ، ښځه يې د جاهليت د سپکاوي نه را وايسته او خپل د وقار او عزت مقام کې يې و دروله.

د مسلمان او مسلمانې په حيث نر او ښځې ته يو ډول کتل شوي دي قران کريم کې د ښځو په نامه يو سورت نومول شوى دى چې ((سورة النساء)) ((د ښځو سورت)) بلل کېږي او د فطري جوړښت او توپيرونو نه پرته هغه ټول خطابونه چې نارينه ؤ ته دي ښځينه ؤ ته هم دي او په دې سربېره په ډېرو ځايونو کې ښځې د سړيو سره سمې اويو ډول يادې شوې دي چې ځينې بېلګې يې دا دي:

الله تعالی فرمايي:

((مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنه حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنهمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ))[1]

((په نارينه او ښځينه کې چې څوک مؤمن وي او نېک عمل يې وکړ نو مونږ به يې هرومرو په پاک ژوند ژوندى کړو او هغوى ته

[1]- سورة النحل: ۹۷.

به خامخا د هغوی د هغو ښو کړو خپلې بدلې ورکړو چې هغوی کول)).

نو دلته دنارينه او ښځينه يادونه او د ښو عملونو بدله ورکول پۀ يو ډول شوي دي.

همدارنګه فرمايي:

((إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لهمْ وَلهمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ))[1]

((دا جوته ده چې خيرات ورکوونکي سړي ، خيرات ورکوونکې ښځې او هغه خلک چې الله ته يې ښۀ پور ورکړی دی هغوی لپاره ثوابونه ځوچنده کېږي او هغوی لپاره عزتمنده بدله ده)).

او فرمايي:

((إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللهُ لهم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا))[2]

---

[1]- سورة الحديد: ۱۸.
[2]- سورة الاحزاب:۳۵.

((دا جوته ده چې مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې، مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې، غاړه ایښودونکي سړي او غاړه ایښودونکې ښځې، ریښتیني سړي او ریښتینې ښځې صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې، عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې ښځې، خیرات کوونکي سړي او خیرات کوونکې ښځې، روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکې ښځې، د خپلو عورتونو ساتونکي سړي او ساتونکې ښځې، او الله ډېر یادوونکي سړي اوډېرې یادوونکې ښځې چې دي الله دوی لپاره ښښنه او لوی اجر تیار کړی دی)).

دلته هم الله تعالی سړي او ښځې پهٔ ښو ځانګړتیاو او اجر کې یو ډول او برابر یاد کړي دي.

همدارنګه فرمایي:

((وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى الله وَرَسُوله أَمْرًا أَن يَكُونَ لهمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ الله وَرَسُوله فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُّبِينًا))[1]

((او کله چې الله او دهغه پېغمبر دکوم کار پرېکړه کړې وي نو د مؤمن سړي او مؤمنې ښځې لپاره دا روانه دي چې هغوی لپاره دې پهٔ خپل کار کې څهٔ اختیار وي او چاچې له الله او د هغه له پېغمبر نه سرغړونه وکړه نو هغه بې شکه پهٔ څرګندې بې لارۍ بې لارې شو)).

[1]- سورة الاحزاب: ٣٦.

او فرمايي:

((وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا))

((او هغه خلک چې مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو ته بې ګناه کړاو رسوي نو هغوی بې شکه تور او څرګنده ګناه پۀ غاړه واخيسته)).

او پۀ پاکو ښځو د تور لګوونکيو پۀ هکله فرمايي:

((وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلاَ تَقْبَلُوا لهمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ))[1]

((او هغه خلک چې پۀ پاکلمنو ښځو تورونه لګوي او بيا يې څلور ګواهان رانۀ وړل نو اتيا درې يې ووهئ، هيڅکله يې ګواهي مۀ قبلوئ او همدوی بدکاران دي)).

او فرمايي:

((إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلاَتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَلهمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ))[2]

((هغه خلک چې پۀ پاکلمنو، ناخبرو، مؤمنو ښځو تورونه لګوي پۀ دنيا او آخرت کې پۀ لعنت شوي دي اوهغوی لپاره لوی عذاب دی)).

---

[1]- سورة النور: ٤.

[2]- سورة النور: ٢٣.

او پهٔ آخرت کې د مؤمنانو سړيو او ښځو حال پهٔ دې ډول يو رنګه ځرګندوي:

((**يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَى نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ**))[1]

((پهٔ هغه ورځ چې مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې به ګورې چې د هغوی رڼا به د هغوی مخکې اود هغوی ښيو طرفونو ته ځغلي. نن ورځ ستاسو زېری هغه جنتونه دي چې ويالې پکې بهېږي تل به پکې اوسئ او همدا لويه برياده)).

او خپل پېغمبر ته فرمايي:

((**وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ**))[2]

((او خپلې ګناه او د مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو لپاره ښښنه وغواړه)).

او فرمايي:

((**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَن لاَّ يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلاَ يَسْرِقْنَ وَلاَ يَزْنِينَ وَلاَ يَقْتُلْنَ أَوْلاَدَهُنَّ وَلاَ يَأْتِينَ بِبهتَانٍ يَفْتَرِينه بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلهِنَّ وَلاَ يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لهنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ**))[3]

---

[1]- سورة الحديد: ۱۲.
[2]- سورة محمد:۱۹.
[3]- سورة الممتحنة:۱۲.

«اى پېغمبره ! كله چې تاته مؤمناني ښځې راشي او په دې بيعت درسره كوي چې الله سره به هيڅ شى نه شريكوي، غلا به نه كوي، زنا به نه كوي، خپل بچي به نه وژني، او تور به نه لګوي چې له خپلې مخې يې جوړوي او په نېكيو كې به له تاسر غړونه نه كوي، نو بيعت ورسره وكړه او الله نه ورته ښښنه وغواړه، الله بې شكه ډېر ښښونكى او خورا زيات لورووونكى دى.

او ټولو مؤمنانو ته نصيحت كوي او ښځې پكې په ځانګړې توګه يادوي او فرمايي:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنهمْ وَلاَ نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنهنَّ وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلاَ تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ»[1]

«اى مؤمنانو! يو قوم دې بل باندې ملنډې نه وهي كېدى شي چې هغوى له دوى غوره وي او نه دې ښځې نورو ښځو پورې پيتموزې كوي كېدى شي چې هغوى له دوى غوره وي او په خپلو ځانونو عيب مه لګوئ او نومونه مه خرابوئ له ايمان نه وروسته د بدكارۍ نوم ډېر بد دى او څوک چې را ونه ګرځېدۀ نو همغوى ظالمان دي».

نو دا او داسې نور ډېر نصوص په دې دلالت كوي چې اسلام ښځوته زياته اعتنا كوي او زيات اهميت وركوي.

[1]- سورة الحجرات: ۱۱.

همدارنګه ښځو او دهغوی د مړونو د حقوقو په هکله شامله او جامعه پرېکړه کوي او فرمايي:
((وَلهنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ))[1]

((او ښځو لپاره په ښه لار هغسې حقوق دی لکه په دوی چې دي او د سړيو لپاره په دوی يوه پوړۍ ده)).

نو لکه څرنګه چې مېړۀ په ښځې حقوق لري همغسې ښځه هم په مېړۀ حقوق لري او د سړيو يوه پوړۍ او درجه هغه د سرپرستۍ او مسؤليت درجه ده چې مخکې مو وڅېړله.

[1]- سورة البقرة: ۲۲۸.

د میراث مسأله

زه د دلائلو په رڼا کې په پوره مسؤلیت او بشپړې دعوې او ذمه وارۍ سره وایم چې اسلام ښځې ته له سړي نه زیات حقوق ورکړي دي په نورو سربېره راځئ چې د میراث هغه مسأله وڅېړو چې د اسلام دښمنان یې ډېر مخې مخې ته کوي او دناپوهۍ له امله یې د ښځې په حق تېرى ګڼي.

د اسلام دښمنان او په سرکې یې غربیان زمونږ موازین، ژوند او ثقافت په خپلو قیاسوي او زمونږ د ژوند له موازینو او ثقافت نه څوک پوره خبر نه دي، ځینې معاندین یې پټوي او چاچې د انصاف په سترګو مطالعه کړي هغوی اسلام قبول کړی دی.

د ښځو میراث او ګڼو حقوقوته د جاهلیت دودونو غاړه نه اېښوده اسلام په میراث کې خورته د ورور نیمایي برخه ورکړه او دا عین عدالت بلکه ښځې ته له سړي نه زیاته برخه ورکول دي. راځئ چې دا خبره د یو مثال په ترڅ کې وڅېړو:

فرض کړو چې یو سړی مړ شو او هغه نه یو ځوی او یوه لور پاتې شول. او د سړي نه په میراث کې یواځې ((۶۰۰۰۰)) شپېته زره روپۍ پاتې شوې په دې کې د ورور ((۴۰۰۰۰)) څلوېښت زره او د خور ((۲۰۰۰۰)) شل زره روپۍ میراث ورسېد اوس دې ورور او خور دواړوته راتلونکی ژوند ور په غاړه دی.

راځئ چې دواړو ته تر ټولو د مخه د واده سر شته ونیسو.

فرض کړئ چې د دغه وخت مهرونه ((۲۰۰۰۰)) شل زره او د وادهٔ مصرف هم شل زره روپۍ دی. د هلک واده چې تیار شو نو شل زره یې خپلې ښځې ته پهٔ مهر کې ورکړې او شل زره یې پهٔ واده ولګولې د وادهٔ پهٔ شپه د هلک پهٔ جېب کې د میراث یوه روپۍ هم پاتې نهٔ شوه خو پهٔ دې تش جېب اسلام هلک ته وایي چې زیار به باسې حلاله روزي به ګټې او د ښځې خرڅ خوراک، جامه، کور درمل او ټولې اړتیاوې بهٔ پوره کوې او د ښځې د حقوقو پهٔ هکله به بې غوري نهٔ کوې.

اوس د جلۍ دوادهٔ سرشته نیسو اسلام دې جلۍ ته دپلار دمیراث نه شل زره روپۍ جېب کې ور واچولې او پهٔ وادهٔ کې ټول مصرف یې پهٔ هلک ایښی دی پهٔ دې سربېره به د دې جلۍ مهر هم د ورور د واده غوندې شل زره ونیسو نو د واده پهٔ شپه اسلام څلوېښت زره روپۍ د جلۍ پهٔ جېب کې ور واچولې او پهٔ دې ډک جېب باندې اسلام د هیڅا نفقه خرڅ او خوراک یا دنورو اړتیاو پوره کول نهٔ دي فرض کړي بلکه دا دجلۍ یوزیاتي مال دی چې پهٔ لګولو کې یې بشپړه خپلواکه ده حتی چې د دې جلۍ نفقه او ټولې اړتیاوې اسلام پهٔ مېړهٔ ایښې دي او د پلار او ورونو ښېګړه پرې سربېره ده.

اوس نو ووایئ چې د ښځې میراث د سړي پهٔ نیمایي ډېر دی او کهٔ لږ؟! غربیان د ژوند ټولو اړخونو او د اسلام ټولو ټاکلو حقونو ته نهٔ ګوري. هغوی خو دښځې نفقه او د ټولو اړتیاو پوره

کول پهٔ ځان فرض نهٔ ګڼي بلکه ښځه مکلفه ګڼي چې کهٔ حامله وي او کهٔ تي خورى بچى ولري هر وخت به کار کوي او خپله روزي بهٔ پخپله ګټي بلکه ډېرو ښځوته د مړونو او اولادونو نفقه هم ورپهٔ غاړه ده.

اسلام د ښځې ټولې اړتیاوې د نارینه پهٔ غاړه اچولې دي او سړى یې مکلف کړى دى چې هغه به هرومرو پوره کوي او پهٔ دې سر بېره فرمايي:

((لِلرِّجَالِ نَصيِبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنه أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا))[١]

((مور او پلار او خپلوانو چې کوم مال پهٔ میراث کې پرې ایښى وي پهٔ هغو کې لږوې او کهٔ ډېر د سړیو خپله ونډه ده او د ښځو خپله. ټاکل شوې برخې دي)).

نو پهٔ دې سربېره چې د ښځو دټولو اړتیاو پوره کول اسلام پهٔ نارینه فرض کړي دي، میراث کې یې هم ونډه ورکړې ده او ښځه کولاى شي چې مال ولري، تجارت وکړي او پهٔ خپل مال کې پهٔ خپله خوښه ازاد تصرف وکړي.

الله تعالى فرمايي:

((لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ))[١]

---

[١]- سورة النساء: ٧.

((سړيو چې کوم مالونه ګټلي دي هغوی لپاره خپله برخه ده او ښځو چې کوم مالونه ګټلي دي هغوی لپاره خپله برخه ده)).

همدارنګه دميراث په مسائلو کې داسې صورتونه هم شته چې د نارينه او ښځينه ونډه سره مساوي ده د ساري په توګه: که يو څوک ومري او نارينه اولاد ولري د هغه د مور او پلار ونډې يو برابردي چې هر يو شپږمه شپږمه اخلي نور صورتونه هم شته.

نو اسلام د نارينه او ښځينه ټول اړخونه په دقت څېړلي او هر چاته يې خپل حق ورکړی دی او په انصاف او عدالت يې ورکړی دی.

څرنګه به د عدالت نه وي؟! چې د کائناتو خالق ورته ټاکلي دي.

[1]- سورة النساء: ۳۲.

د شهادت مسأله

د ګواهۍ مسأله کې چې اسلام د یو سړي او دوه ښځو ګواهي مساوي کړې ده نو دایې هم ښځې سره ښهٔ کړي دي ځکه چې شهادت او ګواهۍ کې څهٔ امتیازات، کوم انعام، کومه اجوره او یا کومه تنخا نشته بلکه ګواهي کول یو دروند پېټی او د کړاو ګالل دي، کله چې قاضي ګواهان وغواړي نو کهٔ یخني وه او کهٔ ګرمي، باد ؤ او کهٔ باران لرې ؤ او کهٔ نږدې ګواه به حاضرېږي نو اسلام د ښځې نازکبدنۍ اوکمزورۍ ته لیدلي دي، د ګواهۍ پېټی یې نیم ورپهٔ اوږو کړی دی او د ټول پېټي د ورلو لپاره یې ورسره بله ملګرې ټاکلی ده. همدارنګه دخبرې د وریادولو او د ملاتړ لپاره یې ورسره ملګرې ټاکلې ده.

د دې مثال داسې دی لکه چې دوه ډکې بوجۍ وي او د دواړو یو ډول وزن وي او یو ځای ته دوړلو ضرورت یې وي نو اسلام سړي ته وایي چې تهٔ دا یوه بوجۍ پهٔ یواځې ځان واخله او دوه ښځوته وایي چې تاسو دواړه نیمه نیمه بوجۍ بارکړئ اوس نو ښځو ته پهٔ کار دي چې خوشحاله شي او کهٔ خفه؟ او آیا اسلام د پېټي پهٔ سپکولو دې ښځو سره ښهٔ وکړل کهٔ بد ؟.

 څرګنده او ښکاره خبره ده چې اسلام پهٔ سړي درونند او بشپړ پېټې وربار کړ او پهٔ ښځو سپک او نیم.

اسلام ښځې ته پهٔ درنده سترګه ګوري اود هغې ټول ظروف او شرائط پهٔ نظر کې نیسي پهٔ هر ځای کې اسلام ښځې ته د عدالت د غوښتنو سره سم حقونه ورکړي دي.

غربیان دا ولې لهٔ پامه غورځوی او نهٔ یې یادوی چې اسلام د پلار پهٔ پرتله مور درې چنده زیاته د احسان او ښېګړې حقداره ګڼي آیا مور هم ښځه نهٔ ده؟.

همدارنګه ځینې داسې صورتونه شته چې اسلام یواځې د یوې ښځې شهادت هم قبلوي لکه: د رضاعت (تي ورکولو) مسأله کې یا ځینو نورو نسائي او ولادي مسائلو کې چې تفصیل یې د اسلام پهٔ کتابونو کې شته.

د ښځو د تعدد مسأله

بله مسأله چې د اسلام ناپوهه او معاند دښمنان يې پورته پورته، بوڅه بوڅه او مخې مخې ته کوي هغه دا ده چې ولې سړي ته تر څلورو ښځو اجازه ده؟.

دا هم د اسلام د عدالت، انصاف ا و د رغونې او کور جوړونې يوه برخه ده خو ضروري نۀ ده د خپلو شرطونو او شرائطو لاندې اسلام سړي ته دڅلورو پورې د ښځو کولو اجازه ورکړې ده او فرمايي:

((فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ))[1]

((څومره مو چې خوښې وي دوه دوه، درې درې او څلور څلور ښځې پۀ نکاح واخلئ)).

خود اسلام دين ټولو سره د عدل کولو حکم کوي او کۀ څوک عدل نۀ شي کولی نو بيا ورته فرمايي:

((فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً))[2]

((کۀ وېرېدئ چې عدل به ونۀ کړئ نو بيا يوه ښځه وکړئ)).

---

[1]- سورة النساء: ٣.
[2]- سورة النساء: ٣.

اوس چې یو سړی بدني او مالي وس ولري او د یوې پهٔ ځای دوه، درې یا څلور ښځې وکړي او هرې یوې ته کور، خرڅ او خوراک، جامه او علاج او ټولې اړتیاوې د برابرۍ، مساوات او عدل پهٔ بنسټ یو ډول پوره کوي او تردې چې د شپې تېرولو او جماع کولو کې هم ټولو ته پهٔ یوه سترګه ګوري او هرې یوې سره د برابرۍ پهٔ بنسټ یوه یوه شپه تېروي نو دې کې کومه بدي ده؟

دا چې اسلام د ښځې د ټولو اړتیاؤ پوره کول پهٔ سړیو ایښي دي او بیا یې د ټولو بدني او مالي اړتیاو د پوره کولو او د عدل د شرطونو لاندې یو سړي ته تر څلورو ښځو اجازه ورکړې ده نو دا یې ښځو سره ښهٔ کړي دي ، د ښځو د سرپرستۍ او د اړتیاو غم یې خوړلی دی، د ښځو د سرسیورۍ یې پیدا کړی دی او ښځې یې د بې وسۍ او بې وزلۍ پهٔ حال کې بې سر پنا او بې اسرې نهٔ دي پرې ایښې.

دا یوه فطري او طبیعي مسأله ده چې ښځې لهٔ نارینه ؤ زیاتې وي، نارینه ؤ ته دراندهٔ دراندهٔ کارونه او جنګونه ورپهٔ غاړه دي او مړینې سره هم زیات مخ کېږي نو کهٔ اسلام یو نارینه ته له یوې ښځې نهٔ د زیاتو اجازه نهٔ وای ورکړې د دې معنا به دا وه چې پهٔ بشري ټولنه کې دې د نارینه ؤ نه زیاتې ښځې بې سر پرسته ، بې مېړهٔ بې اسرې او بې وزلې وي. او دا کار به د عدل او انصاف خلاف او یو ډول ظلم ؤ نو لهٔ همدې امله اسلام نارینه ؤ ته دا درووند بار پهٔ اوږو کړ او د یوې پهٔ ځای یې د وس مناسب دوه، درې یا څلورو ښځو سرپرستي او د بدني او مالي اړتیاو پوره کول نارینه ته ورپهٔ

غاړه کړل نو آيا دا ښځو سره ښېګړه شوه او کهٔ د هغوی پهٔ حق تېری؟ د عقل، فهم او عدل خاوندان به هيڅکله دا ونهٔ وايي چې داد ښځو پهٔ حق تېری دی.

لهٔ همدې امله پهٔ اسلامي ټولنه کې نسبت غير اسلامي ټولنو ته بې سر پرسته او بې اسرې ښځې يا ببېخي نشته او يا دنشت برابرې دي.

همدارنګه جنسي بې لارې، اخلاقي فسادونه او ټولنيزې ستونزې هم پهٔ اسلامي ټولنهٔ کې نسبت غير اسلامي ټولنو ته د نشت برابرې دي.

او دا ټولې ستونزې کهٔ پهٔ کومو ټولنو کې وي نو هغوی به اسلام ته شاکړې وي. دا مشاهدې او تجربې ثابته کړې ده چې مسلمانان پهٔ کوم کچ ټولنيزې او فردي ستونزې لري کافران يې تر هغو ډېرې زياتې لري او ترکومه چې مسلمانانو په اسلام عمل کړی دی په همغه کچ ستونزې هم نهٔ لري او څومره چې لهٔ اسلام لرې شوي دي او اسلام نه يې سرغړونه کړې ده همغومره يې ستونزې هم زياتې شوې دي مونږ وايوو: راځئ اسلام مطالعه کړئ او د اسلام لهٔ ښېګړو او محاسنو نه ځان خبر کړئ مسلمانان مهٔ ګورئ ځکه چې مسلمانانو کې به د اسلام نه انحراف او سرغړونه وي او هغه به پهٔ ناپوهۍ له اسلام نه وګڼئ او دا به د حق دين دمنلو پهٔ لار کې خنډ شي او دلوی خير او د دنيا او اخرت له بريا نه به بې برخې او محروم شئ.

همدارنګه داخبره چې ښځې ته لهٔ يوهٔ مېړهٔ زيات ولې روانهٔ دي؟! داهم يو فطري، طبيعي او دعدل پهٔ بنسټونو برابره خبره ده.

داخبره لهٔ يوهٔ پلوه نسلونه، کورنۍ او ټولنيز ژوند ړنګوي، ستونزې او شخړې را ولاړوي، د مينې، محبت او خپلوۍ غښتلي، منلي او کوټلي بنسټونه نړوي.

او لهٔ بله پلوه د طب لابراتوار (ليبارټرۍ) پهٔ تجربو، مشاهدو او دليلونو دا خبره ثابته کړې ده چې کهٔ يو سړی د څلورو ښځو سره جنسي اړيکې ولري دا د طب پهٔ بنسټونو هيڅ کومه ناروغي، ټولنيزه او د چاپېريال ککړتيا نهٔ پيدا کوي خوکهٔ يوې ښځې سره لهٔ يوه زيات نارينه جنسي اړيکې ولري نو لهٔ دې ډول ډول ناروغۍ، ټولنيزې اود چاپېريال ککړتياوې پيدا کېږي او تر ټولو لويه ستونزه د ((ايډز)) ناروغي ده چې له همدغو جنسي ګډوډيو نه راپيدا کېږي او د ايډز ناروغي د انساني ټولنې لپاره دومره لويه ستونزه ده چې هر کال ترې پهٔ ميليونونو انسانان مري او تر اوسه يې هيڅ درمل نهٔ دی پيدا شوی.

د ايډز درمل اسلام دی لهٔ نن څهٔ دپاسه څوارلس سوه کاله وړاندې اسلام داسې ټولنيز قوانين او پاخهٔ بنسټونه ټاکلي دي چې کهٔ هغه عملي شي نو هېڅکله به د ايډز ناروغي او نورې ستونزې پيدا نهٔ شي.

اسلام حکم کوي چې ښځه به لهٔ يوه زيات مړونه نهٔ کوي او لهٔ خپل مېړهٔ پرته به بل چاسره جنسي اړيکې نهٔ ساتي؛ نارينه ؤ يا ښځو سره پهٔ د برکې او حيواناتو سره به جنسي عمل نهٔ کوي او زنا

به نۀ کوي او دا د ايډز او نورو ستونزو دمخنيوي لپاره يو مسلم او منل شوی بنسټ او قانون دی.

همدارنګه کومه ښځه چې کونډه شي او مېړۀ يې ومري نو هغه کۀ اميدواره وه نو کله يې چې ماشوم وزېږېدۀ او لۀ نفاس پاکه شوه نو بل مېړۀ سره نکاح کولی شي او کۀ اميدواره نۀ وه نو څلور مياشتې اولس ورځې به صبر کوي. دې ته ((عدت)) وايي کله يې چې دغه عدت تېر شونو بيا بل مېړه سره نکاح کولی شي او پۀ دې دواړو صورتونو کې خپل وخت نه مخکې نکاح نۀ شي کولی او دا د اسلام د پاکۍ يو ښکلی بنسټ دی چې پۀ دې ترتيب د ښځې رحم پاک شي، د مخکني مېړۀ د جنسي اړيکو اثار لۀ منځه لاړ شي نو اوس دا دوهمه نکاح د کومې ناروغۍ يا ستونزې لامل نۀ جوړېږي.

الله تعالی فرمايي:

((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلهنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ))[1]

((او هغه کسان چې تاسو نه مري او ښځې پرېږدي نو ښځې به يې پۀ خپلو ځانونو څلور مياشتې او لس ورځې انتظار کوي کله چې خپلې نېټې ته ورسېږي نو کۀ د خپلو ځانونو پۀ هکله يې کومه ښۀ پرېکړه وکړه نو پۀ تاسو يې څۀ باک نشته او تاسو چې څۀ کوئ الله پرې ښۀ خبر دی)).

[1]- سورة البقرة: ٢٣٤.

او د طلاقې شوې حکم دا دی چې کهٔ اميدواره وه نو چې بچی يې وزېږېدهٔ او نفاس نه پاکه شوه نو نکاح کولی شی او کهٔ اميدواره نهٔ وه نو چې درې ځل له حيض نه پاکه شي بيا نکاح کولی شي.

الله تعالی فرمايي:

((وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ))[1]

((او طلاقې شوې ښځې به پهٔ خپلو ځانونو درې پاکۍ انتظار کوي)).

معنا دا چې درې ځل يې حيض راشي او بيا پاکه شي.

او د کومو ښځو چې د عمر د زياتوالي لهٔ امله حيض بند شوی وي، يا يې لا حيض نهٔ وي راغلی او جلۍ وي نو د هغوی عدت درې مياشتې دی.

الله تعالی فرمايي:

((وَاللاَّئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلاَثَةُ أَشْهُرٍ وَاللاَّئِي لَمْ يَحِضْن))[2]

((او ستاسو هغه ښځې چې د حيض له راتلو نه نهيلې شوې وي او هغه چې حيض يې نهٔ وي راغلی نو کهٔ حيران وئ د هغوی عدت درې مياشتې دی)).

او د اميد وارو پهٔ هکله فرمايي:

[1]- سورة البقرة:۲۲۸.
[2]- سورة الطلاق: ٤.

((وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلهنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلهنَّ))[۱]

((اود اميدوارو ښځو نېټه دا ده چې خپل بچي وزېږوي)).

نو دا ټولې هغه لارې چارې، قوانين او احکام دي چې د ښځو د رحمونو د پاکۍ لپاره ټاکل شوي دي چې د مخکني مېړهٔ سره د جماع کولو ټول آثار لهٔ منځه لاړ شي او رحم پاک شي نو بيا ورته اسلام د بل مېړه سره دنکاح اجازه ورکوي.

نو کهٔ دا اصول او بنسټونه پلي او عملي شي نهٔ به ايډز وي او نهٔ بله کومه بلا.

همدارنګه د حيض او نفاس (د مياشتنۍ وينې او دزېږولو نه وروسته وينې) پهٔ وخت اسلام جماع او کوروالی کول حرام کړي دي چې دا هم د اسلام د پاکۍ او حقانيت دليل دی.

الله تعالی فرمايي:

((وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللهُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ))[۲]

((او تا د حيض پهٔ هکله پوښتي ورته ووايه: دا يوه ککړتيا ده نو ښځونه د وينې د راتلو پهٔ وخت کې پهٔ ډډه شئ او تر هغې مهٔ ورنږدې کېږي تر څو چې ښې پاکې شي؛ کله چې پاکې شوې نو لهٔ

۱- .سورة الطلاق: ٤.

[۲]سورة البقرة: ۲۲۲.

هغه ځايه ورته راشئ چې الله درته امر کړی دی الله بې شکه توبه کوونکي خوښوي او ځان پاکوونکي هم خوښوي.

او الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنه كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً))[1]

((او تاسو زناته مۀ نږدې کېږئ دا د ګناه کار دی او بده لار ده)).

نو دا ټولې هغه لارې چارې او احکام دي چې د اوسنۍ پر مختللې نړۍ پۀ لابراتوارونو کې پۀ مشاهدې او دليلونو ثابته شوې ده چې کۀ دا رعايت او عملي شي نۀ به پۀ ايډز ځوک اخته شي، نۀ پۀ بله بلا او نۀ به ډېرې ټولنيزې او ازدواجي ستونزې منځ ته راشي.

د ښځو لپاره له يو نه زياتو مېړونو دنۀ کولو بل حکمت دا دی چې اسلام کورنۍ جوړولو او د نسلونو د نسبونو معلومولو او ځرګندولوته زيات اهميت ورکوي او دا د ټولنې پۀ ډېرو مسائلو باندې اغېزه لري او د معرفت او شخصيت د تشخص لپاره ډېره اړينه او ضروري ده نوکۀ يو سړی څلور ښځې هم ولري نو د هرې ښځې د هر بچي مور او پلار دواړه معلوم دي او هيڅ ډول ستونزه او تردد پکې نۀ پيدا کېږي خوکۀ يوه ښځه لۀ يونه زيات مېړونه وکړي او هغه بچی وزېږوي نو دا بچی به کوم مېړه ته منسوبېږي او د دې پلار به څوک وي؟ د دغه بچي تشخيص، نسب او توپير بۀ څرنګه کېږي؟ او د دې تردد او شک نه به څومره ستونزې را ولاړېږي کۀ د

[1]- سورة الاسراء: ۳۲.

دې بچي نوم شين ګل وي نو لهٔ نورو شين ګلانو نه به څهٔ ډول بېلېږي، کهٔ شين ګل د انعام وړ وګڼل شي نو کوم شين ګل ته به ورکول کېږي او کهٔ کوم جرم وکړي نو کوم شين ګل به مجرم ګڼل کېږي؟ اسلام د انسان فطري ژوند او طبيعي ځانګړتياو ته اهميت ورکوي او دا ځکه چې طبيعي او فطري مشخصات او ځانګړتياوې د غره پهٔ سر کې هم انسان سره تړلې دي او پهٔ هر ځاى، هره زمانه او د هر چا پهٔ هکله پهٔ اسانۍ پېژندل کېږي او هيڅ کوم لابراتوار، ماشين او ډاکټر ته اړتيا نهٔ لري.

طلاق

اسلام کوښښ کوي چې د ښځې او مېړۀ کور جوړ کړي او د ښېګړې او مينې پۀ فضا کې سره ژوند وکړي خو کۀ د ښځې او مېړۀ اړيکې تر دې بريده ناسمې وي چې د دواړو يو ځاى ژوند تېرول سره ستونزمن وو نو بيا يې د بېلېدو لارې ورته پرې ايښې دي چې يوه ((طلاق)) اوبله((خلع)) ده طلاق اصلا کوم ښۀ کار نۀ دی بلکه دا يو مجبوريت دی حديث کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

((أبغض الحلال إلى الله الطلاق))[1]

((پۀ حلالو کارونو کې چې د الله ډېر بد راځي هغه طلاق دی)).

نو بې ځايه او بې دليله طلاق ورکول ناوړه کار دی خو د مجبوريت پۀ وخت کې روا دي.

او د ځينو اوسنيو طاغوتانو غوندې مخکې لۀ مخکې د طلاقو پۀ نيت نکاح نارو‌ا ده او دا عين هغه د متعې نکاح ده چې د اسلام پۀ لومړنيو کې روا وه او بيا منسوخ شوه بلکه دا لۀ هغې هم بتره او ناوړه ده او دا ځکه چې د متعې پۀ نکاح کې ښځه او مېړۀ د

[1]- رواه البيهقى و ابوداود مرسلا و ابن ابي شيبهٔ موصولا و الحاكم و ابن ماجة.

خاص وخت او ځانګړې ټاکلې مودې لپاره نکاح کوي او دواړه پرې خبر وي خو دغه نااهله اميران د ځکلو او حيواني شهوت د پوره کولو لپاره لهٔ وړاندې د طلاقو پهٔ نيت نکاح کوي او دا نيت لهٔ ښځې پټوي چې دا ټګي او درغلي هم ده او پهٔ دې کې څو ډوله ناروا رايو ځاى شوي دي خو د ډېر افسوس خبره دا ده چې د طاغوتانو تالي څټي ملايان د اميرانو د حيواني شهوتونو د پوره کولو لپاره خپل اخرت بربادوي او هغوى ته د دې کار د حلال ګڼلو فتوې ورکوي. ((انالله وانا اليه راجعون))

نو طلاق د هغه وادهٔ د اړيکو د بېرته پرې کېدو او د خلاصون يوه لاره ده چې ښهٔ پهٔ خوښه او مينه يې شرعي نکاح کړې وي او د څکلو او طلاقو پهٔ نيت نهٔ وي خو پېښه داسې وشي چې د ښځې او مېړهٔ اړيکې سره خړې پړې شي او ژوند يې تريخ شي نو اسلام د خلاصون لار ورته پرې ايښې ده خو اسلام کوښښ او هڅه کوي چې د ښځې او مېړهٔ اړيکې ښې شي، کور يې ړنګ نهٔ شي او سره پاتې شي نو طلاقو ته يې درې پړاوونه ټاکلي دي او د کور د بېرته رغونې لپاره يې مهلت او فرصت ورکړى دى.

د طلاقو شرعي او اسلامي طريقه دا ده چې طلاق پهٔ درې ډوله دي:

(۱) رجعي. (۲) بائن. (۳) مغلظ.

لومړی:

رجعي طلاق دا دي چې په لومړي ځل چې کله ښځه له حیض پاکه شي نو جماع کولو نه مخکې به طلاق ورکړي یا کهٔ امید واره وه هم طلاق ورکولی شي اسلام لهٔ دې لومړي طلاق نه وروسته بیا هم مهلت ورکوي کهٔ سره پخلا شول او رجوع یې وکړه دواړه ښځه او خاوند دي. کهٔ سره پخلا نهٔ شول او اړیکې هماغسې خړې پړې وې نو دو همه میاشت کې به د پاکۍ یا حمل پهٔ وخت کې بل طلاق ورکړي دا دوهم طلاق هم رجعي دی او اسلام یو بل فرصت دواړو ته پهٔ لاس ورکوي کهٔ سره پخلا شول او رجوع یې وکړه نو د نکاح د تازه کولو نه پرته سره ښځه او خاوند دي پهٔ لومړي طلاق کې د راتلونکي عمر لپاره مېړه د دوه طلاقو مالک دی خو د دوهم نه وروسته بیا ورته یو پاتې دی.

دوهم:

بائن طلاق دا دي چې کهٔ رجعي طلاق کې یې د عدت (درې میاشتو) تېرېدونه مخکې رجوع ونهٔ کړه نو ښځه ورڅخه جلا شوه خو کهٔ دعدت تېرېدونه وروسته یې رجوع کوله نو بیا به لهٔ سره نکاح تړي.

دريم:

مغلظ طلاق دا دی چې د دوه رجعي طلاقونه وروسته سره پخلانۀ شي او رجوع ونۀ کړي نو دريمې مياشتې کې به د پاکۍ ياحمل پۀ وخت کې طلاق ورکړي دا تر ټولو سخت طلاق دي نو ځکه ورته مغلظ (سخت) طلاق وايي:

له دريم طلاق نه وروسته اوس رجوع نۀ شي کولی او ښځه ازاده ده چې له عدت نه وروسته بل مېړۀ کوي نو کولی يې شي.

او پۀ يو ځل درې طلاق سني طلاق نۀ دي کۀ يو ورکړي او کۀ درې يا زيات خو پۀ يو ځل هماغه يو طلاق واقع کېږي اورجعي دی او دليل يې د مسلم او نورو کتابونو حديث دی.

له دريم مغلظ طلاق نه وروسته لومړي مېړۀ ته رجوع نۀ شي کولی خو کۀ بل مېړۀ يې وکړ او پېښه داسې شوه چې هغه سره يې هم وخت نۀ تېرېدۀ او هغه پۀ درې مياشتو کې درې مغلظ طلاق ورکړل او عدت يې تېر شو نو د ښځې خوښه ده چې لومړي خاوند سره بيا نکاح تړي هم تړلی يې شي خو شرط يې دا دی چې دوهم خاوند ورسره جماع کړې وي.

خو کۀ لومړي خاوند سره بيا نکاح نۀ غواړي نو هيڅوک يې پۀ زور نۀ شي ورکولې بيا يې خوښه ده چې دريم کوي، کۀ نۀ يې کوي او کۀ لومړي سره يې کوي.

خو د ((حلالې)) پۀ نامۀ چې کومه ديوثي مشهوره ده دا چې د يوې شپې يا يوې جماع لپاره ورسره نکاح وکړي چې لومړي ته يې حلاله کړي دا نۀ نکاح ده او نۀ پرې ښځه لومړي لپاره حلالېږي.

بلکه دا زنا، دووسي او بې غيرتي ده.

اکثرو عوامو پۀ يو ځل درې طلاق ورکړي وي نو دا يو رجعي واقع کېږي د حلالې دووسي دې نۀ کوي خپلې ښځې ته دې رجوع وکړي او نور هيڅ پرې نشته خو کۀ عدت نه زيات وخت پرې تېر شوی وي نو يواځې د نکاح تجديد به وکړي او نور سره ښځه او خاوند دي.

نو اسلام د مجبورۍ او ناچارۍ پۀ وخت کې سړي ته د طلاقو ورکولو واک ورکړی دی خو د بچي د زېږېدو پورې د ښځې اړتيا پوره کول پۀ سړي فرض دي. او کۀ بچي ته يې تی ورکاوۀ نو تر دوه کلو پورې به خرڅ خوراک، جامه او نورې اړتياوې ورپوره کوي.

د طلاقو ورکول هم پۀ بداخلاقۍ او سختۍ نۀ دي بلکه الله تعالی فرمايي:

((الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ))[1]

((رجعي طلاق دوه ځل دي بيا يې يا پۀ ښۀ سلوک ساتل دي او يا يې د ښېګړې سره خوشې کول دي)).

همدارنګه اسلام سړي ته حکم کوي چې د طلاقې شوې ښځې نه به مهر يا بل کوم ورکول شوی او وربښلی مال نۀ اخلي.

((وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا))[2]

((او تاسو ته دا روانۀ دي چې ښځو ته مو څۀ ورکړي وي هغې نه ترې څۀ واخلئ)).

---

[1]- سورة البقرة: ۲۲۹.
[2]- سورة البقرة: ۲۲۹.

همدارنګه فرمايي:

((وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النَّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلهنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلاَ تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لَّتَعْتَدُواْ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ وَلاَ تَتَّخِذُواْ آيَاتِ الله هُزُوًا))[1]

((اوکله مو چې ښځې طلاقې کړې او خپلو نېټوته ورسېدې نو يا يې په ښۀ سلوک وساتئ او يا يې په ښه لاره خوشې کړئ او د دې لپاره چې تېرې وکړئ د کړاو رسولو لپاره يې مۀ ساتئ او چا چې دا کار وکړ نو هغه په خپل ځان ظلم وکړ او د الله آياتونۀ په ملنډو مۀ نيسئ)).

همدارنګه فرمايي:

((وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلهنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهم بِالْمَعْرُوفِ))[2]

((او کله مو چې ښځې طلاقې کړې او خپلو نېټوته ورسېدې نو کۀ خپلو منځوکې په ښۀ لار سره راضي وو لۀ دې يې مۀ منع کوئ چې خپلو مړونو سره نکاح وکړي)).

کۀ د جماع او مهر د ټاکلو نه مخکې ښځې ته طلاق ورکړي نو بيا به هم د وس مناسب څۀ ډالۍ ورکوي الله تعالى فرمايي:

---

[1]سورة البقرة: ۲۳۱.

[2]- سورة البقرة: ۲۳۲.

((لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدْرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ))[1]

((او کهٔ تاسو ښځو سره يو ځای شوي نهٔ يئ او څهٔ مهر مو ورته نهٔ وي ټاکلی او طلا قې مو کړې نو څهٔ باک درباندې نشته او دې ښځو ته څهٔ ډالۍ ورکړئ پهٔ بډای خپل کچ دی او پهٔ تنګلاسي خپل کچ دی پهٔ ښهٔ سلوک ډالۍ ورکول دي او پهٔ نېکانو حق دی)).

او کهٔ د مهر ټاکلونه وروسته او جماع نه مخکې يې طلاق ورکړ نو بيا به نيم مهر ورکوي الله تعالی فرمايي:

((وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إَلاَّ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَن تَعْفُواْ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلاَ تَنسَوُاْ الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ))[2]

((او کهٔ لهٔ دې مخکې مو طلاقه کړه چې کوروالی ورسره وکړئ او څهٔ مهر مو ورته ټاکلی ؤ نو د ټاکلي مهر نيمايي به ورکوئ. خو کهٔ ښځې څهٔ وروبښي او يامېړهٔ څهٔ زيات وروبښي نو خير دی. اوچې څهٔ وروبښئ نو دا پرهېزګارئ ته ډېره نږدې ده او خپلو منځو کې ښېګړه کول مهٔ هېروئ تاسو چې څهٔ کوئ الله پرې بې شکه ښهٔ ليدونکی دی)).

---

[1]- سورة البقرة: ۲۳٦.
[2]- سورة البقرة: ۲۳۷.

همدارنګه په مهر سربېره هم طلاقو شويو ښځو لپاره ډالۍ ورکول دي.

الله تعالى فرمايي:

((وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ))[1]

((او طلاقو شويو ښځو لپاره په ښه لار څه ډالۍ ورکول دي دا په پرهېزګارانو حق دی)).

او د طلاقو شويو نور حقوق داسې څرګند وي:

((أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلاَ تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولاَتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلهنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ له أُخْرَى لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللهُ لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلاَّ مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا))[2]

د خپل وس مناسب چې تاسو کوم ځای کې اوسېږئ هغوی هم هلته واوسوئ او د دې لپاره چې په هغوی تنګي را وړئ کړاو ورته مه رسوئ او که اميدوارې وې نو تر هغې پرې خرڅ وکړئ تر څو چې خپل بچی وزېږ وي او که تاسو لپاره يې بچو ته تی ورکاوه نو د هغوی تنخوا ورکړئ او خپلو منځوکې په ښه لار ددود سره سمه مشوره کوئ او که سختي مو سره وکړه نو بچي ته به بيا بله ښځه

[1]- سورة البقرة: ۲٤۱.
[2]- سورة الطلاق: ٦- ۷.

تی ورکوي . بدای دې د خپلې مالداری نه لګښت کوي او په چاچې دهغه روزي تنګه شوې وي نو لۀ هغه دې ولګوي چې الله ورکړي وي الله يو څوک لۀ هغې زيات نۀ مکلفوي چې ورکړي يې دي، الله به لۀ سختۍ وروسته اساني راولي)).

او د جماع نه مخکې طلاقې شوې ښځې باندې عدت نشته هغه چې طلاقه شي سمدستي بل مېړه کولی شي.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً))[1]

((ای مؤمنانو! کله مو چې مؤمنانې ښځې پۀ نکاح کړې بيا مو له کوروالي نه مخکې طلاقې کړې نو تاسو لپاره پۀ هغوی کوم عدت نشته چې تېروئ يې نو ډالۍ ورکړئ او پۀ ښايسته خوشې کولو يې خوشې کړئ)).

[1]- سورة الاحزاب: ٤٩.

خلع

د نکاح د تړون د پرې کولو او د خلاصون بله لار((خلع)) ده لکه څرنګه چې سړی د طلاقو واک لري همدارنګه کهٔ ښځه خپل مېړهٔ سره خوشحاله نهٔ وه نو کهٔ مېړهٔ هیڅ عیب هم ونهٔ لري ښځه ترې ځان د خلعې پهٔ طریقه خلاصولای شي. ((خلع)) دې ته وایي چې ښځه خپل خاوند ته ووایي:

تا چې ماته کوم مهر راکړی دی هغه به بیرته درکړم ماپرېږده نو سړی مکلف دی چې ښځه پرېږدي بیا چې د ښځې عدت تېر شي بل چا سره نکاح کولی شي.

خو اسلام لومړی سړی دې ته هڅوي چې د مروئت لهٔ مخې د ښځې نه هیڅ هم وانخلي او یا لهٔ مهر نه لږ واخلي خو له مهر نه به زیات نهٔ اخلي او دا د غیرت او مروئت د مقتضا نه هم خلاف ده.

پهٔ طلاقو کې ښځې ته لهٔ دې امله واک نهٔ دی ورکول شوی چې دښځو انفعال او عکس العمل ډېر پهٔ بیړه وي او دا ښځو سره ښېګړه ده کهٔ ښځو ته د طلاقو واک ورکول شوی وای نو طلاقو نه به ډېر زیات وو او بیا به پرې پښېمانه وې.

همدارنګه اسلام ښځې ته پهٔ درنده سترګه ګوري ښځه یو محترم انسان دی او خپل حقوق لري مال نهٔ دی چې یا وپلورل شي، یا پهٔ زوره چاته وادهٔ شي او یا یې څوک پهٔ میراث یوسي.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا وَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا))[1]

((ای مؤمنانو! تاسو ته دا روانه دي چې ښځې په زور په ميراث يوسئ او پرته له دې چې ښکاره بدکاري وکړي، د دې لپاره يې له نکاح مه منع کوئ چې هغوی ته مو څه ورکړي وي او له هغې نه څه يوسئ، او ښځو سره په ښه ګوزران ژوند تېروئ که هغوی مو خوښې نه وې نو کېدی شي چې تاسو يوشی نه خوښوئ او الله پکې ډېر خير واچوي)).

[1]- سورة النساء : ١٩.

پرده کول

دې کې هيڅ شک نشته او دا يو څرګند او جوت حقيقت او يو طبيعي فطرت دی چې نارينه او ښځينه يو بل ته ميلان لري، خوښوي يې او غواړي چې جنسي اړيکې يو بل سره ولري او دا هم مونږ ګورو او يو منل شوی حقيقت دی چې انسانان ټول په يو کچ عادلان او پرهېزګاران نهٔ دي او پهٔ انساني ټولنه کې ډېر تېری کوونکي، ظالمان، وحشي او بدمرغه انسانان شته چې د خپلو نفسي غوښتنو او حيواني شهوتونو د پوره کولو لپاره پهٔ نورو تېری کوي. نو کهٔ څهٔ پولې، بريدونهٔ اوقوانين ورته ونهٔ ټاکل شي، انساني ټولنه به حيواني او وحشي شي او ډېرې پېچلې او ژورې ستونزې به رامنځ ته شي.

نو د ظلم، فساد، بدکارۍ او ورانکارۍ د مخنيوي لپاره اسلام له حکمت نه ډک بنسټونه او قوانين ټاکلي دي.

د دې لپاره چې د ښځې د کمزورۍ او ضعف نه نارينه ناوړه ګټه وانخلي، او د ښځې پت، عزت، وقار او حشمت خوندي شي او سړي هم لهٔ تېري، بدکارۍ ورانکارۍ او بې پتۍ نه وژغورل شي اسلام نارينه او ښځينه دواړو ته وايي چې نامحرم ته مهٔ ګورئ او ښځې ته د نامحرمو نارينهٔ ؤ نه د پردې کولو حکم کوي.

الله تعالى فرمايي:

((قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لهمْ إِنَّ الله خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنها وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى الله جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ))[1]

((مؤمنانو سړيو ته ووايه چې خپلې سترګې ښکته کړي او خپل شرمځايونه وساتي دا دوی لپاره ډېره د پاکۍ خبره ده دوی چې څهٔ کوي الله پرې بې شکه ښه خبر دی او مؤمنانو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې ښکته کړي، خپل شرمځايونه وساتي، او له برسېره پرته دې خپله ښکلا نهٔ ښکاره کوي او څپېټي (پوړنی) دې پهٔ خپلو سينو را خوارهٔ کړي او د خپلو مړونو، پلرونو، سخرانو، زامنو، بنزيو، ورونو، وريرونو، خورينو، مسلمانو ښځو، وينځو، بې شهوته خادمانو او هغو ماشومانو نه پرته چې د ښځو پهٔ پټو

[1]- سورة النور: ۳۰ – ۳۱.

خبرو لا خبر نهٔ وي، بل چاته دې خپله ښکلا نهٔ څرګندوي؛ او د دې لپاره دې خپلې پښې بې دريغه نهٔ وهي چې خپل پټ سينګار يې معلوم شي او اى مؤمنانو! ټول الله ته را وګرځئ ښايي چې بريالي شئ)).

نو ښځه به پهٔ دې آية کې د يادو شويو سړيو نه پرته لهٔ نورو پرده کوي.

همدارنګه فرمايي: ((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا))[1]

((اى پېغمبره! خپلو ښځو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووايه چې پهٔ خپلو ځانونو خپل لوى څادرونه را واچوي دا دې ته ډېره نږدې ده چې وپېژندل شي اوکړاو ورته ونهٔ رسول شي او الله ډېر ښښونکى او زيات لورونکى دى.

[1]- سورة الاحزاب: ۵۹.

پهٔ کوم کچ پرده

ښځه ټول عورت دی او ښکته پورته ټول بدن يې بايد له نامحرمو نه پټ وي لهٔ مېږهٔ پرته نور محرمان يې مخ، لاسونه او پښې ليدی شي او خپل مېړه يې ټوله بربنډه ليدی شي.

جنسي او شهواني زړهٔ راښکون يوائې شرمځايونو کې نهٔ دی بلکه د ښځې د بدن هره برخه بيله ښکلا او بيل زړهٔ راښکون لري تر ټولو زيات مفاتن او ښکلا پهٔ مخ کې دي او تر ټولو زيات خوند، ښکلا او زړهٔ راښکون پهٔ سترګو کې دی نو ځکه ويلی شو چې د نارينه او ښځې د بدن هره برخه يو جنسي عمل لري او يو تر بله د هر غړي دليدلو او مښلو نه يو ډول خوند او لذت اخلي نو ځکه اسلام دواړو ته وايي چې نامحرمو ته مهٔ ګورئ او سترګې ښکته کړئ، او ښځو ته وايي چې پهٔ ځانونو پردې راواچوئ.

د پردې حکمتونه

د الله سبحانه وتعالى ټول کړه او ټول حکمونه لۀ حکمتونو څخه ډک دي او يو کار او يو حکم يې هم له حکمت نه خالي نۀ دی.

لکه مخکې مو چې وويل د ښځې فطرت د کور سره جوړ دی د ښځې نازکبدني، کمزوري، ښکلا، اميدواري، د بچيوزېږول، د بچو پالل او نور ګڼ لاملونه د دې مقتضي دي چې ښځه بايد پۀ کور او پرده کې وي. او پۀ سړي د ښځې او بچو د نفقې او اړتياو پوره کول، ځواکمني، د سختو کارونو او زياتو سفرونو کول او نور ګڼ لاملونه د دې غوښتونکي دي چې سړی دې د ښځې پۀ ډول سخته پرده نۀ کوي او نسبت ښځې ته دې ازاد وګرځي ددې مطلب دا نۀ دی چې پۀ سړي د پردې هيڅ بنديز نشته بلکه سړی به هم خپل عورت او شرمځايونه پټوي او له خپلې ښځې نه پرته به يې هيچاته نۀ څرګندوي او پردۍ ښځې ته به نه ګوري.

نو کله چې دا ثابته شوه چې د تېري او فساد د مخنيوي لپاره دا اړينه ده چې نارينه او ښځينه کې به يو هرومرو پرده کوي او پۀ ګڼو دليلونو دا هم ثابته شوه چې دا کار بايد ښځه وکړي نو پۀ دې کې ډېر ګڼ حکمتونه دي چې د بېلګې او سارې پۀ توګه يې ځينې دا دي:

۱-: اسلام د ښځې احترام کوي، پت، عزت، عفت، او عصمت يې ساتي، له تېري، ظلم او کړاوونو نه يې ژغوري او دا ټول په پردې کې خوندي کېږي.

۲-: اسلام غواړي چې انساني ټولنه د حيواناتو او ځناورو په څېر بې بريده، بې بنديزه، بې تهذيبه، بې اخلاقو، بې آدابو او وحشي نهٔوي او د دې ټولو لپاره د پردې بنديز يو ښهٔ کار دی.

۳-: دا يو ثابت او محسوس حقيقت دی چې کهٔ بريدونه او بنديز نه وي نو سړي به ښځو لپاره د داړو نکيو لېوانو حيثيت ولري هر سړی به غواړي چې ځوانه اوښکلې پېغله د خپل تصرف لاندې را ولي او کهٔ پرده اوبريدو نه نهٔ وي نو دا کار به اسانه او زيات وي.

۴-: کهٔ پرده نهٔ وي نو هر سړی به د ښکلې ښځې په تکل کې وي، بدرنګې ښځې به بې اسرې او بې مېړهٔ پاتې وي او د ښکلو ښځو د لېوالي لهٔ امله به د ښکلو پهٔ سر لانجې او جګړې وي او ستونزې به رامنځ ته شي او دا بې پردې ټولنو کې اوس هم محسوسه ده.

۵-: چې پرده نهٔ وي نو د بدرنګو ښځو خاوندان به ښکلو ښځو ته پسخېږي او د خپلو بدرنګو ښځونه به يې کرکه کېږي همدارنګه د بدرنګه مړونو ښځې به ښکلو سړيو ته پسخېږي او دخپلو بدرنګو مړونو نه به کرکه کوي.

اودا به يوه ستونزه وي. مونږ ګورو چې زمونږ پهٔ اسلامي ټولنو کې د پردې ښځې بې مېړهٔ نهٔ پاتې کېږي اوښکلې او بدرنګې

ټولې ودېږي او تر اخره د نېکمرغۍ، يووالي او مينې ژوند کوي او پۀ نامسلمانو ټولنو کې خبره مخ پۀ ځتې ده.

۶-: د پردې لۀ امله پۀ اسلامي ټولنو کې د طلاقو نسبت ډېر لږ او د نشت سره برابر دی او پۀ غربي او نامسلمانو ټولنو کې د طلاقو نسبت بېخي زيات دی.

زۀ پۀ خپله سيمه کوټ او يا ټول ننګرهار کې هيڅ داسې څوک نۀ پېژنم چې هغه دې ښځه طلاقه کړې وي بلکه پۀ هغو ډېرو شاوخوا او لرې سيمو کې هم زۀ داسې څوک نۀ پېژنم چې هغه دې ښځه طلاقه کړې وي پۀ دې وروستيو کې پېښور کې يواځې د يو کس پۀ هکله خبر شوی يم چې هغه ښځه طلاقه کړې ده.

او دا ټول د پردې برکت دی.

۷-: پرده د ښځې ښکلا زياتوي د پردې والا ښځو پۀ مخ کې چې کوم نور نمک او ښکلا وي هغه د بې پردې ښځو پۀ مخ کې بالکل نۀ وي.

۸-: پرده د جنسي عمل خوند او لذت، مينه او محبت زياتوي.

۹-: پرده د ښځې او مېړۀ تر منځ اعتماد او باور زياتوي اود بدګمانۍ مخه نيسي.

۱۰-: پرده کورنی ژوند جوړ وي، دکور ساتنه کوي او کورته پاملرنه زياتوي.

۱۱-: پرده ماشومانو ته پاملرنه زياتوي د ماشومانو پالنې، ښوونې او روزنې کې مرسته زياتوي.

۱۲-: پرده ښځه خپلو کورنیو مسؤلیتونوته اوزګاروي او کور، مېړۀ بچو او د ښځې خپل ځان ته پاملرنه زیاتوي.

۱۳-: پرده د ښځو روغتیا ته ګټه رسوي د ډېرو جراثیمو، دوړو او ګردونو، خیرو او ککړتیا نه یې ژغوري مونږ ګورو چې سړی یو ځل ښارته لاړ شي او بیرته راځي نو پۀ مخ او بدن یې ځومره ګردونه نښتي وي؟! او دا هلته ځرګند ېږي چې کله ښار ته لاړ شې او بیا کورته راشي نو پوزه کې اوبه سوڼ کړه او ښه ټینګ استنشاق وکړه بیا یې بیرته راسوڼ کړه او قوي استنثار وکړه، بیا وګوره چې ستا د پوزې ځومره تور نښتي لوړي، دوړې او خیرې را اوځي؟.

لۀ همدې امله پرده کوونکې ښځې نسبت سړیو او بې پردو ښځو ته د پوستکي، سترګو، پوزې، غوږونو، ستوني او نورې ګڼې ناروغۍ ډېرې لږې لري چې د نشت سره برابرې دي او دا ځکه چې د چاپېریال له ککړتیا نه خوندي وي.

۱۴-: پرده کوونکې ښځې د چاپېریال له هر ډول ککړتیا، پېښنو، اختطاف، سپکاوي، تېري کولو، ورانکارۍ او فساد نه محفوظې دي او بې پردې ښځې دې ټولو سره مخ دي.

۱۵-: د پرده لرونکیو ښځو کمکي بچي هم د دغو ټولو ستونزو نه محفوظ دي.

۱۶-: هغه ذهني او رواني ناروغۍ، اندېښنې او غمونه چې بې پردې ښځې یې لري پرده لرونکې ښځې یې نۀ لري.

۱۷-: كوم عزت، وقار، حشمت، تحفظ، خوشحالي، نېكمرغي او سوكالي چې پرده لرونكې ښځه لري بې پردې ښځه يې نۀ لري.

۱۸-: كوم ننګ، غيرت، عفت، عصمت، استغنا، قناعت، تهذيب، اعتماد، ديانت، صداقت او حيا چې پرده لرونكيو ښځو كې وي بې پردې كې نۀ وي.

۱۹-: د زنا د اسبابو د مخنيوي لۀ امله پرده كوونكې ښځې د ايډز غوندې مهلكو ناروغيو نه خوندي وي.

۲۰- : پرده دښځو پت ، عزت او وقار خوندي ساتي او د تېري او تېر ايستلو مخنيوى كوي او د دنيوي او اخروي نېكمرغيو لامل ګرځي.

۲۱-: كۀ پرده نۀ وي او هر بازار ، د كار ځاى، دفترونو او نورو ځايونو كې نارينه او ښځينه ګډوډ ژوند وكړي، نواستعدادونه، خويونه او ډېرې ځانګړتياوې پۀ توپير سره دي ډېر نارينه به د پرديو ښځو لۀ مشخصاتو اغېزمن كېږي او خپله ښځه به يې لۀ پامه بدېږي او د دې كار مخنيوى يواځې پۀ پردې كېږي همدارانګه به ښځې هم اغېزمنې كېږي او غولېږي.

په ښځو اساني

اسلام نسبت نارينه ؤ ته ښځينه ؤ سره ډېره اساني کړې ده لکه:

۱: ښځو ته د حيض (مياشتينۍ وينې) او نفاس (له اولاد زېږولو وروسته وينې) کې لمونځ معاف دی او بيا پرې هيڅ قضا يي نشته او دروژې خوراک ورته معاف دی خو د هغې به بيا د پاکۍ پۀ وخت کې قضا يي راوړي.

۲: ښځې جومات ته پۀ تللو مکلفې نۀ دي او کۀ پۀ خپله خوښه ځي نو څوک يې منع کولی نۀ شي.

۳: پۀ ښځو د سړيو غوندې جنګېدل فرض نۀ دي.

۴: پۀ ښځو د هيڅا نفقه اود اړتياو پوره کول فرض نۀ دي.

۵: کور نه دباندې ټولې سترياوې او کار کول لکه: کرل رېبل، صنعتي او تعميراتي کارونه او نور............ پۀ سړيو فرض دي او پۀ ښځې دا ټول نشته.

۶: اميد واره ښځه او تي ورکوونکې کۀ پۀ خپلو بچو يا صحت وېرېږي نو روژه دې وخوري او د هرې روژې پۀ ځای دې فديه ورکړي چې يو مسکين ته دوه وخته ډوډۍ ورکول دي.

۷: اسلام کې امارت او قضاء کوم امتياز نۀ دی بلکه يو ډېرلوی مسؤليت دی او ډېر حقوق او سترياوې وربورې تړلې دي نو

ځکه يې د ښځو پۀ اوږو دا دروند پېټی نۀ دی ایښی او د خپل کور، بچو، مېړه او خپلوانو سره مينې، پاملرنې او دخپل ځان مسائلو ته اوزګاره ده چې لۀ يوه پلوه دا ټول ضايع نۀ شي او لۀ بله پلوه د ښځو د ځانګړو ظروفو لۀ کبله د نورو وګړو مسائل معطل پاتې نۀ شي او حقوق يې ضايع نۀ شي.

۸- لکه چې مخکې حديث کې تېر شول ښځو ته درېښمو او سروزرو استعمال روا دی او نارينه ؤ ته ناروا دی. دا هم پۀ ښځينه ؤ اساني ده.

۹- ښځو ته ښکلې رنګينې او هر ډول ګلدارې، زرينې او رېښمينې جامې اغوستل، د پسولونواستعمال اوسينګار کول روا دي او سړيو ته دا ټول ناروا دي يوائې ساده جامې به اغوندي.

۱۰- واده کې پر نفقې او نورو اړتياؤ پوره کولو سربېره په مېړه ښځې لپاره مهر فرض دی او په ښځې هيڅ ډول مالي لګښت فرض نه دی. دا څو بېلګې دي نورې ډېرې اسانتياوې دي چې اسلام ښځو ته ورکړې دي او د اسلام کتابونه ترې ډک دي.

واده کول

اسلام د انساني نسل د ساتلو، د کورني ژوند جوړولو، د فطري اړتياو د پوره کولو،د نړۍ د ودانولو، د نارينه او ښځينه تر منځ دروا او فطري ميني د ساتلو اوزياتولو او د نوروګڼو ګټو د لاس ته راوړلو او دګڼو فسادونو د مخنيوي لپاره دنارينه او ښځينه تر منځ د نکاح کولو ترغيب ورکوي او د کورنيو ښو اړيکو د ساتلو حکم کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن مسعودقال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم:

((**يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فانه أغض للبصروأحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء**))[1]

عبـدالله بـن مسعودرضي الله عنه نه روايـت دی هغـه وايي چې رسو ل الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((ای د ځوانانو ډلې! پۀ تاسو کې چې د چا دواده کولو وس وي نو ودې يې کړي ځکه چې واده د سترګو ښه ښکته کوونکی او د عورت ښه ساتونکی دی او د چاچې وس نۀ ؤ نو هغه دې روژې ونيسي دا هغه لپاره خسي کول دي)).

---

[1] - رواه البخارى.

مطلب دا چې د شهوت د كمولو او پرې د برلاسي لپاره روژه نيول ښهٔ لار ده.

همدارنګه د ښځينه ؤ پلرونو او سر پرستانو ته فرمايي:

عن أبي هريرة قال: قال رسو الله صلى الله عليه وسلم : **((إذا خطب إليكم من ترضون دينه وخلقه فزوجوه إن لاتفعلوه تكن فتنة فى الارض وفساد عريض))** [1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((چاچې پهٔ تاسو مركه وكړه او دهغه ديانت او اخلاق مو خوښ وونو واده وركړئ كه دا كارونه كړئ نو پهٔ ځمكه كې به ګناه او پلن فساد خپور شي)).

١- رواه الترمذي.

ليدل كتل

اسلام زلمي او پېغلې ياد واده دواړو اړخونو ته حق وركوي چې يو بل ته وګوري او پۀ خپله خوښه واده وكړي خو داليدل به يو ځل وي او د سرپرستانو مخكې به وي لۀ دې بريده اخوا ورته نور هيڅ روانۀ دي.

حديث كې داسې راځي:

عن المغيرة بن شعبة قال: خطبت إمرأة فقال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((هل نظرت إليها؟)) قلت: لا. قال: ((فانظر إليها فانه أحــــرىٰ أن يؤدم بينكما))**[1]

مغيرة بن شعبه رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما يوې ښځې باندې مركه وكړه؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: ((آيا تا ورته وركتلي دي؟)) ما ورته وويل: نه. هغه وفرمايل: ((ورته وګوره ځكه چې دا كار د دې ډېر وړ دی چې ستاسو د دواړو تر منځ مينه پيدا شي)).

[1]- رواه الترمذی والنسائی وابن ماجة و احمد والدارمي.

پۀ زور نكاح نۀ كيږي

اسلام كې پۀ زور نكاح كول ناروا دي نكاح كې د هلك او جلۍ يا ښځې او خاوند خوښه او رضا هم ضرور ده د سرپرستانو خوښه هم ضروري ده ايجاب او قبول، مهر، خطبه او شاهدان ټول د نكاح لۀ شرطونو او بنسټونو دي.

حديث كې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: «**إن جارية بكرا أتت رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فذكرت أن أباها زوجها وهى كارهة فخـــيرها النبى** صلى الله عليه وسلم». [1]

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما **نه روايت دى هغه وايي**: **يوه پېغله جلۍ رسول الله** صلى الله عليه وسلم **ته راغله اودا خبره يې ورته** ياده كړه چې پلار يې چاته وركړې ده خو هغه ناراضه ده. نو پېغمبر صلى الله عليه وسلم ورته (**د كولو او نۀ كولو**) **اختيار وركړ**).

---

[1] - رواه البخاري ومسلم و ابوداود وابن ماجه والنسا ئى والدارقطنى والبيهقى.

نېکه ښځه

نېکه ښځه هغه ده چې د ښې عقېدې او نېک عمل څښتنه وي، لمونځ اودس او ټول عبادتونه پهٔ خپل وخت کوي، د خپل کور د نظافت، نظم او نسق خيال ساتي او پهٔ دې ټولو سربېره د خپل مېړه منونکې وي.

عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**المرأة إذاصلت خمسها وصامت شهرها وأحصنت فرجها واطاعت بعلها فلتدخل من أى أبواب الجنة شاءت))۱**

انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((ښځه چې کله خپل پنځه وخته لمونځ وکړي، درمضان د مياشتې روژه ونيسي، خپل عورت وساتي، او دخپل مېړه ومني نو دجنت لهٔ هرې دروازې يې چې خوښه وي ورننه دې وځي)).

بل حديث کې د منونکې ښځې پهٔ هکله داسې راځي:

عن أم سلمة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**أيما إمرأة ماتت وزوجها عنها راض دخلت الجنة))۲**

---

[1]- رواه احمد وابن حبان والطبراني والبزار والديلمی.
[2]- رواه الترمذی وابن ماجة والحاكم والطبراني وابن أبي شيبة والبيهقی في شعب الايمان.

أم سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((هره ښځه چې ومري او مېړه ترې راضي وي نو جنت ته ننوته)).

د نېکې ښځې پۀ هکله داسې حديث راغلی دی:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((الدنيا كلها متاع وخير متاع الدنيا المرأة الصالحة))[1]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((دنيا ټوله ګټه ده او د دنيا غوره ګټه نېکه ښځه ده)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي أمامة عن النبى صلى الله عليه وسلم انه يقول: ((ماستفاد المؤمن بعد تقوى الله خيرا له من زوجة صالحة إن أمرها أطاعته وإن نـــظر إليها سرته و إن أقسم عليها أبرته و إن غاب عنها نصحته فى نفسها وماله))[2]

ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايي: ((د الله تعالى له وېرې وروسته مومن لۀ بل شي داسې ګټه نۀ ده اخيستې چې ورته غوره وي لکه لۀ داسې نېکې ښځې يې چې اخيستې چې امر ورته وکړي نو ويې مني کۀ ورته وګوري نو خوشحاله يې کړي کۀ قسم واخلي لۀ ګناه

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه اپن ماجه.

يې وساتي او كۀ ترې غائب شي پۀ خپل ځان او د خاوند پۀ مال كې يې خير غواړي)).

بل حديث كې داسې راځي:

عن عائشة قالت: قال النبى صلى الله عليه وسلم : ((**إن أعظم النكاح بركة ايسره مؤنة**))[1]

عائشې رضى الله عنها **نه روايت دى هغه وايي چې پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**ډېر بركتناک واده هغه دى چې تكليف يې ډېر اسانه وي**)).

نو اسلام غواړي چې ودونه اسان وي تر څو ټول ځوانان او پېغلې او ناواده پۀ واده شي او ژوند يې جوړ او منظم شي)).

[1]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

د ښځې او مېړه يو تر بله رازونه ساتل

اسلام ښځې او خاوند دواړو ته توصيه کوي چې لۀ مينې او محبت نه ډک او دپېرزوينې لورينې او خواخوږۍ ژوند سره وکړي او دواړه يو د بل راز وساتي دخپل ځانګړي ژوند پټ رازونه چاته ښکاره نۀ کړي او د اعتماد او باور پۀ فضا کې سره و اوسېږي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((**إن أعظم الامانة عندالله يوم القيامة و فى رواية: إن من أشر الناس عندالله منزلة يوم القيامة الرجل يفضى إلى إمرأته وتفضى إليه ثم ينشر سرها**))[1]

ابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت پۀ ورځ الله سره لوى امانت، او په يو روايت کې راځي چې د قيامت پۀ ورځ الله تعالى سره پۀ ټولو خلکو کې پۀ مرتبه کې ډېر ناوړه او بد هغه سړى دى چې خپلې ښځې سره يو ځاى کېږي او هغه ده سره يو ځاى کېږي او بيا يې پټ راز ښکاره کوي)).

---

[1]- رواه مسلم.

د ښځو ترمنځ عدل

لکه مخکې مو چې وويل د دوه، درې يا ځلورو پورې ښځې کول يو فطري اړتيا ده او چې څوک عدل نۀ شي کولی نو لۀ يوې ښځې زياتې ورته روا نۀ دي خوکۀ څوک لۀ يوې زياتې ښځې ولري نو د هغوی تر منځ به بشپړ عدل او انصاف کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**إذا كانت عند الرجل إمراتان فلم يعدل بينهما جاء يوم القيامة وشقه ساقط**))[1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې هغه وفرمايل: ((کله چې يو سړي سره دوه ښځې وي او د دواړو منځ کې يې عدل ونۀ کړ نو د قيامت پۀ ورځ به داسې حال کې راشي چې يو اړخ به يې گوزن وهلی وي)).

[1]- رواه الترمذی و ابوداود والنسائی وابن ماجه والدارمي.

سخت وهل منع دي

د ښځې د نشوز او سرغړونې پهٔ وخت کې د ښځې سپک وهل روا دي خو بې ځايه پهٔ معمولي او ناڅيزه خبرو د ښځو وهل ناروا دي. همدارنګه سخت وهل يې هم ناروا دي.

حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن زمعة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((**لا يجلد أحدكم إمرأته جلد العبد ثم يجامعها فى آخر اليوم**)).[1]

عبدالله بن زمعه رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې **رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((ستاسو هيڅوک دې خپله ښځه د مريي پهٔ څېر نهٔ وهي چې بيا د ورځې پهٔ اخر کې ورسره کور والی هم کوي)).

د مريي له وهلونه مراد هغه وهل دي چې اسلام نه مخکې دجاهليت په وخت کې خلکو وهل اسلام کې د مريي او وينځې وهل هم منع دي لکه چې وروسته به راشي.[2]

---

[1] ـ رواه البخارى ومسلم.
[2] ـ (۲۹۱) مخ وګورئ.

خپلې ښځې سره ښهٔ سلوک

اسلام مېړه ته حکم کوي چې خپلې ښځې سره ښه سلوک وکړي او د مينې محبت او همکارۍ ژوند سره وکړي.

حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((خيركم خيركم لاهله و أ نا خير كم لاهلي)). [1]

عائشې رضى الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((ستاسو غوره هغه څوک دی چې خپلې ښځې لپاره ښهٔ وي او زهٔ خپلو ښځو لپاره ښهٔ يم)).

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښهٔ سلوک نه دا لاندې کيسه هم ده :

عن عائشة أنها كانت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم **فى سفر قالت: فسابقته فسبقته على رجلى فلما حملت اللحم سابقته فسبقنى قال: ((هذه بتلك السبقة))** ۲

عائشې رضى الله عنها نه روايت دی چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پهٔ يو سفر کې وه هغه وايي: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم

---

[1] - رواه الترمذى وابن ماجه والدارمي.

[2] - رواه ابوداود.

سره د منډې وهلو مسابقه وکړه نو زهٔ ورڅخه د پښو پهٔ منډه مخکې شوم کله چې څربه شوم نو بيا مې چې ورسره مسابقه وکړه هغه رانه مخې شو نو ويې فرمايل: دا هغه مخکې مسابقې کې ستا د مخکې کېدو پهٔ بدل کې شوو)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالـــــت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((إن من أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا و خياركم لنسائهم)) ۱

عائشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((مؤمنانو کې د ډېر بشپړ ايمان خاوند هغه څوک دی چې تر ټولو ښهٔ اخلاق ولري او تاسو کې غوره خلک هغه څوک دي چې د خپلو ښځو لپاره ښهٔ وي)).

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو ښځو سره ډېر ښهٔ سلوک کاوهٔ او له ښو اخلاقو څخه يې کار اخيسته.

حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: ((كنت العب بالبنات عندالنبى صلى الله عليه وسلم **وكان لي صواحب يلعبن معى فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دخل ينقمعن منه فيسربهن إلى فيلعبن معى)).۲**

---

[1]- رواه الترمذی و ابوداود.

[2]- روا البخاری ومسلم.

عائشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي: مابه د رسول الله صلى الله عليه وسلم پۀ مخکې پۀ نانځکولو بې کولې او زما ځو ملګرې وې چې ماسره به يې لوبې کولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله را ننواته نو هغوی به ترې پټېدې نو هغه به ماته راپرېښودې او ماسره به يې لوبې کولې)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: والله لقد رأيت النبى صلى الله عليه وسلم يقوم على باب حجرتي والحبشة يلعبون بالحراب فى المسجد ورسول الله صلى الله عليه وسلم يسترني بردائه لانظر إلى لعبهم بين أذنه وعاتقه ثم يقوم من اجلي حتى أكون أنا التى أنصرف فاقدروا قدرالجارية حديثة السن الحريصة على اللهو)).[1]

عايشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي: مارسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلی ؤ چې زما د کور پۀ دروازې کې ولاړ ؤ، حبشيانو جومات کې پۀ نېزو لوبې کولې او رسول الله صلى الله عليه وسلم زه پۀ خپل څادر کې پټولم چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اوږې او غوږ له منځه د هغوی لوبوته وګورم بيا به زما له کبله تر هغې ودرېدۀ چې زه پخپله لاړه شم. تاسو خپله د ځوانې جلۍ اندازه ولګوئ چې لوبو باندې څومره حرصناکه وي؟!)).

[1]- رواه البخارى ومسلم.

خپلو ښځو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښه سلوک ډېرې کيسې دي چې د احاديثو په کتابونو کې په صحيحو اسانيدو ثابتې دي د هغه له ښو اخلاقو نه يو کيسه دا هم ده:

عن عائشة قالت: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم **من غزوة تبوك او حنين وفي سهوتها ستر فهبت ريح فكشفت ناحية الستر عن بنات لعائشة لعب فقال: ((ما هذا يا عائشة؟)) قالت: بناتى. ورأى بينهن فرساله جناحان من رقاع، فقال: ((ماهذا الذى أرىٰ وسطهن؟)) قالت: فرس . قال: ((وما هذا الذى عليه؟)) قالت: جناحان. قال: ((فرس له جناحان؟!)) قالت: أماسمعت أن لسليمان خيلا لها أجنحة؟)) قالت: فضحك حتى رأيت نواجذه))**[1]

عائشې رضى الله عنها نه روايت دى هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د تبوک يا حنين له غزوې راستون شو د عائشې رضى الله عنها په چا ختې پرده وه، هوا را ولوته او دچاختې پرده يې پورته کړه نو دعائشې رضى الله عنها د لوبو نانځکې يې راښکاره کړې. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((اى عائشې! دا څه شى دى؟)) هغې وويل : دا زما نانځکې دي. هغه د نانځکو منځ کې يو آس وليد چې د ټوټو وزرونه يې وو نو ويې فرمايل: ((دا منځ کې يې چې ګورم دا څه شى دى؟)) هغې وويل: آس دى. هغه وفرمايل : ((او دا د

---

[1]- رواه ابوداود.

پاسه پرې څۀ شی دی؟)) هغې وويل: وزرونه يې دي؟!))هغه وفرمايل :((اس دی او وزرونه يې دي؟!)) هغې وويل: ((آيا تاتۀ دي اورېدلي چې د سليمان عليه السلام داسې آسونه ووچې وزرونه يې وو؟ نو هغه صلى الله عليه وسلم داسې وخندل چې د ژامنې غاښونه يې څرګند شول)).

بل حديث کې د حقوقو او ښۀ سلوک پۀ هکله داسې راځي :

عن حكيم بن معاوية القشيري عن أبيه قال: قلت: يا رسول الله! ما حق زوجة احدنا عليه؟ قال: ((أن تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا اكتسيت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر إلا فى البيت))[1]

حکيم بن معاويه قشيري له خپل پلار نه روايت کوي هغه وايي: ما وويل: ای د الله پېغمبره! زمونږ پۀ هر يو کس د خپلې ښځې کوم حق دی؟ هغه وفرمايل: ((کله چې تا څۀ خوړل نو هغې ته يې هم ورکړه، چې جامې دې اغوستې هغې ته يې هم واخله، پۀ مخ يې مه وهه، سپکې سپورې ورته مه وايه او کۀ جلا کېدوته اړتياوه نو يواځې کور کې ترې جلا شه)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن إياس بن عبدالله قـــال: قـــال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((لاتضربوا إماءالله)) فجاء عمر إلى رسول الله

---

[1]- رواه ابوداود وابن ماجة و احمد.

صلى الله عليه وسلم فقال: ذئرن النساء على أزواجهن فرخص في ضربهن فطاف بآل رســـول الله صلى الله عليه وسلم نساء كثير يشكون أزواجهن فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((لقد طاف بال محمد نساء كثير يشكون أزواجهن ليس أولئك بخياركم)).[1]

اياس بن عبدالله نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((تاسو د الله بندګاني (ښځې) مه وهئ)) عمر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ويې ويل: ښځې دمړونو په سرونو وختې او ډېرې پرې زړ ورې شوې نو بيا يې د وهلو اجازه ورکړه. بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښځو ته ډېرې ښځې راغلې چې دخپلو مړونو نه يې شكايت كاوۀ. نورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((دمحمد كورته ډېرې ښځې راغلې چې د خپلو مړونونه يې شكايت كاوۀ دغه سړي تاسو كې ښۀ خلك نۀ دي)).

شيطان كوښښ كوي چې د ښځې او مېړه تر منځ اختلاف پيدا كړي.

حديث كې داسې راځي:

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((إن إبليس يضع عرشه على الماء ثم يبعث سراياه يفتنون الناس

---

[1]- رواه ابوداود وابن ماجة والدارمي.

فادناهم منه منزلة اعظمهم فتنة فيجئ أحدهم فيقول: فعلت كذا وكذا فيقول: ما صنعت شيئا؛ قال: ثم يجئ أحدهم فيقول: ما تركته حتى فرقت بينه و بين إمرأته قال: فيدنيه منه و يقول : نعم أنت. قال: فيلتزمه))[1]

جابر رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي: رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**إبليس خپل تخت پهٔ اوبو ږدي بيا خپلې ډلې لېږي چې خلک پهٔ فسادونو کې اخته کړي. هغه ته پهٔ مرتبه کې ډېر نږدې هغه څوک وي چې پهٔ لوى فساد کې يې خلک اخته کړي وي. يو کس يې راشي او ورته وايي: ماداسې داسې وکړل هغه ورته وايي: هيڅ دې نهٔ دي کړي. بيا ورته يو کس راشي او ورته وايي چې تر هغې مې نهٔ پرېښودهٔ تر څو مې چې هغه او د هغه ښځه سره جلاکړل. وايي چې هغه ځان ته رانږدې کړي او ورته وايي چې: هو همداته د کار سړى يې نو ورغاړې وځي)).**

ښځو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم **د ښهٔ سلوک يوه بېلګه دا لاندې حديث هم دى چې څرنګه رسول الله** صلى الله عليه وسلم **عائشه** رضى الله عنها **د خپل پلار : أبوبکر** رضي الله عنه **نه وژغورله او بيا يې ورسره ټوکه هم وکړه:**

عن النعمان بن بشير قال: إستاذن ابوبكر على النبى صلى الله عليه وسلم فسمع صوت عائشة عاليا فلما دخل تناولها

[1]- رواه مسلم.

ليلطمها وقال: لا اراك ترفعين صوتك على رسول الله صلى الله عليه وسلم فجعل النبى صلى الله عليه وسلم يحجزه وخرج أبوبكر مغضبا؛ فقال النبى صلى الله عليه وسلم حين خرج أبوبكر: ((كيف رأيتنى أنقذتك من الرجل؟)) قالت: فمكث أبوبكر أياما ثم استاذن فوجدهما قداصطلحا فقال لهما: أدخلاني فى سلمكما كما أدخلتمانى فى حربكما. فقال النبى صلى الله عليه وسلم : ((قد فعلنا قد فعلنا))[1]

نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي: ابوبكر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم كره د ورننوتلو اجازه وغوښته او د ورننوتو په وخت كې يې د عايشې رضى الله عنها لوړ غږ واورېد ، كله چې ورننه واتۀ نو غوښتل يې چې يوه څپېړه يې ووهي او ورته ويې ويل: زه دې تا پۀ داسې حال كې ونۀ ګورم چې پر رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل غږ لوړ وې؛ پېغمبر صلى الله عليه وسلم هغه له وهلو منعه كاوه.

او ابوبكر رضي الله عنه پۀ غوسه وواته. ابوبكر چې كله ووات‍ه نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم عائشې رضى الله عنها ته وفرمايل: ((څرنګه؟ ودې ليدم چې له دغه سړي نه مې خلاصه كړې؟)) عائشه رضى الله عنها وايي: ابوبكر څو ورځې ځنډ وكړ بيا راغى او اجازه يې وغوښته نو چې ويې ليدل دواړو سره جوړه كړې وه نو ابوبكر رضي الله

[1]- رواه ابوداود.

عنه دواړو ته وويل: لکه چې تاسو زۀ پۀ جنګ کې ځای کړی وم ستاسو پۀ سولې کې مې هم درننه باسئ. نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((دا کار مو وکړ دا کار مو وکړ)).

لوڼو سره ښېګړه

لوڼو سره د ښېګړې پۀ هکله خاص پاملرنه راغلې ده.

حديث کې لوڼو سره د ښېګړې پۀ هکله داسې راغلي دي:

عن عائشة قالت: قال النبی صلی الله عليه وسلم : ((من ابتلی من هذه البنات بشئ فاحسن إليهن کن له سترا من النار)).[1]

عائشی رضی الله عنها **نه روايت دی هغه وايي چې پيــــغمبر** صلی الله عليه وسلم **فرمايلي دي: ((څوک چې د دې لوڼو پۀ هکله پۀ څۀ شي وازمېيل شو او هغوی سره يې ښېګړه وکړه نو دا به ورته له اور نه پرده شي)).**

[1]- رواه البخاری ومسلم.

بل حدیث کې داسې راغلي:

عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :
((من عال جاريتين حتى تبلغا جاء يوم القيامة أنا وهو هكذا و ضم أصابعه))[1]

انس رضي الله عنه **نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمایلي دي:** ((**چا چې بلوغ پورې د دوه جنکو سر پرستي وکړه نو د قیامت په ورځ به راشي او زه او هغه به سره داسې یوو: ګوتې یې سره جوختې کړې**)).

بل حدیث کې د کونډې سره د ښېګړې په هکله داسې راغلي:

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:
((الساعى على الارملة والمسكين كالساعى فى سبيل الله))
واحسبه قال: ((كالقائم لايفتر و كالصائم لايفطر))[2]

ابو هریره رضي الله عنه **نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وفرمایل:** ((**کونډې او یتیم سره د ښېګړې کوښښ کوونکی د الله د لارې جهاد کې د کوښښ کوونکي مجاهد غوندې دی**)) **او ګمان کوم چې داسې یې هم وویل:** ((**داسې دی لکه د شپې په تهجدوچې ولاړ وي او پکې نه سستېږي او د هغه روژدار غوندې دی چې روژه نه ماتوي او تل روژې نیسي**)).

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه البخارى ومسلم.

همدارنګه د خپلې کونډې شوې لور سره ښېګړه کول او دهغې پالل ډېرثواب او فضيلت لري حديث کې راځي:

عن سراقة بن مالك ان النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**ألا أدلكم على أفضل الصدقه؟ ابنتك مردودة اليك ليس لها كاسب غيرك**)) ۱

سراقة بن مالك رضي الله عنه **نه روايت دى چې نبى كريم** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((آيا زه تاسو ته تر ټولو ښۀ خيرات كول در پۀ ګوته كړم؟ هغه ستا پۀ هغې لور خيرات كول دي چې طلاقه شوې وي ياېې مېړه مړ شوى وي او تاته بيرته راغلې وي او له تاپرته يې بل څوک د ګټې وټې نۀ وي)).

يعنې دا تر ټولو ښۀ صدقه ده چې د چالور يا كونډه شي او يامېړه طلاق وركړي او د پلار كورته راشي نۀ يې خوى وي او نۀ بل د ګټې وټې سرپرست نو پۀ دې لور انفاق كول او د دې پالل تر ټولو زيات ثواب او تر ټولو ښۀ خيرات دى.

---

[1] ـ رواه ابن ماجه.

نېکه کونډه

د خپلو بچو پالونکي کونډې په هکله داسې حديث راغلی دی:

عن عوف بن مالك الاشجعى قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((**أنا وامرأة سفعاء الخدين كهاتين يوم القيامة و أوما يزيد بن زريع إلى الوسطى والسبابة إمرأة امت من زوجها ذات منصب وجمال حبست نفسها على يتاماها حتى بانوا أوماتوا)).١**

عوف بن مالک اشجعي رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي**: رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((زۀ او له غمه دتورو شويو اننګو والا کونډه ښځه به د قيامت پۀ ورځ داسې سره يو ځای يوو؛ راوي يزيد بن زريع منځۍ او مسواکۍ ګوتې ته اشاره وکړه، دا داسې ښځه ده چې له خاوند نه کونډه شوې وي د شهرت او ښايست والاوي او خپل ځان يې خپلو يتيمانو ته تر هغې وقف کړی وي چې يا ترې جلا شي او يا مړۀ شي)).

[1] - رواه ابوداود.

بل حديث کې د لور په هکله داسې راغلي دي:

عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((من كانت له أنثى فلم يادها ولم يهنها ولم يؤثر ولده عليها أدخله الله الجنة))**[1]

عبد الله بن عباس رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي** :

رسول **الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**دچاچې لور وي او نۀ يې ژوندۍ ښخه کړه، نه يې سپکه وګڼله او نۀ يې ځوى پرې غوره** وګڼه نو الله به يې جنت ته ننباسي)).

[1]- رواه ابوداود.

خپل وس سره سم دين

د اسلام بل حسن او د انساني ټولنې سره ښېګړه دا ده چې پهٔ انسان داسې دروند بار نهٔ ږدي چې يايې نهٔ شي وړی او يا ډېر زور او کړاو ورکوي بلکه اسلام د فطرت دين دی او د انسان ټولو ظروفو او شرائطو ته پاملرنه کوي.

الله تعالی فرمايي:

((**لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا**))[1]

((الله هيڅوک له خپل وس څخه زيات نهٔ مکلفوي)).

او فرمايي:

((**فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ**))[2]

((او څومره مو چې وس وي الله نه ځانونه وژغورئ)).

او فرمايي:

((**وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ**)).[3]

((او پهٔ تاسو يې دين کې کوم کړاو نهٔ دی اېښی)).

او فرمايي:

---

[1]- سورة البقرة: ۲۸٦.
[2]- سورة التغابن: ۱٦.
[3]- سورة الحج: ۷۸.

((**مَا يُرِيدُ الله لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ**)).[۱]

((الله نۀ غواړي چې پۀ تاسو کوم کړاو کېدي)).

او فرمايي:

((**يُرِيدُ الله بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ**))[۲]

((الله پۀ تاسو اساني غواړي او سختي درباندې نۀ غواړي)).

نو اسلام سرتر پايه خپل منونکي پۀ داسې احکامو مکلفوي چې له وسه يې پوره وي ستونزمن، کړکېچن او له وسه دباندې احکام پرې نۀ ږدي.

د ساري پۀ توګه څو بېلګې دا دي:

۱- اسلام د لمانځه حکم کوي خو کۀ څوک مسافر وي نو څلور رکعتي فرض لمونځ پرې دوه رکعته فرض شي او دا يوه اساني ده.

۲- کۀ څوک اوبۀ ونۀ مومي يا ورته ښې نۀ وي نو د اودس پۀ ځای دې تيمم ووهي.

۳- کۀ څوک پۀ ولاړه لمونځ نۀ شي کولی پۀ ناسته دې وکړي او کۀ پۀ ناسته يې نۀ شي کولی پۀ ملاسته او اشاره دې وکړي.

---

[۱]- سورة المائده:٦.

[۲]- سورة البقرة: ١٨٥.

۴- كۀ پۀ سفر كې وي يا باران وي يا بل كوم ضرورت وي نو د ((جمع بين الصلاتين)) پۀ حكم دې د ماسپښين او مازيګر لمونځونه يو ځای وكړي او د ماښام او ماسختن دې يو ځای وكړي.

۵- كۀ څوک مسافر وي يا ناروغ وي نو روژه دې وخوري او بيا دې داقامت او روغتيا پۀ وخت كې قضا يي راوړي.

۶- كۀ د چا وس نۀ وي زكات وركول پرې نشته.

۷- كۀ د چا وس نۀ وي حج كول پرې نشته.

۸- پۀ صغير روژه فرض نۀ ده.

۹- كۀ شيخ فاني (ډېر بوډا او بوډۍ) روژه نۀ شي نيولی نو د هرې روژې پۀ بدل كې به يو بې وزلي ته د دوه وخته ډوډۍ پۀ وركولو فديه وركړي.

د پاکۍ دين

اسلام پاک دين دی له پاکۍ، نظافت او طهارت څخه ډک دی، په پاکۍ امر کوي، هم د انسان ظاهري پاکۍ ته پاملرنه کوي او هم يې باطني او معنوی پاکۍ ته هڅوي، هم يې ګروهه، اند او ذهن رڼوي او پاکوي او هم يې بدن، جامه، خوراک څښاک، ځای او چاپېريال پاکوي؛ هم يې اخلاق او خويونه پاکوي او هم يې ټولنه او نړۍ پاکوي. د معنوي اوباطني تزکيي او پاکۍ په هکله فرمايي:

((قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى وَذَكَرَ اسْمَ رَبه فَصَلَّى))[1]

((هغه څوک بې شکه بريالی شو چې ځان يې پاک کړ، د خپل رب نوم يې ياد کړ اولمونځ يې وکړ)).

او فرمايي:

((قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا))[2]

((چا چې نفس پاک کړ نو بې شکه بريالی شو)).

اسلام دانسان ګروهه (عقيده) له هر ډول کفر، شرک، نفاق، او هر ډول باطني او معنوي ناپاکيو او ککړتياؤ نه پاکوي او پاکه، سوچه، نږه، رڼه او سپينه ګروهه يې ګروهمن کوي.

---

[1]- سورة الاعلى: ١٤- ١٥.

[2]- سورة الشمس: ٩.

همدارنګه اسلام پهٔ اخلاقي پاکۍ امر کوي غلا، زنا ، لواطت، دروغ، غيبت، چغلي او هر ډول فساد، ورانکاري او بدکاري منع کوي.

اسلام پهٔ بدني پاکۍ امر کوي پنځه وخته مسلمانان پهٔ دې مکلفوي چې لمونځونو ته اودسونه وکړي دغتهو او وړو ميتيازو نه پهٔ استنجا کولو او مينځلو امر کوي، له دې دواړو او بادو د وتو نه پهٔ اودس کولو حکم کوي چې د شرمځايونو مينځل، د خولې مينځل پهٔ پوزه کې ښهٔ پورته اوبهٔ سوښول او بيا بيرته ښکته راسوښول، د مخ مينځل ، څنګلو پورې د لاسونو مينځل د سرمسحه، او د پښو مينځل پهٔ کې شامل دي.

همدارنګه يې نور هم مهذبوي او پاکوي ا و د دې لپاره چې هسې بې ځايه شرمځای ته لاس وروړلو باندې عادت نهٔ شي او پهٔ ټولنه کې بې ادب، غير مهذب او ناوړه ونهٔ برېښي ذکر ته پهٔ لاس وروړلو هم د اودس کولو امر کوي، همدارنګه د اوښ له غوښې خوړلو نه وروسته د سوړ بوی د له منځه وړلو لپاره د اوښ د غوښې د خوراک نه هم پهٔ اودس کولو امر کوي د مذي او ودي نه هم پهٔ اودس امر کوي. د جنابت (پهٔ ويښه يا ويدو د کوروالي يا مني له وتو) نه پهٔ غسل کولو حکم کوي چې اودس او پوره لمبلونه عبارت دی.

همدارنګه لږ تر لږه اونۍ (هفتې) کې يوځل غسل کول اړين بولي، د جمعې پهٔ ورځ لمبل اړين بولي، د حيض او نفاس د وينې

له پاکېدونه وروسته پۀ ښځو غسل لاژم بولي، احرام تړلو او د اختر پۀ ورځ غسل ښۀ بولي او تل پۀ پاکۍ او نظافت امر کوي.

همدارنګه د هرې ورځې پنځه وخته اودس او لمانځه پۀ وخت کې په مسواک دغاښونو پاکولو ته مسلمانان هڅوي، کورته د ننوتو پۀ وخت کې او د شپې دراپاځېدو او نورو وختونو کې مسواک وهل ښۀ بولي، د نوکانو او زياتي وېښتانو لرې کول او غوڅول اړين بولي؛ د عطرو استعمال او خوشبو يې ته پاملرنه کوي.

جامې بدن او ځای د غټو او وړو ميتازو او نورو ناپاکيو نه پۀ ساتلو حکم کوي تر دې چې د وړو ميتيازو څاڅکو نه هم پۀ ځان ساتلو حکم کوي، او دا ټول پۀ دې دلالت کوي چې اسلام د بدن، جامې او ځای پاکوالي ته زياته پاملرنه کوي.

او الله تعالی فرمايي:

((**إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ**))[1]

((الله بې شکه توبه کوونکي او ځان پاکوونکي خوښوي)).

همدارنګه اسلام د خوراک او څښاک پۀ پاکۍ حکم کوي هم معنوي ناپاکه خواړۀ منع کوي او له حرامو خوړلو نه پۀ ځان ژغورلو حکم کوي او هم ظاهري ناپاک شيان حراموي.

الله تعالی فرمايي:

((**قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ**..........))[2]

---

[1]- سورة البقرة: ۲۲۲.

[2]- سورة المائدة: ٤.

((ورته ووايه چې تاسو لپاره پاک شيان حلال شوي دي)).

او فرمايي:

((فكلوا مِمَّا رَزَقَكُمُ الله حَلالاً طَيِّبًا.........))[١]

((نو تاسو ته چې الله څۀ درکړي دي له هغو څخه پاک حلال خورئ)).

او فرمايي:

((كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ........))[٢]

((له هغو پاکونه و خورئ چې مونږ درکړي دي)).

او فرمايي:

((الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ..........))[٣]

((نن تاسو لپاره پاک شيان حلال شوي دي)).

او فرمايي:

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّبا..........))[٤]

((اى خلكو! پۀ ځمکه کې چې څۀ دي له هغې حلال او پاک وخورئ)).

او فرمايي:

---

[١]- سورة النحل: ١١٤.
[٢]- سورة البقرة: ١٧٢.
[٣]- سورة المائدة: ٥.
[٤]- سورة البقرة: ١٦٨.

((وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُها لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَـــاةَ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونه مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنهاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لهمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَيَضَعُ عَنهمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُواْ به وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَـــئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))[1]

((او زما رحمت هر شي ته پراخه دی زه به يې هغه چالپاره وټاکم چې ځانونه له بديو ژغوري، زکات ورکوي او هغو خلکو لپاره چې زمونږ پهٔ آياتونو ايمان راوړي، هغه خلک چې د هغه نالوستي استازي او پېغمبر تابعداري کوي چې هغوی يې خپلو ځانونو سره پهٔ تورات او انجيل کې ليکلی مومي چې هغوی ته پهٔ نېکيو امر کوي، له بديو يې منع کوي ، پاک شيان ورته حلالوي او ناپاکه پرې حراموي او له هغوی هغه درانده بارونه او غړوندي لرې کوي چې پرې تاکل شوي وو، نو هغه خلک چې ايمان يې پرې راوړ، ملا تړ يې وکړ، مرسته يې وکړه او دهغه رڼا پسې لاړل چې هغه سره نازله شوې ده همدوی بريالي دي)).

[1]- سورة الاعراف: ۱۵۶- ۱۵۷.

نو اسلام ټول پاک شیان حلال کړي دي او ناپاک یې حرام ګڼلي دي او اسلام چې کوم شیان ناپاک او حرام ګڼلي دي هغو کې د بشري ټولنې لپاره زیان او تاوان دی.

همدارنګه اسلام کې د بهېدونکې وینې خوړل یاد مردارې خوړل حرام دي، د خره، خنزیر، (بد ځناور) سپي، څیروونکیو ځناورو او څیروونکیو مرغانو غوښې حرامې دي.

همدارنګه د هغو څارویو غوښې او شېدې او د هغو چرګانو غوښې او هګۍ خوړل حرام دي چې د انسان یا نورو ځناورو ګندګي اونور ناولي شیان خوري.

او د پاکولو لپاره به لږ تر لږه درې ورځې تړل کېږي او پاک خواړه به ورکول کېږي تر څو یې وینه پاکه شي او د ګندګۍ بوي او اثر یې له غوښې ورک شي.

همدارنګه اسلام تل دلوښو په پاکولو او پټولو امر کوي او په ځانګړې توګه د شپې د ډکو او تشو ټولو لوښو په پټولو ډېر ټینګار کوي.

همدارنګه په لوښي کې دسا اخیستلو او پوکي نه اسلام منع کوي. د شرابو او ټولو نشه راوړونکیو شیانو له استعمال نه اسلام په کلکه منع کوي.

اسلام په سیوري، لارو، ښکاره ځایونو او د خلکو ناستې پاستې او تګ راتګ په ځایونو کې د انساني حاجت (غټو او وړو میتیازو) کولو نه منع کوي.

دا او داسې نور ګڼ احکام او آداب په دې څرګند دلالت کوي چې اسلام پاکوالي او نظافت ته زياته پاملرنه کوي او اهميت ورکوي.

او دا ټول د اسلام هغه ښېګړې او محاسن دي چې انساني ټولنه ورته هڅوي او ټينګار پرې کوي.

د فطري پاکۍ پنځه امور

اسلام تل د پاکۍ په ټولو ډولونو حکم کوي او مخکې يې ډېر ډولونه تېر شول خو دلته هغه پنځه امور او پنځه کارونه يادېږي چې د ټولو پېغمبرانو او اکثرو انسانانو فطري خويونه دي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((الفطرة خمس: الختان والاستحداد وقص الشارب وتقليم الاظفار ونتف الابط))[1]

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((د فطرت پنځه کارونه دي: زياتي وېښتان خريېل ، د برېتونو لنډول، د نوکانو غوڅول او د تخرګونو د وېښتانو ايستل)).

د فطرت د دې پنځو کارونو لپاره تر ټولو د کم وخت تحديد نشته خو تر ټولو زيات يې څلوېښت شواروزه دي له دې نه زيات نۀ پرېښودل کېږي .

[1]- رواه البخارى ومسلم.

حديث کې داسې راځي:

عن انس قال: ((وقت لنا فى قص الشارب و تقليم الاظفار و نتف الابط و حلق العانة أن لا نترك أكثر من اربعين ليلة)) ۱

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي** : **مونږ ته د بريتونو** پهٔ لنډولو، نوکانو غوڅولو، د تخرګونو د وېښتو ايستلو اود نامه لاندې وېښتو د خرېيلو لپاره وخت ټاکل شوی دی چې له څلوېښتو شپو به يې زيات نهٔ پرېږدو)).

نو دا هغه تر ټولو زيات بريد دی چې له دې زيات پرېښودل يې روانهٔ دي . نور نو چې لږ هم لويږي بايد واخيستل شي او د لږې مودې بريد يې نشته. هر وخت دې چې مناسبه ګڼله، خوښه دې وه او اړتيا دې محسوسوله اخله يې.

[1]- رواه مسلم.

ګنده خور څاروی

د اسلام د پاکۍ، نظافت او طهارت لۀ ښنستهونو او حکمتونو څخه دا هم دی چې د هغه څاروي غوښه يا شېدې خوړل منع دي چې د انسان يا بل حيوان ګندګي، ميتيازې او سوتې يا بل ناولی شی خوري.

همدارنګه د هغو چرګو او مرغانو غوښې او هګۍ خوړل هم منع دي چې دا کار کوي.

پۀ يو حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: ((نهٰى رسول الله صلی الله عليه وسلم **عن أكل الجلالة وألبانها))[1]**

عبدالله بن عمر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي:** ((رسول الله صلی الله عليه وسلم د ګنده خور څاروي د خوړلو او دهغو د شېدونه منع کړې ده)).

((**جلالة**)) هغه څاروي يا هغه مرغه او حيوان ته ويل کېږي چې ګنده خور وي. نو د ګنده خور غوښه، شېدې او هګۍ خوړل منع دي.

---

[1] - رواه الترمذی وابوداود.

ګنده خور څاروی او مرغه به له دریو تر څلوېښتو ورځو تړل کېږي او پاک واښهٔ او خواړه به ورکول کېږي تر څو يې لهٔ بدن څخه د ناولتوب اثر ورک شي او غوښه يې پاکه شي. لږ تر لږه درې ورځې چې وتړل شي او پاک خوراک څښاک ورې وشي هم کفایت کوي خو کهٔ زيات وو نو لاښهٔ ده.

خو هر څاروی او هر چرګ یا هر حیوان ((جلاله)) نهٔ وي د يو يادوه پهٔ ليدو د ټول کلي يا ټول ولس څاروي او چرګان ((جلاله)) او ګنده خور نهٔ ګڼل کېږي کوم چې وليدل شي هماغه باید پهٔ نښه او وتړل شي.

او دا د ولږې له امله کوي کهٔ يو څاروی يا چرګ پهٔ پاکو موړ وساتل شي بيا دا ناپاکه او ګنده شيان نهٔ خوري.

او په خوړو کې اکثريت ته اعتبار دی چې اکثر خواړه يې ګنده وي هغه ګنده خور دی.

د مسواک وهل

مسواک د خاصو او ځانګړو ونو نيلې دي چې د غاښونو او خولې د پاکولو لپاره وهل کېږي دا هم د اسلام پهٔ پاکۍ او پاکۍ ته پهٔ پاملرنې دلالت کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((**السواك مطهرة للفم مرضات للرب**)) ۱

عائشې رضی الله عنها **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**مسواک د خولې، د پاکولو يوه آله ده او د رب د رضا لامل دی**)).

مسواک د وريو د کلکولو، د غاښونو د قوت، د حافظې د تقويې او نورو ګڼو ګټو لپاره ډېر ښهٔ شی دی.

او دا اوسني دپلاستيک برشونه او کريم ډېر تاوانونه او ضررونه هم لري او دمسواک غوندې ګټور نه دي.

[1] - رواه احمد والنسائی والدارمي و الشافعی.

لس فطري پاکۍ

يو حديث کې د پاکۍ لس فطري کارونه داسې راغلي دي:

عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((عشر من الفطرة: قص الشارب اعفاء اللحية والسواك واستنشاق الماء وقص الاظفار وغسل البراجم ونتف الابط وحلق العانة وانتقاص الماء يعنى الاستنجاء قال الراوى. ونسيت العاشرة الا أن تكون المضمضة)) ۱**

عائشې رضى الله عنها نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((لس کارونه لۀ فطرت څخه دي:

- د برېتونو لنډول.
- د ږيرې پرېښودل.
- د مسواک وهل.
- پوزې کې اوبه سوړول.
- د نوکانو غوڅول.
- د ګوتو د بندونو لۀ پاسه د غونجووينځل.
- د تخرګونو د وېښتانو ايستل.

[1]- رواه مسلم.

- دنامه لاندې وېښتان خرېيل.
- پۀ اوبو استنجاء کول.
- راوي وايي چې لسمه مې هېره شوه خو کېداى شي چې د خولې وينځل وي.

سپي جوټه کړى لوښى

د اسلام د پاکيو له حکمونو نه يو حکم دا هم دى چې کله سپى پۀ کوم لوښي کې خوله ووهي او جوټه يې کړي نو هغه به اوۀ ځل وينځل کېږي چې لومړى ځل به يې پۀ خاورو وي او نور شپږ پۀ اوبو.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إذا شرب الكلب فى إناء احدكم فليغسله سبع مرات)) وفى رواية: ((طهور إناء أحدكم إذا ولغ فيه الكلب أن يغسله سبع مرات اولهن بالتراب)).** [1]

---

[1] - رواهما البخارى ومسلم.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«پهٔ تاسو کې چې د چالوښي کې سپی څهٔ وڅښي نو اوه ځل دې يې ووينځي» او يو روايت کې داسې دي چې «ستاسو د چالوښی چې کله سپی جوټه کړی وي نو د هغې پاکول داسې دي چې اوه ځله به يې ووينځي چې لومړی ځل به يې پهٔ خاورو وي».

د تهذيب او آدابو دين

اسلام خپل معتنقين او منونکي د ځناورو غوندې بې بريده او بې تهذيبه نهٔ پرېږدي بلکه انسان نه يو مهذب، شريف، ادبناک، پاک، محترم، معزز، پياوړی او صالح انسان جوړوي.

اسلام د انساني ژوند د هر ګوټ، هر پړاو، هر اړخ او هر قدم لپاره ښکلي موازين، آداب او کړنلارې ټاکلې دي.

رېښتيا ويل

اسلام پهٔ رېښتيا ويلو او رېښتينو سره پهٔ ملګرتيا امر کوي.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ))[1]

((ای مؤمنانو! الله نهٔووېرېږئ او رېښتينو سره ملګري شئ)).

او فرمايي:

((وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ))[2]

((او کله مو چې خبره کوله نو انصاف کوئ)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولـــئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً))[3]

((او هغهٔ څهٔ پسې مهٔ کېږه چې خبر ترې نهٔ يې د غوږونو، سترګو او زړونو ټولو نه پوښتنه کېږي)).

---

[1]- سورة التوبة: ۱۱۹.
[2]- سورة الانعام: ۱۵۲.
[3]- سورة الاسراء: ۳٦.

او لکه څرنګه چې په رېښتيا ويلو حکم کوي، له دروغو ويلو نه په سخته منع کوي.

الله تعالی فرمايي:

((وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ))[1]

((او د دروغو له وينا څخه ځانونه وژغورئ)).

او د مؤمنانو کره صفتونه داسې څرګند وي:

((وَالَّذِينَ لاَ يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا))[2]

((او (درحمان ذات بندګان) هغه خلک دي چې دروغ نۀ وايي او کله چې په عبثو کارونو تېرېږي نو په عزت پرې تېرېږي)).

د رېښتياو د ويلو په ترغيب او له دروغو نه د ځان ساتلو په هکله حديث کې داسې لولو:

عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((عليكم بالصدق فان الصدق يهدى إلى البر و إن البر يهدي إلى الجنة و مازال الرجل يصدق و يتحرى الصدق حتى يكتب عندالله صديقـــا و إياكم والكذب فان الكذب يهدي إلى الفجور و إن الفجور يهدى إلى النار و مازال الرجل يكذب ويتحرى الكذب حتى يكتب عندالله كذابا))۳

---

[1]- سورة الحج: ۳۰.

[2]- سورة الفرقان: ۷۲.

[3]- رواه البخارى ومسلم.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ((تاسو رېښتيا ووايئ ځکه چې رېښتيا نېکۍ ته لاربښوونه کوي او نېکي جنت ته لار ښوونه کوي، او يو سړی تل رېښتيا وايي او رېښتياو کې سوچ کوي تر دې چې الله سره رېښتونی وليکل شي. او له دروغو ځان وژغورئ ځکه چې دروغ گناه ته لار ښوونه کوي او گناه اورته لاربښوونه کوي، او يو سړی تل دروغ وايي او په دروغو کې فکر کوي تر دې چې الله سره دروغجن وليکل شي)).

بل حديث کې د دروغو په هکله داسې راغلي دي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((إذا كذب العبد تباعد عنه الملك ميلا من نتن ماجاء به))[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((کله چې يو بنده دروغ ووايي نو د دروغو د بدبويي له کبله پرښته ترې يو ميل لرې شي)).

بل حديث کې د دروغو په هلکه داسې راغلي دي:

عن سفيان بن أسد الحضري قال: سمعت: رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ((كبرت خيانة أن تحدث أخاك حديثا هولك به مصدق وانت به كاذب))[2]

---

[1]- رواه الترمذی.
[2]- رواه ابو داود.

سفيان بن اسد خضري رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((دا ډېر لوی خيانت دی چې ته خپل ورورته يوه خبره وکړې، هغه تا رښتينی ګڼي خو پکې دروغجن يې)).

درواغ ويل هيڅوا سره روانه دي تر دې چې ماشوم ته هم دروغ ويل ناروا دي. لکه چې حديث کې راځي:

عن عبدالله بن عامرقال: دعتنى أمي يوماً ور سول الله صلى الله عليه وسلم **قاعد في بيتنا فقالت : ها تعال أعطيك . فقال لها رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((ما اردت أن تعطيه؟)) قالت: اردت أن أعطيه تمرا. فقال لها رسول الله** صلى الله عليه وسلم **:((أما انك لو لم تعطيه شيئا كتبت عليك كذبة))**[1]

عبدالله بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې (زه ماشوم وم) او رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ په کور کې ناست و؛ زه خپلې مور را وغوښتم او راته ويې ويل: راشه چې څه شی درکړم. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((څه ورکول غواړې؟)) هغې وويل: غواړم چې خورما ورکړم. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((که تا ورته څه شی نه وای ورکړی نو يو دروغ به درباندې ليکل شوي وو)).

دا د اسلام هغه سالمه تربيه ده چې مور او پلار اونور سرپرستان بايد ماشومانو ته هم دروغ ونه وايي ځکه چې هغوی بيا

[1]- رواه ابو داود والبيهقي.

دروغ ويل زده کوي او په زړه کې وايي چې مور يا پلار مې راته دروغ وويل زه به يي هم وايم او له بله پلوه مور او پلار ورته په دروغو ويلو بدهم ښکاري نو د ماشومانو د سالمې روزنې لپاره بايد هغوی ته ريښتيا وويل شي، په ريښتيا ويلو او په ژمنو وفا کولو باندې عادت او وروزل شي.

د رېښتيا ګواهي

اسلام خپلو منونکيو ته حکم کوي چې د رېښتيا او حق ګواهي وکړئ د رېښتيا په ګواهۍ کلک ودرېږئ او حق مه پټوئ.

الله تعالى فرمايي:

((وَالَّذِينَ هُم بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ))[1]

((او (مؤمنان) هغه خلک دي چې هغوی په خپلو ګواهيو باندې ولاړ وي)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنه آثِمٌ قَلْبه))[2]

((ګواهي مه پټوئ او چاچې ګواهي پټه کړه نو د هغهٔ زړهٔ ګناهګار دی)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُواْ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ))[3]

((حق د باطل سره مهٔ ګډوئ او پهٔ داسې حال کې چې ښهٔ پوهېږئ، حق مهٔ پټوئ)).

---

[1]- سورة المعارج: ۳۳.
[2]- سروة البقرة : ۲۸۳.
[3]- سورة البقرة: ٤۳.

د امانت ساتل

اسلام د امانت پۀ خوندي ساتلو امر کوي او خيانت نه پۀ سختئ سره منع کوي .

الله تعالى فرمايي:

((وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ))[1]

((او (مؤمنان) هغه خلک دی چې هغوی د خپلو امانتونو اوژمنو ساتونکي دي)).

او فرمايي:

((إِنَّ الله يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِها))[2]

((الله بې شکه تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ)).

د منافق درې نښې پۀ حديث کې داسې راغلې دي:

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((آية المنافق ثلاث: إذا حدث كذب و إذا وعد أخلف و اذا ائتمن خان)).[3]

---

[1]- سورة المؤمنون: ٨. سورة المعارج: ٣٢.
[2]- سورة النساء: ٥٨.
[3]- رواه البخارى ومسلم.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسو ل الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((دمنافق نښې درې دي: کله چې خبرې کوي نو دروغ وايي: کله چې ژمنه کوي نو خلاف يې کوي او کله چې امانت ورسره کېښودل شي نو خيانت پکې کوي)).

او بل روايت کې د منافق نښې داسې وينوو:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم : ((أربع من كن فيه كان منافقا خالصا ومن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النفاق حتى يدعها: إذائتمن خان و إذا حدث كذب و إذا عاهد غدر و إذا خاصم فجر))[1]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((څلور خويو نه دي چې چاکې وو نو نره منافق دی او چا کې چې لۀ دې يو خوی هم وي نو پۀ هغۀ کې تر هغې د نفاق يو خوی دی چې تر څو يې پرېږدي : کله چې امانت ورسره کېښودل شي نو خيانت کوي، کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې تړون وکړي ماتوي يې او کله چې جګړه کوي سپکې سپورې وايي)).

د امانت د ساتلو او پۀ هغې د درغلۍ نۀ کولو او پۀ تړون او ژمنې د وفا کولو او د خيانت او ژمنې د ماتولو پۀ هکله حديث کې داسې راځي:

[1]- رواه البخاری ومسلم.

عن أنس قال: قلما خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم **الا قال:** ((**لاايمان لمن لا أمانة له ولا دين لمن لا عهد له**)) ۱

أنس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **به چې خطبه لوسته نو اکثره به يې پکې دا ويل:** ((**څوک چې امانت نهٔ ساتي د هغه ايمان نشته او څوک چې پهٔ تړون او ژمنې وفانهٔ کوي د هغهٔ دين نشته**)).

امانت پهٔ هر شي کې دی حتی چې پهٔ خبرو کې هم هغه خبره امانت ده چې ويونکی يې نهٔ غواړي چې بل څوک پرې خبر شي تردې چې کهٔ درته ونهٔ وايي او لهٔ نښو يې معلومه شي چې بل چاته يې ويل نهٔ غواړي هم امانت ده حديث کې راځي:

عن جابر بن عبدالله عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**إذا حدث الرجل الحديث ثم التفت فهى أمانة**)). ۲

جابر بن عبدالله رضي الله عنه **نه روايت دی هغه له پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **نه روايت کوي چې هغه وفرمايل:** ((**کله چې کوم سړی خبره وکړي او بيا اخوا دېخوا وګوري نو هغه امانت دی**)).

د اخوا دېخوا ليدلو مطلب دا دی چې څوک خوبه نهٔ وي چې زما خبرې يې اورېدلې وي خو دناوړه، دګناه اوظلم پټول ناروا دي حديث کې داسې راځي:

۱- رواه البيهقى فى شعب الايمان.
۲- رواه الترمذي و أبوداود.

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((المجالس بالأمانة الا ثلاثة مجالس : سفك دم حرام اوفرج حرام او اقتطاع مال بغير حق)).۱

جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((د ناستې ځايونه امانت سره وي خو درې مجلسونه امانت نهٔ دي: پهٔ ناروا و د چاوينه تويول، يا زنا کول او يا پهٔ ناحقه د چا مال اخيستل)).

پهٔ امانت پوره سپارلو سربېره هغه چاسره هم خيانت کول منع دي چې تاسره يې خيانت کړی وي.

حديث کې داسې راځي:

عن ابي هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ((أدالامانة إلى من إئتمنك ولا تخن من خانك))۲

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې هغه وفرمايل: ((چا چې درسره امانت کېښود نو هغهٔ ته خپل امانت وروسپاره او هغه چاسره خيانت مه کوه چې تاسره يې خيانت کړی وي)).

کهٔ چا درنه مشوره وغوښته نو بايد ښهٔ مشوره ورکړې او راز يې هم وساتې حديث کې داسې راځي:

---

[1] - رواه ابوداود.

[2] - رواه الترمذي و ابو داود والدارمي.

عن أبي هريرة قال: قال النبى صلى الله عليه وسلم : **((إن المستشار مؤتمن))** [1]

ابوهريرة رضي الله عنه **نه روايت هغه وايي چې پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**چانه چې مشوره غوښتل شوې وي هغه امانتدار ګڼل شوی دی**)).

[1]- رواه الترمذى.

په ژمنو وفاء

اسلام هر چاسره په ژمنو او تړونونو د وفاکولو حکم کوي او د وعده خلافۍ سخت خلاف دی.

الله تعالی فرمايي:

((**وَأَوْفُواْ بِعَهْدِ اللهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلاَ تَنقُضُواْ الأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا**))[1]

((او کله مو چې ژمنې وکړې نو د الله په ژمنو وفا وکړئ او لوړې له پياوړتيا وروسته مه ماتوئ)).

او فرمايي:

((**وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً**))[2]

((او په ژمنو وفا وکړئ د ژمنو په هکله بې شکه پوښتنه کېږي)).

اوفرمايي:

((**وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ**))[3]

((او (مؤمنان) هغه کسان دي چې هغوی د خپلو امانتونو او ژمنو ساتونکي دي)).

---

[1]- سورة النحل: ۹۱.

[2]- سورۀ الاسراء: ۳٤.

[3]- سورة المؤمنون: ۸ . سورة المعارج: ۳۲.

بې وزلو سره ښېګړه

اسلام د بډايانو په مال کې څه حقوق ټاکلي دي چې له هغوی به اخيستل کېږي او په بې وزلو او مستحقينوبه وېشل کېږي.

اسلام نه د غربيانو پنګه وال نظام مني چې بډايان به بې بريده بې دريغه او بې اندازه بې خرته مالونه راټولوي او د بې وزلو او غريبانو به پکې هيڅ ونډه نه وي او نه د سوسيالستانو او کمونستانو اشتراکي نظام مني چې د شخصي پنګې حق غصبوي. بلکه اسلام د دې دواړو نظامونو تر منځ د عدل او انصاف نظام پلی کوي.

اسلام هر چاته د شخصي پنګې د لرلو حق ورکوي خو څه بريدونه او بنسټونه ورته ټاکي. اسلام خپلو منونکيو ته حکم کوي چې سود به نه کوي د چاحق به نه غصبوي، ظلم به نه کوي، د دروغو او ټګۍ سوداګري به نه کوي هغه ټولې مجهولې سوداګرۍ او بيعې (اخيستل پلورل) او عقود (تړونونه) به نه کوي چې له دواړو خواونه يو لورته پکې د تاوان احتمال او اندېښنه وي او جوته او څرګنده نه وي يا پکې څه ټګي برګي او درغلي وي. د خپل تجارتي توکي عيب به نه پټوي دروغ به پکې نه وايي، تېزول به نه کوي، دلالي به نه کوي، پلورونکی يا پيردونکی به د بازار له نرخ نه

ناخبره نۀ ساتي، مېوې او غلې به وچ پۀ لمدو يا لامده پۀ وچو نۀ پلوري، د لنګې غلانځې کې به د تګې لپاره شپدې نۀ جمع کوي نسيا پۀ نسيا به نۀ پلوري، استثنايي بزګرۍ او تاکلې اجارې باندې به ځمکه نۀ ورکوي، دبياني پلورل اخيستل به نۀ کوي.

چې لا پوخ شوي نۀ وي او له افت خوندي شوي نۀ وي ولاړ کښتونه او مېوې به نۀ پلوري، بيع او شرط به نۀ جمع کوي، يوې بيعې کې به دوه نۀ جمع کوي د چاله مجبوريت به داسې ناوړه ګټه نۀ اخلي چې يو شی پرې پۀ نسيالۀ نرخه زيات وپلوري او بيرته يې ترې پۀ نغدو ارزانه واخلي او پۀ دې توګه سود ته حيله جوړه کړي چې لږې پيسې ورکړي او بيا نېټې کې ترې ډېرې واخلي چې دا هريو بيل بيل نوم او احکام لري لکه: منابذه، مزابنه، محاقله، مخابره، بيع العينة، بيع وشرط، بيعتين فی بيعة، مناجشة، ملامسة او نور..........

چې د حديثو او فقهې پۀ کتابونو کې يې تفاصيل او احکام دي.

همدارنګه اسلام حکم کوي چې چا بې مالکه او حکومتي شاړه آباده کړه هغه د هغۀ شوه:

لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

((من أحيا ارضا ميتة فهي له)) [1]

((چا چې شاړه ځمکه آباده کړه هغه د هغۀ شوه)).

[1]ـ رواه البخاري و مسلم والترمذي والنسائي وابوداود وابن حبان والبيهقی والطبراني ومالك.

بې وزلو او محتاجو سره د ښېګړې فضيلت پۀ حديث کې پۀ دې ډول راغلی دی :

عن أنس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: **((من أغاث ملهوفاكتب الله له ثلاثا وسبعين مغفرة واحدة فيها صلاح أمره كله وثنتان وسبعون له درجات يوم القيامة))** [1]

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وفرمايل:**

((چا چې پۀ بېړه د کوم اندېښمن او حاجتمند مرسته وکړه نو الله تعالی به ورته درې اويا ((۷۳)) ښښنې وليکي چې يوې کې به يې د ټول ژوند سمون وي او دوه اويابه ورته د قيامت پۀ ورځ درجې وي))

نو د دې ټولو احکامو، شرطونو اولارښوونو لاندې چې چا هر څومره مال وګاټۀ هغه د هغۀ حق دی خو دانۀ ده چې ګنې نور حقوق پکې نشته اسلام مالونو ته خپل خپل نصابونه ټاکلي دي کله چې د چا مال نصاب ته ورسېږي نو بيا پرې زکاة فرض دی چې د غريبانو او بې وزلو حق دی.

کښتونه او غلې داني چې کله واخيستل شي نو ددرمندونو پۀ وخت کې به ترې لسمه برخه ورکوي او نصاب يې پنځه وسقه دی چې يو وسق شپېته صاعه دی او صاع پاو کم درې کيلو دی نو پۀ

[1]- رواه البيهقی فی شعب الایمان.

دې ترتيب د غلو دانو نصاب پنځه وسقه دی چې د افغانستان پهٔ اوهٔ کيلو يې منهٔ د «۱۱۷» يوسل او ولس منونو سره سمون خوري.

کله چې غلې دانې دې نصاب ته ورسېږي نو د درمندپهٔ وخت کې پرې لسمه برخه زکات دی او له دې کمو کې زکات نشته.

همدارنګه دغواؤ او مېښو نصاب «۳۰» دېرش څاروي دی؛ د مېږو او اوزو نصاب «۴۰» څلوېښت پسهٔ دی، د اوښانو نصاب «۵» پنځه اوښان دي د نغدو نصاب «۲۰» شل مثقاله سره زر دي چې اوه نيمې تولې کېږي همدارنګه د ټولو اموالو نصابونه او احکام د حديثو او فقهې د کتابونو پهٔ کتاب الزکات کې وګورئ. غلو دانو کې د درمند پهٔ وخت کې زکات دی نغدو او څارويو کې د کال پهٔ تېرېدلو دی چې د لاس ته راوړلو له ورځې څخه اخوا يو کال پوره شي نو زکات به يې ورکوي او هر کال پهٔ همدې ترتيب زکات ورکول فرض دي چې ګڼ تفاصيل لري او د حديثو او فقهې د کتابونو پهٔ خپلو بابونو کې يې وګورئ.

همدارنګه دوارهٔ اختر پهٔ ورځ پهٔ هر مسلمان نارينه، ښځينه، غټ او ووړ سرسايه ده چې بې وزلو ته به يې د کور کفيل ورکوي.

همدارنګه مختلفې کفارې دي چې تفصيل يې دلته د اوږدېدو لامل ګرځي او د اسلام پهٔ کتابتون کې ټول شته.

او پهٔ دې ټولو سربېره رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

((ان فى المال لحقاسوى الزكاة)) ۱

((په مال کې په زکات سربېره نور حق هم شته)).

نو اسلام په زکات او په زکات سربېره هم د خیرات ورکولو او بې وزلو فقيرانو، مسکينانو، غريبانو او مستحقينو سره د مرستې په کولو امر کوي، ټينګار پرې کوي او مسلمانان ورته هڅوي.

الله تعالی فرمايي:

((إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ))[۲]

((خيراتونه او زکاتونه بې وزلو، غريبانو، د زکات راټولو ونکيو مامورينو، دين سره د مينې پيدا کوونکيو، د غلامانو او بنديانو د ازادولو، پوروړيو، د الله په لار کې او مسافرو لپاره دي دا د الله له لوري فرض دي او الله ډېر پوه اود حکمت څښتن دی)).

او د نېکانو او نېکۍ په هکله فرمايي:

((وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبه ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ))[۳]

---

[۱]- رواه البيهقي.
[۲]- سورة التوبة: ۶۰.
[۳]- سورة البقرة: ۱۷۷.

((او ((نېکان هغه خلک دي) چې مال سره د مينې سره سره يې خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو، مسافرو، سوال کوونکيو او د غلامانو، وينځو او بنديانو په ازادولو کې ورکړي)).

او فرمايي:

((يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللهَ به عَلِيمٌ))[1]

((تا پوښتي چې څه ډول لګښت وکړي؟ ورته ووايه: څه چې لګوئ نومور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو او مسافرو لپاره دي او هر د ښېګړې کار چې وکړئ نو الله پرې ښه پوه دی)).

او فرمايي:

((قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُواْ يُقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لاَّ بَيْعٌ فِيهِ وَلاَ خِلاَلٌ))[2]

((زما مؤمنو بندګانو ته ووايه چې لمونځ وکړئ او له دې مخکې چې هغه ورځ راشي چې نه به پکې پلورل پېرودل وي او نه دوستي، له هغه مال نه لګښت وکړي چې مونږ ورکړی دی)).

او فرمايي:

---

[1]- سورة البقرة: ۲۱۵.
[2]- سورة ابراهيم.۳۱.

((إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لُّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ))[1]

((كهٔ خيراتونه ښکاره کړئ نو دا هم ښهٔ ده خو کهٔ پټ يې کړئ او بې وزلانو ته يې ورکړئ نو دا تاسو لپاره غوره ده، ستاسو ګناوې به درڅخه لرې کړي او تاسو چې څهٔ کوئ الله پرې ښهٔ خبر دی)).

نو د دې لپاره چې بې وزلی اوغريب شرم او خجالت محسوس نهٔ کړي او عزة النفس يې مجروح نهٔ شي نو الله تعالی وفرمايل چې کهٔ خيراتونه پټ بې وزلانو ته ورکړئ نو داتاسو لپاره ډېره غوره ده.

نو اسلام بې وزلي سره د مرستې کولو حکم کوي او د مرستې پهٔ ترڅ کې د بې وزلي د عزة النفس خيال هم ساتي. نو څومره د ښېګړې دين دی؟!.

او فرمايي:

((وَاعْبُدُواْ اللهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللهَ لاَ يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالاً فَخُورًا))[2]

---

[1]- سورة البقرة: ۲۷۱.
[2]- سورة النساء:۳٦.

((د الله عبادت وکړئ، هغۀ سره هيڅ شی مۀ شريکوئ او مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو خپلوان ګونډي، دخوا ګونډي، دخوا ملګري، مسافر او غلامانو وينځو سره ښېګړه وکړئ الله بې شکه کبرجن اوځان ته غره نه خوښوي)).

او فرمايي:

((وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا))[1]

((خپلوانو، بې وزلو او مسافرو ته خپل حق ورکړه او اسراف بېخي مۀ کوه)).

او فرمايي:

((لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللهَ بِهِ عَلِيمٌ))[2]

((نېکي تر هغۀ لاس ته نۀ شئ راوړی تر څو چې له هغه مال نه لګښت وکړئ چې خوښوئ يې او څۀ شی چې خيرات کړئ نو الله بې شکه پۀ هغه ښۀ پوه دی)).

نو له دې څرګنده شوه چې خيرات کول او بې وزلانو سره مرسته کول له هغه مال نه په کار ده چې خپله يې د ځان لپاره هم خوښوي او څۀ چې له ځان لپاره نۀ خوښوي او له نظره پرېوتی او بې

[1]- سورة الاسراء: ۲٦.

[2]- سورة آل عمران:۹۲.

کاره مال وي هغه نه خيرات کول سم نۀ دي. او خيرات د حلال او پاک مال نه پۀ کار دی.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَلاَ تَيَمَّمُواْ الْخَبِيثَ مِنْه تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلاَّ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ وَاعْلَمُواْ أَنَّ الله غَنِيٌّ حَمِيدٌ))[1]

((ای مؤمنانو! له هغو پاکو مالونو نه خيرات ورکوئ چې تاسو ګټلي دي او له هغو هم چې مونږ تاسو لپاره له ځمکې را ايستلي دي او د هغو ناپاکو اراده مۀ کوئ چې نوروته يې ورکوئ او خپله يې له سترګو پټولو پرته اخيستونکي نۀ يئ، او پۀ دې وپوهېږئ چې الله بې پروا او ستايل شوی دی)).

همدارنګه د ميراث د وېش پۀ وخت کې الله تعالی پۀ خيرات ورکولو حکم کوي او فرمايي:

((وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُوْلُواْ الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنه وَقُولُواْ لهمْ قَوْلاً مَّعْرُوفًا))[2]

((او کله چې دميراث وېش ته خپلوان، يتيمان او بې وزلان حاضر شول نو هغوی ته هم ترې څۀ ورکړئ او ښۀ خبره ورته وکړئ)).

---

[1]- سورة البقرة: ٢٦٧.

[2]- سورة النساء: ٨.

او فرمايي:

((وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ جَنَّاتٍ مَّعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُله وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابه كُلُواْ مِن ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُواْ حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنه لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ))[1]

((الله هغه ذات دی چې د چت والا او بې چته باغونه، خورما او کښتونه چې ډول ډول خوندونه يې دي او ښونۀ (زيتون) او انار يې پيدا کړي دي چې سره ورته او بدل بدل دي کله چې مېوې وکړي نو مېوې يې خورئ، دلو پۀ ورځ يې حق ورکړئ او اسراف مۀ کوئ الله اسراف کوونکي نۀ خوښوي)).

او دمؤمنانو پۀ ځانګړتياو کې دا هم فرمايي:

((وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبه مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ الله لاَ نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاء وَلاَ شُكُورًا))[2]

((او سره له مينې بې وزلي، يتيم او بندي ته خواړۀ ورکوي او ورته وايي چې مونږ يواځې د الله د مخ لپاره تاسوته خواړۀ درکوو تاسو نه نۀ بدله غواړو او نۀ مننه)).

همدارنګه د نيکانو مؤمنانو پۀ ځانګړتياو کې دا هم ګڼي چې:

((وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ))[1]

---

[1]- سورة الانعام: ۱٤۱.
[2]- سورة الدهر: ۸- ۹.

((او (لمونځ کوونکي) هغه خلک دي چې د هغوی په مالونو کې د سوال کوونکي او بې برخې لپاره ټاکلی حق وي)).

او فرمايي:

((فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلاَ تَقْهَرْ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلاَ تَنهرْ))[2]

((په يتيم غوسه مه کوه او سوال کوونکی مه رټه)).

همدارنګه الله تعالى خيرات کوونکي ته حکم فرمايي چې چاته دې خيرات ورکړ نو بيا يې پرې مه زباتوه او بدې ردې ورته مه وايه:

((الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالهمْ فِي سَبِيلِ الله ثُمَّ لاَ يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُواُ مَنًّا وَلاَ أَذًى لهمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبهمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى وَالله غَنِيٌّ حَلِيمٌ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُبْطِلُواْ صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالأذَى كَالَّذِي يُنفِقُ مَاله رِئَاء النَّاسِ وَلاَ يُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَمَثَله كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابه وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لاَّ يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُواْ وَالله لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ))[3]

((هغه خلک چې د الله په لار کې خپل مالونه خيراتوي او بيا يې چې څه خيرات کړي وي هغې پسې زبات او بدې ردې نه وايي

---

[1]- سورة المعارج: ٢٤- ٢٥.
[2]- سورة الضحى: ٩- ١٠.
[3]- سورة البقرة: ٢٦٢- ٢٦٤.

هغوی لپاره د خپل رب سره بدله ده او پهٔ هغوی به نهٔ وېره وي او نهٔ به خپه کېږي. ښهٔ وينا او ښښنه له هغه خيرات نه ښهٔ ده چې بدې ردې ورپسې وايي او الله بې پروا او ډېر زغمونکی دی. ای مؤمنانو! خپل خيراتونه پهٔ زبات او بدو ردو ويلو دهغه چا غوندې مهٔ بربادوئ چې خپل مال خلکو ته د ځان ښودلو لپاره لګوي او پهٔ الله او د قيامت پهٔ ورځ ايمان نهٔ راوړي. نود هغهٔ (دخيرات) مثال د هغه ښويې تېږې غوندې دی چې پهٔ هغې خاوره پرته وي او تېز باران پرې وشي نو پاکه يې پرېږدي چې څهٔ يې کړي وي پهٔ هغو يې هيڅ وس نهٔ رسېږي او الله کافرانو خلکو ته لار ښوونه نهٔ کوي)).

نو د اسلام دين څهٔ ښکلی دين دی چې بډايانو ته وايي: ستاسو مال کې د خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو، ګونډيانو، بنديانو، پوروړيو او مسافرو حق دی هغوی ته به هم خيرات او زکات ورکوئ، هم به ورسره مرسته کوئ او د حلالو، پاکو، ښو اوهغو مالونو نهٔ به يې کوئ چې تاسو يې خپل ځان لپاره خوښوئ؛ بيا به نهٔ پهٔ هغوی زبات کوئ اونهٔ به ورته بده خبره کوئ بلکه ښهٔ خبره او ښهٔ سلوک به ورسره کوئ. او دا د هغوی حق دی د الله تعالی دنږه رضا لپاره به يې کوئ.

له يتيمانو سره ښېګڼه

اسلام يتيمانو (پلار مړيو ماشومانو) ته زياته پاملرنه کوي او هغوی سره د ښېګړې کولو زيات تاکيد او ټينګار کوي.
الله تعالی فرمايي:
((وَآتُواْ الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَتَبَدَّلُواْ الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنه كَانَ حُوبًا كَبِيرًا))[1]
((يتيمانو ته خپل مالونه ورکړئ، خپل ناپاکه د هغوی پاکو باندې مه بدلوئ او دهغوی مالونه خپلو مالونو سره مه خورئ دا بې شکه لويه ګناه ده)).
نو اسلام حکم کوي چې د يتيمانو مالونه هغوی لپاره تر هغه امانت وساتئ او په حلال تجارت د زياتولو کوښښ يې وکړئ تر څو چې يتيم بالغ او د خپلو مالونو د ساتلو وړ شي. او دا کار به د هغه په ازمېيلو کوئ چې رښتيا هم د خپلو مالونو خوندي کولو او ساتلو وړ دی او که نه؟ لکه چې فرمايي:
((وَابْتَلُواْ الْيَتَامَى حَتَّىَ إِذَا بَلَغُواْ النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُم مِّنهمْ رُشْدًا فَادْفَعُواْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ

[1]- سورة النساء: ۲.

وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُواْ عَلَيْهِمْ وَكَفَى بِاللّهِ حَسِيبًا))[1]

((يتيمان وازمېيئ تر دې چې کله د وادهٔ شول نو کهٔ پوهه مو پکې وموندله نو هغوی ته خپل مالونه ورکړئ او له دې وېرې چې هغوی لوی نهٔ شي ډېر ډېر او زر زر يې مهٔ خورئ او څوک چې بډای ؤ نو ځان دې ترې وژغوري او څوک چې بې وزلی ؤ نو پهٔ ښهٔ دود دې وخوري؛ کله مو چې هغوی ته خپل مالونه ورکول نو ګواهان پرې ونيسئ او الله حساب کوونکی بس دی)).

معنا دا چې د يتيم د مال ساتونکی او د يتيم سرپرست د هغهٔ د سرپرستۍ او د هغهٔ د مالونو د ساتلو او ډېرولو پهٔ بدل کې د دود سره سم د هغه له مال نه خوراک کولی شي خو کهٔ بډای وي نو چې ويې نهٔ کړي ښهٔ ده.

خو کهٔ محتاج ؤ نو هم له دې وېرې به د يتيم مال ډېر ډېر او زر زر بې ځايه نهٔ خوري چې يتيم لوی نهٔ شي چې سبابه را څخه خپل مال غواړي.

او فرمايي:

((**إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا**))[2]

---

[1]- سورة النساء: ٦.

[2]- سورة النساء : ١٠.

هغه خلک چې په ظلم د يتيمانو مالونه خوري هغوی په خپلو خېټو کې اور خوري او زر ده چې سوځوونکي دوزخ ته به ننوځي)).

او فرمايي:

((وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى))[1]

((د الله عبادت وکړئ، هغهٔ سره هيڅ شی مهٔ شريکوئ او مور او پلار، خپلوانو او يتيمانو سره نېکي وکړئ)).

او فرمايي:

((وَأَن تَقُومُواْ لِلْيَتَامَى بِالْقِسْطِ[2]

((او (په دې تاسو ته حکم کوي) چې يتيمانو لپاره په انصاف ودرېږئ)).

او فرمايي:

((وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلاَحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ))[3]

((او تا د يتيمانو په هکله پوښتي، ورته ووايه چې هغوی لپاره رغونه ښهٔ ده او کهٔ هغوی سره ګډ يږئ نو هغوی ستاسو ورونه دي او الله ورانکاری او رغوونکی سره پېژني)).

---

[1]- سورة النساء: ۳۶.
[2]- سورة النساء: ۱۲۷.
[3]- سورة البقرة: ۲۲۰.

مطلب دا چې د يتيمانو اود هغوی دمال اصلاح او هغوی سره ګډه ګوزاره خير دی خو کهٔ څوک د اصلاح پهٔ بانه فساد کوي نو اللهﷻ دواړه پېژني او هر چاته د خپل عمل بدله ورکوي.

اوفرمايي:

((وَلاَ تَقْرَبُواْ مَالَ الْيَتِيمِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ))[1]

((او د يتيم مال ته له ښې لارې پرته تر هغې مهٔ نږدې کېږئ تر څو چې خپلې ځوانۍ ته ورسېږي)).

او فرمايي:

((فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلاَ تَقْهَر))[2]

((او پهٔ يتيم غوسه مهٔ کوه)).

همدارنګه مخکې د بقرې د سورت پهٔ :(۲۱۵\۱۷۷) د نساء د سورت پهٔ :(۸)او د دهر د سورت پهٔ(۸- ۹) آيتونو کې هم يتيمانو سره د ښېګړې حکم تېر شو.

د يتيم د پالنې پهٔ هکله حديث کې داسې راغلي دي:

عن سهل بن سعد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((أنا وكافل اليتيم له ولغيره فى الجنة هكذا و أشار بالسبابة والوسطى وفرج بينهما شيئا)).۳

---

[1] - سورة الانعام: ۱۵۲. سورة الاسراء: ۳۴.
[2] - سورة الضحٰى: ۹.
[3] - رواه البخارى.

سهل بن سعد رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((زه او يتيم پالونکی – **خپل يې وي او کۀ د بل**- به پۀ جنت کې داسې يو ځای يوو پۀ مسواکۍ او منځې ګوتې يې اشاره وکړه لږې يې سره بيرته يو ځای ونيولې)).

بل حديث کې د يتيم پۀ هکله داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((خير بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يحسن إليه و شربيت فى المسلمين بيت فيه يتيم يساء إليه)).۱**

ابوهريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:**

((مسلمانانو کې ښۀ کور هغه دی چې پۀ هغه کې يتيم وي او ښېګړه ورسره کېږي. او مسلمانانو کې ناوړه کور هغه دی چې پۀ هغه کې يتيم وي او بد ور سره کېږي)).

بل حديث کې داسې راغلي دي:

عن أبي أمامة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من مسح رأس يتيم لم يمسحه الا لله كان له بكل شعرة تمر عليها يده حسنات و من أحسن إلى يتيمة أويتيم عنده كنت أنا وهو فى الجنة كهاتين و قرن بين إصبعيه)).۲**

---

[۱]- رواه ابن ماجه.
[۲]- رواه الترمذی واحمد.

((ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا چې د يتيم پۀ سر لاس راښکود او يوائې الله لپاره يې پرې راښکود نو پۀ هر وېښتۀ يې چې لاس تېرېږي د هغه پۀ بدل کې به ورته ثوابونه ورکول کېږي او چاسره چې يتيمه وي او ښۀ يې ورسره وکړل نو زه او هغه به پۀ جنت کې داسې يوو: دواړه ګوتې يې سره يوځاى کړې)).

بل حديث کې يتيم سره د ښېګړې کولو پۀ هکله داسې راغلي دي:

عن ابن عباس قال: قال رسول صلى الله عليه وسلم : ((**من آوىٰ يتيما الى طعامه وشرابه أوجب الله له الجنة البتة الا أن يعمل ذنبا لا يغفر))١**

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا چې يتيم خپلې ډوډۍ او ښباک ته راوباله او پنايې ورکړه نو کۀ داسې ګناه يې ونۀ کړه چې هغه نۀ ښښل کېږي نو الله به ورته خامخا جنت ورکړي)).

بل حديث کې د زړه دسختۍ علاج يتيم سره پۀ مينې او ښېګړې کولو داسې ښوول شوی دی:

عن ابى هريرة أن رجلا شكا إلى النبى صلى الله عليه وسلم **قسوة قلبه قال:** ((**إمسح رأس اليتيم وأطعم المسكين**))**٢**

---

[1]- رواه الترمذى.

[2]- رواه احمد.

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته د خپل زړه د سختۍ نه شکايت وکړ؛ هغه ورته وفرمايل: ((د يتيم پۀ سر لاس راکاږه او بې وزلي ته ډوډۍ ورکړه)).

له مور او پلار سره ښېګړه

اسلام مور او پلار ته هم زيات اهميت ورکوي او مسلمانانو ته حکم کوي چې د مور او پلار خبره ومني او ښېګړه ورسره وکړي.

الله تعالی فرمايي:

((وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لهمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنهرْهُمَا وَقُل لهمَا قَوْلاً كَرِيمًا وَاخْفِضْ لهمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا))[1]

((او ستا رب حکم کړی دی چې له هغهٔ پرته به د هیچا عبادت نهٔ کوئ او مور او پلار سره به نېکي کوئ کهٔ هغوی دواړو کې يو يا دواړه تاسره زړ بودۍ ته ورسېدل نو اف قدرې هم ورته مهٔ وايه، مهٔ يې رټه، د عزت خبره ورته وکړه، د لورېنې له مخې ورته د عاجزۍ وزرې ښکته کړه او ووايه: اې زما ربه! له دې امله چې زهٔ يې وړوکی روزلی يم پهٔ دواړو لورېنې وکړه)).

او فرمايي:

((وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا))[2]

---

[1]- سورة الاسراء: ۲۳- ۲٤.

[2]- سورة الانعام: ۱٥۱.

((او مور او پلار سره ښېګړه وکړئ)).

او فرمايي:

((وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ به عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا))[1]

((او مونږ انسان ته د هغهٔ د مور او پلار سره د ښېګړې حکم کړی دی او کهٔ هغوی تا باندې دا خواري وکړه چې ماسره هغه څهٔ شريک کړې چې پرې نهٔ پوهېږې نو بيا يې مهٔ منه)).

او فرمايي:

((وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَاله فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ وَإِن جَاهَدَاكَ عَلى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ به عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا وَصَاحِبهمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ))[2]

((او مونږ انسان ته د هغهٔ د مور او پلار پهٔ هکله د پاملرنې حکم کړی دی چې زما او دخپل مور او پلار شکر وکړه؛ مور يې د ډېرې کمزورۍ سره پهٔ خېټه کې بار کړی دی او لهٔ تي نه غوځول يې پهٔ دوه کلونو کې وو؛ او يواځې ماته راستنېدل دي. او کهٔ دا خواري يې درباندې وکړه چې ماسره هغه څهٔ شريک کړې چې دليل پرې

---

[1]- سورة العنكبوت: ٨.
[2]- سورة لقمان: ١٤- ١٥.

درسره نشته نو بيا يې مهٔ منه، پهٔ دنيا کې دواړو سره پهٔ ښهٔ ګوزارې اوسېږه او دهغه چاپهٔ لارې لاړ شه چې ماته راستون شوی دی)).

مطلب دا چې د ګناه پهٔ کار کې د مور او پلار مهٔ منه او نور دنيوي ژوند کې ورسره ښېګړه، ښهٔ ګوزاره او ښهٔ سلوک کوه.

او فرمايي:

((وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْله وَفِصَاله ثَلاَثُونَ شَهْرًا))[1]

((او مونږ انسان ته حکم کړی دی چې خپل مور او پلار سره ښېګړه وکړي؛ مور يې پهٔ کړاو خېټه کې بار کړی ؤ او پهٔ سختۍ يې وزېږاوهٔ. او خېټه کې ساتل او لهٔ تي نه غوڅول يې پهٔ دېرش مياشتو کې وو)).

د تي ورکولو موده پوره دوه کاله ده او داميدوارۍ لږ تر لږه هغه موده چې زېږېدلی بچی پکې ژوندی پاتې کېدی شي شپږ مياشتې ده نو دواړه ځکه دېرش مياشتې وګڼل شوې.

د مور او پلار د احترام پهٔ هکله بل حديث کې داسې راغلي دي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((رغم أنفه رغم أنفه رغم أنفه)) قيل: من يارسول الله؟ قال: ((من أدرك والديه عندالكبر أحدهما او كلاهما ثم لم يدخل الجنة))[2]

---

[1]- سورة الاحقاف: ۱۵.

[2]- رواه مسلم.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((پوزه دې يې خړه شي، پوزه دې يې خړه شي، پوزه دې يې خړه شي)) چا ورته وويل: ای د الله پېغمبره د چا؟! هغه وفرمايل: ((چا چې خپل مور او پلار نه يو يا دواړه په بوډاتوب کې وموندل او جنت ته داخل نهٔ شو)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((من الكبائر شتم الرجل والديه)) قالوا: يارسول الله! وهل يشتم الرجل والديه؟ قال: ((نعم يسب أبا الرجل فيسب أباه ويسب امه فيسب أمه)) [1]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((له لويو ګناهونو څخه دا هم ده چې يو سړی خپل مور او پلار ته کنځل وکړي)) هغوی وويل: ای د الله پيغمبره! آيا خپل مور او پلار ته هم څوک کنځل کوي؟ هغه وفرمايل: ((هو، د يو چا پلار ته کنځل کوي نو هغه د دهٔ پلار ته کنځل کوي او مور ته يې کنځل کوي نو هغه ددهٔ مور ته کنځل کوي)).

اسلام کې د مور او پلار حقوقو ته زياته پاملرنهٔ شوې ده خو په ځانګړې توګه د مورحق د پلار له حق درې چنده زيات دی.

حديث کې داسې راځي:

[1]- رواه البخارى ومسلم.

عن أبي هريرة قال: قال رجل: يارسول الله! من أحق بحسن صحابتى؟ قال: ((امك)) قال: ثم من؟ قال: ((امك)) قال: ثم من ؟قال: ((امك)) قال: ثم من؟ قال: ((أبوك)) [1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: يو سړي وويل: ای د الله پيغمبره! زما د ښهٔ سلوک زيات حقدار څوک دی؟ هغه وفرمايل: ((ستا مور)) هغهٔ وويل: بياڅوک دی؟ هغه وفرمايل: ((ستا مور)) هغه وويل: بيا څوک دی؟ هغهٔ وفرمايل: ((ستا مور)) هغهٔ وويل: بيا څوک دی؟ هغهٔ وفرمايل: ((ستا پلار)).

د مشرک او کافر مور او پلار سره هم ښهٔ کول مشروع دي.

حديث کې داسې راځي:

عن أسما بنت ابى بكر قالت : قدمتْ على أمى وهى مشركة فى عهد قريش فقلت: يارسول الله! إن أمى قدمت علىَّ وهى راغبـــة أفأ صلها؟ قال: ((نعم صليها)) [2]

اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې زما مور ماکره راغله او هغه مشرکه او دقريشو پهٔ تړون کې وه؛ ما وويل: ای د الله پيغمبره! زما مور ماکره راغلې ده او هغه اسلام نه مخ اړوونکې ده نو آيا زهٔ ورسره ښېګړه وکړم؟ هغهٔ وفرمايل: ((هو، ښېګړه ورسره وکړه)).

بل حديث کې د ښو نصيحتونو پهٔ ترڅ کې داسې راځي:

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

[2]- رواه البخارى ومسلم.

عن المغيرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات و وأدالبنات و منع وهات وكره لكم قيل وقال وكثرة السؤال و إضاعة المال))**[1]

مغيره رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي:** ((**الله تعالى پۀ تاسو له ميندو نه سرغړونه، د لوڼو ژوندي ښخول او منع کول او راکړه حرام کړي دي او ويل شوي دي، ويلي يې دي، ډېر سوال کول او د مال بربادول يې درته بد ګڼلي دي**)).

منع کولو نه مراد دا دى چې هر څۀ او معمولي ښېګړې هم له نورو منع کوې او هيچا ته دې خير نه رسېږي. او راکړه نه مراد دا دى چې تل يې نورو نه غواړې، هر څۀ او هر چاته تمه کوې او د هرشي لاسته راوړوکې حريص يې.

او ډېر سوال نه هم دا مراد دى چې هر څۀ او هروخت او له هرچا يې غواړې او هر چاته خوله وازوې. يا ډېرې او بې ځايه پوښتنې کوې.

او د مال ضياع دا ده چې اسراف پکې کوې يا يې بې ځايه او بې ګټې کارونو کې لګوې او څۀ چې ګورې هغه اخلې يا يې پۀ بله لاره بربادوې او ضائع کوې.

د مور احترام دومره زيات دى چې د رضاعي مورچې پۀ وړوکتوب کې يې د هغې شېدې رودلې وي هم احترام پۀ کار دى.

۱- رواه البخاري و مسلم والدارمي و احمد.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي الطفيل قال: رأيت النبی صلى الله عليه وسلم **يقسم لحما بالجِعِرّانة إذ أقبلت إمراة حتى دنت إلى النبی** صلى الله عليه وسلم **فبسط لها رداءه فجلست عليه فقلت: من هی؟ فقالوا هی أمه التي أرضعته))** ۱

ابو طفيل رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ما پېغمبر صلى الله عليه وسلم ليدلی ؤ چې پۀ ((جِعِرانه)) ځای کې يې غوښه وېشله؛ چې ګورو يوه ښځه راغله تر دې چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم ته ورنږدې شوه نو هغه ورته خپل څادر خپور کړ او هغه پرې کېناسته. ما وويل: داڅوک ده؟ صحابه ؤ راته وويل: دا درسول الله صلى الله عليه وسلم هغه رضاعي مور ده چې تی يې ورکړی دی)).

همدارنګه د پلار د طاعت پۀ هکله داسې حديث راغلی دی :

عن ابن عمر قال: كانت تحتی إمراة أحبها وكان عمر يكرهها فقال لی: طلقها و أبيت فاتی عمر رسول الله صلى الله عليه وسلم **فذكر ذلك له؛ فقال لي رسول الله** صلى الله عليه وسلم: **طلقها))** ۲

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې زما يوه ښځه وه چې خوښه مې وه او (زما د پلار) عمر رضي الله عنه خوښه نۀ وه نو ماته يې وويل چې طلاقه يې کړه او ما انکار وکړ نو عمر رسول

---

[1] ـ رواه ابوداود.
[2] ـ رواه الترمذي و ابوداود.

الله صلى الله عليه وسلم ته لاړ او دا خبره يې ورته ياده کړه. نورسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل: ((طلاقه يې کړه)).

له دې دا څرګنده شوه چې د پلار ډېر زيات حق دى او اولادونه بايد د پلار اطاعت وکړي. تر دې چې کۀ کوم پلار خپل بچي له يوه مباح کار نه هم خپل منع کوي خصوصا بالغان نو بايدو يې نۀ کړي او پۀ دغه وخت کې دغه مباح کار هم حرامېږي ځکه چې دپلار اطاعت فرض دى.

د پلار د احترام لپاره بايد اولادونه دهغه د دوستانو سره دوستي وپالي او ښېګړه ورسره وکړي خو کۀ د پلار دوستان يې بدعمله او بدکاره نه وو نو بيا ورسره دوستي سمه نۀ ده.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((إن من أبر البر صلة الرجل أهل وُدأبيه بعد أن يولي)).[1]

عبدالله بن عمر رضى الله عنهما نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((د ښې نېکۍ نه دا هم ده چې يو سړى د پلار له مړينې وروسته د هغۀ دوستانو سره دوستي وپالي)).

بل حديث کې د پلار حق داسې راغلى دى :

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((رضى الرب فى رضى الوالد وسخط الرب فى سخط الوالد))[2]

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه الترمذى.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: ((د الله رضا د پلار پۀ رضا کې ده او د الله غوسه د پلار پۀ غوسې کې ده)).

بل حدیث کې پلار د جنت منځنی ورګڼل شوی دی:

عن أبي الدرداء قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ((الوالد أوسط أبواب الجنة فان شئت فحافظ على الباب اوضيع))[1]

ابو درداء رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: ((پلار د جنت منځنی ور دی نو خوښه دې چې دا ورساتې او کۀ ضایع کوې یې))

د مور او پلار له مړینې وروسته هم هغوی سره ښېگړه کېدی شي او د دې ښېگړې پۀ هکله داسې حدیث راغلی دی:

عن أبي أسيد الساعدى قال: بينا نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم إذ جاءه رجل من بنى سلمة فقال: يارسول الله! هل بقى من بر أبوى شئ أبرهما به بعد موتهما؟ قال: ((نعم الصلاةعليهما والاستغفار لهما و إنفاذ عهدهما من بعدهما وصلة الرحم التى لا توصل إلا بهما و إكرام صديقهما))[2]

---

[1]- رواه الترمذى وابن ماجه.
[2]- رواه ابوداود وابن ماجه.

ابو اُسيد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: مونږ يو وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو چې د بني سلمه قبيلې يو سړی ورته راغی او ويې ويل: ای د الله پېغمبره! آيا زما د مور او پلار لهٔ احسانه څهٔ پاتې دي چې دهغوی لهٔ مړينې وروسته يې زهٔ ورسره وکړم! هغه وفرمايل: ((هو، دواړو ته دعاء کول ،هغوی ته ښښنه غوښتل، د هغوی له مړينې وروسته دهغوی تړونونه عملي کول، دهغوی هغه خپلوي پالل چې يواځې دهغوی له کبله پالل کېږي او د هغوی ددوستانو عزت کول)).

بل حديث کې د مور او پلار حقوق داسې راغلي دي:

عن أبى أمامة أن رجلا قال: يا رسول الله! ما حق الوالدين على ولدهما؟ قال: ((هما جنتك ونارك)) [1]

ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي وويل: ای د الله پېغمبره! مور او پلار پهٔ خپل بچي څهٔ حق لري؟ هغه وفرمايل: ((هغه دواړه ستا جنت او ستا دوزخ دی)).

معنا دا چې کهٔ دهغوی طاعت دې وکړ نو جنت ته به لاړ شې او کهٔ سرغړونه دې ترې وکړه نو دوزخ ته به لاړ شې.

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبى بكرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **: ((كل الذنوب يغفرالله منها ماشاء الا عقوق الوالدين فإنه يعجل لصاحبه فى الحياة قبل الممات))** [1]

---

[1]- روا ه ابن ماجه.

ابوبکره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ((ټولې ګناوې داسې دي چې کهٔ الله یې وغواړي نو څومره یې چې ترې خوښه شي ښښي یې خو مور او پلار نه سرغړونه او نافرماني داسې ده چې سرغړوونکي ته له مړینې مخکې پهٔ ژوند کې سزا را مخکې کېږي)).[1]

[1]- رواه البیهقی فی شعب الایمان.

له خپلوانو او ګاونډيانو سره ښېګړه

اسلام د ګاونډي حق ته زياته پاملرنه کوي او مسلمانانو ته حکم کوي چې خپلو ګاونډيانو سره ښهٔ سلوک او هر ډول ښېګړه وکړي او هيڅ ډول کړاو او زيان ورونهٔ رسوي.

الله تعالیٰ فرمايي:

((وَاعْبُدُواْ اللهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ به شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ))[1]

((د الله عبادت وکړئ، هيڅ شی ورسره مهٔ شريکوئ او مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو، خپلوانو ګاونډيانو، د خوا ګاونډيانو، د څنګ ملګري، مسافر او غلامانو وينځو سره ښېګړه وکړئ)).

اسلام د خپلوۍ پهٔ پاللو او خپلوانو سره پهٔ ښېګړې کولو امر کوي او د خپلوۍ پاللو رغبت ورکوي. لکه چې حديث کې داسې راځي:

[1]- سورة النساء: ٣٦.

عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من احب ان يبسط له في رزقه و ينساله في أثره فليصل رحمه)).**

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**څوک چې دا خوښوي چې روزي يې پراخه شي او ښېې يې پاتې شي نو خپلوي دې وپالي**)).

بل حديث کې د خپلوۍ پالل داسې راغلي دي:

عن ابي هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((الرحم شجنة من الرحمن فقال الله:** ((**من وصلك وصلته ومن قطعك قطعته**)) **۱**

ابو هريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې:** رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**خپلوي د رحمن ذات لۀ نومه اخيستل شوې ده نو الله تعالى ورته وفرمايل:** ((**چاچې تۀ پيوسته کړې زه به يې** (**لۀ خپل رحمت سره**) **پيوسته کړم او چا چې پرې کړې زۀ به يې پرې کړم**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن جبير بن مطعم قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:

((لا يدخل الجنة قاطع)) ۲

---

[1] ـ رواه البخارى.
[2] ـ رواه البخار ومسلم.

جبير بن مطعم رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي:** ((**دخپلوۍ پرې کوونکی جنت ته نۀ ننوځي**)).

دخپلوۍ پالل: خپلوانو سره ښېګړه کول، د ناروغ پوښتنه، راشه درشه، مړی ژوندی، خواخوږي اولاسنيوی او هر ډول احسان کول دي. يواځې بدل خلاصول پالل نۀ دي بلکه د نېکانو خپلوانو سره بې بدله نېکي او ښېګړه پۀ کار ده.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((ليس الواصل بالمكافئ ولكن الواصل الذى إذا قطعت رحمه وصلها)).**[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي:** ((**د بدلې ورکوونکی د خپلوۍ پالونکی نۀ دی بلکه د خپلوۍ پالونکی هغه څوک دی چې کله څوک دهغه خپلوي پرې کړي نو هغه يې پيوسته کړي**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابى هريرة ان رجلا قال: يارسول الله! إن لي قرابة أصلهم و يقطعونى و أحسن إليهم ويسيئون إلى و أحلم عنهم و يجهلون على؛ فقال : ((لئن كنت كما قلت فكأنما تُسفُهُم المَل ولا يزال معك من الله ظهير عليهم ما دمت على ذلك))[2]

---

[1]- رواه البخارى.

[2]- رواه مسلم.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي وويل: ای د الله پېغمبره! زما خپلوان دي زۀ ورسره خپلوي پالم او هغوی يې راسره پرې کوي، زه ورسره ښېګړه کوم او هغوی راسره بدي کوي، زۀ ورته صبر او زغم کوم او هغوی پۀ مانا غبرګي کوي. هغه ورته وفرمايل: ((کۀ ريښتيا داسې يې لکه چې ودې ويل نو دا داسې ده لکه ته چې هغوی ته پۀ خولو کې توده ايره اچوې او تر څو چې ته پۀ همدې حال کې يې نو تاسره تل د الله له پلوه د هغوی پۀ خلاف يو مرستيال مَلَک (پرښته وي)).

ګاونډيانو ته د پاملرنې پۀ هکله حديث کې داسې راغلي دي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ((والله لا يؤمن والله لا يؤمن والله لايؤمن)) قيل من يارسول الله! قال: ((الذى لا يؤمن جاره بوائقه)).١

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((پۀ الله قسم دی چې مؤمن کېدی نۀ شي، پۀ الله قسم دی چې مؤمن کېدی نۀ شي، پۀ الله قسم دی چې مؤمن کېدی نۀ شي))

چا ورته وويل: ای د الله پېغمبره! دا څوک دی؟ هغه وفرمايل: ((هغه څوک چې ګاونډی يې لۀ زيانونو نۀ پۀ امن کېږي)).

بل حديث کې داسې راځي:

[1]- رواه البخارى ومسلم.

عن أنس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم **: ((لا يدخل الجنة من لا يؤمن جاره بوائقه)).**[1]

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمايلي دي:** ((**هغه څوک جنت ته نهٔ ننوځي چې ګاونډی يې لهٔ زيانونو څخه نهٔ پهٔ امن کېږي**)).

بل حديث کې د ګاونډي د حقوقو ساتلو او زياتې پاملرنې پهٔ هکله داسې راځي:

عن عائشة عن النبی صلی الله علیه وسلم **قال: ((مازال جـــــبريل يوصيني بالجار حتی ظننت انه سيورثه))**[2]

عائشی رضی الله عنها **نه روايت دی هغه پېغمبر** صلی الله علیه وسلم **نه روايت کوي چې ويې فرمايل:** ((**جبرائيل به ماته تل د ګاونډي پهٔ هکله نصيحت کاوهٔ تر دې چې ماګمان وکړ چې کېدی شي چې ميراث ورته ورکړي**)).

بل حديث کې د ملګري اوګاونډي سره د ښېګړې او ښهٔ سلوک پهٔ هکله داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:

((خير الاصحاب عندالله خيرهم لصاحبه و خير الجيران عندالله خيرهم لجاره)).[3]

---

[1]- رواه مسلم.

[2]- رواه البخاری ومسلم.

[3]- رواه الترمذي والدارمي.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((الله سره تر ټولو ښۀ ملګری هغه دی چې د خپل ملګري لپاره ښۀ وي او الله سره تر ټولو ښۀ ګاونډی هغه دی چې د خپل ګاونډي لپاره ښۀ وي)).

بل حديث کې ګاونډيانو ته داسې اهميت ورکول کېږي.

عن ابن مسعود قال: قال رجل للنبی صلی الله علیه وسلم يارسول الله!كيف لی أن أعلم إذا أحسنت و إذا أسات؟ فقال النبی صلی الله علیه وسلم : ((إذا سمعت جيرانك يقولون قد أحسنت فقد أحسنت و اذا سمعتهم يقولون قد أساءت فقد أساءت)) [1]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې يو سړي پېغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل: ای د الله پېغمبره زۀ چې کله نېکي يا بدي وکړم نو څرنګه به پوه شم چې دا نيکي يا بدي ده؟ پېغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((کله چې تا لۀ خپلو ګونډيانو نه واورېدل چې نېکي دې وکړه نو تا بې شکه نېکي کړې ده او چې ورځخه دې واورېد چې تابدي کړې ده نو بې شکه دې بدي کړې ده)).

د رېښتيا ؤ، امانت او د ګاونډيانو سره د ښېګړې پۀ هکله بل حديث کې داسې راغلي دي :

[1] - رواه ابن ماجه.

عن عبدالرحمن بن أبي قراد قال: قال النبى صلى الله عليه وسلم: ((**من سره أن يحب الله ورسوله او يحبه الله ورسوله فليصدق حديثـــه إذا حدث وليؤد أمانتهإذائتمن وليحسن جوار من جاوره**)) **١**

عبدالرحمن بن ابي قراد رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((**څوک چې پهٔ دې خوشحالېږي چې الله او د هغهٔ پېغمبر سره محبت وکړي يا الله او د هغهٔ پېغمبر ورسره محبت وکړي نو کله يې چې خبرې کولې رېښتيا دې ووايي، کله چې چا ورسره امانت کېښود خپل امانت دې ور وسپاري او څوک يې چې ګاونډي ۇ هغهٔ سره دې ښهٔ ګاونډيتوب وکړي**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول:** ((**ليس المؤمن بالذى يشبع وجاره جائع الى جنبه**)) **٢**

عبدالله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دى هغه وايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((**هغه څوک مؤمن نهٔ دى چې هغه مړېږي او خواته يې ګاونډى وږى وي**)).

سبحان الله! وګورئ د اسلام اجتماعيت او ټولنيزو احکامو ته چې څومره د ښېګړې او رغونې دين دى!!!.

---

[1]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.
[2]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

بل حديث کې د بد ګاونډيتوب په هکله داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رجل: يارسول الله! إن فلانة تذكر من كثرة صلاتها و صيامها وصدقتها غيرأنها تؤذى جيرانها بلسانها قال: ((هى فى النار)) قال: يارسول الله! إن فلانة تذكر من قلة صيامها و صدقتها وصلاتها و إنها تصدق بالأثوار من الأقط ولا تؤذى بلسانها جيرانها قال: ((هي فى الجنة))[1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: يو سړي وويل: ای د الله پېغمبره! فلانۍ ښځه په ډېرو نفلي لمونځونو کولو، روژو نيولو او خيراتونو کولو يادېږي خو خپلو ګاونډيانو ته په خپلې ژبې کړاو رسوي، هغۀ وفرمايل: ((هغه به په اور کې وي)) هغه سړي بيا وويل: ای د الله پېغمبره ! فلانۍ ښځه نفلي روژې، نفلي خيراتونه او نفلي لمونځونه لږ کوي اود پنير څۀ ټوټې خيراتوي خو خپلو ګاونډيانو ته په خپلې ژبې هيڅ کړاو نۀ رسوي، هغه وفرمايل: ((هغه به په جنت کې وي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((إن الله تعالى قسم بينكم أخلاقكم كما قسم بينكم أرزاقكم؛ إن الله تعالى يعطى الدنيا من يحب ومن لايحب و لايعطى الدين الا من أحب فمن أعطاه الله الدين فقد أحبه والذي نفسى بيده لا**

---

[1]- راوه احمد والبيهقى.

يسلم عبد حتى يسلم قلبه ولسانه و لايؤمن حتى يأمن جاره بوائقه)) ۱

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې** رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**لکه څرنګه چې الله تعالی** ستاسو تر منځ ستاسو روزي وېشلې ده همداسې يې ستاسو تر منځ ستاسو خويونه او اخلاق هم وېشلي دي؛ د الله تعالی چې څوک خوښ وي او کهٔ نه دنيا ورکوي ، او دين يواځې هغه چاته ورکوي چې خوښ يې وي، نو چاته چې الله تعالی دين ورکړی وي هغه يې خوښ دی؛ زهٔ پهٔ هغه ذات قسم کوم چې زما ځان د هغهٔ پهٔ لاس کې دی چې يو بنده تر هغه مسلمان کېدی نهٔ شي تر څو چې يې زړهٔ او ژبه مسلمان شي او تر هغه مؤمن کېدی نهٔ شي تر څو يې چې ګاونډيان له زيانونو پهٔ امن شي)).

د ګاونډي لهٔ حقوقو داهم دی چې کهٔ ستا پهٔ دېوال کې د ګاونډي دکور لورته د ضرورت لپاره کوم مېخ ياموګی ټک وهي نو مه يې منع کوه.

حديث کې داسې راځي :

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**لا يمنع جار جاره أن يغرز خشبة فى جداره)).** ۲

۱- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

۲- راوه البخارى.

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((يو ګاونډي دې خپل بل ګاونډی له دې نۀ منع کوي چې د ده پۀ دېوال کې کوم لرګی ښخ کړي))

خو کۀ دا جوته وه چې ګاونډي هسې بې ځايه او بې ضرورته د ځان سولولو او ضرر رسولو لپاره دا کار کوي نو بيا يې منع کولی شي. الله تعالی د دواړو پۀ نيت ښۀ خبر دی، دواړه سره ګاونډيان دي او دواړو ته اسلام د دې توصيه کوي چې يو د بل خيال به ساتي، يو بل ته به زيان نۀ رسوي او خپلو کې به د ښېګړې، ورور ولۍ او ښۀ ګاونډيتوب ژوند کوي، د هر چا نيت چې بل ته سم نۀ ؤ نو هغه مجرم او ګناهګار دی.

زغم او تېرېد نه

اسلام مسلمانان زغم او تېرېدنې ته هڅوي او د جنګ جګړو مخه نيسي.

لکه چې د پرهېزګارانو او نېکانو کره ځانګړتيا ؤ کې فرمايي:

((وَسَارِعُواْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ))[1]

((او د خپل رب له لوري ښښنې او هغه جنت ته بېړه وکړئ چې پلنوالى يې د آسمانونو اوځمکې پهٔ کچ دى او هغو پرهېزګارانو ته تيار شوى دى چې پهٔ خوښيو او کړاوونو کې لګښتونه کوي، د غوسې زغمونکي وي او له خلکو تېرېدونکي وي. او الله نېکي کوونکي خوښوي)).

او خپل پېغمبر ته فرمايي:

((خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ))[2]

---

[1]- سورة آل عمران ١٣٣- ١٣٤.

[2]- سورة الاعراف: ١٩٩.

((تېرېدنه خپله کړه، په نېکیو امر کوه او له ناپوهانو نه مخ واړوه)).

او د مؤمنانو په کره ځانګړتیاو کې داهم ګڼل کېږي:

((وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ)) [1]

((او کله چې په غوسه شي نو هغوی ښښنه کوي)).

مطلب دا چې چاته یې غوسه راغلې وي هغهٔ ته ښښنه کوي)).

او فرمایي:

((وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الأُمُورِ)) [2]

((او چا چې صبر وکړ او ښښنه یې وکړه نو دا بې شکه له پیاوړیو کارونو نه دی)).

او فرمایي:

((وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ)) [3]

((او کهٔ تېرېدنه وکړئ، مخ واړوئ او ښښنه وکړئ نو الله بې شکه ډېر ښښونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

اسلام تل د زغم او تېرېدنې توصیه کوي.

حدیث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((ليس الشديد بالصرعة إنما الشديد الذي يملك نفسه عندالغضب)). [4]

---

[1]- سورة الشورى: ٣٧.
[2]- سورة الشورى: ٤٣.
[3]- سورة التغابن: ١٤.
[4]- رواه البخارى ومسلم.

((ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((اتل او غښتلی هغه څوک نهٔ دی چې خلک څملوي بلکه اتل هغه څوک دی چې د غوسې پهٔ وخت کې د خپل ځان واک لري)).

بل حديث کې راځي:

عن أبي هريرة أن رجلا قال للنبی صلی الله عليه وسلم : أوصني. قال: ((لاتغضب)) فردد ذلك مراراً قال: ((لاتغضب)) [۱]

((ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي پېغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل: ((ماته څهٔ نصيحت وکړه! هغهٔ وفرمايل: ((غوسه مه کوه)) هغهٔ څو ځل پهٔ تکرار همدا پوښتنه وکړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((غوسه مهٔ کوه)).

رسول الله صلی الله عليه وسلم دهر چادحال مناسب ځواب ورکاوهٔ او دهر چاد ناروغیِ موافق علاج يې ورښوده،دغه سړی غوسه ناک ؤ نو ځکه يې ورته بيا بياهمدايوځواب ورکاوهٔ چې((مه په غوسه کېږه)).

بل حديث کې دغضب او غوسې دغندلو او علاج پهٔ هکله داسې راغلي دي:

عن عطية بن عروة السعدى قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ((إن الغضب من الشيطان و إن الشيطان خلق من النار و إنما يطفأ النار بالماء فاذا غضب أحدكم فليتوضأ)). [۱]

---

[۱]- رواه البخاری.

عطيه بن عروه سعدي رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسـول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((غوسه د شيطان لهٔ لوري ده، شيطان لهٔ اور څخه پيدا شوی دی او اور پهٔ اوبو مړي نو تاسو کې چې څوک کله غوسه شي نو اودس دې وکړي)).
بل حديث کې د غوسې علاج داسې راپهٔ ګوته شوی دی:

عن أبي ذر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((إذا غضب احدكم وهو قائم فليجلس فإن ذهب عنه الغضب والا فليضطجع)) ۲

ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((ستاسو کوم کس چې کله غوسه شي نو کهٔ ولاړ ؤ کې دې ني؛ کهٔ غوسه يې سړه شوه ښهٔ ده کهٔ نه نو اړخ دې ولګوي)).
بل حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((ماتجرع عبد أفضل عندالله عزوجل من جرعة غيظ يكظمها ابتغاء وجه الله تعالى))۳

عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((الله سره يو بنده د غوسې د ګوټ

[1]- رواه ابو داود.
[2]- رواه الترمذى و احمد.
[3]- رواه احمد.

نه ښۀ ګوټ نه دی کړی چې د الله تعالی د رضا لپاره غوسه وزغمي)).

اوار مزل او ټيټ غږ

اسلام پۀ هر څۀ کې اعتدال او منځلاري غوره کوي او تل د افراط او تفريط مخه نيسي تر دې چې پۀ تللو راتللو او خبرو کولو کې هم پۀ اعتدال امر کوي.

د لقمان پۀ نصيحتونو کې داهم الله تعالی څرګند کړي دي چې:

((وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ))[1]

((پۀ تللو کې اعتدال وکړه او غږ دې ښکته کړه پۀ غږونو کې ناکاره غږ بې شکه د خرۀ غږ دی)).

معنا دا چې د کلي کور او بازار پۀ عادي مزل او تللو کې اعتدال وکړه مۀ د ماشومانو پاپلې کوه چې ببخي سست پست روان يې لکه تازه چې د نري رنځ يالو يې تبې نه راپاڅېدلی يې او مۀ منډې وهه.

---

[1]- سورة لقمان: ۱۹.

همدارنګه رمباړې مهٔ وهه لکه د خرهٔ ينګل چې بدلګېږي او ناوړه برېښي همدارنګه بې ځايه پهٔ لوړ غږ او رمباړو خبرې کول هم بد برېښي.

اسلام انسان ته دعزت او وقار درانده خويونه ور زده کوي او عزتمند، درونډ او معزز شخصيت ورڅخه جوړوي.

او فرمايي:

((وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبهمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلاَمًا))[1]

((او د مهربان ذات بندګان هغه دي چې پهٔ ځمکه اوار ځي او کله چې ناپوهان ورسره خبرې کوي نو دوی د سلامتيا خبرې ورسره کوي)).

---

[1]- سورة الفرقان: ٦٣.

د مشورې دين

د اسلام له ښېګړو او محاسنو يوه دا هم ده چې پۀ مشورې کولو امر کوي.

الله تعالی خپل پېغمبر ته حکم کوي چې صحابه ؤ رضی الله عنهم سره مشوره کوه:

((وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى الله إِنَّ الله يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ)) [1]

((دوی سره مشوره وکړه او کله دې چې ټينګه اراده وکړه نو پۀ الله ځان وسپاره الله بې شکه ځان سپارونکي خوښوي)).

همدارنګه د مؤمنانو د کره ځانګړتياو پۀ ترخ کې فرمايي:

((وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنهمْ)) [2]

((دمؤمنانو کار پۀ خپلو منځو کې مشوره کول دي)).

[1]- سورة آل عمران: ۱۵۹.
[2]- سورة الشورى: ۳۸.

د روغې جوړې او سولې دين

اسلام د خلکو تر منځ سوله او امنيت غواړي، د شخړو او اختلاف په وخت کې د هغوی تر منځ روغې جوړې ته ترغيب ورکوي او د اصلاح لورته يې هڅوي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ))[1]

((او خپلو منځو کې روغه جوړه وکړئ)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَجْعَلُواْ اللّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ وَتُصْلِحُواْ بَيْنَ النَّاسِ))[2]

((او د دې لپاره الله خپلو قسمونو لپاره ډال مه جوړ وئ چې ښېګړه ونهٔ کړئ، ځانونه ونهٔ ژغورئ او دخلکو منځ کې روغه جوړه ونهٔ کړئ)).

او الله تعالی فرمايي:

---

[1]- سورة الانفال: ١.

[2]- سورة البقرة: ٢٢٤.

((لاَ خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلاَّ مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلاَحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتَغَاء مَرْضَاتِ اللهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا))[1]

((د دوی په ډېرو جرګو کې خير نشته يوازې هغه جرګې کې خير دی چې چاپکې په خيرات کولو يا ښېګړې کولو او يا د خلکو منځ کې د روغې جوړې پرېکړه وکړه او چا چې د الله د رضا لپاره دا کار وکړ نو هغهٔ ته به ډېر زر لو يه بدله ورکړو)).

مسلمانان بايد خپلو منځو کې تل د اصلاح او رغونې کوښښونه او هڅې وکړي او د فساد او ورانکارۍ مخنيوی وکړي حديث کې داسې راځي:

عن أبي الدرداء قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((ألا أخبركم بأفضل من درجة الصيام والصدقة والصلاة؟)) قال: قلنا: بلى. قال: ((إصلاح ذات البين و فساد ذات البين هى الحالقة))۲

ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((آيا زهٔ تاسو ته يو داسې کار در ونهٔ ښيم چې له نفلي روژي، خيرات او لمانځه نه هم ډېر غوره دی؟)) هغه وايي چې مونږ ورته وويل: ولې نه. هغه وفرمايل: ((خپلو منځو کې اصلاح او روغه جوړه کول دي. خو خپلو منځو کې فساد پيدا کول د نېکيو کلوونکي (خريونکي او لهٔ منځه وړونکي) دي)).

---

[1]- سورة النساء: ۱۱٤.
[2]- رواه الترمذى و ابوداود.

بل حديث کې لۀ حسد داسې منع شوې ده:

عن أبي هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((إياكم والحسد فان الحسد يأكل الحسنات كما تأكل النار الحطب))** [1]

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې ويې فرمايل: ((تاسو لۀ کينې کولو څخه ځانونه وژغورئ ځکه کينه نېکۍ داسې خوري لکه اور چې لرګي خوري)).

اسلام کې دروغ ويل ډېره لويه ګناه ده خو د دوه مخالفو طرفونو تر منځ سولې کولو کې کۀ يو طرف هغه بل لورته کنځلې او سپکې سپورې ووايي بيا د دې رېښتيا نقلول او مخالف ته رسول ناروا دي بلکه کۀ د خير کار لپاره او د دواړو د روغې جوړې لپاره د دغو سپکو سپورو او کنځلو د نقلولو پۀ ځای هغه مخالف طرف ته ووايې چې ستا هغه مخالف ستا پۀ هکله ښې خبرې وکړې او ته يې پۀ ښو ياد کړې نو دا دروغ ثواب اوروا دي.

حديث کې داسې راځي:

عن أم كلثوم قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((ليس الكذاب الذى يصلح بين الناس و يقول خيرا وينمى خيرا)).** [2]

---

[1] - رواه ابو داود.
[2] - رواه البخارى ومسلم.

ام كلثوم رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ((هغه څوک دروغجن نۀ دی چې د خلكو منځ كې سوله كوي او د خير خبره كوي او خير زياتوي)).

ښهٔ خوی

اسلام ټول د ښهٔ خوی او ښو اخلاقو دين دی او ښهٔ اخلاق د انساني ټولنې د خوشحاله ژوند لپاره ښهٔ وسيله ده.

د ښهٔ سلوک او ښو اخلاقو پهٔ هکله حديثو کې داسې راځي:

عن رجل من مزينة قال: قالوا: يارسول الله! ما خير ما اعطى الانسان؟ قال: ((الخلق الحسن)). [1]

د مزينه قبيلې له يو سړي نه روايت دی هغه وايي: صحابهٔ وويل : ای د الله پېغمبره! يو انسان ته تر ټولو ښهٔ کوم شی ورکول شوی دی؟ هغهٔ وفرمايل: ((ښهٔ اخلاق)).

همدارنګه د بد اخلاقۍ او بد سلوکۍ د غندنې پهٔ هکله حديث کې داسې راځي:

عن حارثة بن وهب قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **: ((لايدخل الجنة الجواظ ولا الجعظرى))** [2]

حارثه بن وهب رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((کبرجن بخيل بداخلاقه بد ژبی او سخت زړی لاپوخېټور جنت ته نهٔ ننوځي)).

---

[1]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.
[2]- رواه ابوداود و البيهقى فى شعب الايمان.

بل حديث کې داسې راځي :

عن أبي الدرداء عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**إن أثقل شئ يوضع فى ميزان المؤمن يوم القيامة خلق حسن و إن الله يبغض الفاحش البذئ**)) ١

ابو درداء رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې هغۀ وفرمايل: ((د قيامت پۀ ورځ چې د مؤمن د نېکيو پۀ تله کې تر ټولو دروند ايښودل کېږي هغه ښۀ اخلاق دي او الله بې شرم او بد اخلاقه سره کينه کوي)).

بل روايت کې د ښو اخلاقو پۀ فضيلت کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول: إن المؤمن ليدرك بحسن خلقه درجة قائم الليل و صائم النهار)).** ١

عائشې رضى الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې مارسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې ويې فرمايل: ((مؤمن پۀ ښو اخلاقو د هغه چا درجه حاصلوي چې د شپې پۀ لمونځونو ولاړ وي او د ورځې روژې نيسي)).

بل حديث کې راځي:

عن أبي هريرة قال: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((بعثت لأتمم حسن الأخلاق))** ٢

١- رواه الترمذى وابوداود.

٢- رواه مالك و احمد.

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((زه د دې لپاره رالېږل شوی يم چې ښهٔ اخلاق بشپړ کړم)).

بل روايت کې د ښو اخلاقو پهٔ هکله داسې راځي:

عن معاذ قال: كان آخر ماوصاني به رسول الله صلی الله عليه وسلم **حين وضعت رجلى فى الغرز أن قال : ((يا معاذ! أحسن خلقك للناس)) ۱**

معاذ رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ـ يمن ته د تګ پهٔ وخت کې ـ آخري وصيت ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه وخت وکړ کله مې چې د اوښ پهٔ رکاب کې پښه کېښوده نو ويې فرمايل: ((ای معاذه خپل اخلاق دې خلکو لپاره ښهٔ کړه)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي ذر قال : قال لي رسول الله صلی الله عليه وسلم: **((إتق الله حيث ما كنت و اتبع السيئة الحسنة تمحها وخالق الناس بخلق حسن)) ۲**

ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((هر ځای کې چې وې الله نهووېرېږه او ګناه پسې نېکي وکړه نو لهٔ منځه به يې يوسي او خلکو سره پهٔ ښهٔ اخلاقو او سېره)).

۱ـ روا ه مالك.

۲ـ رواه الترمذی و احمد والدارمي.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به الله تعالی نه د ښو اخلاقو غوښتنه داسې کوله:

عن عائشة قالت: كان رسول الله صلی الله علیه وسلم يقول: ((اللهم حسنت خَلْقِيْ فأحسن خُلُقِيْ))۱

عائشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به داسې ويل: ((ای الله تا زما جوړښت ښکلی کړی دی نو زما خوی او اخلاق هم ښکلي کړه)).

بل حديث کې د ښو اخلاقو فضيلت داسې راغلی دی:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ((أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا))۲

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ((پۀ مؤمنانو کې د ډېر بشپړ إيمان والا هغه څوک دی چې د هغه اخلاق ډېر ښۀ وي)).

د تدبير، پرهېزګارۍ، چاته د زيان نۀ رسولو او د ښۀ خوی پۀ هکله داسې حديث راغلی دی:

عن أبي ذر قال: قال لی رسول الله صلی الله علیه وسلم : ((يا أباذر ! لا عقل كالتدبير ولا ورع كالكف ولا حسب كحسن الخلق)).۳

۱- رواه احمد.
۲- رواه ابوداود والدارمي.
۳- رواه البيهقی فی شعب الايمان.

ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((ای ابو ذره! لهٔ تدبير نيولو نه ښهٔ عقل نشته، خلکو ته لهٔ زيان رسولو نه ځان ژغورلو نه ښهٔ پرهېزګاري نشته او لهٔ ښو اخلاقو نهٔ ښهٔ شهرت نشته)).

د ښو اخلاقو د ستاينې او د بدو اخلاقو د غندنې پهٔ هکله بل حديث داسې راغلی دی:

عن جابر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((إن أحبكم و أقربكم مني يوم القيامة أحاسنكم أخلاقا و إن أبغضكم إلى و أبعدكم منى مساويكم أخلاقا الثرثارون المتشدقون المتفيهقون))١**

جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((د قيامت پهٔ ورځ تاسو کې پهٔ ماډېر ګران او ماته ډېر نږدې هغه څوک دی چې تاسو کې د هغه اخلاق ډېر ښهٔ وي. او پهٔ تاسو کې چې زما ډېر بد راځي او له ما ډېر لرې دي هغه هغه خلک دي چې بد اخلاقه وي، بې باکه او کاواکه وي، بد ژبي او کبرجن وي)).

اسلام ټول د ښېګړو دين دی او پهٔ ټولو خوښويونو امر کوي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

((بعثت لأتمم مكارم الاخلاق))٢

((زهٔ د دې لپاره لېږل شوی يم چې ښهٔ خويونه بشپړ کړم)).

---

[1]- رواه الترمذي والبيهقى عن ابى ثعلبة الخشني .
[2]- رواه البيهقى.

په ښېګړو د بديو مخنيوی

اسلام د ښېګړو دين دی او تل په نېکيو او ښېګړو کولو امر کوي قرآن کريم کې د ايمان سره ځای په ځای عمل صالح (نېک عمل) ياد شوی دی همدارنګه الله تعالی امر کوي چې په ښېګړو او نېکيو د بديو مخنيوی وکړئ. الله تعالی فرمايي:

((وَالَّذِينَ صَبَرُواْ ابْتِغَاء وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلاَنِيَةً وَيَدْرَؤُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُوْلَئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ))[1]

((او هغه خلک چې د خپل رب دمخ لټولو لپاره يې صبر کړی دی، کره پوره لمونځونه يې کړي دي، مونږ چې کوم مال ورکړی دی له هغه يې په پټه او ښکاره لګښت کړی دی او په نيکۍ د بدۍ مخنيوی کوي دوی لپاره د ښو پايلو کور دی)).

اوفرمايي:

((ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ))[2]

((د بدۍ مخنيوی په هغه لار وکړه چې ډېره ښه وي دوی چې څه بيانوي مونږ پرې ډېر ښه پوه يو)).

---

[1]- سورة الرعد: ۲۲.
[2]- سورة المؤمنون: ۹۶.

او فرمايي:

((وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبهمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلاَمًا))[1]

((او د رحمٰن ذات بندګان هغه خلک دي چې پۀ ځمکه بې کبره اوارځي او کله چې ناپوهان ورسره خبرې کوي نو دوی د سلامتيا خبرې کوي)).

معنا دا چې د جاهلانو دجاهلانه خبرو ځواب پۀ جاهلانه خبرو نۀ ورکوي بلکه داسې دحکمت خبرې ورته کوي چې دهغۀ د جهالت لۀ شره وژغورل شي.

اوفرمايي:

((وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنه عَدَاوَةٌ كَأَنه وَلِيٌّ حَمِيمٌ))[2]

((نېکي او بدي سره نۀ برابرېږي پۀ داسې لار دبدۍ مقابله وکړه چې ډېره ښۀ وي نو بيا به هغه څوک - چې ستا او د هغۀ تر منځ دښمني ده داسې درسره خوږ شي ته به وايې چې هغه ستا ګرم (مخلص) دوست دی)).

---

[1]- سورة الفرقان: ٦٣.

[2]- سورة فصلت (حم السجده) : ٣٤.

او فرمايي:

((ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ))[1]

((د خپل رب لارته په پوهې او ښو خبرو خلک را وبله او په داسې لارو رسره بحث وکړه چې ډېره ښه وي)).

او فرمايي:

((وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا))[2]

((زما بندګانوته ووايه چې هغه خبره وکړي چې ډېره ښه وي شيطان بې شک د دوی تر منځ شيطاني کوي شيطان بې شکه د انسان ښکاره دښمن دی)).

---

[1]- سورة النحل: ١٢٥.

[2]- سورة الاسراء: ٥٣.

د حق پلوي کول

مسلمان بايد دحق پۀ منلو او ملګرتيا کې له هيڅا ونۀ وېرېږي او تل هغه څۀ وکړي چې الله تعالی پرې راضي کېږي او دنامنونکو او سرغړوونکو پروا ونۀ کړي.

حديث کې داسې راځي:

عن معاوية أنه كتب إلى عائشة أن اكتبي إلى كتابا توصيني فيه ولا تكثرى فكتبت: سلام عليك أما بعد: فاني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول: ((من التمس رِضَى اللهِ بسخط الناس كفاه الله مؤنة الناس ومن التمس رضى الناس بسخط الله وكله الله إلى الناس و السلام عليك))**[1]

معاوية رضي الله عنه **نه روايت دی چې هغۀ عائشې** رضی الله عنها **ته يو ليک ولېږۀ چې ماته داسې يو ليک وليکه چې څۀ نصيحت راته پکې وکړې او زياتوه يې مه .**

نو هغې ورته وليکل:

((پۀ تادې سلام وي. له سلام وروسته خبره دا ده چې مارسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((چا

[1]- رواه الترمذی.

چې د خلکو پهٔ ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو دخلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله پهٔ ناراضه کولو کې دخلکو رضا ولټوله نو الله به يې خلکو ته وروسپاري)) او پهٔ تا دې سلام وي))

اسلام پهٔ حق پلوۍ ا و دحق پهٔ ويلو امر کوي تر دې چې دظالم او جابر پاچا پهٔ مخکې د حق خبره کول لوی جهاد ګڼل شوی دی.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي سعيد الخدری ان النبی صلی الله علیه وسلم **قال: ((إن من أعظم الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر)).** [1]

ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((د ظالم پاچا مخکې د حق خبره کول لهٔ ډېر لوی جهاد نه ګڼل کېږي)).

---

[1]- رواه ابن ماجه واحمد والنسائي والحاكم والبيهقى.

حياء كول

اسلام لۀ بې شرمۍ او سپکاوي نه منع کوي او پۀ حيا او شرم کولو حکم کوي.

حديث کې حيا او شرم کول لۀ ايمان نۀ ګڼل شوي دي او داسې راځي:

عن ابن عمر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **مرعلى رجل من الأنصار وهو يعظ أخاه فى الحياء فقال رسول الله** صلى الله عليه وسلم : **((دعه فان الحياء من الايمان))** ۱

عبدالله بن عمر رضى الله عنهما **نه روايت دى چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **د انصارو پۀ يو سړي تېرېدۀ او هغۀ خپل ورورته د شرم پۀ هکله نصيحت کاوۀ چې ډېر شرم مۀ کوه نو رسول الله** صلى الله عليه وسلم **ورته وفرمايل:** ((**پرې يې ږده ځکه چې شرم کول له ايمان نه دي**)).

بل حديث کې راځي:

عن عمران بن حصين قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:

((الحياء لا يأتى الا بخير)) وفى رواية ((الحياء خير كله)) ۲

---

[1] - رواه البخارى ومسلم

[2] - رواه البخارى ومسلم.

عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((حيا او شرم كول لهٔ خير پرته بل څهٔ نهٔ راوړي)) او پهٔ يو روايت كې دي چې ((حيا ټول خير دی)).

سپكو وينا و او سپكو كارونو نه ځان ساتلو ته حيا ويل كېږي حتى چې ځينې كارونه روا وي خو حيا ناک انسان يې په كولو شرمېږي لكه د مشرانو مخكې خبرې كول، ځان مړول، لهٔ چا څهٔ غوښتل او داسې نور.

د حيا پهٔ هكله بل حديث داسې راغلی دی:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((الحياء من الايمان والايمان فى الجنة والبذاء من الجفاء والجفاء فى النار)). [1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((شرم كول لهٔ ايمان څخه دي او د ايمان خاوندان به جنت كې وي او بې شرمي لهٔ ګناهونو څخه ده او د ګناهونو خاوندان به اور كې وي)).

[1] ـ رواه الترمذى واحمد.

نرمي کول

د اسلام لهٔ ښېګړو څخه دا هم ده چې له مجرمانو پرته نورو عامو خلکو سره پهٔ نرمۍ او اسانۍ کولو حکم کوي او نرمۍ ته ترغيب ورکوي.

د نرمۍ کولو پهٔ هکله حديث کې داسې راځي:

عن عائشة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((إن الله تعالى رفيق يحب الرفق و يعطى على الرفق مالا يعطى على العنف)). ١**

عائشې رضی الله عنها **نه روايت دی چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((الله تعالی نرمي کوونکی دی، نرمي خوښوي او پهٔ نرمۍ هغه څهٔ ورکوي چې پهٔ سختۍ يې نهٔ ورکوي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن جرير عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((من يحرم الرفق يحرم الخير)) ٢**

---

[1] - رواه مسلم.
[2] - رواه مسلم.

جرير رضي الله عنه **نه روايت دی هغه پېغمبر** صلی الله عليه وسلم **نه روايت کوي چې ويې فرمايل:** ((**څوک چې نرمۍ کولو نه بې برخې شو هغه له خير څخه بې برخې شو**)).

پاک زړی مؤمن

مؤمن تل پاک زړی وي او چاته نه بې ځايه پهٔ زړه کې کينه ساتي، نهٔ بې ځايه پهٔ چا بدګمان کوي او نهٔ د درواغو چالاکي، ټګی برګي او تېرا يستل کوي نو لهٔ همدې امله کله کله دحسن ظن له امله تېر وځي.

حديث کې راځي :

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**المؤمن غِر كريم والفاجر خِب لئيم**)) ۱

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه لهٔ پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې ويې فرمايل: ((مؤمن ښهٔ زړی او عزتمند دی اوبدکاره تېر ايستونکی حرامي وي)).

د مؤمن د ښهٔ زړي او پاک زړي معنا دا ده چې کله يې ځوک تجربه کړي نهٔ وي او ورته معلوم نهٔ وي نو د ښهٔ ګمان لهٔ کبله پرې تېروځي خو ددې سره سره زيرکه او هوښيار هم دی چې لهٔ يوه ځايه دوه ځل نهٔ غولېږي.

لکه چې بل حديث کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

---

[1] - راوه الترمذی و ابوداود واحمد.

((لايلدغ المؤمن من جحر مرتين)) ۱

((مؤمن لۀ يوې سوړې دوه ځل نۀ چيچل کېږي)).

مطلب دا چې يو ځل يې يو څوک تجربه کړ او پرې وغوليدۀ نو بيا دوهم ځل پرې نۀ غولېږي ځکه چې يو چا يو ځل تېر ايستې او دوهم

ځل دې تېر باسي نو دا بياستاپه حماقت او کم عقلۍ دلالت کوي نو مؤمن ښۀ زړی دی خو احمق نۀ دی.

---

[1] - رواه البخارى ومسلم و ابوداود و ابن ماجة و احمد والدارمي والبيهقى والطبراني.

ټولنيز مؤمن

اسلام غواړي چې مؤمن دې ټولنيز وي خلکو کې دې ريښې ولري او تل دې د رغونې، اصلاح او سمون هڅې وکړي، اسلام کې ګوښه کېناستل او رهبانيت نشته بلکه اسلام کې اجتماعيت او سمون دی.

حديث کې راځي:

عن ابن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم **قال: ((المسلم الذی يخالط الناس و يصبر على أذاهم أفضل من الذی لا يخالطهم ولا يصبر على أذاهم))** [1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنه **نه روايت دی، هغه پيغمبر** صلی الله علیه وسلم **نه روايت کوي چې وېې فرمايل:** ((**هغه مسلمان چې خلکو سره ګډ ژوند کوي او دهغوی پۀ کړاو صبر کوي له هغه چاغوره دی چې خلکو سره ګډ ژوند نۀ کوي او د هغوی پۀ کړاوو صبر نۀ کوي**)).

نو مؤمن به خلکو کې ګډ ژوند کوي هلته به تل درغونې او سمون هڅې کوي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کوي او تل به د سولې او ښېرازه او سوکاله ټولنې دجوړولو کوښښ او هڅۀ کوي.

[1]- رواه الترمذی وابن ماجه.

مهرباني او لورينه

اسلام د ترحم، مهربانۍ، لورينې او خواخوږۍ دين دی.
درحم کولو په هکله حديث کې داسې راځي:
عن جرير بن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :
((لايرحم الله من لا يرحم الناس)) ۱

جرير بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ((څوک چې په خلکو رحم نه کوي په هغه الله رحم نه کوي)).

او بل حديث کې داسې راځي:
عن ابي هريرة قال: سمعت أباالقاسم الصادق المصدوق صلى الله عليه وسلم **يقول: ((لا تنزع الرحمة إلا من شقى))** ۲

ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې ما د رينښتيني اورينښتيني ګڼل شوي ابو القاسم (محمد رسول الله) صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((رحم کول يواځې له بد مرغه ايستل کېږي)).

۱- رواه البخارى ومسلم.
۲- رواه الترمذى واحمد.

بل حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم : ((**الراحمون يرحمهم الرحمن إرحموا من فى الارض يرحمكم من فى السماء))۱**

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي چې** رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**رحم کوونکو باندې الله رحم** کوي تاسو په هغو

رحم وکړئ چې په ځمکه کې دي په تاسو به هغه ذات رحم وکړي چې په آسمان کې دى)).

---

[1]- رواه الترمذی و ابوداود.

د مجلس دملګري خيال ساتل

اسلام د امن او خوشحالۍ د ژوند تېرولو لپاره دمجلس په آدابو کې د دې توصيه هم کوي چې درې کسان وي نو دوه به پټې خبرې نۀ کوي.

حديث کې په دې هکله داسې راځي:

عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((**إذا كنتم ثلاثة فلا يتناجى إثنان دون الآخر حتى تختلطوا بالناس من أجل أن يحزنه**)) [1]

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((کله چې تاسو درې کسه وئ نوله درېم پرته دې تر هغه دا دواړه پټې خبرې نۀ کوي تر څو چې نورو خلکو سره ګډ شئ او داله دې امله چې هغه درېم خپه نۀ شي))

چې درې کسان وي او دوه پکې پټې خبرې کوي نو معلومه خبره ده چې له درېم نه يې پټوي او دا خبره هغه سره اندېښنه پيدا کوي نو ځکه دا کار منع دی خوکۀ زيات وو نو بيا لۀ يو سره اندېښنه نه پيدا کېږي او هر يو وايي چې د دې احتمال شته چې لۀ ما پرته د بل کوم يو نه يې پټوي.

---

[1] - رواه البخارى ومسلم.

د مشرانو درناوی

اسلام کې د مشرانو احترام او درناوي ته پاملرنه شوې ده.

د بوډاګانو او مشرانو د احترام په هکله حديث کې داسې راغلي:

عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((ما أكرم شاب شيخا من أجل سنه إلا قيض الله له عند سنه من يكرمه))** [1]

انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يو ځوان چې د مشری يا بوډا توب له کبله د کوم بوډا يا مشر عزت وکړي نو دهغه د بوډاتوب په وخت کې به الله داسې څوک وګماري چې د دهٔ عزت وکړي)).

---

[1]- رواه الترمذی.

پرده پوخ دين

اسلام د انسانانو لپاره د عزت، شرافت او پرده پوخ دين دی اسلام امر کوي چې په خلکو پرده واچوئ او سپکاوی يې مه کوئ.
حديث کې راځي:

عن عقبة بن عامر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من رأى عورة فسترها كان كمن أحيا موءودة)) ۱**

عقبة بن عامر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا چې دچا عورت وليدهٔ او پټ يې کړ نو دا د هغه چاغونډې شو چې ژوندۍ په ګور منډلونه يې کومه جلۍ وساتله)).

عورت نه مطلب ظاهري شرمځايونه هم دي چې کهٔ د چاشرمځای د ناپامۍ يا بې وزلۍ نه ښکاريدهٔ او هغهٔ باندې يې جامه ور واچوله يا يې بې وزلي ته جامې واخيستې يا يې ورکړې نو دا هم د عورت پټول دي او د چا معنوی عيب پټول هم دعورت پټول دي.

خو د بدکارانو او مجرمانو ناوړه او بدعملونه پټول روانهٔ دي هغه بايد پهٔ ډاګه شي او د خپل عمل پهٔ سزا ورسېږي تر څو د فساد مخنيوی وشي.

---

[1] - رواه الترمذی واحمد.

مينه ناک مؤمن

مؤمن به داسې ګوزموزى نۀ وي چې خلک ترې کرکه وکړي بلکه دهغۀ د ښواخلاقو اوښۀ خوى له امله به خلک ورسره مينه کوي. حديث کې پۀ دې هکله داسې راځي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((المؤمن مألف ولا خير فيمن لا يألف ولا يؤلف)).**[1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((مؤمن دمينې او الفت ځاى دى او پۀ هغه چاکې خير نشته چې نۀ مينه او الفت کوي او نۀ هغه سره مينه او الفت کېږي)).

---

[1]- رواه احمد والبيهقى فى شعب الايمان.

ښو خلکو سره ملګرتيا او لۀ بدو ځان ژغورنه

اسلام حکم کوي چې ښو خلکو سره ملګرتيا وکړئ او له بدو ځان وژغورئ دښۀ او ناوړه ملګري مثال پۀ حديث کې داسې راغلی دی:

عن أبي موسى قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((مثل الجليس الصالح والسوء كحامل المسك ونافخ الكير فحامل المســـك إما أن يحذيك وإما أن تبتا ع منه و إما أن تجد منه ريحا طيبة؛ و نافخ الكير إما أن يحرق ثيابك و إما أن تجد منه ريحا خبيثة)) ۱

ابو موسٰی رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دنېک ملګري او بد مثال دمشکو د پلورونکي او د بنیـ وهونکي پښ غوندې دی دمشکو پلورونکی به يا څۀ مشک درکړي، يا به يې ترې پۀ بيه واخلې اويا به ترې ښۀ بوی ومومې؛ او بنیـ وهونکی ينګربه دې يا جامې وسېځي او يابه ترې بدبوی ومومې)).

---

[1] - رواه البخارى ومسلم.

نو د نېک ملګري مثال د مشکو د دوکاندار غوندې دی چې خامخا به يې د نېکۍ څۀ ګټه دررسېږي او د بد ملګري مثال د بنۍ وهونکي ينګر او پښ غوندې دی چې د بدۍ څۀ تاوان به يې خامخا دررسېږي.

شپږ ښهٔ کارونه

پهٔ یو حدیث کې شپږ ښهٔ کارونه داسې راغلي دي:

عن عبادة بن الصامت أن النبی صلی الله علیه وسلم **قال:** ((**إضمنوالی ستا من أنفسکم أضمن لکم الجنة: أصدقوا إذا حدثتم و أوفوا إذا وعدتم و أدوا إذا ائتمنتم واحفظوا فروجکم وغضوا أبصارکم و کفوا ایدیکم**))[1]

عبادة بن صامت رضي الله عنه **نه روایت دی چې پېغمبر** صلی الله علیه وسلم **وفرمایل:** ((**ماته د خپلو ځانونو پهٔ هکله د شپږو کارونو ضمانت راکړئ زهٔ به درته د جنت ضمانت درکړم** :

- کله مو چې خبرې کولې رېښتیا ووایئ.
- کله مو چې ژمنه او وعده وکړه وفا پرې وکړئ.
- کله چې چا درسره امانت کېښود نو سلامت یې وروسپارئ.
- خپل عورتونه (شرمځایونه) لهٔ بدو وساتئ.
- خپلې سترګې د نامحرمو لهٔ لیدونه ښکته کړئ.
- او لاسونه مو چاته د زیان رسولو نه رابند کړئ.

[1]- رواه احمد والبیهقی.

ټوکې ټکالې

پهٔ هر شي کې افراط او تفريط (لهٔ بريده زياتی او کمی) ناسم دی ټوکې ټکالې او د خوښۍ او خندا خبرې اسلام کې روا دي خوتر خپل بريده او بريد يې دا دی چې دروغ نهٔ وي، د چاسپکاوی پکې نهٔ وي، چاته پکې زيان نهٔ رسېږي او ډېرې زياتې نهٔ وي تر دې چې ماشومانو سره ټوکې او خوش طبعي راغلې ده:

عن انس قال: إن كان النبى صلى الله عليه وسلم **ليخالطنا حتى يقول لأخ لى صغير: ((يا أباعمير ما فعل النغير)) كان له نغير يلعب به فمات))١**

انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې **رسول الله** صلى الله عليه وسلم به مونږ سره پهٔ هر څهٔ کې ګډون کاوهٔ تر دې چې زما دوارهٔ ورور يوه ټرکو (کله خورک) مرغهٔ هغه به ورسره لوبې کولې هغه بيا مړ شو نو **رسول الله** صلى الله عليه وسلم به ورته فرمايل: ((ای د عمير پلاره نغير (ټرکو) مرغهٔ څهٔ چل وکړ)).

عن أبي هريرة قال: قالوا يارسول الله! إنك تداعبنا ؟! قال: ((إنى لا أقول إلا حقا))٢

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.
[2]- رواه الترمذى.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې صحابه ؤ وويل: ای د الله پيغمبره! ته خوکله کله مونږ سره ټوکې هم کوې؟! هغه وفرمايل:

((زۀ پۀ ټوکو کې هم له رېښتيا او حق پرته بل څۀ نۀ وايم)).

بل حديث کې داسې راځي :

عن أنس أن رجلا إستحمل رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: ((إنى حاملك على ولد ناقة)). فقال: ما أصنع بولد الناقة؟! فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((وهل تلد الابل إلا النوق)) ۱

انس رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د سپرلۍ څاروی وغوښتۀ هغه ورته وفرمايل: ((د اوښې پۀ بچي به دې سپور کړم)) هغه وويل زه به د اوښې پۀ بچي څۀ وکړم؟! رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ((ټول اوښان د اوښو بچي دي)).

همدارنګه صحابه کرامو رضی الله عنهم به هم رسول الله صلى الله عليه وسلم سره کله کله ټوکې کولې حديث کې داسې راځي:

عن عوف بن مالك الاشجعى قال: ((أتيت رسول صلى الله عليه وسلم فى عزوة تبوك وهو فى قبة من أدم فسلمت فرد

---

[1]- رواه الترمذی و ابوداود.

على وقـــال: ((أدخل)) فقلت: أكُلي يارسول الله؟ قال: ((كلك)) فدخلت.))[۱]

عوف بن مالك اشجعي نه روايت دى هغه وايي چې زه د تبوک په غزوې کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم هغه د څرمنې په يوې وړې خېمې کې ؤ، ماورباندې سلام واچاوه هغه د سلام ځواب راکړ او ويې فرمايل: ((راننوځه)) ما ورته وويل: اى د الله پېغمبره! ټول در ننوځم؟! هغه وفرمايل: ((ټول راننوځه)) نو ورننوتم.))

نو انسان خو تجزيه کېږي نه چې څو پېروکې ننوځي يا څه ننوځي څه پاتې شي خو دعوف رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ټوکه کول مقصدؤ نو ځکه يې ورته وويل چې آيا ټول خېمې ته درننوځم؟ او هغه هم بده ونه ګڼله بلکه د ټوکې په انداز کې يې ورته وفرمايل: چې ټول راننوځه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځينو مشرانو په څېر ګوزموزى او تروش پروش نه ؤ بلکه په ورين تندي او خوشحالۍ يې د صحابه کرامو سره ګډ ژوند او په مجالسو کې ګډون کاوه.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښو اخلاقو، انصاف او ټولنيز ژوند يوه کيسه داسې راځي:

عن أسيد بن خضير رجل من الأنصار قال: بينما هو يحدث القوم وكان فيه مزاح بينا يضحكهم فطعنه النبى صلى الله عليه وسلم فى خاصرته بعود فقال: اصبرنى. قال: ((اصطبر)) قال: إن

---

[۱]- رواه ابوداود.

عليك قميصا وليس على قميص. فرفع النبی صلی الله علیه وسلم **عن قميصه فاحتضنه وجعل يقبل كشحه فقال: إنما أردت هذايارسول الله))** ۱

أسيد بن خضير چې د انصارو يو سړی ؤ هغه نه روايت دی هغه ټوکي سړی ؤ يوه ورځ يې خلکو ته خبرې کولې او خندول يې نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم راغی او په تشي کې يې په يو ډکې چوخ کړ. هغه وويل: ماته اوس بدل راکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: ((غچ دې واخله)) هغه ورته وويل: تا کميس اغوستی او ما باندې کميس نشته. پېغمبر صلی الله علیه وسلم خپل کميس پورته کړ نو اسيد ورنه غېږ تاوه کړه او دهغه د تشي په ښکلولو يې پيل وکړ. بيا يې وويل: ای د الله پېغمبره ماهمدا غوښتل.

نو ټوکې ټکالې روا دي خو :

- چې دروغ پکې نهٔ وي.
- خپل يا د بل چا د پت او عزت سپکاوی پکې نهٔ وي.
- سپکې، بې باکه او ناوړه نهٔ وي.
- دين او ديني شعائرو او احکامو باندې ملنډې او سپکاوی پکې نهٔ وي.
- هروخت، بې ځايه او بې بريده نهٔ وي.
- ځان اويا نوروته پکې زيان رسول او د چا خفه کول پکې نهٔ وي .

۱- رواه ابوداود.

- د چا وېرول او په اند ېښنې اخته کول پکې نه وي.

تواضع

لکه څرنګه چې اسلام مونږ لۀ کبر څخه منع کوي همدارنګه پۀ تواضع او عاجزۍ کولو او خاکسارۍ راته امر کوي او ترغيب راکوي تر څو انسانان يو پۀ بل ځان لوی او لوړ ونۀ ګڼي او د امن او سوکالۍ ژوند وکړي.

حديث کې د تواضع پۀ هکله داسې راځي:

عن عياض بن حمار المجاشعي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قـــال: ((إن الله أوحى إلى أن تواضعوا حتى لا يفخر أحد على أحد ولا يبغي أحد على أحد))** [1]

عياض بن حمار مجاشعي رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((الله تعالى ماته وحې وکړه چې تاسو تواضع او خاکساري وکړئ تر څو هيڅوک پۀ هيچا ونۀ وياړي او هيڅوک پۀ هيچا تېري ونۀ کړي)).

---

[1]- رواه مسلم.

د سلام اچول

د اسلام لۀ آدابو نه يو ادب د سلام اچول دي چې يوتر بله د مخ کېدو يا تېريدو پۀ وخت کې به وايي: ((السلام عليکم)) او هغه به ځواب کې ورته وايي: ((وعليکم السلام)) (او پۀ تاسو دې هم سلام وي)).

حديث کې د سلام پۀ هکله داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم **أى الاسلام خير؟ قال: ((تطعم الطعام و تقرئ السلام على من عرفت و من لم تعرف))[1]**

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې اسلام کې کوم يو عمل غوره دی؟ هغه ورته وفرمايل: ((ډوډۍ ورکوه او کۀ څوک دې پېژندل او کۀ نه سلام پرې اچوه))

بل حديث کې د سلام آداب داسې راغلي دي:

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((يسلم الراكب على الماشى والماشى على القاعد والقليل على الكثير)) ۱**

ابوهريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**سپور به پۀ پيدل باندې سلام اچوي، پيدل روان به يې پۀ ناست اچوي اولږ به يې پۀ ډېرو اچوي**)).

پۀ ماشومانو سلام

پۀ ماشومانو باندې هم سلام اچول مشروع دي. حديث کې داسې راځي:

عن انس قال : ((إن رسول الله مر على غلمان فسلم عليهم)). ۲

انس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **پۀ هلکانو تېرېدۀ نو سلام يې پرې واچاوۀ**)).

۱- رواه البخارى ومسلم.
۲- رواه البخارى ومسلم.

په ښځو سلام

په ښځو هم سلام اچول مشروع دي. حدیث کې داسې راځي:

عن جرير ان النبى صلى الله عليه وسلم **مر على نسوة فسلم عليهن** .١

جریر رضي الله عنه **نه روایت دی چې پیغمبر** صلى الله عليه وسلم په ښځو تېرېدهٔ نو سلام يې پرې واچاوهٔ.

بل حدیث کې داسې راځي:

عن أسماء بنت يزيد قالت: مر علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم **فى نسوة فسلم علينا**.٢

اسماء بنت یزید رضي الله عنها **نه روایت دی هغه وايي پهٔ مونږ** څو ښځو رسول الله صلى الله عليه وسلم تېرېدهٔ نو سلام يې راباندې واچاوهٔ.

پهٔ ښځو باندې د سلام پهٔ وخت کې به هم ((غض البصر)) ((د سترګو ښکته کول)) نهٔ هېروي ورګوري به نه او سلام به پرې اچوي او هغوی به هم د سلام ځواب پهٔ ښکته سترګو وايي.

---

[1] - رواه أحمد.

[2] - رواه ابوداود و ابن ماجه والدارمي.

درې ځل اجازه غوښتل

د اسلام لۀ آدابو نه بل ادب دا دی چې کله دې د چادکور لۀ ورۀ دباندې درې ځل اجازه وغوښته او ځواب دې وانۀ ورېدنو بيرته ستون شه.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي موسٰى قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إذا استأذن أحدكم ثلاثا فلم يؤذن له فليرجع**))[١]

ابو موسى رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((کله چې ستاسو يو کس درې ځل اجازه وغوښته او اجازه ورته ونۀ شوه نو بيرته دې ستون شي)).

---

[١]- رواه البخارى و مسلم.

اجازې کې نوم اخيستل

بل ادب دا دى چې چا درنه لۀ ورۀ دننه پوښتنه وکړه چې څوک يې نو نوم واخله داسې مه وايه چې زه يم. حديث کې داسې راځي:

عن جابر قال: أتيت النبى صلى الله عليه وسلم فى ديـــن كان على أبي فدققت الباب فقال: ((من ذا؟)) فقلت: أنا. فقال: ((أنا أنا)) كانه كرهها))[1]

جابر رضي الله عنه **نه روايت دى هغه وايي**: زۀ **پېغمبر** صلى الله عليه وسلم ته د يو پور پۀ هکله راغلم چې زما پۀ پلار ؤ نو در وازه مې وټکوله هغه **وفرمايل**: ((دا څوک دى؟)) ما ورته وويل: زۀ يم. هغه **وفرمايل**: ((زۀ هم زۀ يم)) لکه چې دا خبره يې بده وګڼله)). نو پۀ ((زۀ يم)) ويلو څوک نۀ پېژندل کېږي بايد خپل نوم واخلي چې فلانى يم.

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

د چا د کور ورۀ ته مخا مخ مه ودرېږه

د اسلام لۀ آدابو يو ادب دا دی چې کۀ چاسره دې کارۀ ياد چا ملاقات ته لاړې او د هغه د کور ور دې واهۀ يادې پوښتنه کوله او يا دې اجازه غوښته نو د کور د ورۀ مخامخ مه اودرېږه بلکه ښي يا کيڼ لورته ودرېږه هسې نه چې د کور دننه درته څرګند شي او د چاد کور دننه ورليدل منع دي.

حديث کې داسې راغي:

عن عبدالله بن بسر قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم **إذا أتىٰ باب قوم لم يستقبل الباب من تلقاء وجهه ولكن من ركنه الأيمن او الأيسر فيقول: ((السلام عليكم السلام عليكم))** [1]

عبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسـول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله دچادکور ورۀ ته راغی نو د ورۀ مخامخ به نۀ اودرېدۀ بلکه د ښي يا کيڼ کونج پلو به ودرېد او بيـا بـه يې وفرمـايـل:

((السلام عليكم السلام عليكم)).

[1] - رواه أبو داود.

د شپې ځينې آداب

اسلام د ژوند پهٔ هر اړخ او هر قدم کې کوټلي بنسټونه او ګټور ادبونه راپهٔ ګوته کوي لهٔ ماښام نه وروسته د ويدهٔ کېدو تر وخته ځينې ګټور آداب پهٔ لاندې حديث کې داسې راغلي دي:

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((**خمروا الآنيةواوكوا الأسقية وأجيفوا الأ بواب واكفتواصبيانكم عند المساء فان للجن انتشاراوخطفة واطفئوا المصابيح عند الرقاد فان الفوسيقة ربما إجترت الفتيلة فاحرقت أهل البيت))** ١

جابر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((دماښام پهٔ وخت کې لوښي پټ کړئ د غړکيو خولې وتړه ، دروازې بندې کړئ او ماشومان مو کور کې ايسار کړئ ځکه چې پهٔ دې وخت کې پېريان خپرېږي او تښتونې کوي. او د ويدهٔ کېدو پهٔ وخت کې چراغونه مړه کړئ ځکه چې ډېر ځله مږه يا موږک پلته را کاږي او د کور خلک وسوځوي)).

د لوښو پټول او دغړکيو د خولو تړل خو هر وخت ضرور دي خو پهٔ دغه وخت کې ورته زياته پاملرنه پهٔ کار ده. او اور يا ډيوه لا تين لګېدلي پرېښودل هم خطرناک دي نو وژل او ګل کول يې اړين دي.

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

یوه جامع طبي مشوره

رسول الله صلی الله علیه وسلم د انسانانو د صحت لپاره یوه ډېره جامع طبي مشوره فرمایلې ده چې کهٔ عمل پرې وشي نو د ډېرو ناروغیو مخنیوی به پرې وشي.

هسې خو د اسلام ټول احکام د انسانانو د دنیوي او اخروي ښېګړو او نېکمرغیو ضامن دي او پهٔ هر حکم کې یې ښېګړې نغښتې دي خو دلته چې کوم حدیث راوړو دې کې یو جامع طبي علاج دی.

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((المعدة حوض البدن والعروق اليها واردة فاذا صحت المعدة صدرت العروق بالصحة و إذا أفسدت المعدة صدرت العروق بالسقم)) [1]

ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((معده د بدن ډنډ دی او رګونه ورته راغلي دي، کهٔ معده روغه وه نو رګونو کې روغتیا ځي او کهٔ معده فاسده شي نو رګونو کې ناروغي ځي)).

[1]- رواه البيهقي.

ريښتيا هم که په خوراک کې احتياط وشي ډېر خوراک او ناوړه خوراک ونۀ شي نو معده به روغه وي او د معدې د روغتيا سره د ټول صحت روغتيا تړلې ده. ينې، زړۀ، پپوس او پښتورگو باندې چې څۀ تېرېږي او دزړۀ لۀ لارې ټول بدن ته وېشل کېږي دا ټول له معدې ورځي.

پۀ ښي لاس خوراک څښاک

د اسلام دپاکۍ لۀ اصولو نه داهم دی چې د خوراک، څښاک، ور کړې راکړې او پاکو کارونو لپاره ښی لاس ټاکل شوی دی او داستنجا، پوزې پاکولو او نورو ناولتوبونو لپاره کيڼ لاس ټاکل شوی دی. اگر چې د دواړو وينځل او پاک ساتل هم مطلوب دي خو کارونه يې معلوم دي .

حديث کې داسې راځي :

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((إذا أكـــــل أحدكم فليأكل بيمينه و إذا شرب فليشرب بيمينه)) [1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((تاسو کې چې چا خوراک

[1]- رواه مسلم.

کاوۀ نو پۀ خپل ښي لاس دې وخوري او چې څښناک يې کاوۀ نوهم پۀ خپل ښي لاس دې وڅښي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((لا يأكلن احدكم بشماله و لايشربن به فان الشيطان ياكل بشماله ويشرب به))** [1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما **نه روايت دى هغه وايي چې** رسول **الله** صلى الله عليه وسلم **فرمايلي دي**: ((**تاسو کې دې هيڅوک پۀ خپل کيڼ لاس نۀ خوراک کوي او نۀ څښناک، ځکه چې شيطان پۀ خپل کيڼ لاس خوړل او څښل کوي**))

[1]- رواه مسلم.

پهٔ تکيه خوړل

داسلام لهٔ آدابو او د صحت او روغتيا لهٔ بنستهونو نه دا هم دی چې پهٔ تکيه خوړل منع دي . حديث کې داسې راځي:

عن ابي جحيفة قال: قال النبى صلى الله عليه وسلم : ((**لا آكلُ متكئاً**)) ۱

ابو جحيفه رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل** : ((زهٔ پهٔ داسې حال کې خوراک نهٔ کوم چې تکيه مې وهلې وي)).

۱- رواه البخارى.

پهٔ خوراک کې هم عدل

اسلام پهٔ هر قدم کې د عدل او انصاف کولو حکم کوي تر دې چې کله څو کسان پهٔ دسترخوان او پهٔ پښنډه ناست وي نو د يوې پښنډې خلک پهٔ خوړو کې مساوي حقوق لري نو ځکه بايد د بل برخه ونهٔ خوړل شي. حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: ((**نهى رسول الله** صلى الله عليه وسلم **أن يقرن الرجل بين التمرتين حتى يستأذن أصحابه**))[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما **نه روايت دی هغه وايي** :
((**رسول الله** صلى الله عليه وسلم **لهٔ دې منع کړې ده چې يو سړی د ملګرو لهٔ اجازې پرته دوه دوه خورماوې سره يو ځای وخوري**)).

---

[1]- رواه البخاری ومسلم.

حيواناتو سره ښېګړه

اسلام پهٔ انسانانو سر بېره حيواناتو سره هم د ښېګړې کولو او پهٔ هغوی د ظلم نهٔ کولو او پهٔ هغوی د پاملرنې حکم کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن سهل بن حنظلية قال: مر رسول الله صلى الله عليه وسلم **ببعير قد لحق ظهره ببطنه فقال:** ((**اتقوا الله فى هذه البهائم المعجمة فاركبوها صالحة واتركوها صالحة**))[1]

سهل بن حنظلية رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پهٔ يوه اوښ تېرېدهٔ چې ملايې خېټې سره نښتې وه. نو ويې فرمايل: ((د دې بې زبانه څارويو پهٔ هکله الله نه ووېرېږئ پهٔ روغو سپارهٔ شئ او روغ رمتې يې پرېږدئ)).

بل روايت کې پهٔ مرغانو د مهربانۍ پهٔ هکله داسې راغلي دي:

عن عبدالرحمن بن عبدالله عن ابيه قال: كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم **فى سفر فانطلق لحاجته فرأينا حمرة معها فرخان**

---

[1]- رواه أبوداود.

فاخذنا فرخيها فجاءت الحمرة فجعلت تفرش فجاء النبى صلى الله عليه وسلم فقال: ((**من فجع هذه بولدها ردوا ولدها إليها**)) [1]

عبدالرحمن بن عبدالله **خپل** پلار نه روايت کوي هغه وايي:

مونږ پهٔ يو سفر کې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، **هغه د خپل** حاجت د پوره کولو لپاره لاړ، مونږ يوه مرغۍ وليده چې دوه بچي ورسره وو، مونږ د هغې دواړه بچي را واخيستل، مرغۍ راغله او وزرونه يې رپول،

پيغمبر صلى الله عليه وسلم راغی او ويې فرمايل: ((**دا مرغۍ چاپهٔ خپلو** بچو زهيره کړې ده؟ بچي يې بېرته ورکړئ)).

نو اسلام کې يواځې د انسانانو نهٔ بلکه د ژويو او حيواناتو حقوق او ښېګړې هم خوندي دي.

---

[1] - رواه ابوداود.

د مريانو او وينځو ازادول

د جاهليت پهٔ وخت کې به مريانو او وينځو سره لهٔ حيواناتو نه هم بتر او ناوړه سلوک کيدهٔ اسلام مريانو او وينځو ته ټول انساني حقوق ورکړل بلکه د هغوی د ازادولو ترغيب يې ورکړ کهٔ څوک دمال پهٔ مقابل کې د مکاتب پهٔ شکل ازادي غواړي نو اسلام حکم کوي چې د ازادۍ دا معامله ورسره وکړئ او پهٔ دې سربېره مالي مرسته هم ورسره وکړئ الله تعالی فرمايي:

((وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللهِ الَّذِي آتَاكُمْ))[1]

((او هغه مريان او وينځې چې د آزادۍ د تړو نليک غوښتنه کوي نو کهٔ هغوی کې مو نېکي موندله ليکل ورسره وکړئ او د الله لهٔ هغه مال نه څهٔ ورکړئ چې تاسو ته يې درکړی دی)).

همدارنګه کهٔ د چا لهٔ لاسه پهٔ سهوه او خطا کې څوک ووژل شو نو پهٔ ديت سر بېره به مريی يا وينځه هم ازاد وي.

همدارنګه د تېنګ قسم کفارې کې د مريي يا وينځې ازادول هم شته.

---

[1]- سورة النور: ٣٣.

همدارنګه د مريانو او وينځو ازادولو لپاره د زکات ورکول هم د زکات په مصارفو کې راغلي دي.

همدارنګه دظهار په کفارې کې د مريي يا وينځې ازادول دي.

همدرانګه الله تعالى د نورو حقوقو په څنګ کې مريانو او وينځو سره د ښېګړې حکم داسې کوي:

((وَاعْبُدُواْ اللهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ به شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ))[1]

((د الله عبادت وکړئ او هيڅ شی ورسره مه شريکوئ او مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو، خپلوان ګاونډي، په خواکې ګاونډي، د خوا ملګري، مسافر او هغو مريانو او وينځو سره ښېګړه کوئ چې ستاسو په واک کې دي)).

اسلام مريانو او وينځو سره د ښهٔ سلوک حکم کوي او دهغوی د آزادولو زيات ترغيب ورکوي حديث کې دهغوی د ازادولو په هکله داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من أعتق رقبة مسلمة أعتق الله بكل عضومنه عضوا من النار حتى فرجه بفرجه))[2]**

---

[1]- سورة النساء: ٣٦.

[2]- رواه البخارى ومسلم.

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا چې مسلمان مریی یا وینځه ازاد کړل نو الله به د هغهٔ دهر غړي پهٔ بدل کې د ده غړی لهٔ اوره وژغوري تر دې چې شرمځای به یې د هغه د شرمځای پهٔ بدل کې وساتي)).

معنا دا چې هغه هم يو انسان دی او د ازادوونکي انسان غوندې غړي يې دي نو د هغه د ازادۍ پهٔ بدل کې به د دهٔ ټول بدن لهٔ اوره وژغوري.

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: ((من أعتق شقصا فی عبد أعتق كله إن كان له مال فان لم يكن له مال استسعی العبد غير مشقوق عليه))[1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : ((چا چې لهٔ مشترک مريي څخه څهٔ برخه ازاده کړه نو کهٔ مال يې درلودهٔ نو د هغې پهٔ بدل کې به ټول ازاد شي او کهٔ مال يې نهٔ ؤ نو مريي نه به دمال ګټلو غوښتنه وشي او سختي به ورسره نهٔ کيږي)).

همدارنګه کهٔ څوک د نږدې خپلوان مريي يا وينځې مالک شو نو هغه پخپله ازاد شو.

حديث کې داسې راځي:

---

[1]- رواه البخاری ومسلم.

عن الحسن عن سمرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((من ملك ذا رحم محرم فهو حر))** [1]

حسن بن سمره رضي الله عنه **رسول الله** صلى الله عليه وسلم **نه روايت کوي چې هغه وفرمايل:** ((**څوک چې دمحرم خپلوان مالک شو نو هغه ازاد دی**)).

همدارنګه هغه وينځه چې دخپل بادار نه بچی وزېږوي هغه هم ازاد ېږي.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((إذا ولدت أمة الرجل منه فهى معتقة عن دبرمنه او بعده)).** [2]

عبدالله بن عباس رضي الله عنه **نه روايت دی هغه پېغمبر** صلى الله عليه وسلم **نه روايت کوي چې هغهٔ وفرمايل:** ((**کله چې د يوسړي وينځې لهٔ هغهٔ بچی وزېږاوهٔ نو هغه د هغه له مړينې وروسته ازاده ده**)).

دې وينځې ته ((أم الولد)) ((**د بچي مور**)) **ويل کېږي او د ام الولد پلورل ناروا دي.**

اسلام د وينځو او مريانو سره دجاهليت هغه ناروا سلوک پهٔ کلکه غندي او منع کوي چې د انسان پهٔ سترګه به ورته نهٔ ليدل کېدل او ظلمونه به پرې کېدل بلکه پهٔ ښهٔ سلوک سربېره د مريانو او

---

[1]- رواه الترمذى وابوداود وابن ماجة.

[2]- رواه الدارمي.

وينځو د ازادولو لپاره مختلفې بهانې لټوي، د ازادولو ترغيب وركوي، په كَفَارو كې پرې د مريي يا وينځې د ازادولو سزا ږدي.........

د مريي او وينځې وهل منع دي

لكه مخكې مو چې وويل اسلام د جاهليت د غلامۍ او باداري سخت مخالف دى غلام او مريي ته ورور وايي او ورسره د ښهٔ سلوك كولو امر كوي.

حديث كې داسې راځي:

عن أبي مسعود الانصارى قال: كنت اضرب غلاما لى فسمعت من خلفي صوتا: ((إعلم أبا مسعود! لله أقدر عليك منك عليه)) فالتفت فاذا هو رسول الله صلى الله عليه وسلم **فقلت: يارسول الله! هو حر لوجه الله: فقال: ((أما لو لم تفعل للفحتك النار او لمستك النار))** [1]

ابو مسعود انصاري رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي: زما يو مريى ؤ ما واههٔ زما د شالهٔ پلوه مې غږ واورېد چې: ((ابو مسعوده! پهٔ دې پوه شه چې ته چې پهٔ دې مريي څومره برلاسى يې،

[1]- رواه مسلم.

الله لۀ دې زيات پۀ تابر لاسی دی» ماشاته وکتل چې ګورم رسول الله صلی الله علیه وسلم دی . ماورته وويل: ای د الله پېغمبره! دا مريی د الله لپاره ازاد دی» هغه وفرمايل: « پۀ دې پوه شه چې کۀ دا کار دې نۀ وای کړی نو اور به سوځولی وې يا اوربه دررسېدلی ۋ».

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي بكر الصديق عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: لا يدخل الجنة سيئ الملكة))** ۱

ابو بکر صديق رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: « د غلامانو سره بد اخلاقي کوونکی جنت ته نۀ ننوځي».

بل حديث کې داسې راځي:

عن جابر عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال: ((ثلاث من كن فيه يسرالله حتفه وادخله جنته: رفق بالضعيف، وشفقة على الوالدين، واحسان إلى المملوك)).** ۲

جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: « درې کارونه دي چې چاکې وونو الله به يې ځنکدن آسان کړي او خپل جنت ته به يې ننباسي: کمزوري سره نرمي کول، مور او پلار باندې مهرباني او مريي يا وينځې سره ښېګړه کول».

---

[1]- رواه الترمذی وابن ماجه.

[2]- رواه الترمذي.

ښهٔ کار لپاره د لوړې ماتول

دښهٔ کار له کولو نه قسم اخیستل ناروا دي او کهٔ چا له کوم کار نه قسم واخیست او بیا د قسم ماتولو کې خیر ؤ نو قسم به مات کړي کفاره به يې ورکړي او هغه کاربه د قسم پهٔ خلاف وکړي.

حدیث کې داسې راغلي:

عن أبي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((من حلف على يمين فراى خيرا منها فليكفر عن يمينه وليفعل))** [1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((چا چې قسم (لوړه) وکړه او بيا يې له هغې ښهٔ کار وليد نو د قسم کفاره دې ورکړي او هغه کار دې وکړي)).

[1] - رواه مسلم.

قسم د مخاطب پهٔ نيت دى

دا روانهٔ دي چې قسم وکړې خو ظاهر ترې مخاطب يو مطلب واخلي او ستا پهٔ زړه کې بل مطلب وي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((يمينك على مايصدقك عليه صاحبك)) ١

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((ستا قسم پهٔ هغه شان دى څرنګه چې دې ملګرى پرې ريښتينى ګڼي)).

مطلب دا چې تاته څوک قسم درکوي او هغه ترې کوم مقصد اخلي هماغسې دى ستا د زړهٔ ټګي ناسمه ده.

بل روايت کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((اليمين على نية المستحلف)) ٢

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((قسم د قسم ورکوونکي پهٔ نيت دى)).

---

[1] - رواه مسلم.
[2] - رواه مسلم.

مطلب دا چې ته چاته قسم کوې او پهٔ ظاهر کې هغه تا پهٔ کومه خبره د قسم له کبله ریښتینی ګڼي او دهغهٔ څرنګه نیت وي هماغسې دی کهٔ ستا پهٔ زړه کې بله وي نو تا د قسم لهٔ ګناه نهٔ شي ژغورلی دمثال پهٔ توګه:

ته غوړي پلورې او چاته قسم وکړې چې داکورني غوړي دي او دا زما د خپل کور دي نو د دې ظاهري اړخ دا دی چې دا سوچه دغوایامېښې یا مېږو اوزو حیواني غوړي دي چې د شېدو او مستونه د کوچو پهٔ شکل را اوځي. کهٔ ستا پهٔ زړه کې دا وي چې دا خو نباتي بناسپتي غوړي دي او د کورنیو مطلب دا چې ماله خپله کوره راوړي نو ته ګناهګار او حانث یې په دې حیله له حنث نه نهٔ بچ کېږې. نو اسلام د تګۍ برګۍ او غولولو خلاف دی او پهٔ کلکه ترې منع کوي.

مسلمان څوک دی؟

اسلام مسلمان پرهېزګار، رېښتينی، خواخوږی، تولنيز، مهذب او د ټولو ښوخويونو لرونکی غواړي. مسلمان هغه بولي چې نور مسلمانان يې له ژبې او لاسه پۀ امن وي.

حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه **قال: قال رسول الله** صلى الله عليه وسلم : **((المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمهاجر من هجر ماهى الله عنه)) ١**

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي** : رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس له زيانه روغ پاتې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څۀ يې پرېښودل چې الله ورڅخه منع کړی دی**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه **قال: قال رسول الله** صلى الله عليه وسلم : **((المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمؤمن من امنه الناس على دمائهم و اموالهم)). ٢**

---

[1] - رواه البخاری ومسلم.

[2] - رواه الترمذی والنسائی والبيهقی.

ابوهريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلی الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**مسلمان هغه څوک دی چې مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرره روغ پاتې وي او مؤمن هغه څوک د ی چې خلک يې پۀ خپلو وينو او مالونو أمين وګڼي**))

د الله لپاره د دوستۍ او دښمنۍ پۀ هکله بل حديث داسې راغلی دی:

عن معاذ أنه سال النبی صلی الله عليه وسلم **عن أفضل الايمان قال: ((ان تحب لله و تبغض لله و تعمل لسانك فی ذكر الله)) قال: و ماذا يارسول الله! قال: ((وان تحب للناس ما تحب لنفسك و تكره لهم ما تكره لنفسك))** [1]

معاذ رضي الله عنه **نه روايت دی چې هغه پېغمبر** صلی الله عليه وسلم **نه د غوره ايمان پۀ هکله پوښتنه وکړه هغه وفرمايل:** ((**غوره ايمان دا دی چې ته نورو خلکو لپاره هغه څۀ خوښ کړې چې خپل ځان ته يې خوښوې او هغوي لپاره هغه څۀ بد وګڼې چې خپل ځان ته يې بد ګڼې**)).

[1] - رواه احمد.

پۀ نېکيو کې مرسته له بديو ځان ژغورل

اسلام خپلو پيروانو او منونکيو مؤمنانو او مسلمانانو ته امر کوي چې د نېکيو او پرهېزګارۍ پۀ کارونو کې يو تر بله سره مرسته وکړي او د ګناه او تېري پۀ کارونو کې مرسته ونۀ کړي اسلام د جاهلي تعصب غوندې نۀ دی چې د ښواو بدو، انصاف او ظلم توپير به نۀ کوي او دژبې، رنګ، قوم، خېل، نسل، ډلې او يا تنګو سياسي بريدونو پۀ بنسټونو پۀ روا او ناروا ټولو کې د خپلو وګړو سره پۀ تېري او ظلم کې ملا تړ وکړي بلکه پۀ ښېګړو کې پۀ مرستې او د ظلم پۀ مخنيوي امر کوي.

الله تعالی فرمايي:

((وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ))[1]

((او پۀ ښېګړو او پرهېزګارۍ کې يو تر بله سره مرسته وکړئ او پۀ ګناه او تېري کې يو تر بله سره مرسته مۀ کوئ)).

همدارنګه اسلام خپلو معتنقينو ته حکم کوي چې تل ښې او ښکلې دعدل، ښواخلاقو، ښې خبرې او سمې ريښتيا ويناوې کوي.

[1]- سورة المائدة: ۲.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ))[۱]

((او زما بندګانو ته ووايه چې هغه خبره کوي چې هغه ډېره ښکلې وي)).

او فرمايي:

((وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً))[۲]

((او خلکو ته ښې ښکلې خبرې کوئ)).

د ښېګړې مننه

اسلام کې د احسان هېرول ډېر ناوړه عمل دی اسلام امر کوي چې چادرسره څۀ ښېګړه او احسان وکړ د هغه مننه او شکر ادا کړه.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من لم يشكر الناس لم يشكرالله))۳**

۱- سورة الاسراء: ۵۳.
۲- سورة البقرة ۸۳.
۳- رواه الترمذی واحمد.

ابوهريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلی الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**چا چې د خلکو شکر ونهٔ کړ هغهٔ د الله** شکر نهٔ دی کړی)).

ډالۍ درنده ګڼل

اسلام حکم کوي چې چادرته څهٔ ډالۍ درکړه نو درنده يې وګڼه او سپکه يې مه ګڼه.

حديث کې داسې راغلي :

عن أبي هريرة عن النبی صلی الله عليه وسلم **قال:** ((**تهادوا فان الهدية تذهب وحر الصدر ولا تحقرن جارة لجارتها و لوشق فرسن شاة**)) [1]

ابوهريره رضي الله عنه **نه روايت دی هغه پېغمبر** صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې ويې فرمايل: ((تاسو يو تر بله خپلو منځو کې يو بل ته ډالۍ ورکوئ ځکه چې ډالۍ د سينې کينه لهٔ منځه وړي او اګر کهٔ د پسهٔ نيمه پښه هم وي يوه ګاونډۍ دې د خپلې بلې ګاونډۍ ډالۍ سپکه نهٔ ګڼي)).

---

[1] - رواه الترمذی.

درې ښهٔ کارونه

د اسلام د ښو کارونو او ګټورو احکامو نه دا لاندې درې کارونه هم دي چې حديث کې داسې راغلي دي:

عن أبي موسیٰ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((أطعموا الجائع وعودوا المريض و فكوا العانى)). [1]

ابو موسیٰ رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((وږي ته خوارهٔ ورکړئ، د ناروغ پوښتنه وکړئ او بندي را ازاد کړئ)).

د پرنجي په وخت کې

د اسلام له آدابو نه يو ادب دا هم دی چې کله چا پرنجی وکړ نو ((الحمد لله)) به وايي او اورېدونکی به ورته ((يرحمك الله)) وايي او پرنجي کوونکی به بيا ورته وايي:

((يهديكم الله ويصلح بالكم)).

[1] - رواه البخا ری.

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**إذا عطس أحدكم فليقل** ((**الحمد لله**)) **وليقل له أخوه أوصاحبه:** ((**يرحمك الله**)) **فاذا قال له يرحمك الله فليقل:** ((**يهديكم الله ويصلح بالكم**))[1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((کله چې تاسو کې څوک وپرنجيدۀ نو ((**اَلْحَمْدُ لِله**)) دې ووايي او د هغۀ ورور يا ملګری دی ورته ((**يَرْ حَمْك الله**)) ووايي، کله چې هغه ورته ((**يَرْ حَمْكَ الله**)) وويل نو دی دې ورته ووايي: ((**يَهْدِ يْكُمُ الله وَيُصْلِحْ بَالَكُمْ**))

۱- ((**اَلْحَمْدُ لِله**)): ټولې کره پوره ستاينې الله لپاره دي.

۲- ((**يَرْحَمْكَ الله**)): الله دې پۀ تار رحم وکړي.

۳- ((**يَهْدِيْكُمُ الله وَيُصْلِحْ بَالَكُمْ**)): الله دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو حال دې سم کړي.

همدارنګه دپرنجي پۀ وخت کې بل ادب دادی چې چاته مخامخ يادسترخوان او لوښو کې پرنجېدل منع دي، پرنجي سره لۀ خولې او پوزې نۀ د راوتونکو بڅرکو د خپرېدو او ککړتيا د مخنيوي لپاره بايد خولۀ پۀ څۀ شي بنده شي او مخ واړول شي.

حديث کې داسې راځي:

---

[1]- رواه البخارى والترمذى وابو داود والدارمي.

عن ابي هريرة : ان النبى صلى الله عليه وسلم **كان اذا اعطس غطى وجهه بيده او ثوبه وغض بها صوته.١**

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې : پېغمبر صلى الله عليه وسلم به چې کله پرنجېدهٔ نو خپل مخ به يې پهٔ لاس ياجامه پټ کړ او غږ به يې پرې ټيټ کړ.

د خوله وازي پهٔ وخت کې

د اسلام لهٔ کره او پاکو ښستونو او آدابو نه يو ادب دا دی چې کله خوله وازی کوې نو دښي لاس شا يامخ پهٔ خوله کېده.

حديث کې راځي:

عن أبي سعيد الخدری أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((إذا تثاءب أحدكم فليمسك بيده على فمه فان الشيطان يدخل)).٢**

ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((کله چې پهٔ تاسو کې چا خوله وازی کاوهٔ نو خپل لاس دې پهٔ خپله خوله کېدي ځکه چې شيطان پکې ننوځي)).

---

[1] - رواه الترمذی وابوداود.

[2] - رواه مسلم.

د خوله وازي پهٔ وخت کې د خولې پټولو کې ډېرې ګټې دي ځکه چې کهٔ خوله وازه شي نو شيطان پکې ننوځي، د ګردونو، مچانو، ماشو يا نورو حشراتو د ننوتو خطر شته، خوله بده برېښي نو پهٔ پټولو دې ټولو خطرونونه ساتل کېږي.

د ناوړه نوم بدلول

د اسلام لهٔ آدابو داهم دی چې پهٔ ماشومانو به ښهٔ نوم اېښودل کېږي کهٔ پهٔ چا د ناپوهۍ له امله ناوړه نوم ايښودل شوی ؤ نو هغه به بدلېږي.

حديث کې داسې راځي:

عن عائشة رضى الله عنها **قالت:** ((**ان النبى** صلى الله عليه وسلم **كان يغير الاسم القبيح))** [1]

عائشې رضى الله عنها نه روايت دی چې: ((**پېغمبر** صلى الله عليه وسلم به ناوړه نوم بدلاوهٔ)).

[1]- رواه الترمذى.

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة رضى الله عنه **قال: قال رســـول الله** صلى الله عليه وسلم : ((**أخنى الأسماء يوم القيامة عندالله رجل يسمى ملك الأ ملاك**)) [1]

ابوهريرة رضى الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((د قيامت په ورځ الله سره تر ټولو ناوړه نوم دهغه سړي دی چې د پاچايانو پاچا (شاهنشاه) نوميږي)).

بل حديث کې د نوم د بدلولو په هکله داسې راغلي دي:

عن شريح بن هانئى عن أبيه أنه لما وفد إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم **مع قومه سمعهم يكنونه بابى الحكم فدعاه رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فقال: ((إن الله هو الحكم و إليه الحكم فلم تكنٰى أبا الحكم؟)) قال: إن قومي إذا اختلفوا فى شئ أتوني فحكمت بينهم فرضى كلا الفريقين لحكمى فقال رسول الله** صلى الله عليه وسلم : **ما أحسن هذا فمالك من الولد؟)) قال: لي شريح ومسلم و عبدالله قال: ((فمن اكبرهم؟)) قال: قلت: شريح . قال : ((فانت أبوشريح))** [2]

شريح بن هانئ له خپل پلار نه روايت کوي چې هغه کله دخپل قوم د خلکو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی نو وايي

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

[2]- رواه ابو داود والنسائى.

ورېدل چې خلکو ورته أبوالحکم وايه نو رسول الله راوغوښت او ورته ويې فرمـــايل:

((حکم يوائې الله دی او حکومت يوائې دهغۀ دی نو ته ولې أبو الحکم بلل کېږې؟)) هغه وويل: کله به چې زما د قوم د خلکو تر منځ په څه شي کې اختلاف پيدا شو نو ماته به راغلل ما به د هغوی منځ کې پرېکړه وکړه او دواړه ډلې به زما په پرېکړه راضي شوې . رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((دا څومره ښه کاردی، آيا ستا ځامن شته؟)) هغه وويل: زما ځامن شريح، مسلم او عبدالله دي. هغه وفرمايل: ((هغوی کې مشر کوم يو دی؟)) هغه وويل: ما ورته وويل: شريح يې مشر دی. هغه وفرمايل: نو ستا کنيه نوم: ابو شريح شو)).

امر بالمعروف او نهی عن المنکر

د دې لپاره چې بشري ټولنه د امن، سوکالۍ او نېکمرغۍ ژوند وکړي او له هر ډول ورانکارۍ، بدکارۍ او فساد نه پاکه وي اسلام خپلو منونکيو ته حکم کوي چې خلک د هر ډول ښوکارونو او ښېګړو کولو ته راوبلي او له هر ډول بدکارۍ او فساد نه يې منع کړي. که دانه وي او انسانان بې بريده او بې بنديزه پرېښودل شي نو ځمکه کې به فساد، ظلم اوتېري خپور شي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ وَلَـــكِنَّ اللّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ))[1]

((او که د الله د ځينو خلکو په ځينو ايسارول نه وای نو ځمکi به هرو مرو فاسده شوې وه خو الله په ټولو خلکو د ښېګړې څښتن دی)).

نو دا انسانانو سره د الله يوه لويه ښېګړه ده چې خپلو بندګانو ته حکم کوي چې په نيکيو به امر کوئ او له بدۍ به منع کوئ.

[1]- سورة البقرة: ٢٥١.

او فرمايي:

((وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))[1]

((او تاسو نه دې هرو مرو يوه داسې ډله جوړه شي چې خير ته خلک رابلي، په نېکيو امر کوي او له بديو منع کوي او همدوی بريالي دي)).

او فرمايي:

((كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّهِ))[2]

((تاسو هغه غوره امت يئ چې خلکو ته ايستل شوی دی په نېکيو به امر کوئ، له بديو به منع کوئ او په الله به ايمان راوړئ)).

او د مؤمنانو کره ځانګړتياؤ کې دا هم ګڼي چې:

((يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُوْلَـئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ))[3]

---

[1]- سورة آل عمران: ١٠٤.
[2]- سورة آل عمران: ١١٠.
[3]- سورة آل عمران: ١١٤.

((پـهٔ الله او د قيامـت پـهٔ ورځ ايمـان راوړي، پـهٔ نېکيـو امـر کوي، لهٔ بديو منع کوي او د ښېګړو پهٔ کارونو کې يو تر بلـه بيـړه کوي او دوی لهٔ نېکانو نه دي)).

اوفرمايي:

((**لَوْلاَ يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ الإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ**))[1]

((نېکانو او عالمانو ولې هغوی د ګناه لهٔ وينا او د حرامو لـهٔ خوړلو نهٔ منع کول؟ هغوی چې څهٔ کول ډېر بد يې کول)).

اوفرمايي:

((**لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ**))[2]

((د بني اسرائيلو کافران د داود او د مريم د ځوی عيسی پهٔ ژبه پهٔ لعنت شوي دي دا لهٔ دې امله چې هغوی سرغړونه کوله او تېری يې کاوه هغو خپلو منځو کې يو تر بله لهٔ هغو بدو نهٔ منع کول چې کول يې هغوي چې څهٔ کول ډېر بد يې کول)).

او د منافقانو پهٔ هکله فرمايي:

((**الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ**))[1]

---

[1]- سورة المائدة: ٦٣.

[2]- سورة المائدة: ٧٨- ٧٩.

((منافقان سړي او منافقانې ښځې يو تر بله سره ملګري دي په بديو امر کوي او له نيکيو منع کوي)).

((وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ))[2]

((مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې خپلو منځو کې يو تر بله سره دوستان دي په نېکيو امر کوي، له بديو منع کوي، لمونځ کوي، زکات ورکوي او دالله او د هغهٔ د پېغمبر منې دوی باندې به الله رحم وکړي الله بې شکه غالب او د حکمت څښتن دی)).

اوفرمايي:

((الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ))[3]

((هغه خلک چې کهٔ مونږ ورته په ځمکه کې حکومت ورکړ نو لمونځ کوي، زکات ورکوي، په نېکيو امر کوي او له بديو منع کوي او د ټولو کارونو پايلې الله لپاره دي)).

نو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اهميت په اسلام کې ډېر زيات دی او بيا نهی عن المنکر تر ټولو زيات اهميت لري ځکه

[1]- سورة التوبه: ٦٧.
[2]- سورة التوبه: ٧١.
[3]- سورة الحج: ٤١.

چې لۀ بديو منع نۀ شي نو نېکي يې اوبه وړي او د مخکنيو قومونو د هلاکت سبب هم داؤ چې هغوی لۀ بديو نۀ منع کېدل او لـه عذاب نه يواځې هغه خلک وژغورل شول چې نهی عن المنکر يې کاوۀ.

الله تعالى فرمايي:

((فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ فَلَمَّا عَتَوْاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَاسِئِينَ))[1]

((کله بې چې هغه څۀ هېر کړل پۀ څه شي چې نصيحت ورته شوی ؤ نو هغه خلک مو وژغورل چې لۀ بديو نه يې منع کوله او ظالمان مو لۀ دې امله پۀ نهيلي کوونکي عذاب ونيول چې هغوی ګناوې کولې نو کله يې چې لۀ هغه بريده تېری وکړ چې ترې منع شوي وو نو ورته وموويل چې خوارې بيزوګانې شئ)).

او پۀ احاديثو کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پۀ هکله داسې راځي:

عن ابي سعيد الخدری عن رسـول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((من رأیٰ منکم منکرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه و ذلك اضعف الايمان))[2]**

---

[1]- سورة الاعراف: ۱۶۵- ۱۶٦.

[2]- رواه مسلم.

ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه لـه رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې فرمايلي يې دي: «تاسو كې چې چاكوم ناوړه كار وليد نو په لاس دې منع كړي، كه وس يې نه ؤ بيا دې په ژبه منع كړي او كه د ژبې وس يې هم نه ؤ نو په زړه دې يې منع كړي او دا د ډېر كمزوري ايمان والا دی».

او د زړهٔ منع كول يواځې دانهٔ دي چې په زړهٔ كې ورڅخه كركه وكړي بلكه د زړه د كركې نښې بايد د هغه په مخ او سلوک كې څرګندې شي ځكه دا تـول په «فليغيره بيده» عطف دي نو په زړه منع كول دي او يواځې كركه نه ده او منع كول دا دي چې د زړهٔ د كركې نښې بايد دمنكر مرتكب ويني او پرې پوه شي.

بل حديث كې داسې راځي:

عن النعمان بن بشـــير قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((مثل المداهن فى حدود الله والواقع فيها مثل قوم إستهموا سفينة فصاربعضهم فى اسفلها وصار بعضهم فى أعلاها؛ فكان الذى فى أسفلها يمر بالماء على الذين فى أعلاها فتأذوا به فأخذ فأسافجعل ينقر أسفل السفينة فأتوه فقالوا: مالك؟ قال: تأذيتم بي ولا بدلى من الماء فان أخذوا على يديه أنجوه ونجوا أنفسهم و إن تركوه أهلكوه وأهلكوا أنفسهم))[1]

---

[1] - رواه البخارى.

نعمان بن بشير رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلی الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**د الله پهٔ بريدونو کې د بې غورۍ والا او پهٔ هغو کې د تېري کوونکيو مثال د هغو خلکو پهٔ څېر دی چې پهٔ يوې بېړۍ يې پچه واچوله نو ځينې خلک يې پهٔ لاندې چت کې شول او ځينې يې پهٔ پاسني کې؛ کوم خلک چې پهٔ لاندينې چت کې دي د اوبو راوړلو پهٔ وخت کې پاسنيو باندې تېرېږي نو هغوی پهٔ دې کار تنګېږي. نو لاندې خلکو نه يو يې تبر را واخلي او د بېړۍ لاندينۍ برخه پرې سورۍ کوي نو پاسني خلک ورته راشي او ورته وايي چې ولې دا کار کوې؟ هغه وايي: تاسو پهٔ ما تنګ شوئ او ماته خامخا اوبه پهٔ کار دي نو کهٔ هغوی د دغه کس لاسونه ونيول او منع يې کړ نو هغه به هم له ډوبېدو وژغوري او خپل ځانونه هم او کهٔ پرې يې ښودهٔ نو هغه يې هم هلاک کړ او خپل ځانونه هم**)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن حذيفة أن النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**والذى نفسي بيده لتامرن بالمعروف و لتنهون عن المنكر او ليوشكن الله ان يبعث عليكم عذابا من عنده ثم لتدعنه ولايستجاب لكم**)). [1]

حذيفه رضي الله عنه **نه روايت دی چې پېغمبر** صلی الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((**پهٔ هغه ذات لوړه کوم چې زما ځان د هغهٔ پهٔ لاس کې دی چې تاسو به خامخا پهٔ نېکيو امر کوئ او له بديو به منع کوئ او يا**

---

[1]- رواه الترمذى.

نږدې ده چې الله په تاسو له خپله پلوه عذاب را ولېږي بيا به يې هرو مرو رابلۍ او دعاء به مو نه قبلېږي)).

ځينې خلک دا ښهٔ ګڼي چې د چا پهٔ کار کې کار نهٔ لري کهٔ ښهٔ کوي او کهٔ بد دی ورته څه نه وايي دا بېخي ناسمه ده مسلمان د خلکو پهٔ کار کې د سمون لپاره کار لرلو باندې ګمارل شوی دی او دې سمون ته ((نهی عن المنکر)) ((لهٔ بديو نه منع)) وايي:

بل حديث کې داسې راغلي:

عن أبي بكر الصديق قال: يا أيها الناس إنكم تقرء ون هذه الآ ية: ((ياأيها الذين امنوا عليكم أنفسكم لايضركم من ضل إذا هتديتم)) فانى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول: ((إن الناس إذا رأوا منكرا فلم يغيروه يوشك ان يعمهم الله بعقابه))** [1]

ابو بکر صديق رضي الله عنه نه روايت دی هغه وويل: ((ای خلکو! تاسو دا آيت لولئ چې: ((ای مؤمنانو تاسو باندې خپل ځان ته پاملرنه اړينه ده کله چې تاسو پهٔ سمه لار وئ نو هغه څوک درته زيان نه شي رسولی چې بې لارې شوی دی)) (تاسو له دې غلط مطلب اخلئ) ځکه چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: ((خلک چې کله ناوړه کار ويني او منع يې نه کړي نو نږدې ده چې الله پهٔ ټولو عذاب راولېږي)).

[1] - رواه الترمذی و أبوداود وابن ماجه.

نو اسلام د ټولو ښو کارونو او ښېګړو په کولو امر کوي او له ټولو بدو کارونو او ناوړه اعمالو څخه منع کوي.

او د انساني ټولنې او د نړۍ د ودانۍ، ښېرازۍ او نېکمرغۍ رازونه په همدې دوه بنسټونو ولاړ دي چې د خېر ښېګړې ټول کارونه پلي شي او بد او ناوړه کارونه ورک شي نو نړۍ کې به امن ، سوکالي، وداني او پرمخ تلل وي جنګونه او جګړې به نه وي، ظلم او تېرى به ورک شي، هرچاته به خپل حق ورکول شي، انسانان به سره ورونه او خواخوږي شي، دښمنۍ به په دوستۍ بدلې شي او ټولې بدمرغۍ به له منځه لاړې شي.

ښۀ او بد پېژندل

ښـۀ او بـد پـۀ سـالم ذوق او انصـاف کولـو پېژنـدل کېـږي اواسلام ټول را پۀ ګوته کړي دي.

حديث کې د نېکۍ او ګناه توپير داسې شوی دی:

عن النواس بن سمعان قال: سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم **عن البر والاثم فقال: ((البر حسن الخلق والاثم ما حاك فى صدرك وكرهت ان يطلع عليه الناس)).** [1]

نـواس بـن سـمعان رضـي الله عنـه نـه روايـت دی هغـه وايـي: مارسول الله صلى الله عليه وسلم نه دنېکۍ او ګناه پۀ هکله پوښتنه وکړه نو هغه وفرمايل: ((نېکي ښۀ اخلاق دي اوګناه هغه ده چې پۀ سينې کې دې پکې شک شو، او دادې بده ګڼله چې خلک پرې خبر شي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((إن من أحبكم إلى أحسنكم أخلاقا))** [2]

---

[1]- رواه مسلم.

[2]- رواه البخارى.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي**: رسول الله صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**تاسو کې هغه څوک ماته ډېر ګران دی چې هغه تاسو کې د ښو اخلاقو څښتن وي**)).

ځينې منکرات

د نيکو کارونو څهٔ بېلګې مو مخکې يادې کړې او رښا مو پرې واچوله اوس منکرات (ناوړه کارونه) بايد وپېژنو.

ناوړه کارونه ټول هغه کارونه دي چې بشري ټولنې ته پټ او ښکاره، ظاهري او معنوی، د صورت او سيرت تاوان او زيان رسوي او د انساني چاپېريال د ظاهري او معنوي ککړتيا او ناوړتيا لامل ګرځي. او د دې ټولو بنسټ د الله سبحانه وتعالى لهٔ احکامو نه سرغړونه ده.

اسلام کې تر ټولو ستر منکر کفر او شرک دی چې د الله تعالى ذات يا صفتونو يا نومونو او احکامو کې لهٔ ټولو يا ځينو نه انکار وکړې يا هغهٔ سره پهٔ ذات، صفاتو، افعالو، نومونو او عبادت کې څوک شريک وګڼې ياد الله تعالى د عبادت پهٔ ډولونو کې د کوم ډول پهٔ مخلوق کې چاته ورکړې..........

دا لوی او سرور بحث دی او ګڼ کتابونه پرې ليکل شوي دي زمونږ کتاب: ((توحيد رڼا او شرک تياري دي)) هم پهٔ دې هکله لوستی شئ.

لـﺋ څرګنـد کفـر او شـرک او پـټ (نفـاق) نـه وروسـته او د لمانځه، روژي، زکات، حج او نورو احکامو د انکار اوپرېښودلو نه وروسته هغه کارونه چې فرد او ټولنې ته زيان رسوي او د نړۍ او بشـري چاپيريـال د ککړتيـا او ناوړتيـا لاملونـه جـوړېږي پـﺋ لانـدې کرښو کې ياد وو:

فساد

اسلام د هر ډول فساد او ورانکارۍ مخنيوى کوي، خپل منونکي ترې منع کوي او نړۍ ترې ژغوري.

الله تعالى فرمايي:

((وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا))[1]

((اوځمکه کې د هغې لـﺋ رغونې او اصلاح نه وروسته فساد او ورانکاري مـﺋ کوئ)).

او د ورانکاري او منافق پـﺋ هکله فرمايي:

((وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَادَ))[2]

---

[1]- سورة الاعراف: ٥٦.

[2]- سورة البقرة: ٢٠٥.

((او کله چې شا کړي نو هڅه کوي چې ځمکه کې ورانکاري وکړي او کښتونه او نسلونه هلاک کړي. او الله ورانکاري نهٔ خوښوي)).

او د منافقانو پهٔ هکله فرمايي:

((وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ قَالُواْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَـكِن لاَّ يَشْعُرُونَ))[1]

((او کله چې دوی ته وويل شي چې ځمکه کې ورانکاري مهٔ کوئ نو هغوی وايي چې مونږ خو يواځې رغوونکي يوو، خبردار همدوی ورانکاران دي خو نهٔ پوهېږي)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ))[2]

((او پهٔ ځمکه کې ورانکاري مهٔ کرځئ)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّـهَ لاَ يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ))[3]

((او پهٔ ځمکه کې فساد مهٔ غواړه الله بې شکه فساد کوونکي نهٔ خوښوي)).

---

[1]- سورة البقرة: ۱۱- ۱۲.
[2]- سورة هود: ۸۵.
[3]- سورة القصص: ۷۷.

ناحقه وژنه

اسلام پۀ ناحقه د چا وژنه کبيره ګناه ګڼي، غندي يې، پۀ کلکه يې مخنيوی کوي او پۀ سختۍ يې منع کوي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا))[1]

((اخپلو منځو کې يو بل مۀ وژنئ الله بې شکه پۀ تاسو خورا زيات لوروونکی دی)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ))[2]

((او لۀ حق پرته هغه څوک مۀ وژنئ چې الله حرام کړی دی)).

او فرمايي:

((مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا))[3]

((چا چې بې بدله يا پۀ ځمکه کې د ورانکارۍ لپاره څوک وواژۀ نولکه چې ټول خلک يې ووژل او چاچې يو نفس ژوندی کړ نو لکه چې ټول خلک يې ژوندي کړل)).

---

[1]- سورة النساء: ۲۹.
[2]- سورة الانعام: ۱۵۱.
[3]- سورة المائدة: ۳۲.

او د مؤمنانو او نېکانو ښو صفتونو اوكره ځانګړتياو كې فرمايي:

((وَلاَ يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ))[1]

((او (نېكان بندګان) په ناحقه هغه نفس نه وژني چې الله حرام كړى دى)).

قاتل ميراث نه وړي

اسلام كې د جرمونو د مخنيوي له حكمونو او حكمتونو څخه دا هم دى چې چا خپل وارث ووژه نو هغه د مقتول له مال څخه ميراث نه وړي .

حديث كې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((القاتل لايرث))[2]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((وژونكى ميراث نه وړي)).

---

[1]- سورة الفرقان: ٦٨.

[2]- رواه الترمذي وابن ماجه.

زنا

اسلام د نارينه او ښځينه په منځ کې د نکاح حلال اړيکې ټينګوي او د ښځې او مېړه کور جوړ وي او د هغې لپاره يې خپل بنسټونه او بريدونه ټاکلي دي:

خو ناروا د زنا اړيکې کبيره ګناه ګڼي، په کلکه يې مخنيوی کوي، غندي يې او په سختۍ او ټينګار يې منع کوي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً))[1]

((او زنا ته مه نږدې کېږئ دا بې شکه څرګنده ګناه او ناوړه لار ده)).

او د مؤمنانو په ښو صفتونو او کره ځانګړتياو کې فرمايي:

((وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ))[2]

---

[1]- سورة الاسراء: ۳۲.
[2]- سورة المؤمنون: ۵- ۷.

((او هغه (مؤمنان بريالي دي) چې هغوی لۀ خپلو ښځو او وينځو نه پرته د خپلو عورتونو ساتونکي وي اود ښځو او وينځو پۀ هکله دوی ملامت نۀ دي او چا چې لۀ دې اخوا نور څۀ ولټول نو همغوی تېری کوونکي دي)).

((وراء ذلك)) کې لواطت، د لاس استعمال، حيواناتو سره بد کاري او نورې ټولې بدې لارې داخلې دي چې دا ټولې منع دي او کبيره ګناه ده ، يوائې د خپلو حلالو نکاح شويو ښځو يا وينځو سره جنسي اړيکې ساتل روا دي، او لۀ دې پرته نور ټول ناروا دي.

همدارنګه د مؤمنانو او نېکانو کره ځانګړتياؤ کې فرمايي:

((ولا يزنون))[1]

((او (د رحمن ذات بنده ګان) زنا نۀ کوي))

---

[1]- سورة الفرقان: ٦٨.

بچه بازي

اسلام کې د نارینه نارینه سره جنسي اړیکې لرل او بچه بازي ناروا او ډېره لویه ګناه ده الله تعالی د لوط علیه السلام قوم په همدې بد عمل هلاک کړی ؤ.

او حدیث کې داسې راځي:

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((**من وجدتموه يعمل عمل قوم لوط فاقتلوا الفاعل والمفعول به**))[1]

((که تاسو داسې څوک ومو ندل چې د لوط(علیه السلام) د قوم عمل یې کاوه نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ)).

غلا

اسلام کې په پټه دچامال وړل او غلا کول حرام دي او د غلا د مخنیوي لپاره په اسلام کې د لاس پرې کول دي.

الله تعالی فرمایي:

۱- رواه أبوداود.

((وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ))[۱]

((د غله او غلې لاسونه پرې کړئ دا د هغه ناوړه عمل سزا ده چې دوی کړی دی د الله له پلوه دغلا د مخنيوي لپاره سزا ده او الله غالب او د حکمت څښتن دی)).

اسلام کې د انسان لاس دومره محترم او قيمتي دی چې کله امين وي او چا يې يوه ګوته پرې کړه نو لس اوښان به ديت کې ورکوي او د لاس ديت پنځوس اوښان دي. خو چې کله دا لاس خائن شو او غلا يې وکړه نو بيا د دينار په څلورمې برخې غلا کې غوځېږي او دا ځکه چې مخکې پنځوس اوښان د لاس د ساتلو لپاره وو او بيا د لاس غوځول د دينار د څلورمې برخې قيمت نه دی بلکه دا د انساني او اسلامي ټولنې د امنيت او اموالو د ساتلو قيمت دی خو د لاس غوځول او د حدودو نفاذ هله دی چې د اسلام سياسي، اقتصادي، اجتماعي او پوره بشپړ نظام نافذ وي کۀ دا نۀ وي نو بيا يوائې حدود نافذول او نور اسلام شاته غورځول ظلم دی. اسلام لومړی اقتصادي نظام نافذوي، پۀ دې ځمکې کې انسان بې پاسپورټه او بې وېزې ازاد دی، چې هر ځای شاړه ځمکه ودانوي د هغه ده، حلال تجارت کې ازاد دی، د ځمکې پۀ زېرمو لکه: تېلو، ګاز، (اورباد) سرو او سپينو، کانو، ځنګلونو او وښو، اور او اوبو، کې ټول يو ډول شريکان دي، بيت المال کې د هرچا مساوي برخه ده

[۱]- سورة المائدة: ۳۸.

.... مالدار به بې وزلو ته زکات ورکوي، ټګي برګي، دروغ، احتکار (قېمتې کې د غلو دانو زېرمه کول) ظلم، تېری او هر ډول نا انډولي او حق تلفي منع دي.

اوس نو ووايه چې کله د اسلام دغه ډول اقتصادي نظام نافذ شي آيا څوک به غلا وکړي؟ هېڅکله نه.

او دا چې طاغوتي د ظلم قوانين نافذوي، هر لوري ته چې خوځېږي ټکس وي، ښارو ځمکو کې لۀ برخې محروم وي، پۀ کانونو، معدنونو او د ځمکې پۀ زېرمو کې له برخې محروم وي، بې پاسپورټه، بې وېزې او بې ټکسه تجارت او مزدوري نۀ شي کولی، مالدار پۀ سودي بانکونو کې بې خرته مالونه جمع کوي او د بې وزلو حق نه ورکوي........... د بې وزلي مور او پلار بوډاګان او ناروغه وي، ښځه يې بربنډه وي او بچي يې وږي وي......... نو دا خوپۀ زوره غلا ته جوړ دی پۀ داسې وخت کې بيا لاس غوڅول نشته اسلام ځمکه او کور ورکوي، زکاتو نه او د بيت المال برخه ورکوي، تېلو، ګاز، سرو او سپينو زرو، معدنونو او کانونو، ځنګلونو او ښارو کې برخه ورکوي او نور ډېر مالي، سياسي او ټولنيز حقوق يې خوندي ساتي او وړيا يې تر کوره ور رسوي نو له دې ټولو سره سره چې بيا غلا کوي نو لاس يې بې شکه د غوڅولو دی.

پیتموزې او ملنډې

اسلام کې چا پورې پیتموزې (۱) کول او په هغه منلډې وهل ناروا او لويه ګناه ده. په سخته يې منع کوي اومخنيوی يې کوي. اسلام کې هر انسان درون ګڼل کېږي او د چا سپکاوی کول ناروا دي.

الله تعالى فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلاَ نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ)) [۲]

((ای مؤمنانو! يو قوم دې بل پورې پیتموزې نه کوي کېدی شي چې هغوی له دوی غوره وي. او نه دې ښځې د ښځو پورې پیتموزې کوي کېدی شي چې هغوی له دوی غوره وي او خپلو کې په يو بل عيب مه لګوئ)).

---

[۱] - ((پیتموزې)) چاباندې مسخرې کول، ريشخند او ملنډې وهلو ته ويل کېږي.د برې پښتونخوا وګړي يې ((پیتموزې)) بولي او د کوزې يې ((پيچموزې)) بولي.

[۲] - سورة الحجرات: ۱۱.

کۀ د چاپۀ خلقت کې کوم عيب وي او الله تعالى همغسې پيدا کړى وي لکه ټيټوالى، بدرنګي، ړوندوالى او داسې نور يا پۀ کومه پېښه کې ګوډ شوى يا شوټى شوى وي.........نو د هغې پېغور ورکول منع دي:

حديث کې داسې راځي:

عن عائشةقالت: قلت للنبى صلى الله عليه وسلم : **حسبك من صفية كذا وكذا تعنى قصيرة فقال:** ((**لقد قلت كلمة لو مزج بها البحر لمزجته))۳**

عائشې رضى الله عنها نه روايت دى هغه وايي :ماپېغمبر صلى الله عليه وسلم ته وويل: د صفيې خو دا عيب بس دى مراد يې دا ؤ چې ټيټه او لنډه ده. هغۀ وفرمايل: ((داسې ناوړه خبره دې وکړه چې کۀ درياب کې ګډه شي نو رنګ به يې بدل کړي)).

د اسلام له آدابو ، تهذيب او محاسنو نه داهم ده چې چاته داسې سپک مه ګوره چې د هغه پۀ جامه لاس پاک کړې. حديث کې داسې راځي:

عن ابي بكرة قال: ((نهى النبى صلى الله عليه وسلم **أن يمسح الرجل يده بثوب من لم يكسه)) ۱**

ابو بکره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې: ((پېغمبر صلى الله عليه وسلم له دې منع کړې ده چې يو سړى د هغه چاپۀ جامه لاس ومښي چې دۀ نه دي وراغوستي)).

---

[1]- رواه ابوداود.

معنا دا چې روزی ورکوونکی او جامې ورکوونکی الله دی نو څوک دومره سپک مه ګڼه چې لۀ ډوډۍ خوړلو او لاس مينځلو نه وروسته يا نور ککړ لاسونه د هغۀ پۀ جامه ومښې او وچ يې کړې. دا د اسلام هغه کرامت او عزت دی چې هر انسان ته يې ورکړی دی.

د اسلام لۀ آدابو نه بل ادب دا دی چې داسې ناسته پاسته او ملاسته به نۀ کوي چې عورت دې معلوم شي.

حديث کې داسې راځي:

عن جابر قال: ((نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم **أن يرفع الرجل إحدى رجليه على الاخرى وهو مستلق على ظهره))**[1]

جابر رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي: ((رسول الله** صلی الله عليه وسلم **لۀ دې منع کړې ده چې يو سړی ستوني ستخ پروت وي او خپله يوه پښه پۀ بلې واړوي)).**

پۀ دې هکله دوه حديثونه راغلي دي يو دا دی او بل کې يې جواز دی نو د دواړو توفيق او تطبيق له رواياتو داسې کېږي چې کۀ دواړه پښې وغځوي نو بيا يوه پۀ بله دپاسه غځول روادي او کۀ دواړه پښې يې را ټولې کړې وي نو بيا د ملاستې پۀ وخت کې چې يوه پښه پۀ بلې کېدې نو دعورت د ښکاره کېدو يا د جامو له پاسه معلومېدو احتمال دی نو ځکه دا کار منع دی.

---

[1]- رواه مسلم.

د نوم ړنګول

د چا نوم خرابول او هغه سپک ګڼل هم ناروا دي. په يو چا باندې چې مور او پلار کوم سم نوم ايښی وي يا يې خپله د ځان لپاره کوم نوم يا تخلص غوره کړی وي هغه بدلول، خرابول او په بله معنا ګڼل ناروا دي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ))[1]

((او خپلو منځو کې د يو بل تخلص نوم مه خرابوئ له ايمان نه وروسته د ګناه نوم ډېر بد دی او چاچې توبه ونهٔ ايسته نو همغوی ظالمان دي)).

[1]- سورة الحجرات: ۱۱.

بدګماني

بدګماني هم پۀ اسلام کې ګناه ده او اسلام پۀ سختۍ سره د بدګمانۍ مخنیوی کوي.

بې دليله او هيڅ پۀ هېڅه پۀ چا تور لګول او بدګمان کول کبيره ګناه ده او اسلام يې پۀ کلکه منع کوي:

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ))[1]

((اى مؤمنانو! لـه ډېرو ګمانونو نـه ځانونـه وژغـورئ ځينـې ګمان بې شکه ګناه ده)).

ځينـې يـې لـۀ دې امله وويـل چـې پـۀ دليـل او قرينـې بانـدې ګمان کول ګناه نۀ ده همدارنګه احتياط کول او هر چاسره معامله نۀ کول هم ګناه نۀ ده.

اسلام کې بدګماني ګناه ده او تر څو چې کوم دليل نه وي نو پۀ هر چا بايد ښۀ ګمان وشي.

حديث کې پۀ دې هکله داسې راځي:

---

[1]- سورة الحجرات: ١٢.

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :
((حسن الظن من حسن العبادة))[1]
ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:
((ښهٔ ګمان لهٔ ښهٔ عبادت څخه دی)).

جاسوسي كول

د چا عيبو نه لټول، غوږ ايښودل او حکومتونو لپاره يا خپلو منځو کې يو تر بله جاسوسي كول هم پهٔ اسلام كې ناروا دي؛ اسلام يې پهٔ سخته مخنيوی كوي او كبيره ګناه يې ګڼي.
الله تعالى فرمايي:
((ولا تجسسوا))[2]
((او جاسوسي مهٔ كوئ)) ((د چا عيب مهٔ لټوئ)) چاته غوږ مهٔ ږدئ، چاپسې نوغی مه لټوئ.

---

[1]- رواه أبو داود وأحمد.
[2]- سورة الحجرات: ١٢.

غيبت کول

غيبت دې ته وايي چې پسې شا او په غياب کې د چاناوړه کارونه او عيبونه يادوي.

خو که کافر، بدکاری او ورانکاری وي او ددې لپاره يې عيبونه او ناوړه کارونه يا دوي چې خلک ترې ځان وژغوري او ځوک پرې ونه غولېږي نو بيا غيبت نه ګڼل کېږي. او که داسې نه وي نو غيبت ګڼل کېږي او غيبت په اسلام کې کبيره ګناه ده، اسلام يې په سخته منع کوي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلاَ يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ))[1]

((او خپلو منځو کې يو د بل غيبت مه کوئ آيا تاسو کې ځوک دا خوښوي چې د خپل مړهٔ ورور غوښه وخوري؟ دا خو بده ګڼئ. نو الله نه ووېرېږئ الله بې شکه توبه قبلوونکی او خورا زيات لوروونکی دی)).

[1]- سورة الحجرات: ١٢.

مطلب دا چې غيبت کول داسې دي لکه د خپل مړ ورور غوښه چې خورې نو لکه څرنګه چې د خپل مړهٔ ورور غوښه خوړل بد ګڼې همدارنګه يې غيبت هم مهٔ کوه.

د غيبت او بهتان تر منځ توپير

غيبت ډېره لويه ګناه ده، د غيبت اوبهتان (تور) تر منځ د توپير په هکله حديث داسې راغلی دی:

عن ابى هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((أتدرون ماالغيبة ؟)) قالوا: الله ورسوله اعلم. قال: ((ذكرك أخاك بما يكره))؛ قيل: أفرأيت إن كان فى اخي ما أقول؟ قال: ((إن كان فيه ما تقول فقد اغتبته و إن لم يكن فيه ما تقول فقد بهته))** [1]

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((آيا تاسو پوهېږئ چې غيبت څه شی دی؟)) هغوی وويل: الله او د هغهٔ پېغمبر ښهٔ پوهېږي . هغه وفرمايل: ((غيبت دا دی چې خپل ورور پهٔ داسې شان ياد کړې چې هغه يې بد ګڼي)) چا ورته وويل: مونږ پهٔ دې پوه کړه چې کهٔ هغه کې هغه کار وي چې زه يې وايم نو بيا؟ رسول الله
صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((کهٔ هغه کې هغه څه وي چې ته يې وايې نو تا يې غيبت وکړ او کهٔ هغه کې هغه څه نه وي چې تهٔ يې وايې نو تا پرې تور ولګاوه)).

---

[1]- رواه مسلم.

بدسلوک

اسلام هر چا سره د ښهٔ سلوک کولو او ښو اخلاقو سره راشه درشه او ناستې پاستې باندې امر کوي او له بدسلوک او ناوړه اخلاقو نه منع کوي.

الله تعالی د لقمان ښکلي نصيحتونه داسې څرګندوي:

((وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ))[1]

((خلکو ته دې مخ مهٔ تريووه او پهٔ ځمکه کې مست مهٔ ګرځه الله بې شکه هر کبرجن او مغرور نهٔ خوښوي)).

معنا دا چې خلکو سره پهٔ خوره ټنډه مخ کېږه او چاته ټنډه مهٔ تريووه.

---

[1]- سورة القمان: ۱۸.

په تول او کچ کې کمی کول

اسلام د عدل، انصاف او عدالت دین دی هر چاته خپل حق سپاري او د هیچا دحق خوړلو اجازه نهٔ ورکوي نو ځکه پهٔ تول، پېمانې او کچ کې کمی کول کبیره ګناه ګڼي، مخنیوی یې کوي او پهٔ سخته یې منع کوي.

الله تعالی فرمایي:

((وَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ))[1]

((پېمانه او تول پهٔ انصاف پوره کړئ)).

اوفرمایي:

((وَلاَ تَنقُصُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ))[2]

((کچ او تله مهٔ کموئ)).

او فرمایي:

((أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ))[3]

((کچ او تول پهٔ انصاف بشپړ کړئ، د خلکو شیان مهٔ کموي او پهٔ ځمکه کې فساد کوونکي مهٔ ګرځئ)).

او فرمایي:

---

[1]- سورة الانعام: ۱۵۲.
[2]- سورة هود: ۸٤.
[3]- سورة هود: ۸۵.

((وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذا كِلْتُمْ وَزِنُواْ بِالقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ))[1]

((کله مو چې پیمانه او کچ کاوۀ نو پوره یې کوئ او پۀ سم ډاندې تول کوئ)).

معنا دا چې د هرشي کچ، پېمانه او اندازه پوره کوئ اوتول کې د تلې ډانډی سم ساتئ او د چا حق مۀ کموئ کۀ څه زیات ورکوئ نو خیر دی.

او فرمايي:

((وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ))[2]

((تول پۀ انصاف اودروئ او پۀ تله کې کمی مۀ کوئ)).

او فرمايي:

((وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلاَ يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ))[3]

((هغو کموونکیو لپاره دې هلاکت وي چې کله یې لۀ خلکو نه راپېمانه کوي نو پوره یې اخلي او کله یې چې هغوی ته پېمانه کوي یا تلي نو کموي یې، آیا دوی باور نۀ کوي چې دوی هغې لویې ورځې ته را پورته کېدونکي دي چې خلک به د ټولو مخلوقاتو رب ته اودرېږي؟)).

---

[1]- سورة الاسراء: ۳۵.
[2]- سورة الرحمن: ۹.
[3]- سورة المطففين: ۱ ـ ٦.

غوړه مالي

اسلام کې د چا بې ځایه او مخامخ ستایل او غوړه مالي منع ده لکه چې حدیث کې داسې راځي:

عن المقداد بن الأسود قال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم:

((إذا رأيتم المداحين فاحثوا فى وجوههم التراب)) [1]

مقداد بن الاسود رضي الله عنه نه روایت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((کله چې مو ستايونکي او غوړه مالان وليدل نو د هغوی په مخونو لپې لپې خاورې ورواچوئ))

غوړه مالي چاپلوسۍ او بوټپاکۍ ته ويل کېږي په دې کې مبالغې، حق تلفي، غره کېدل او نور ناوړه پايلې منځ ته راځي نو ځکه د چا مخامخ ستايل منع دي خو د تشجيع لپاره په ښوکارونو د چا تېزول بيا روا دي.

[1] ـ رواه مسلم.

نورې ګناوې

اسلام کې ټول ناوړه کارونه ګناوې دي چې د ټولنې خوشحالي او امن ړنګوي يو حديث کې ځينې لويې ګناوې داسې راپهٔ ګوته کېږي:

عن عبدالله بن عمرو: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس))** ۱

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((لويې ګناوې دا دي: الله سره شريک ګڼل، مور او پلار نه سرغړونه، د چاوژل او پهٔ دروغو قسم كول)).

بل حديث کې ډېرې لويې اوه ګناوې داسې راښئ:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **((إجتنبوا السبع الموبقات: قالوا : يارسول الله! وماهن؟ . قال: ((الشرك بالله والسحر وقتل النفس التى حرم الله الا بالحق و**

[1] - رواه البخارى ومسلم.

أكل الربا و أكل مال اليتيم والتولى يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات)) ۱

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((تاسو له اوو هلاکوونکيو ګناهونو نه ځانونه وژغورئ)) صحابه ؤ وويل: ای د الله پېغمبره! هغه کومې دي؟ هغه وفرمايل: الله سره شريک ګڼل، کوډې، پهٔ ناحقه د هغه چاوژل چې الله حرام کړی دی، د سود خوړل، د يتيم د مال خوړل، د جهاد پهٔ سنګر کې د تودې جګړې له ميدانه تېښته او پهٔ پاکلمنو ناخبرو مؤمنانو ښځو باندې تور لګول)).

نو دا اوه ګناوې ډېرې لويې او هلاکونکې دي ځکه چې کوونکی يې د دوزخ د سخت عذاب مستحق ګرځي.

بل حديث کې څو ګناوې داسې راپهٔ ګوته کېږي:

عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه **قال: قال رجل: يارسول الله! أى الذنب أكبر عندالله؟ قال: ((أن تدعولله نداوهو خلقك)) قال: ثم أى ؟ قال: ((أن تقتل ولدك خشية أن يطعم معك)) قال: ثم أى؟ قال: أن تزنى حليلة جارك)) فانزل الله تصديقها: ((والذين لا يدعون مع الله إلها اخر ولا يقتلون النفس التى حرم الله الا بالحق ولا يزنون)) الآ ية))** ۲

۱- رواه البخارى ومسلم.

۲- راه البخارى ومسلم.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: يو سړي وويل: ای د الله پيغمبره! الله سره کومه يوه ګناه ډېره لويه ده؟ هغهٔ وفرمايل: ((دا چې الله ته پيدا کړی يې او بيا هم هغه سره بل شريک راوبلې)) هغه وويل: بيا کومه ده؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((داچې بچی له دې وېرې ووژنې چې تاسره به ډوډۍ وخوري)) هغه وويل: بيا کومه ده؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((دا چې ته د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې)) نو الله تعالی د دې خبرو تصديق داسې راولېږهٔ : ((او مؤمنان هغه خلک دي چې الله سره بل معبود نه رابلي، پهٔ ناحقه هغه ځوک نه وژني چې الله حرام کړی وي او زنا نه کوي.......)) تر آخره.

پهٔ دې کې اوسني د نسل تحديدونه هم داخل دي چې له دې وېرې دماشومانو زېږېدل بندوي چې خلک به ډېر شي او بيا به يې پالنه سخته وي............ روزي الله ورکوي اوداالله ځمکه هم ډېره پراخه ده او زنا هره يوه ډېره لويه ګناه ده خو دهغه ګاونډي پت او عزت ته سپک کتل ډېره لويه ګناه ده چې پهٔ تاد ګاونډيتوب زيات حقوق لري او د هغه د پت او عزت ساتل اوژغورل پهٔ تا فرض دي.

د ايمان او دګناه نښې او د مؤمن ځانګړتياوې پهٔ يو حديث کې داسې راځي:

عن أبي أمـــامـــة ان رجـــلا سأل رسول الله صلی الله عليه وسلم : ماالإيمان ؟ قال: ((إذا سرتك حسنتك و ساءتك ســيئتك

فأنت مؤمن)) قال: يارسول الله! فماالاثم؟ قال: ((إذا حـــاك فى نفسك شئ فدعه)) ۱

ابو أمامه رضي الله عنه نه روايت دى چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ايمان څۀ شى دى؟ هغه وفرمايل: ((کله چې خپلې نېکى خوشحاله کړي او خپلې ګناه خپه کړې نو ته مؤمن يې)) هغه وويل: اى د الله پېغمبره! نو ګناه څۀ شى دى؟ هغه وفرمايل: ((کله چې دې پۀ زړۀ کې يوشي کرکه پيدا کړه نو پرې يې ږده)).

۱- رواه أحمد.

کبر

اسلام کبر غندي اوله کبر او لويي کولو نه مسلمانان منع کوي.

حديث کې کبر داسې بد ګڼل شوی دی:

عن حارثة بن وهــب قال: قـــال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((ألا اخبركم باهل الجنة؟ كل ضعيف متضعف لو أقسم على الله لأبره؛ ألا أخبركم بأهل النار؟ كل عُتُلٍ جواظ مستكبر)) [1]

حارثه بن وهب رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((آيا زۀ تاسو ته جنتيان دروښيم؟ هر کمزوری اوکمزوری ګڼل شوی چې کۀ الله باندې قسم وکړي نو خامخا به يې غاړه خلاصه کړي؛ آيا تاسو ته دوزخيان دروښيم؟ هر سر غړوونکی؛ بداخلاقه او کبرجن دوزخي دی)).

بل حديث کې داسې راغي:

عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لا يدخل النار أحد فى قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان ولا يدخل الجنة أحد فى قلبه مثقال حبة من خردل من كبر)) [1]

[1]- رواه البخارى ومسلم.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((هغه څوک دوزخ ته نهٔ ننوځي چې پهٔ زړهٔ کې يې د اوري د دانې پهٔ کچ ايمان وي او هغه څوک جنت ته نه ننوځي چې پهٔ زړه کې يې داوري د دانې پهٔ کچ کبر وي)).[1]

يو حديث کې درې ښهٔ او درې ناوړه کارونه داسې راپهٔ ګوته شوي دي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((ثلاث منجيات وثلاث مهلكات فأما المنجيات فتقوى الله فى السر والعلانية والقول بالحق فى الرضا والسخط والقصد فى الغنى والفقر وأما المهلكات فهوىً متبع وشح مطاع و إعجاب المرء بنفسه وهى أشد هن))[2]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((درې نجات ورکوونکي خويونه دي او درې هلاکوونکي دي. نجات ورکوونکي دا دي:

۱- پهٔ پټه اوښکاره د الله وېره.

۲- پهٔ رضا او غوسه کې د حق وينا.

۳- پهٔ مالدارۍ او بې وزلۍ کې منځلاري.

او هلاکوونکي دا دي.

۱- د خواهش تابعداري.

---

[1]- رواه مسلم.

[2]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

۲- د بخل منل.

۳- او يو چاته ځان لوړ ښکاريدل. چې دا تر ټولو ناوړه دی.

بل حديث کې داسې راځي:

عن عمر قال وهو على المنبر: يا أيها الناس تواضعوا فانى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **يقول: ((من تواضع رفعه الله فهو فى نفسه صغير و فى أعين الناس عظيم و من تكبر و ضعه الله فهو فى أعين الناس صغير و فى نفسه كبير حتى لهو أهون عليهم من كلب أو خنزير))** [1]

عمر رضي الله عنه پـهٔ منبر ولاړ ؤ چې ويې ويل: ای خلکو! خاکساري وکړئ ځکه چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: ((چاچې الله لپاره عاجزي وکړه نو الله به يې لوړ کړي هغه ته ځان ووړ ښکاري او د خلکو پهٔ سترګو کې لوی وي او چاچې لويي وکړه نو الله تعالى به يې ښکته کړي نو هغه د خلکو پهٔ سترګو کې ووړ وي. او ځان ورته لوی ښکاري تر دې چې خلکو ته لهٔ سپي او خوګ نه هم سپک ښکاري)).

[1]- رواه البيهقى فى شعب الايمان.

کبر څه شی دی؟

کبر لويي ته ويل کېږي خلک سپک ګڼل، ځان لوی ګڼل او حق نه منل، حق ته غاړه نه ايښودل او خپله پړه نه منل کبر دی.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((لايدخل الجنة من كان فى قلبه مثقال ذرة من كبر)) فقال رجل: إن الرجل يحب ان يكون ثوبه حسنا و نعله حسنا. قال: ((إن الله جميل يحب الجمال، الكبر بطرالحق و غمط الناس))**[1]

((**عبدالله بن مسعود** رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**هغه څوک جنت ته نه ننوځي چې پۀ زړۀ کې يې د ذرې پۀ اندازه کبر وي)) يو سړي وويل**: **يو سړی دا خوښوي چې جامې يې ښکلې وي، څپلۍ يې ښکلې وي**. (آيا دا کبر دی؟) **رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل**: ((**الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي** (دا کبر نه دی بلکه) **کبر د حق ردول او د خلکو سپک ګڼل دي**)).

[1]- رواه مسلم.

د دوه غړو له شره ځان ژغورنه

زیاتې ګناوې د دوه غړو د کاواکۍ او بې باکۍ له کبله کېږي چې یوه ژبه ده او بل شرمځای دی نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې دواړو په هکله فرمایي:

عن سهل بن سعد قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :

((من یضمن لي مابین لحییه و مابین رجلیه أضمن له الجنة)) ١

سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((چا چې ماته د دوه غړو ضمانت راکړ نو زهٔ به ورته دجنت ضمانت ورکړم: یو د دوه ژامنومنځ کې ((ژبه)) ده او بل د دواړو پښو منځ کې ((عورت)) دی)).

ربښتیا هم دا دواړه غړي د ګناهونو لاملونه اوبواعث دي پهٔ ژبه دروغ، غیبت، چغلي، کنځل او سپکې سپورې، شیطاني او د دوه ؤ جنګول، د چاپهٔ خلاف خبرې، او نورې بې شمېره او ګڼې ناوړه او د ګناه خبرې کېږي.

او پهٔ عورت زنا او لواطت کېږي چې ډېرې لویې ګناوې دي او د ډېرو ناوړه عواقبو او نتائجو زېږوونکي دي.

---

[1]- رواه البخاری.

کنځل کول

اسلام کې چاته کنځل کول ناروا دي او چا چې لومړی کنځلې وکړې نو ګناه يې پۀ هغه ده حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال:**

((المستبان ما قالا فعلى البادى مالم يعتد المظلوم)). [1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((دوه کسان چې يوتر بله سره کنځلې کوي نو تر څو چې مظلوم تېری نه وي کړی ګناه يې پۀ هغه چا ده چې لومړی پۀ کنځلو پيل کوونکی وي)).

او همدارنګه زياتې سپکې سپورې ويل هم ناروا دي. حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم**قال: ((لا ينبغى لصديق ان يكون لعانا))** [2]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((رېښتيني ته دا مناسب نه دي چې ډېر لعنت ويونکی وي)).

---

[1] - رواه مسلم.
[2] رواه مسلم.

چغلي

د اسلام له ښېګړو او محاسنو نه دا هم ده چې يو بل ته دناوړه خبرې رسول او چغلي يې منع کړې ده.
حديث کې د چغلۍ او شيطانۍ په هکله داسې راغلي دي:
عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((تجدون شرالناس يوم القيامة ذا الوجهين الذى يأتي هؤلاء بوجه و هؤلاء بوجه)) ۱
ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((دقيامت په ورځ به تاسو په ټولو خلکو کې ډېر بد هغه وومئ چې دوه مخى وي دې يوې ډلې ته په يو مخ راځي او دې نورو خلکو ته په بل مخ)).
مطلب دا چې دشيطانۍ او چغلۍ لپاره يوې ډلې ته يوه خبره کوي او بلې ته بله، يوې ته وايي زه ستاسو خواخوږي او مخلص يم او بلې ته وايي چې ستا سو يم.
بل حديث کې د چغلګر په هکله داسې راځي:

[1] رواه البخارى ومسلم.

عن حذيفة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال:** **((لا يدخل الجنة قتات))** [١]

حذيفه رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې مارسول الله** صلى الله عليه وسلم **نه اورېدلي دي چې ويې فرمايل:** ((**چغلګر جنت ته نه ننوځي**)).

له عبثو کارونو څخه ځا ن ژغورنه

اسلام انسانان پۀ ګټورو کارونو کې مشغولوي او داسې کار چې نۀ دنيوي مالي، بدني، فردي، ټولنيزه، ظاهري يا معنوي ګټه لري او نۀ اخروي؛ هغه نه بايد مسلمان ځان وژغوري د داسې عبث کار کول د مروئت، وقار او عزيمت نه خلاف دی.

الله تعالى د مؤمنانو پۀ کره ځانګړتياو کې داهم شمېري چې:

((وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ)) [٢]

((او هغه (مؤمنان بريالي دي) چې هغوی لۀ عبثو کارونو نه مخ اړوي)).

او فرمايي:

---

[١]- رواه البخارى ومسلم.

[٢]- سورة المؤمنون: ٣.

((وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا))[1]

((او (د الله نېک بندګان هغه خلک دي) چې کله پۀ عبثو کارونو تېرېږي نو عزتمند پرې تېرېږي)).

اسلام کې بې ګټې اوبې مقصده خبرې او کارونه هم ښۀ نه دي ګڼل شوي چې تاپورې هيڅ اړه نه لري نو هغه خبره او هغه کار مه کوه.

حديث کې داسې راځي:

عن علی بن الحسن قـــال: قـــال رسول الله صلی الله عليه وسلم:

((من حسن إسلام المرء تركه مالا يعنيه)) [2]

علی بن حسين رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((د يو سړي د اسلام لۀ ښۀ والي او ښکلا نه د هغه څه پرېښودل دي چې ورپورې اړه نه لري)).

---

[1]- سورة الفرقان: ۷۳.

[2]- رواه مالك وأحمد وابن ماجة والترمذي والبيهقی.

قوم پرستي

اسلام کې داسې قوم پرستي نشته چې قوم نه دې داسې معبود جوړ کړی وي چې نور قومونه او خپلونه سپک ګڼې او دخپل قوم بې توپيره دروا او ناروا دفاع او ملاتړ کوې.

حديث کې راځي:

عن ابن مسعود عن النبی صلی الله علیه وسلم **قال: ((من نصر قومه على غير الحق فهو كالبعير الذى ردى فهو ينزع بذنبه))١**

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه **نه روايت دی چې نبی کريم** صلی الله علیه وسلم **وفرمايل: ((چاچې پۀ ناحقه د خپل قوم سره مرسته وکړه هغه د هغه اوښ غوندې دی چې پۀ کوهي (څا) کې پرېوتی وي نو هغه پۀ خپلې لکۍ را ايستل کېږي.**

بل حديث کې داسې راغلي دي:

عن جبير بن مطعم أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((ليس منامن دعى إلى عصبية وليس منامن قاتل عصبية وليس منا من مات على عصبية))٢**

---

[١]- رواه أبوداود.
[٢]- رواه أبوداود.

جبير بن مطعم رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چا چې د قومي ريښې کرکې ته بلنه ورکړه هغه له مونږ څخه نه دی، څوک چې پهٔ عصبيت وجنګېدهٔ هغه لهٔ مونږ نهٔ دی او څوک چې پهٔ عصبيت ومړ هغه له مونږ نهٔ دی)).

د عصبيت تعريف پهٔ حديث کې داسې راغلی دی:

عن واثلة بن الأسقع قال: قلت: يارسول الله! ماالعصبية؟ قال : ((أن تعين قومك على الظلم)).۱

واثلة بن الاسقع رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي : ما وويل: ای د الله پېغمبره! عصبيت څهٔ شی دی؟ هغه وفرمايل: ((عصبيت دا دی چې پهٔ ظلم د خپل قوم مرسته وکړې)).

پهٔ ظلم او ناروا د خپل قوم بلکه د هرچا مرسته ناروا ده. خوپهٔ حقه لهٔ خپل قوم، کورنۍ او ټبر نه دفاع کول ښهٔ کار دی او د خپل قوم حق غوښتل ناروا نه بلکه فرض دي. لکه موسی عليه السلام چې لهٔ فرعون نه دخپل قوم ازادي غوښته.

حديث کې راځي:

عن سراقة بن مالك بن جعشم قال: خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((خيركم المدافع عن عشيرته مالم يأثم)).۲

سراقه بن مالک بن جعشم رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم خطاب وکړ او ويې فرمايل:

---

[1]- رواه أبوداود.
[2]- رواه أبوداود.

((تاسو کې غوره هغه څوک دی چې تر څو د ګناه کار نه وي نو لۀ خپل ټبر نه دفاع کوونکی وي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عبادة بن كثير الشامى من اهل فلسطين عن إمرأة منهم يقال لها فسيلة أنها قالت: سمعت أبي يقول: سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت: يارسول الله! أمن العصبية ان يحب الرجل قومه؟ قال: ((لا ولكن من العصبية ان ينصر الرجل قومه على الظلم.)) ۱

عبادة بن کثير شامي فلسطينی دهغوی لۀ قبيلې لۀ يوې ښځې روايت کوي چې فسيله نومېده هغې وويل: ما خپل پلار نه اورېدلي دي چې ويل يې: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې: ای د الله پېغمبره! آيا دا لـه عصبيت نه ده چې يو سړی خپل قوم سره مينه کوي؟ هغه وفرمايل: ((نه بلکه عصبيت دا دی چې يو سړی پۀ ظلم کې د خپل قوم مرسته وکړي)).

۱- رواه أحمد وابن ماجة.

په پلرونو فخر کول

پۀ پلرونو او نسب فخر کول اونور سپک ګڼل منع دي، خو د خپل نسب او پلرونو ريښتيني ښۀ کارونه او ښـۀ خويونـه يـادول او روزنـې لپـاره کشـرانو تـه دهغـوی يادونـه خيـر دی. پـۀ بـدو پلرونـو او نېکونو فخر کول ناروا دي.

حديث کې داسې راغلي:

عن أبي هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**لينتهين أقوام يفتخرون بآبائهم الذين ماتوا إنما هم فحم من جهنم اوليكونن اهون على الله من الجعل الذى يُدَ هْدِهُ الخراءة بأنفه إن الله قد أذهب عنكم عبية الجاهلية وفخرها بالآباء إنما هو مؤمن تقى او فاجر شقى الناس كلهم بنوآدم و آدم من تراب**)) ۱

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: ((ځينـې خلـک بـه لـۀ دې منـع کېږي چې پۀ خپلو هغو پلرونو فخر کوي چې مړۀ شوي دي او هغـوی د دوزخ سکاره دي او يا به خامخا د الله پۀ مخکې د هغه ګونګټ نه هـم سـپک شـي چـې سـوتې پـۀ خپلـې پـوزې رغـړوي الله تاسـونه د

[1] - رواه الترمذی وأبوداود.

جاهليت خويونه او پۀ پلرونو د هغوی فخر كول لرې كړي دي اسلام كې يا پرهېزګار مؤمن دی او يا بدمرغه بدكاره دی. خلک ټول دآدم اولاد دی او آدم له خاورې پيدا دی)).

احترام لپاره چاته ودرېدل

له سترې مه شي پرته چاته يوائې د احترام او تعظيم لپاره اودرېدل منع دي او دا كار رسول الله صلی الله عليه وسلم بد ګاڼه.

حديث كې داسې راغلي:

عن أنس قال: ((لم يكن شخص أحب إليهم من رسـول الله صلى الله عليه وسلم **و كانوا إذا رأوه لم يقوموا لما يعلمون من كراهيته لذلك))** [1]

انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: صحابه و ته له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه هيڅوک ډېر ګران نه ؤ ، خو هغوی به چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې راغی نو نه به پاڅېدل ځكه هغوی پوهېدل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا كار بد ګڼي)).

[1]- رواه الترمذى.

بل حديث کې داسې راځي:

عن معاوية قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((من سره أن يتمثل له الرجال قياما فليتبوا مقعده من النار)).١**

معاويه رضي الله عنه **نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل:** ((څوک چې پۀ دې خوشحالېږي چې خلک ورته ودرېږي نو هغه دې ځان ته پۀ اور کې ځای تيار کړي)).

او ځينې وخت او ځينې ودرېدل خو د شرک تر بريده رسېږي لکه ملي ترانو، ملي بيرغونو او توغونو، پاچايانو، چارواکو او پوځي افسرانو ته پۀ ځانګړې توګه ودرېدل او ځانګړی يون کول......... دا ټول شرک دی او همداسې يو بل ته د تعظيم لپاره ودرېدل شرک نه دی خو ناروا دی.

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي أمامة قال: خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم **متكئا على عصا فقمنا له فقال: ((لا تقوموا كما تقوم الأعاجم يعظم بعضهم بعضا)) ٢**

ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم را وواتۀ او امسا يې لګوله نومونږ ورته پاڅېدو، هغه وفرمايل: ((تاسو داسې مه اودرېږئ لکۀ عجميان چې يو بل ته پاڅېږي او تعظيم يې کوي)).

---

[1]- رواه الترمذي وأبوداود.
[2]- رواه أبوداود.

دوه کسان سره مه بېلوه

د دوه نږدې کسانو بېلول او د هغوی منځ کې کېناستل يا تېرېدل هم منع دي.

حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قـــال: ((لا يحل لرجل أن يفرق بن إثنين الا بإذنهما))[1]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې ويې فرمايل: ((هيچا ته دا روانه دي چې دوه کسان د هغوی له اجازې پرته سره جلا کړي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((لا تجلس بين رجلين إلا بإذنهما))۲

عمرو بن شعيب د خپل پلار نه روايت کوي هغه يې له نيکه څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((د دوه کسانو منځ کې دهغوی له اجازې پرته مه کېنه)).

---

[1]- رواه أبوداود والترمذی.
[2]- رواه أبوداود.

څوک له خپل ځای پاڅول منع دي

هر څوک چې یو مجلس یا جومات کې کوم ځای کې لومړی کېناست هغه د هغه حق دی، هیڅوک څوک له خپله ځایه نه شي پاڅولی، کهٔ کشران پهٔ خپله خوښهٔ مشرته ځای پرېږدي بیا خیر دی.

حدیث کې داسې راځي:

عن ابن عمر عن النبي صلی الله علیه وسلم**قال: ((لا يقيم الرجل الرجل من مجلسه ثم يجلس فيه ولكن تفسحوا وتوسعوا))**[1]

عبدالله بن عمررضی الله عنهما نه روایت دی هغه پېغمبر صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: ((یو سړی دی داسې نه کوي چې بل سړی پاڅوي او بیا هلته پخپله کېني، بلکه ازاد او پراخه شئ)).

معنا دا چې لږ لږ سره وخوځېږئ او بیرته شئ چې ځای پیدا شي او راتلونکی پکې کېنی.

بل حدیث کې داسې راځي:

---

[1] - رواه البخاری ومسلم.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال: ((من قام من مجلسه ثم رجع إليه فهو أحق به))** [1]

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((**ځوک چې له خپل ځای پاځېږد او بيا ورته راستون شونو هغه دهغه ځای ډېر حقدار دی**)).

معنا دا چې کۀ ځوک د يو مجلس نه د کوم ضرورت له کبله پاځېدنو دهغه ځای نيول پۀ کارنه دي ځکه چې هغه کله لۀ ضرورت پوره کولو نه وروسته راستون شي نو خپل ځای کې به کېني.

[1]- رواه مسلم.

د لارې په سر کېناستل

د لارې په سر هسې بې ځايه کېناستل منع دي او که د پره وي يا کوم ضرورت وي نو بيا به د لارې حق ادا کېږي چې په دې لاندې حديث کې څرګندېږي:

عن ابى سعيد الخدرى عن النبى صلى الله عليه وسلم **قال : ((إياكم والجلوس بالطرقات)) فقالوا : يا رسول الله! ما لنا من مجالسنا بد نتحدث فيها. قال: ((فاذا أبيتم الا المجلس فأعطوا الطريق حقه)) قالوا: و ما حق الطريق يارسول الله؟ قال: ((غض البصر و كف الأذى ورد السلام والأمر بالمعروف والنهى عن المنكر))١ وفى رواية: ((و تغيثوا الملهوف و تهدوا الضال))٢**

ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: ((تاسو د لارو پــه ســر مــه کېنئ.))صحابه ؤ وويل: ای د الله پېغمبره! مونږ ته لهٔ خپلو دېرونه هيڅ چاره نشته مونږ پکې خبرې کوو. هغه وفرمايل: ((چا خامخا کېنئ نو د لارې حق اداء کړئ.)) هغوی وويل: ای د الله

[1]- رواه البخارى ومسلم.
[2]- رواه أبوداود.

پېغمبره! د لارې حق څه شی دی؟ هغه وفرمايل: ((د سترګو ښکته کول، چاته زيان نه رسول ، د سلام ځواب اوپهٔ نېکيو امر او له بديو منع)) او پهٔ يو روايت کې دي چې: ((او حيران اند ېښمن او حاجتمند سره به مرسته کوئ او لار ورکي ته به لار ورښئ)).

معنا دا چې کهٔ پهٔ لاره پردی ښځې تېرېدې نو نه به ورګورې او سترګې به ښکته کوې او نور هر د ښېګړې او اړين کاربه کوې اولهٔ بدو به هم ځان ساتې او هم به نور ترې منع کوې.

يوه څپلۍ په پښه کول

يوې څپلۍ، بوټ، چپړې....... کې تلل راتلل او يوائې يوه په پښو کول منع دي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

((لايمشي أحدكم فى نعل واحدة ليحفهما جميعا او لينعلهما جميعا)) ١

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((ستاسو هيڅوک دې په يوې څپلۍ کې تلل نه کوي يادې دواړه پښې ابله کړي او يادې دواړه څپلۍ په پښو کړي)).

خو کۀ څوک معذور ؤ او يوه پښه يې وه نو هغه ته بيا روا دي. بلکه په کار دي چې يوه څپلۍ يا بل کوم شی په پښه کړي.

خو چې دواړه پښې يې روغې وي نو بايد چې داوړه يا پښې ابله وي او يا دواړه پټې وي. ځکه چې په دې صورت کې د يوې

[1] ـ رواه البخارى ومسلم.

څپلۍ په پښو کول له يوه پلوه حماقت او کم عقلي ده، له بله پلوه د بدن توازن نه ساتل کېږي؛ مزل اومنده پکې نه وهل کېږي، همدارنګه د راغورځېدو او راپرځېدو احتمال هم پکې شته، بده هم برېښي ، بد او ناوړه عادت هم اخلي او کومه ګټه هم نه لري.

د غړکۍ له خولې اوبه څښل

د اسلام د نظافت له اصولونه دا هم دی چې د غړکۍ يا بل کوم لوی لوښي له خولې اوبه څښل منع دي بلکه پۀ جام، ګيلاس يا بل لوښي کې بايد ترې را واخيستل شي او بيا وڅښل شي.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: ((نهٰی رسول الله صلی الله عليه وسلم **عن الشرب من فی السقاء))** [1]

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دی هغه وايي: ((رسول الله صلی الله عليه وسلم د غړکۍ د خولې نه له څښلو څخه منع کړې ده)).

نو دا کار د تلوث، ککړتيا، ناپاکۍ او کرکې لامل دی نو ځکه منع دی.

---

[1] - رواه البخاری ومسلم.

پۀ لوښي کې پوکی کول او سا اخيستل

پۀ لوښي کې پوکی کول او سا اخيستل هم منع دي اودا هم د ککړتيا، ناپاکۍ او کرکې لامل دی نو ځکه منع دی.

حديث کې داسې راځي:

عن ابن عباس قال: ((نهٰى رسول الله صلى الله عليه وسلم **أن يتنفس فى الاناء او ينفخ فيه))** [1]

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي: ((رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې منع کړې ده چې لوښي کې سا واخيستل شي يا پوکی پکې وشي)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابي سعيد الخدرى ان النبى صلى الله عليه وسلم **نهى عن النفخ فى الشراب فقال رجل: القذاة أرٰها فى الاناء. قال: ((أهرقها)) قال: فاني لا أروىٰ من نفس واحد. قال: ((فأبن القدح عن فيك ثم تنفس))** [2]

---

[1]- رواه أبو داود وابن ماجة.
[2]- رواه الترمذى والدارمي.

ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم د څښلو په لوښي کې له پوکي کولو نه منع وکړه يو سړي ووېل: کله په لوښي کې کوم خلی ووينم نو بيا؟ هغه ورته وفرمايل: ((تویٰ يې کړه)) هغه ووېل: زه په يوې سانه خړوبېږم. هغه ورته وفرمايل: ((لوښی له خولې جلا کړه بيا سا واخله)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي قتادة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **: ((إذا شرب أحدكم فلا يتنفس فى الاناء و إذا أتى الخلاء فلا يمس ذكره بيمينه ولا يتمسح بيمينه))** [1]

ابو قتادة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((تاسو کې چې څوک څه څښي نو په لوښي کې دې سانه اخلي او کله چې د حاجت کولو ته ځي نو خپل شرمځای ته دې ښی لا س نه ور وړي او په ښي لاس دې استنجا نه کوي)).

[1]- رواه البخارى ومسلم.

د غيرت دين

اسلام د پاکۍ، غيرت، عفت، عصمت، شرافت، آدابو او ښېګړو دين دی اسلام د دې اجازه نه ورکوي بلکه دا په کلکه منع کوي چې يو څوک ((ديوث)) شي.

((ديوث)) هغه مردګاو ته ويل کېږي چې د خپلې ښځې په زنا نه خفه کېږي يا ښځې چلوي.

حديث کې راځي:

عن ابن عمر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال : ((ثلاثة قد حرم الله عليهم الجنة: مدمن الخمر والعاق والديوث الذي يُقر فى أهله الخبث))** [1]

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((درې کسان دي چې الله پرې جنت حرام کړی دی: يو پهٔ شرابو روږدی، بل د مور او پلار نه سرغړوونکی او بل هغه ديوث چې پهٔ خپل کور کې زنا کول پرېږدي او بده يې نه ګڼي)).

ديوث مفسد فی الارض دی وژل يې پهٔ کار دي.

---

[1] - رواه أحمد والنسائي.

نشې، شراب او جواري

اسلام کې د شرابو څښل او هر ډول نشه را وړونکی شی حرام دی لکه: چرس، بنګ، پوډر، اپين، نسوار، چلم، سګرټ، پان، القات او داسې نور .همدارنګه جواري او قمار کول يا شطرنج کول اونور عبث کارونه حرام دي.

حديث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عمرو ان النبی صلی الله علیه وسلم **نهٰی عن الخمر والميسر والكوبة والغبيراء وقال: ((كل مسكر حرام))** [1]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم د شرابو ، جوارۍ، شطرنج او هر ډول شرابو نه منع کړې ده او فرمايلي يې دي: ((هرنشه راوړونکی شی حرام دی)).

شراب او نشه راوړونکي څښل او خوړل هم د صحت زيان دی، هم د جيب او اقتصاد زيان او تاوان دی او هم د دين زيان او ګناه ده.

---

[1]- رواه أبوداود.

او جواري پۀ ناروا دمال ګټل او بايلل دي او جواري هم ناروا ده.

شطرنج كول يا دې ته ورته نورې د ناستې لوبې لكه قطعې او تاشونه كول هم حرام دي پۀ دې كې يو وخت ضائع كېږي، بل مال ضائع كېږي او بل پۀ ډېرې ناستې او سرتيټې د صحت او روغيتا تاوان دی، بل د د يني او دنيوي كارونو: خوب، عبادت او نورو ګټورو كارونو نه ځان ايستل دي او پۀ دې ټولو سربېره كله كله د جنګونو او جګړو لاملونه جوړېږي. بله دا ده چې د نورو لوبو او ورزشونو غوندې كومه بدني او ورزشي ګټه هم نه لري بلكۀ لا زيان او تاوان دی. د تختې او مېزلوبه هم ناروا ده.

اسلام كې هر ډول نشه حرامه ده.

حديث كې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : **((كل مسكر خمر وكل مسكر حرام))** [1]

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((هرنشه راوړونكی شی شراب دي او هر نشه راوړونكی شی حرام دی)).

[1]- رواه مسلم.

بل حديث کې داسې راځي:

عن جابر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم **قال:** ((**ما أسكر كثيره فقليله حرام**)).[1]

جابر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((دکوم شي ډېر چې نشه راوړي نو لږ يې هم حرام دي)).

نو هغه خلک چې وايي: نسوار، چلم، سګرټ او چرس نشه نه رواړي، غلطه ده ځکه چې پۀ دې لږو خو دوى عادت دي کۀ يو ناروږ دى يې استعمال کړي يا دوي يوه لپه استعمال کړي نو خامخا يې نشه کوي او مونږليدلي نو د دې لږ او ډېر ټول حرام دي.

بل حديث کې داسې راځي:

عن ام سلمة قالت: ((**نهى رسول الله** صلى الله عليه وسلم **عن كل مسكر ومفتر**)).[2]

ام سمله رضى الله عنها نه روايت دى هغه وايي: ((رسول الله صلى الله عليه وسلم له هر نشه راوړونکي او سستوونکي نه منع کړې ده)).لکه بې هوشه کوونکي مخدرات.

---

[1]- رواه الترمذى وأبوداود وابن ماجة.
[2]- رواه أبو داود.

نو نسوار کۀ فرضا نشه راوړونکي نه شي - او دي - نو سستوونکي او فتور راوړونکي خو خامخا دي.

د شرابو لس مجرمان

شراب او د نشې شيان دانساني ټولنې د بد مرغۍ، کړاوونو او ستونزو لاملونه دي نو له همدې امله شرابو سره د اړيکو لرونکيو لسو مجرمانو پۀ هکله داسې حديث راغلی دی:

عن انس رضي الله عنه **قال: لعن رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فى الخمر عشرة: عاصرها و معتصرها وشاربها وحاملها والمحمولة إليه وساقيها وبائعها وأكل ثمنها والمشتري لها والمشترىٰ له))** [1]

انس رضي الله عنه نه روايت دي هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د شرابو پۀ هکله پۀ لسو کسانو لعنت ويلی دی:

- پۀ جوړوونکي او زبېښونکي.
- پۀ طلب کوونکي.
- پۀ څښونکي.
- پۀ باروونکي او راوړونکي.

---

[1] - رواه الترمذى وابن ماجة.

- پهٔ هغه چا چې ورته وړل کېږي.
- پهٔ نورو څښونکي.
- پهٔ پلورونکي.
- د شرابو د پيسو پهٔ خوړونکي.
- پهٔ اخستونکي.
- چاته چې اخيستل کېږي.

بل حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **((لعن الله الخمر وشاربها وساقيها و بائعها ومبتاعها و عاصرها ومعتصرها وحاملها والمحمولة إليه)).[۱]**

عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «الله پهٔ شرابو د شرابو پهٔ څښونکي، د شرابو پهٔ ګرځوونکي او ورکوونکي، د شرابو پهٔ پلورونکي، د شرابو پهٔ اخيستونکي، د شرابو پهٔ زبېښونکي د شرابو پهٔ طلب کوونکي، د شرابو پهٔ راوړونکي او پهٔ هغه چا لعنت ويلی دی چې وروړل کېږي».

[۱]- رواه أبو داود وابن ماجة.

پړمخه څملاستل

اسلام له انسان څخه مهذب مؤدب او د ښو او کره خویونو خاوند دروند سنګین انسان جوړ وي او له هر ناوړه او نامناسبه کار څخه یې منع کوي. پړمخه څملاستل هم منع دي.

حدیث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: رأى النبى صلى الله عليه وسلم **رجلا مضطجعا على بطنه فقال: ((إن هذه ضجعة لا يحبها الله))** [1]

ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم یو سړی ولید چې پړ مخه پۀ خېټه نسکور پروت ؤ نو ویې فرمایل: ((دا ډول څملاستل الله تعالی نه خوښوي)).

نو هر هغه کار چې الله او د هغه پېغمبر یې نه خوښوي هغه منع دی.

پړمخه څملاستل ډېر سپک کار دی، عورت هم معلومېږي، بد او سپک هم ښکاري، معدې، زړه او لړمون ته زور هم ورځي او د شیطان سره هم پکې ورته والی دی نو ځکه منع دی.

[1] ـ رواه الترمذی.

پۀ چت خملاستل

هغه چت چې چاپېره دېوال ونه لري پۀ هغه ويده کېدل منع دي.

حديث کې داسې راځي:

عن جابر قال: ((نهی رسول الله صلى الله عليه وسلم **أن ينام الرجل على سطح ليس بمحجور عليه))** [1]

جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ((رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې منع کړې ده چې يو سړی پۀ داسې چت ويده شي چې رابند نه وي او دېوال ونه لري)).

دا سې چت چې دېوال يا بل را ايساروونکی او پرده ونه لري لکه د اوسپنې يا لرګي کټارې يا بل کوم را ايساروونکی، په هغه ويده کېدل منع دي. او دا ځکه چې پۀ دې کې د لوېدو خطر دی.

او داهم د اسلام لۀ ښېګړو او محاسنونه يوه ښېګړه ده چې انسان له زيان او تاوان څخه ژغوري.

---

[1] ـ رواه الترمذی.

لارې او سيورې کې اودس ماتی کول

اسلام کې ناوړه او سپک کار کول او خلکو ته زيان رسول منع دي. له دې جملې دا هم ده چې پۀ لار او د کېناستلو سيورې کې د انساني حاجت کول منع دي.

حديث کې داسې راځي:

((عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((اتقوا اللاعنين)) قالوا: وما اللاعنان يارسول الله؟ قال: ((الذي يتخلى فى طريق الناس او فى ظلهم))[1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((تاسو له دوه لعنتي کارونو نه ځانونه وژغورئ)) صحابه ؤ وويل: ای د الله پېغمبره! دوه لعنتي کارونه کوم کوم دي؟ هغه وفرمايل: ((هغه څوک چې د خلکو پۀ لار يا د هغوی سيورې کې ميتيازې کوي)).

مطلب دا چې څوک پۀ لاره کې ياد کومې ونې او دېوال سيورې ته غټې او وړې ميتيازې وکړي نو ټول خلک پرې لعنت وايي نو تاسو له دې کارنه ځانونه وساتئ.

[1]- رواه مسلم.

سوړې کې ميتيازې کول

سوړې کې هم د ميتيازو کول منع دي.

عن عبدالله بن سرجس قال: قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم : **((لايبولن أحدكم فی جحر))۱**

عبدالله بن سرجس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((تاسو کې دې هيڅوک په سوړې کې ميتيازې نه کوي)).

او داځکه؛ کېدای شي چې له سوړې کوم مار يا بل ضرر رسوونکی ښځنده را اوځي او ودې چيچي يا دې ووېروي او جامې دې ککړې شي، يا هلته د بې ضرره ښځنده ځاله وي لکه مېږي، چينډخې يا نور او هغوته زيان ورسېږي، يا ځای ډډ وي او ښکته شي او د پريوتو او ککړتيا سبب شي، يا دې پکې پښه لاړه شي او زيان دروسېږي..........

---

۱ رواه أبوداود او النسائي.

حاجت کې پنا ځای ته تلل

د انساني حاجت(غټو او وړو ميتيازو) کولو لپاره بايد پنا ځای ته لاړ شي او د خلکو مخکې حاجت کول منع دي.

حديث کې داسې راغلي:

عن جابر قال: ((كان النبى صلى الله عليه وسلم **اذا أراد البراز انطلق حتى لايراه أحد))** [1]

جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې: ((پېغمبر صلى الله عليه وسلم به چې کله د حاجت کول وغوښتل نو داسې ځای ته به لاړ چې هيچا نه ليدهٔ)).

نو کهٔ دا اوسني عصري تشنابونه وي نو دا هم مناسب پنا ځايونه دي او کهٔ دباندې وي نو هم پنا او لرې ځای ته تلل پهٔ کار دي.

[1]- رواه أبوداود.

پاک کارونه په ښي او ناولي په کيڼ لاس

ښۀ او پاک کارونه پۀ ښي لاس کول او ناولي او د ککړتيا کارونه پۀ کيڼ لاس پۀ کار دي حديث کې داسې راځي:

عن عائشة قالت: ((كانت يد رسول الله صلى الله عليه وسلم **اليمنى لطهوره وطعامه وكانت يده اليسرى لخلائه وما كان من أذى))** ١

عائشې رضى الله عنها نه روايت دى هغه وايي چې : ((د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښى لاس د اوداسه ، پاکۍ او خوړو لپاره ؤ او کيڼ لاس يې د حاجت کولو او هغو کارونو لپاره ؤ چې څه ککړتيا پکې وي.))

---

[1]- رواه أبوداود.

حمام کې میتیازې کول

د اسلام د پاکۍ او طهارت لۀ حکمونو څخه دا هم دی چې د لمبلو او اودس ځای، او حمام کې متیازې کول ناروا دي.

حدیث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن مغفل قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ((**لايبولن أحدكم فى مستحمه ثم يغتسل فيه او يتوضأ فيه فإن عامة الوسواس منه**)) [1]

عبدالله بن مغفل رضي الله عنه نه روایت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((تاسو کې دې هیڅوک د لمبلو ځای کې میتیازې نه کوي چې بیا پکې لامبي یا پکې اودس کوي ځکه چې عامې وسوسې او اندېښنې لۀ همدې وي)).

[1] ـ رواه الترمذی وأبو داود والنسائي.

استنجا نه وروسته د لاس ښهٔ پاکول

استنجا نه وروسته بايد لاس پهٔ خاوره يا صابون ښهٔ پاک ومښل شي کهٔ خاوره وي ښهٔ ده کهٔ نه نو صابون هم کفايت کوي.

حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: ((**كان النبى** صلى الله عليه وسلم **إذا أتى الخلاء اتيته بماء فى تور او ركوة فاستنجٰى ثم مسح يده على الارض ثم أتيته باناء آخر فتوضا**))[1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ((پېغمبر صلى الله عليه وسلم به چې کله حاجت ته ورته نو مابه ورته پهٔ کوزې يا پتکي کې اوبه راوړې نو استنجاء به يې پرې وکړه بيابه يې خپل لاس پهٔ ځمکه ومښه بيا به مې ورته بل لوښی راوړ نواودس به يې وکړ.))

پهٔ خاورو بدبويي ورکېږي که خاوره نه وي او څه صابون مابون وي هم کفايت کوي خو د حاجت او استنجا کولو نه وروسته د لاسونو ښه پاکول اړين دي.

---

[1]- روأبو داود والنسائى والدارمي.

ځو ناوړه کارونه

اسلام کې بې دليله بدګمان، چاپسې بې ځايه نوغی وهل، جاسوسي، حسد، کينه، تېر ايستل او بې ځايه مرورېدل او دښمني ناروا دي؛ حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :

((إياكم والظن فإن الظن أكذب الحديث ولا تحسسوا ولا تجسسوا ولا تناجشوا ولا تحاسدوا ولا تباغضوا ولا تدابروا وكونوا عبادالله إخوانا)) [1]

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((تاسو لهٔ بدګمانۍ ځانونه وژغورئ ځکه چې بدګماني ډېره دروغجنه خبره ده، چاپسې نوغي مه وهئ، جاسوسي مه کوئ، تېر ايستلو لپاره پهٔ نرخ ځوک مه تېزوئ، د چاپه خوشحالۍ او ترقۍ مه خپه کېږئ، کينه مه کوئ، يو تر بله دښمني او مرورېدل مه کوئ او د الله بندګان ورونه شئ)).

---

[1]- رواه البخارى ومسلم.

بل حديث کې اسلام له بدو کارونو او ګناهونو نه داسې منع کوي:

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه **قال: قال رسول الله** صلى الله عليه وسلم **و حوله عصابة من أصحابه: ((بايعوني على أن لا تشركوا بالله شيئا ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا أولادكم ولا تأتوا ببهتان تفترونه بين أيديكم وأرجلكم ولا تعصوا فى معروف فمن وفى منكم فأجره على الله و من أصاب من ذلك شيئا فعوقب به فى الدنيا فهو كفارة له و من اصاب من ذلك شيئا ثم ستره الله عليه فهو إلى الله إن شاء عفاعنه و إن شاء عاقبه)) فبايعناه على ذلك.**[1]

عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چاپېره يوه ډله صحابه ناست وو او هغه ورته وفرمـايل: ((ما سره په دې بيعت وکړئ چې: الله سره هيڅ شريک مه پيدا کوئ، غلا مه کوئ، زنا مه کوئ، خپل بچي مه وژنئ، پۀ چا تور مه تړئ او پۀ نېکيو کې له مشرانو سرغړونه مه کوئ. تاسو کې چې چا دا کارونه بشپړ کړل نو بدله يې پۀ الله ده اوڅوک چې دې کارونو کې کوم شي ته ورسېد او پۀ دنيا کې پرې سزا ورکول شوه نو هغه د هغۀ لپاره د ګناه نه خلاصی شو او کۀ

[1]- رواه البخارى ومسلم.

څوک پۀ دې کې کوم کارته ورسېد او بيا الله پرې پرده واچوله نو د هغه کار الله سره دی کۀ خوښه يې شوه وبه يې ښښي او کۀ وغواړي نو عذاب به ورکړي)). نو مونږ ورسره پۀ همدې بيعت وکړ.

بل حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم لۀ بدو کارونو څخه داسې منع کوي:

عن صفوان بن عسال قال: قال يهودى لصاحبه: إذهب بنا إلى هذا النبى: فقال له صاحبه: لا تقل نبى إنه لو سمعك لكان له أربع اعين فأتيارسول الله صلى الله عليه وسلم **فسألاه عن آيات بينات؛ فقال رسول الله** صلى الله عليه وسلم : **((لا تشركوا بالله شيئا ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا النفس التى حرم الله الا بالحق ولا تمشوا ببرئ إلى ذى سلطان ليقتله ولا تسحروا ولا تأكلوا الربو ولا تقذفوا محصنة ولا تولوا للفرار يوم الزحف و عليكم خاصة اليهود ان لا تعدوا فى السبت)) قال: فقبلا يديه ورجليه وقالا: نشهد أنك نبى . قال: ((فما يمنعكم ان تتبعونى؟)) قالا إن داؤد** عليه السلام **دعا ربه أن لا يزال من ذريته نبى و إنا نخاف إن تبعناك أن يقتلنا اليهود))** [1]

صفوان بن عسال رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي چې يو يهودي خپل ملګري ته وويل: مونږ سره دغه پېغمبر ته لاړ شه.

---

[1]- رواه الترمذى وأبوداود والنسائى.

ملګري يې ورته وويل: پېغمبر ورته مه وايه کۀ وايې وري نو سترګې به يې څلور شي. دواړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل او د ځرګندو دليلونو پۀ هکله يې ترې پوښتنه وکړه؛ هغه ورته وفرمايل: ((الله سره هيڅ شريک مه پيدا کوئ، غلا مه کوئ، زنا مه کوئ، پۀ ناحقه هغه څوک مه وژنئ چې الله حرام کړى وي، کوم بې ګناه د دې لپاره حکومت ته مه حواله کوئ چې ويې وژني، کوډې مه کوئ، سود مه خورئ، پاکلمنې ښځې باندې تور مه لګوئ، د بريد پۀ ورځ تېښته مه کوئ او تاسو يهود خو پۀ ځانګړې توګه د خالي پۀ ورځ تېرى مه کوئ)). صفوان وايي چې هغوى دواړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاسونه او پښې ښکل کړې او ويې ويل: مونږ ددې ګواهي کوو چې ته پېغمبر يې. هغه وفرمايل: ((نو ولې ما پسې نه راځئ؟)) هغوى وويل: داودعليه السلام خپل رب ته دعاء کړې وه چې د هغه پۀ اولاد کې تل يو پېغمبر وي او مونږ وېرېږو چې کۀ ستا تابعداري مو وکړه نو يهوديان به مو ووژني)).

بل حديث کې ګناهونو څخه منع داسې راغلې ده:

عن معاذ قال: أوصانى رسول الله صلى الله عليه وسلم **بعشر كلمات قال: ((لا تشرك بالله شيئا و إن قتلت و حرقت ولا تعقن والـــديك وإن أمراك أن تخرج من أهلك و مالك و لا تتركن صلاة مكتوبة متعمدا فان من ترك صلاة مكتوبة متعمدا فقد برئت منه ذمة الله، ولا تشربن خمرا فإنه رأس كل فاحشة و اياک**

والمعصية فان بالمعصية حل سخط الله، و إياك والفرار من الزحف و إن هلك الناس و إذاأصاب الناس موت وأنت فيهم فاثبت و أنفق على عيالك من طولك ولا ترفع عنهم عصاك أدبا واخفهم فى الله)) ١

معاذ رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم د لسو خبرو نصيحت کړی دی:

اګرکئ ووژل شې يا وسوځول شې هم الله سره هيڅ شی مه شريکوه.

اګر کئ درته ووايي چې د خپل کور او مال نه واوځه هم مور او پلار نه سرغړونه مه کوه.

قصداً يو فرض لمونځ هم مه پرېږده ځکه چې چا قصداً کوم فرض لمونځ پرېښود نو هغه نه د الله ذمه لرې شوه.

شراب مه څښه ځکه چې دا د هر بې حيا کار سر دی.

ګناه نه ځان وساته ځکه چې د الله غوسه د ګناه له کبله راځي.

اګر کئ ټول خلک ومري هم برېد نه مه تښته.

ته چې کومو خلکو کې وې او هغوی باندې مرګاني وباراغله نو ټينګ پاتې شه.

---

[١]- رواه أحمد.

په خپلې ښځې، بچو او کور له خپل مال نه لګښت کوه.


د ادب امسا ترې مه پورته کوه.

الله نه يې ووېروه.

نو اسلام سراسر د سمون او ښېګړو ټولنيزو آدابو او سپېڅليو خويونو دين دی. دې کتاب کې ما د ساري او بېلګو په توګه د اسلام ځينې محاسن وليکل، داسلام ټولو محاسنو باندې کتابتونو نه ډک دي.

دا کتاب او ځينې نور کتابونه ما د پېښور مرکزي زندان کې ليکلي وو او نور کار مې پکې هغه وخت وکړ چې کله د آی ايس آی له مجرمانو نه د هغوی د يو کرنيل: «عازب» په تبادله کې الله تعالی را ازاد کړم.

مراجع او مأخذونه د پاڼو په لمنو کې ليکل شوي دي نو ځکه مې هسې د کتاب له پنډولونه ډډه وکړه او بيا مو تکرار ونه ليکل.


۱۴۳۰ سپوږمیز هجري.۳\۵\۱

۱۳۸۸\۲\۷ لمريز هـــجري.

لړليک

ګڼه	سرليک	مخ
۱-	سريزه	۱
۲-	اسلام نړيوال دين	۳
۳-	له تعصب نه پاک دين	۱۵
۴-	د اسلام سياسي نظام	۱۹
۵-	د عدالت نظام	۲۷
۶-	د اسلام خواخوږی حکومت	۳۱
۷-	د امير طاعت	۳۲
۸-	د ظالم حاکم په مخکې دحق خبره	۳۴
۹-	رعيت باندې بشپړ باور	۳۵
۱۰-	رشوت اخيستل	۳۷
۱۱-	ظلم	۳۸
۱۲-	د اسلام اقتصادي نظام	۴۶
۱۳-	درې شريک شيان	۴۸
۱۴-	د ځمکې زېرمې شريکې دي	۵۰
۱۵-	د شاړې ځمکې ودانول	۵۱
۱۶-	د چا ځمکه غصبول	۵۳
۱۷-	د خپل لاس ګټه	۵۴

۱۸-	اساني کول	۵۶
۱۹-	هر څه کې اساني	۵۷
۲۰-	درووند تول	۵۸
۲۱-	موندلى شى	۵۹
۲۲-	په ناروا د مال خوړل	۶۱
۲۳-	مزدور ته مزدوري ورکول	۶۲
۲۴-	خادم سره ښه سلوک	۶۴
۲۵-	ځان لپاره چې څه خوښوې	۶۶
۲۶-	د اولادونو تر منځ عدل کول	۶۸
۲۷-	مېلمه پالنه	۷۰
۲۸-	سود اخيستل	۷۲
۲۹-	ټګي برګي منع ده	۷۷
۳۰-	احتکار منع دی	۷۹
۳۱-	زياتي اوبه	۸۱
۳۲-	ښښلي نه راستنېږي	۸۲
۳۳-	منځلاري	۸۴
۳۴-	اسراف	۸۶
۳۵-	بخل	۸۹
۳۶-	د خوړو جامو بريدونه	۹۱
۳۷-	سره زر او ورېښم	۹۲
۳۸-	د مال او شهرت حرص	۹۴
۳۹-	اسلام کې د ښځو حقوق	۹۶

۴۰-	د سړي امارت او سرپرستي	۹۸
۴۱-	جاهلیت کې د ښځې سپکاوی	۱۰۴
۴۲-	اسلام کې د ښځې لوړ مقام	۱۰۶
۴۳-	د میراث مسئله	۱۱۳
۴۴-	د شهادت مسئله	۱۱۷
۴۵-	د ښځو د تعدد مسئله	۱۱۹
۴۶-	طلاق	۱۲۸
۴۷-	خلع	۱۳۷
۴۸-	پرده کول	۱۳۹
۴۹-	په کوم کچ پرده	۱۴۲
۵۰-	د پردې حکمتونه	۱۴۳
۵۱-	په ښځو اسانې	۱۴۸
۵۲-	واده کول	۱۵۰
۵۳-	لیدل کتل	۱۵۲
۵۴-	په زور نکاح نه کېږي	۱۵۳
۵۵-	نېکه ښځه	۱۵۴
۵۶-	د ښځې او مېړه یو تر بله رازونه	۱۵۷
۵۷-	د ښځو تر منځ عدل	۱۵۸
۵۸-	سخت وهل منع دي	۱۵۹
۵۹-	خپلې ښځې سره ښه سلوک	۱۶۰
۶۰-	لوڼو سره ښېګړه	۱۶۸
۶۱-	نېکه کونډه	۱۷۱

۶۲-	خپل وس سره سم دين	۱۷۳
۶۳-	د پاکۍ دين	۱۷۶
۶۴-	د فطري پاکۍ پنځه امور	۱۸۳
۶۵-	ګنده خور څاروی	۱۸۵
۶۶-	د مسواک وهل	۱۸۷
۶۷-	لس فطري پاکۍ	۱۸۸
۶۸-	سپي جوته کړی لوښی	۱۸۹
۶۹-	د تهذيب او آدابو دين	۱۹۰
۷۰-	رېښتيا ويل	۱۹۱
۷۱-	د رېښتيا ګواهي	۱۹۶
۷۲-	د امانت ساتل	۱۹۷
۷۳-	په ژمنو وفاء	۲۰۲
۷۴-	بې وزلو سره ښېګړه	۲۰۳
۷۵-	له يتيمانو سره ښېګړه	۲۱۵
۷۶-	له مور او پلار سره ښېګړه	۲۲۲
۷۷-	له خپلوانو او ګاونډيانو سره ښېګړه	۲۳۳
۷۸-	زغم او تېرېدنه	۲۴۳
۷۹-	اوار مزل او ټيټ غږ	۲۴۷
۸۰-	د مشورې دين	۲۴۹
۸۱-	د روغې جوړې او سولې دين	۲۵۰
۸۲-	ښه خوی	۲۵۴
۸۳-	په ښېګړو د بديو مخنيوی	۲۶۰

۸۴-	د حق پلوي کول	۲۶۳
۸۵-	حیاء کول	۲۶۵
۸۶-	نرمي کول	۲۶۷
۸۷-	پاک زړی مؤمن	۲۶۹
۸۸-	ټولنیز مؤمن	۲۷۱
۸۹-	مهرباني او لورینه	۲۷۲
۹۰-	د مجلس د ملګري خیال ساتل	۲۷۴
۹۱-	د مشرانو درناوی	۲۷۵
۹۲-	پرده پوخ دین	۲۷۶
۹۳-	مینه ناک مؤمن	۲۷۷
۹۴-	ښو خلکو سره ملګرتیا....	۲۷۸
۹۵-	شپږ ښه کارونه	۲۸۰
۹۶-	ټوکې ټکالې	۲۸۱
۹۷-	تواضع	۲۸۵
۹۸-	د سلام اچول	۲۸۶
۹۹-	په ماشومانو سلام	۲۸۷
۱۰۰-	په ښځو سلام	۲۸۸
۱۰۱-	درې ځل اجازه غوښتل	۲۸۹
۱۰۲-	اجازې کې نوم اخیستل	۲۹۰
۱۰۳-	د چا د کور وره ته....	۲۹۱
۱۰۴-	د شپې ځینې آداب	۲۹۲
۱۰۵-	یوه جامع طبي مشوره	۲۹۳

۱۰۶-	په ښي لاس خوراک څښاک	۲۹۴
۱۰۷-	په تکيه خوړل	۲۹۶
۱۰۸-	په خوراک کې هم عدل	۲۹۷
۱۰۹-	حيواناتو سره ښېګړه	۲۹۸
۱۱۰-	د مريانو او وينځو ازادول	۳۰۰
۱۱۱-	د مريي او وينځې وهل منع دي	۳۰۴
۱۱۲-	ښه کار لپاره د لوړې ماتول	۳۰۶
۱۱۳-	قسم د مخاطب په نيت دی	۳۰۷
۱۱۴-	مسلمان څوک دی؟	۳۰۹
۱۱۵-	په نېکيو کې مرسته له بديو....	۳۱۱
۱۱۶-	د ښېګړې مننه	۳۱۲
۱۱۷-	ډالۍ درنده ګڼل	۳۱۳
۱۱۸-	درې ښه کارونه	۳۱۴
۱۱۹-	د پرنجي په وخت کې	۳۱۴
۱۲۰-	د خوله وازي په وخت کې	۳۱۶
۱۲۱-	د ناوړه نوم بدلول	۳۱۷
۱۲۲-	امر بالمعروف او نهی عن المنکر	۳۲۰
۱۲۳-	ښه او بد پېژندل	۳۲۹
۱۲۴-	ځينې منکرات	۳۳۰
۱۲۵-	فساد	۳۳۱
۱۲۶-	نا حقه وژنه	۳۳۳
۱۲۷-	قاتل ميراث نه وړي	۳۳۴

۱۲۸- زنا ۳۳۵
۱۲۹- بچه بازي ۳۳۷
۱۳۰- غلا ۳۳۷
۱۳۱- پيتموزي او ملنډې ۳۴۰
۱۳۲- د نوم ړنګول ۳۴۳
۱۳۳- بد ګماني ۳۴۴
۱۳۴- جاسوسي کول ۳۴۵
۱۳۵- غيبت کول ۳۴۶
۱۳۶- د غيبت او بهتان تر منځ توپير ۳۴۸
۱۳۷- بد سلوک ۳۴۹
۱۳۸- په تول او کچ کې کمی کول ۳۵۰
۱۳۹- غوړه مالي ۳۵۲
۱۴۰- نورې ګناوې ۳۵۳
۱۴۱- کبر ۳۵۷
۱۴۲- کبر څه شی دی ۳۶۰
۱۴۳- د دوه غړو له شره ځان ژغورنه ۳۶۱
۱۴۴- کنځل کول ۳۶۲
۱۴۵- چغلي ۳۶۳
۱۴۶- له عبث کارونو څخه ځان ژغورنه ۳۶۴
۱۴۷- قوم پرستي ۳۶۶
۱۴۸- په پلرونو فخر کول ۳۶۹
۱۴۹- احترام لپاره چاته ودرېدل ۳۷۰

۱۵۰-	دوه کسان سره مه بیلوه	۳۷۲
۱۵۱-	څوک له خپل ځایه پاڅول منع دي	۳۷۳
۱۵۲-	د لارې په سر کېناستل	۳۷۵
۱۵۳-	يوه څپلۍ په پښه کول	۳۷۷
۱۵۴-	د غړکۍ له خولې اوبه څښل	۳۷۹
۱۵۵-	په لوښي کې پوکی کول او سا اخیستل	۳۸۰
۱۵۶-	د غیرت دین	۳۸۲
۱۵۷-	نشې، شراب او جواري	۳۸۳
۱۵۸-	د شرابو لس مجرمان	۳۸۶
۱۵۹-	پړمخه څملاستل	۳۸۸
۱۶۰-	په چت څملاستل	۳۸۹
۱۶۱-	لارې او سیوري کې اودس ماتی	۳۹۰
۱۶۲-	سوړي کې میتیازې کول	۳۹۱
۱۶۳-	حاجت کې پنا ځای ته تلل	۳۹۲
۱۶۴-	پاک کارونه په ښي او ناولي په کیڼ لاس	۳۹۳
۱۶۵-	حمام کې میتیازې کول	۳۹۴
۱۶۶-	استنجا نه وروسته د لاس ښه پاکول	۳۹۵
۱۶۷-	څو ناوړه کارونه	۳۹۶
۱۶۸-	لړلیک	۴۰۲